# په اسلام کې
# د ژوندانه آداب


**لیکوال : مولانا محمد یوسف " اصلاحی "**

**ژباړن : سید فضل مولا " لټون "**



احمدشاه احمدی

# دا کتاب د عقیدې د کتابخانې سایت
# نه داونلود شوی دی.

**www.aqeedeh.com/pa**

برېښنا لیک: **book@aqeedeh.com**

د موحدینو ګروپ ویب پاڼو

www.aqeedeh.com
www.mowahedin.com
www.islamtxt.com
www.videofarsi.com
www.shabnam.cc
www.zekr.tv
www.sadaislam.com
www.mowahed.com

contact@mowahedin.com

**په عقیدې سایت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسایت د همغږۍ په معنا نه ده.**

**د کتاب پېژندنه**

د کتاب اردو نـوم : آداب زندگی

د کتاب پښتو نوم : په اسلام کې د ژوندانه آداب

لیکوال : مولانا محمد یوسف " اصلاحی"

ژبــاړن : سید فضل مولا " لټون "

خپروندوی : د پیغام خپرنـدوی مــرکز

د چاپ دریم ځل : ۱۴۲۹ هجری قمــری کال

د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ او چار د خپروندی لپاره خوندی دی

اوسنې پته : ډهکی منورشاه قصه خوانی بازار پېښور -
ننګرهار جلال آباد ښار شرین دل پلازه شپږم نمبر دوکان
ځمکتلی د نقیب الله کتاب پلورنځی.....

موبائل : ۰۰۹۳۷۸۶۹۳۶۸ - ۰۰۹۳۷۰۰۹۵۶۴۲۳

بسم الله الرحمن الرحیم

احمد شاہ احمدی

# د پیغام خپرندوی مرکز
# موخې او اهداف

درنو لوستونکو !

مونږ ستر ښښتن تعالی جل جلا له شکر ادا کوو چې د پیغام خپرندوی مرکز له لارې خپلو درنو هیوادوالو ته فرهنگي خدمت کوو .

دغه مرکز به انشاء الله داسې آثار خپروي چې زمونږ د درانه اولس دیني او ملي جذبې او احساسات یې هیله لري .

پیغام یوه سوچه خپلواکه او افغاني اداره ده چې یو شمیر با احساسه فرهنگیالو بنسټ اینبی دی هر افغان لیکوال یې د غړیتوب ویاړ تر لاسه کولی شي او یوازینی موخه یې د اسلامي - افغاني فرهنگ وده او غوړونه ده .

انشاء الله موږ به هڅه وکړو چې داسې آثار خپل درانه اولس ته وړاندې کړو چې د نن او سبا نسلونو ته پر غوره پیغام برسیره یو معیار ولري چې د علم او فن خاوندان پرې قانع وي .

له ستر پروردگار څخه غواړو چې خپلو درنو قلموالو په مرسته او ملاتړ (پیغام خپرندوی مرکز) د هیواد په یوه لوی او با اعتبار فرهنگي مورچل بدل شي .

عبدالناصر "غواص"

د پیغام خپرندوی مرکز سرپرست

# پیژندنه

له ژوندانه نه پوره ګټه تر لاسه کول، په زړه پورې خونـــدونه اخیستل او واقعًا بریالی ژوندون تیرول په رښتیا سره چې ستاسې حق دي، خو دا هله کیدای شي چې تاسې د ژونـدانه پر آدابو وپوهیږې ! د بریالی ژوندانه له اصولو او آدابو نــه خبر اوسی او نــه یوازې دا چې ترې خبر اوسې بلکه په عملي توګه پر دغو اصولو د خپل ژونــدانه برابرولو او د ښکلي او ښایسته کولو پــه پرله پسی کوښښونو کې مشغول هــم اوسی .

ادب او سلیقه، درښت، پاکوالی او سپیڅلتیا، غوره او ښه انتخاب، ترتیب او د خپلي سپیڅلتیا خیال ساتل، د ښکلا سره مینه او احساس، ښه راشه درشه او غوره اخلاق، همدردي او خیر غوښتنه، ښه خوي او خوږې خبرې، تواضع او عاجز خویې، ایثار او قربانې ، بې غرضي او اخلاص، هوډ او خپلو کي، د مسئوولیت احساس او استعداد ، له خدایه ویره او تقوي، پر الله جل جلاله توکل او زړوتوب، دا د اسلامي ژوندانه هغه په زړه پورې ښبې ښباني دي چې شته والی یې په مؤمن کې ژوندنیزه ښکلا او په خلکو کې داسې ژور محبوبیت پیدا کوي چې نه یوازې صحیح مسلمانان بلکه له اسلام سره نا بلد انسانان هم بې واکه د هغه لوري ته راګرځي او عامه ذهنونه پردي سوچ کولو اړکوي چې کوم انسانیت پال دین چې د ژوندانــه ښکلي کولو او سمولو او د بې اندازې جاذبیت د خپلولو لپاره انسانیت ته دا ارزښتناک اصول او آداب وربښې، هغه په رښتیا سره د هوا او رڼا په څیر د ګرد بشریت میراث دي او بې له شکه د دي وړ دي چې ګرد بشریت د هغه د منلو پر اساس خپل ځانګړی او ټولنیز ژونــدون پــه بریالیتوب سره آباد کړي، چې پــه نړۍ کې یې هم ژونـــدون د راحت او آرام او د خوښي او خوشحالي او د امن او عافیت ځانګو شي او د اخرت پـــه ژونــدانه کې هم هغه څه تر لاســه کړې چې د کامیاب او فلاح میندونکي ژونـــدانه لپاره ضروري دي .

د نظر لاندې د ( ژوندانه آداب ) کتاب کې د اسلامی تهـذیب پورتني اصول د تالیف او تصنیف په دود لارو چارو د وړانـدي کولو کوښښ شوي دي، د کتاب

الله، نبوي سیرت او د اسلامی تلپاتي ښو ښوونو په لارښوونه او د اسلامی فطرت او مزاج په رڼا کې د ژوندنیز درناوي زده کوونکي دغه ټولګه ( مجموعه ) ترتیب کړای شوي ده چې پنځه مهم فصلونه ( څپرکې ) لري:

لومړی څپرکی : تهذیب او سلیقه.

دویم څپرکی : د بنده ګۍ ښکلا.

دریم څپرکی : ټولنیزه ښکلا.

څپرکی : دین ته بلنه.

پنځم څپرکی : د بنده ګۍ احساس.

په دغو پنځو څپرکیو کې نږدې د ژوندانه په ټولو اړخونو پورې د اړوندو ( مربوطو ) اسلامی آدابو اغیزمن ترتیب، آسانه او ساده ژبه، د هر چاله پوهې سره سمه او په زړه پورې تشریح او له سترګو روښانوونکیو دلایلو سره په وینا وال انداز کې په پرله پسی نمبر وړاندی، کړای شوي دي.

هیله ده چې د ژوندانه د آدابو دغه ټولګه ( مجموعه ) به د هر پاټکی ( طبقی ) او د هر عمر مینه والو لپاره د الله جل جلاله په فضل او کرم خو راګټوره ثابته شي، له اسلام سره مینه لرونکي خویندي وروڼه به د همدي ارزښتناکو او سوز لرونکیو دعاګانو په رڼا کې خپل ژوندون برابر کړي او د خپلو کوچنیانو د اخلاقو او کړو وړو په سمو جوړولو کې به هم کوښښ وکړي او تر کومه چې امکان لري خپلو کوچنیانو ته به دغه دعاګانې زده کړی ، پر دغو آدابو ښکلي کړای شوي ژوندون ته به په دي نړۍ کې هم د درناوي په سترګو کتل کیږي او په آخرت کې به هم د اجر او ثواب وړ وګڼل شي.

د کتاب په ترتیب کې چې له کومو کتابونو او حوالونه فایده اخیستل شوي د هغې یادونه به پخپل ځای کیږي.

الله جل جلاله ته دعا ده چې دي خدمت ته د منني شرافت وروبښی او مسلمانانو ته وس ورکړی چې هغوي د دغو آدابو پر وسیله خپل ژوندون جوړ او ښکلي کړی، د اسلام لپاره یې په زړونو کې د مینی او محبت ولولي پیدا شي، او دغه مجموعه، د الله جل جلاله بنده ګان د الله جل جلاله د دین په لور راوستلو کې اغیزمنه وسیله او د ترتیبوونکی لپاره د ښښنی لامل شي. او د دین

هغه خدمتګاران یې په خیر او ثواب کې شریک کړی . له کومو ارزښتناکو کتابونو نه چې استفاده شوي ده .

محمد یوسف "اصلاحی"

رامپور ۳۰ اګست ۱۹۶۷ میلادي کال

## لومړی څپرکی (فصل)

له حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دي:

یوه ورځ پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم د خبرو اترو لپاره زموږ خواته تشریف راووړ، هغه ولیدل چې یو سړی په ګرد او دوړو ککړ دي او ویښتان یې انجړ پنجړ ببر دي، هغه وفرمایل: آیا له ده سره ګومنځ نشته چې خپل ویښتان پرې ګومنځ کړي!

او یو بل سړی یې ولید، چې جامې یې ډېرې خیرنې وې، هغه وفرمایل چې: آیا له ده سره هغه څیز هم نشته چې خپلې جامې پرې ووینځي او پاکې یې کړي؟

[مشکوة المصابیح]

## د پاکوالي او سپيځلتيا اداب

الله تعالی هغه وګړي خپل دوستان ګڼي چې د پاکې او سپيځلتيا پوره پوره خيال ساتي او د پيغمبر اکرم صلی‌الله عليه وسلم لارښوونه ده " پاکي او سپيځلتيا نيم ايمان دي " يعنی نيم ايمان تويه ده چې سړی خپل روح پاک او صاف وساتي او نيم ايمان دا دي چې سړی د بدن د پاکې خيال وساتي، د روح پاکوالي او صفايې دا ده چې د کفر او شرک او د ګناه او ګمراهيو له چټليو نه وساتل شي او په صالح ګروهي ( عقيده ) او سپيځليو اخلاقو ښکلي کړای شي او د بدن پاکی او سپيځلتيا دا ده چې له ظاهري پليتيو نه په ساتلو يې د نظافت او سليقي پر آدابو ښکلي کړای شي.

◉ له خوبه د راويښيدلو نه وروسته دي د لاسونو مينځلو پرته د اوبو په لوښي کې لاس نه وهي، څه معلومه ده چې په خوب کې يې لاسونه په کوم کوم ځای لګيدلي دي.

◉ دلمبا په ځای کې د تشو متيازو کولو نه ځان وساتي په ځانګړی توګه چې د لمبا ځای ځمکه سمنټ شوي نه وي.

◉ د قضای حاجت پروخت به نه قبلې ته مخه کوي او نه به ورته شاګر ځوي له او زګاريد وروسته په لوټه او اوبو استنجاء وکړی يا يوازي پر اوبو خپل ځانونه پاک کړی ، پر خوشيانو، هډوکيو او سکرو او نورو استنجاء مه کوي او له استنجاء وروسته پر خاورو او يا صابون لاسونه ښه پريمينځی.

◉ کله مو چې هر ډول قضای حاجت ته اړتياوي نو د خوړو خوړلو ته مه کښينی، د قضای حاجت نه د اوزګاريدو وروسته خواړه وخوری.

◉ د څه خوړلو په وخت کې ښې لاس کاروي په اوداسه کې هم له ښې لاس نه کار اخلی، د استنجاء کولو او پوزی پاکولو لپاره له چپ لاس نه کار واخلی.

◉ پر پسته ځمکه متيازی کوي چې پر جامو مو ځاځکي پری نه ووزی او تل پر ناسته متيازی کوي، هو! که ځمکه د ناستی وړ نه وي او يا کوم واقعی مجبوريت وي، نو پر ولاړه متيازی کولای شي، خو په عامو حالاتو کې ډېر بد عادت دي چې بايد په ټينګه تری ځان وساتل شي.

⊙ د ویالو او نهرونو پر غاړو، پر عمومي لارو او سیوري لرونکي ځایونو کې د قضای حاجت له پاره مه کینئ، له دي نه نور خلک هم په تکلیف کیږي او دا کار د ادب او تهذیب پر خلاف هم دي.

⊙ کله چې ډکو متیازو ته ځئ نو څپلۍ په پښو او خولۍ پر سر کړئ او د تلو پروخت دا دعا ولولئ:

اَللّٰهُمَ اِنِّیْ اَعُوذُبِکَ مِنَ الْخُبثِ وَالْخَبَائِثِ [صحیح بخاری ، صحیح مسلم]

(الهی ! تاته پناه دروړم له شیطانانو څخه، له هغو شیطانانو څخه چې نران دي، او له هغو نه هم چې ښځې دي).

او کله چې له متیازو نه بیرته راوګرځئ ، دا دعا ولولئ:

اَلحَمْدُلِلهِ الَّذِیْ اَذْهَبَ عَنِّیْ الاَذٰیْ وَعَافَانِیْ [سنن نسایی، سنن ابن ماجه]

(د الله جل علی شانه شکر دي چې زما نه یې تکلیف لرې کړ او سلامتي یې راوبښله).

⊙ د پوزې څوڼ کولو او بلغم توکولو لپاره احتیاط سره توف داني استعمال کړئ او د خلکو نه پناه خپله اړتیا پوره کړئ.

⊙ هر ځلې په سپړمو کې ګوتې وهل او له پوزې نه د ګړنګانو ایستلو نه ځان وساتئ، که د پوزې پاکولو ته اړتیا وي نو د خلکو نه پناه خپله اړتیا پوره کړئ.

⊙ په دسمال کې د بلغمو توکولو او مړلو نه ځانونه په کلکه وژغورئ ، دا ډېر بد عادت دي، مګر دا چې مجبوري وي.

⊙ چې خوله مو له پان او نسوارو نه ډکه وي داسې خبرې مه کوئ چې پر مخاطب مو څاڅکي پریوزي او هغه په تکلیف شي، همدا رنګه که تمباکو او پان ډېر خوري نو د خولې پاک ساتلو ته زیاته پاملرنه وکړئ، او د دې هم خیال وساتئ چې د خبرو کولو پر وخت چاته خوله نږدې نه کړئ.

⊙ په اودس کولو کې ښه احتیاط کوئ او که هر مهال امکان نه لرئ نو زیاتره په اوداسه سره اوسیدلو کوښښ وکړئ، چیرې چې اوبه نه وي نو تیمم وکړئ ، د بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ په ویلو اودس پیل کړئ او د اودس کولو پر وخت دا دعا ولولئ: اَشهَدُ اَن لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَحدَهُ لاَ شَرِیکَ لَهُ وَاَشهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبدُهُ وَرَسُولُهُ اَللّٰهُمَ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِیْنَ [جامع ترمذی]

زه ګواهي ورکوم چې له الله جل جلاله پرته هېڅوک معبود نشته هغه یوازي او ځانله دي او هیڅوک ورسره شریک نشته، او زه ګواهي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او رسول دي، الهي! ما په هغو خلکو کې شامل کړې چې ډېر زیات توبه کوونکي او ډېر زیات پاک او سپېڅلي اوسیدونکي دي .

او چې له اوداسه نه اوزګار شي دا دعا ولولی : سُبۡحَانَکَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمۡدِکَ اَشۡهَدُ اَنۡ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنۡتَ اَسۡتَغۡفِرُکَ وَاَتُوۡبُ اِلَیۡکَ [ سنن نسایی ]

الهي! ته پاک او تر هر څه لوړ یې د خپل حمد او ثنا سره، زه ګواهي ورکوم چې هیڅوک پرته له تانه معبود نشته مګر همدا ته یې، زه له تانه د بښنی غوښتونکی یم او هم تاته راجع کېږم .

د حضور اکرم صلی‌الله علیه وسلم ارشاد دي چې د قیامت په ورځ به زما د امت نښنه دا وي چې د هغوي کوچولي او د اوداسه غړې به له نوره ځلیږي، نو چې څوک خپل نور زیاتول غواړي زیات دي کړي [ صحیح بخاری، صحیح مسلم ]

◉ له پابندي سره مسواک استعمالوي د حضور اکرم صلی‌الله علیه وسلم ارشاد ( لاربښوونه ) ده که ما د امت د تکلیف خیال نه ساتلای نو په هر اوداسه کې به مې هغوي ته د مسواک حکم کړی وو ، یو ځلی هغه ته څو کسان راغلل چې غاښونه یې ژیړ شوي وو، هغه صلی‌الله علیه وسلم چې ولیدل ، د مسواک وهلو ټینګار یې پرې وکړ.

◉ په هفته کې خو یو ځلی غسل خامخا وکړی، د جمعې په ورځ د غسل کولو خیال ساتی او د پاکو او سوتره جامو په اغوستو سره د جمعی په لمانځه کې ګډون وکړي ، پیغمبر صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی چې: د امانت ادا کول سړی جنت ته بیایې، صحابه رضی الله عنهم پوښتنه وکړه یا رسول الله! د امانت نه مراد څه شي دي؟ وي فرمایل : د ناپاکی نه د پاکوالی لپاره غسل کول، تر دي ستر امانت الله تعالی نه دي ټاکلی ، کله چې چاته د لمبلو اړتیا پیښه شي نو غسل دي وکړي .

◉ د ناپاکۍ په حالت کې نه جومات ته لاړ شي او مه پر جومات تیریږی ، او که د غسل کولو امکان نه وي نو تیمم وکړی او جومات ته ورشي او یا پرې تیر شي .

⊙ وېښتانو ته د تیل ورکولو او ږومنځولو خیال ساتی د ږیرې اوږده او بې ترتیبه وېښتان په بیاتې (قیچي) برابر کړي، په سترګو کې رانجه استعمالوي، د نوکانو پرې کولو او پاک ساتلو خیال ساتی ، او له ساده او اعتدال سره د مناسبې ښکلا خیال وساتی.

⊙ د پرنجي په وخت کې خولې ته دسمال ونیسي، چې پر جامو مو څاڅکي پرې نه وزي له پرنجې وروسته اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ( الله لره ټوله ثنا ده ) ووایې او اوریدونکې دي یرحمک الله ( الله دي پر تاسې رحم وکړي ) ووایي او د هغې په ځواب کې یَهْدِیْکُمُ اللهُ ( الله دي تاسې ته هدایت وکړي ) ووایاست.

⊙ خوشبوي زیاته کاروي د پیغمبر اکرم صلی‌الله علیه وسلم خوشبوي ډېره خوښه وه، هغه صلی‌الله علیه وسلم به له ویده کیدو وروسته چې کله د نورو اړتیاو نه فارغ شو نو خوشبویې به یې خامخا لګوله.

## د روغتيا آداب

* روغتيا د الله تعالی ستر نعمت دي او ستر امانت هم، د روغتيا ارزښت وپیژنئ او په ساتنه کې یې هیڅکله بې پروایي مه کوئ، یو ځلې چې روغتیا خرابه شي نو بیا په ډېره ګرانه بیرته ځای ته راځي، لکه څنګه چې کوچنۍ وینه لویې لویې کتابخانې خاورې ایرې کوي او له مخه یې وړي، همدا رانګه ډېره کوچنۍ بې پروایي او کوچنۍ ناروغي ژوندون تباه کوي او پای ته یې رسوي ، د روغتیا له غوښتنو نه سترګې پټول او په ساتنه کې یې بې پروایي کول د الله جل جلاله ناشکري هم ده او بې حسي هم .

د بشري ژوندانه اصلي جوهر عقل ، اخلاق ، ایمان او شعور دی او د عقل، اخلاقو، ایمان او شعور د روغتیا دارو مدار هم تر ډېره حده په بدنـي روغتیا پورې اړه لري، د عقل او دماغ وده د غوره اخلاقو غوښتنه او دیني فرایضو د ادا کولو لپاره بدني روغتیا د بنسټ حیثیت لري ، د ناتوانــه او ناروغ بدن عقل او دماغ هم ناتوانه وي او کار کول یې هم بې انـدازې حوصله ماتوونکي ، او چې کله ژونـدون له هیلو، ولولو، او حوصلو نه بې برخې وي او ارادې کمــزورې ، ولولې سـړې او ویجاړې نو داسې بې خونده ژوندون د بې ځواکه بدن لپاره روحي عذاب وي .

په ژوندانه کې چې مؤمن باید کومې غوره کار نامې سرته ورسوي او د خلافت کوم ستر مسئوولیت چې باید سرته ورسوي، د دې لپاره ضروري ده چې په بدن کې روح وي، په عقل او دماغ کې قوت وي، په ارادو کې محکمتیا وي، حوصلې یې لوړې وي او ژوندون یې د ولولو، هیلو او غوره ارزوګانو نه ډک وي، له روغو او ژوندي زړیو وګړیو نه ژوندي قامونه جوړیږي او همداسې قامونه د ژوندانــه په اړو پیچ کې د غوره قربانیو په ورکولو د ځان لپاره غوره مقام پیدا کوي او د ژوندانه پر ارزښت او سترتوب پوهیږي .

* تل ترو تازه خوښ او خوشحاله تکړه او چالاک اوسی ، د ښـه خوي، ښو اخلاقو، موسکا او ژوندي زړیتوب په وسله ژونـدون ښکلي او راښکونکي کړی،

له غم ، غوسې، بې ځايه فکرونو، کيني او حسد، تنګ نظرۍ او مړ اويتوب او له دماغي زوروني ځان وژغورې ، دغه اخلاقي ناروغي او ذهني پريشانۍ پر معده بده اغيزه پريباسي. او د معدې ناروغي د دروغتيا بدترين دښمن دي ، د نبې صلى الله عليه وسلم لارښوونه ده، ساده اوسم اوسی ، منځني ژوند غوره کړې او ترو تازه اوسی .... [مشکوة]

يو ځلې پيغمبر اکرم صلى الله عليه وسلم يو بوډا سړی وليد چې د دوه زامنو پر اوږو يې لاسونه ايښی د هغوي تر منځ ګوډ ګوډ روان دي، هغه وپوښتل پردي بوډا څه شوي دي؟ خلکو وويل چې ده تر بيت الله پوری پياده تلل نذر منلي و، نبې صلى الله عليه وسلم ارشاد وفرمايه " الله جل جلاله له دي نه بې نيازه دي چې دا بوډا خپل ځان په عذاب اخته کړی " او هغه بوډا تـه يې حکم وکړ چې سپور شه او خپل سفر پوره کړه .

حضرت عمر رضی الله عنه يو ځلمی وليد چې مړاوي روان دي، هغه ودراوه او تري وي وپوښتل څه ناروغ يې؟ ځلمي وويل، هيڅ ناروغی می نشته ، هغه دوره راپورته کړه او وه يې ويراوه، ورته وي ويل : ښه چابک پر لاره درومه .

پيغمبر اکرم صلى الله عليه وسلم به چې پر لاره تـه نو ډېر درانـه ګامونه بـه يې ايښودل او له داسي زور سره به روان و لکه پر ځوړی چې راکوزيږی .

حضرت عبدالله بن حارث رضی الله عنه وايی : ما له رسول الله ﷺ نه زيات موسکا کوونکي سړی نه دي ليدلی ... [جامع ترمذی]

او نبې صلى الله عليه وسلم چې خپل امت ته کومه دعا ورزده کړی د هغې هم خيال ساتی .

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِکَ مِنَ الْهَمِّ وَ الْحُزْنِ وَ الْعَجْزِ وَالْکَسْلِ وَ ضَلَعِ الدَّیْنِ وَغَلَبَهِ الـرِّجَالِ .... [صحيح بخاری، صحيح مسلم]

اَللّٰه ! زه خپل ځان ستا په پناه کې درکوم له پريشانی ، له غم نه ، له بيچارګی نـه، له سستی او لتی نه، د پور له بار او له دي خبرې نه چې خلک می د فشار لاندي وساتي .

* پر خپل ځان له ځانه زيات بارمه باروي، بدنـی ځواکونه مـه ضايع کوي، د بدنی ځواکونو دا حق دي چې د هغې ساتنه وکړای شي او له هغې نه د توان سره

سم کار واخيستل شي ، حضرت عايشه رضی الله عنها فرمايي چې د پيغمبر اکرم صلی‌الله عليه وسلم لاربښوونه ده : همدومره عمل کوي د خومر چې په تاسی کې توان وي، ځکه چې الله نه بيزاره کيږی تر څو چې تاسې پخپله بيزاره نه شي ... [صحيح بخاری]

حضرت ابو قيس رضی الله عنه فرمايی چې زه د نبې صلی‌الله عليه وسلم په خدمت کې په داسې وخت کې حاضر شوم چې هغه خطبه ورکوله، زه لمر ته ودريدم، نبې صلی‌الله عليه وسلم حکم وکړ سيوري ته شوم. . . [الاداب المفرد ]

او پيغمبر اکرم صلی‌الله عليه وسلم د دي نه هم منع فرمايلی چې د چا د بدن دي يوه برخه سيوري او يوه برخه لمر ته وي.

د باهله قبيلی يوه ميرمن حضرت مجيبه رضی الله عنها بيانوي چې يو ځلی زما پلار پيغمبر اکرم صلی‌الله عليه وسلم ته د دين زده کولو لپاره ولاړ او ( د دين څو مهمی خبری يې معلومی کړی ) کور ته بيرته راغی ، بيا يو کال وروسته د هغه په خدمت کې حاضر شو، نو نبې صلی الله عليه وسلم هغه بيخي ونه پيژانده، نو هغه تری وپوښتل يا رسول الله صلی الله عليه وسلم زه دي ونه پيژندم؟ هغه وفرمايل : نه ! ما خو ته ونه پيژاندي ، خپل ځان راوپيژنه ؟ هغه وويل : زه د باهله قبيلی يو سړی يم تير کال هم ستاسي په خدمت کې حاضر شوي وم " نو نبې صلی‌الله عليه وسلم ورته وفرمايل " دا پر تا څه شوي دي!! تير کال چې ته کله راغلی وي ستا حالت ډير ښه و! هغه ورته وويل: د کومی ورځی نه چې زه له دي ځايه تللی يم له هماغه ورځی راهيسی روژې نيسم، يوازي د شپی خواړه خورم، هغه ورته وفرمايل تاسی خامخا خپل ځان پـه عـذاب اخته کړی دي او خپل صحت مو خراب کړی دي، بيا هغه ورته لاربښوونه وکړه چې: د روژی مياشت پوره روژي نيسه او سربيره پردي په هره مياشت کې يوه روژه نيسه هغه ورته وويل: محترمه ! له يوي ورځی نه د زياتو اجـازه راکړی ، ورته وي فرمايل ښه نو په هره مياشت کې دوه ورځی روژه نيسه، هغه بيا وويل عزتمنده د لږ څه زياتو اجازه راکړی، هغه وفرمايل ښـه نو په هره مياشت کې دری ورځی، هغه وويل : حضور يو څو نوری پری ورزياتی کړی. حضور اکرم وفرمايل ښه نو هر کال په محترمو مياشتو کې روژه نيسه او نورې پريږده، همداسې هر کال کوه،

د دي ارشاد فرمايلو پر وخت يې په خپلو دريو مبارکو ګوتو اشاره وکړه او سره يو ځای يې کړې، او بيا يې پرينبودي ( له دي نه دا ويل هدف و چې په رجب، شوال ، او ذيقعده او ذالحجه کې روژی نيسه او ځينی کلونه يې نيسه هم مه ) او د پيغمبر اکرم صلی‌الله عليه وسلم لاربنوونه ده، " د مومن لپاره پکار نه دي چې خپل ځان ذليل کړی " خلکو پوښتنه وکړه " مومن به څنګه خپل ځان خواروي؟ وي فرمايل چې هغه له توانه په پورته ازميښت کې ځان واچوي... [جامع ترمذی]

* تل د زيارګالنی، زحمت ګالنی ، کوښښ زيار او زړورتوب ژوند تيروي ، د هر ډول مشکلاتو زغملو او ګرانو حالاتو سره د مقابلې عادت زده کړی د کلک بدنی، ساده او مجاهدانه ژوندانه تيرولو کوښښ وکړي ، آرام غوښتونکي آسان طلب، ناز نخري خوښوونکی ، لټ او بيکاره، مزی چړچې خوښوونکي، پست همته او دنيا خوښوونکی مه کيږی .

پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم چې کله حضرت معاذ بن جبل ﷺ يمن تـه د والی په توګه ليږه نو ورته وي فرمايل چې معاذه! خپل ځان له مزو چړچو نه وژغوره، ځکه چې د الله بنده ګان عيش خوښوونکی نه وي ...[ مشکوه]

او حضرت ابو امامه وايي چې پيغمبر اکرم صلی‌الله عليه وسلم وفرمايل: ساده ژوندون تيرول د ايمان نښه ده. . . [سنن ابو داود ]

پيغمبر اکرم صلی‌الله عليه وسلم تل ساده او مجاهدانـه ژونـدون تيراوه او تل به يې د خپل مجاهدانه قوت د زياتولو او ساتلو کوښښ کاوه، هغه له لمبا سره هم زياته مينه لرله ځکه چې د لمبا په وسله د بدن ښه ورزش کيږي ، يو ځلی پـه يوه ډنډ کې هغه د څو تنو صحابه و سره لمبل، هغه د لامبو وهونکيو نه يـوه يـوه جوړه، جوړه کړه چې هر څوک دي د خپل ملګري په لور لامبو ووهی ، پـه دي ترڅ کې د نبي اکرم صلی‌الله عليه وسلم ملګري حضرت ابو بکر صديق ﷺ وټاکل شو، هغه په لامبو ځان تر هغه ورساوه او هغه يې له غاړی راونيو.

د سپرلی لپاره د پيغمبر اکرم صلی‌الله عليه وسلم آس ډېر خوښ و، هغه به د خپل آس خدمت پخپله کاوه، پخپل لستونی به يې د آس خوله مينځله او پاکوله، د آس د څټ ويښتان به يې پخپله سمول او فرمايل به يې نيکبختی د آس له تندي سره تر قيامه تړلی ده .

حضرت عقبه رضی الله عنه فرمايي چې نبي عليه السلام فرمايلی چې غشی ويشتل زده کړی پر اسونو سپريږی ، غشي ويشتونکی راته پر آسونو سپريدونکيونه زيات ګران دي او چا چې غشي ويشتل زده کړل او بيا يې پريښودل هغه د الله جل جلاله د نعمت نا شکری وکړه .

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمايی چې پيغمبر اکرم ﷺ فرمايلی دي: چا چې د خطرې په شپه د مجاهدينو څوکۍ وکړه دغه شپه يې د قدر شپې نه زياته غوره ده [حاکم]

پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته په خطاب کې وويل : زما پر امت داسې وخت راتلونکی دي، چې نور قامونه به پرې داسې راپريوزی لکه وږې کسان چې د خوړو پر دسترخوان را پريوزی نو چا ترې پوښتنه وکړه يا رسول ال له! آيا په هغه وخت کې به زموږ شمير دومره لږ وي چې زموږ د لاندي کولو لپاره به نور قامونه سره يو ځای کيږیاو پر موږ به را پريوزی ارشاد يې وفرمايه نـه ، هغه مهال به ستاسی شمير لږ نه وي، بلکه ستاسی شمير به زيات وي البته ستاسی وزن به په سيلاب کې د بهيدونکيو خاشو په څير وي، ستاسی د دښمنانو له زړونو به ستاسې رعب ووځی، او ستاسې په زړونو کې به بې همتی ځای ونيسی، پردي يو سړی پوښتنه وکړه يا رسول الله! دا بې همتی به په موږ کې د څه له امله پيدا کيږی ؟ هغه ﷺ وفرمايل له دي امله چې تاسې به له دنيا سره محبت او د مرګ نه به کرکه کوي .

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه وينا ده چې رسول الله صلی‌الله عليه وسلم فرمايلی دي: غوره ژوندون د هغه چا دي چې د خپل آس واګی يې نيولی وي او د الله جل جلاله په لاره کې يې ځغلوي، چيری چې د کومی خطرې خبر اوری د آس پر شا سپور ځغلی، له مرګ او مړينی داسې بې ويری وي، ګواکی چې د هغوي په لټه کې وي [صحيح مسلم].

* ښځی هم بايد د زيارګالنې، مشقت او مشکلاتو ژوندون تير کړی، د کور چارې بايد پخپله سرته ورسوي، ګرځيدلو را ګرځيدلو او تکليف زغملو سره عادت زده کړی، د آرام غوښتنې او مزو چړچو نه بايد ځان وژغوری او خپل اولاد هم بايد په مجاهدانه ژوندانه کې ورروزی په کور کې که ملازم وي بيا هم

اولاد باید په هر کار کې د ملازم سره له مرستې نه منع نه کړي او پر دي یې عادت کړي چې کوچنیان هم خپلې چارې پخپله سرته ورسوي، صحابیه میرمنو د خپل کور چارې پخپله سرته رسولې ، د پخلنځي کار به یې پخپله کاوه، میچنې به یې ګرزولې ، اوبه به یې راډکولې ، جامې به یې مینځلې، د ګنډلو او پیوندولو کار به یې پخپله کاوه، او د زیار او زغم ژوندن به یې تیراوه، او د اړتیا پر وخت به یې د جنګ په ډګر کې د زخمیانو مرهم ، پټې او د اوبو رسولو چارې هم سرته رسولې، له دې سره به د زنانه و صحت هم ښه و، اخلاق به یې هم ښه ؤ، او پر کوچنیانو به یې هم ښه اغیز پریووت، د اسلام په نظر کې غوره میرمن هغه ده چې د کور د چارو په سرته رسولو کې مشغوله وي او شپه او ورځ په خپلو کورنو چارو کې داسې مشغوله وي چې له خیرې نه یې سترګیا هم ښکاره کیږي او د پخلنځي تورکې هم پرې پراته وي ، د پیغمبر اکرم صلی‌الله علیه وسلم مبارکه لارښونه ده: زه او د مړنجن مخ میرمن به د قیامت په ورځ داسې یو (هغه د شهادت او منځنۍ ګوته سره یو ځای کړې او وې ویل).

* سهار د وختې پاڅیدلو عادت زده کړې په ویده کیدلو کې د اعتدال خیال ساتې مه دومره لږ ویده کیږې چې بدن مو په پوره اندازه آرام ونه کړای شي او غړې مو سست او ستومانه وي او مه دومره ویده کیږې چې لټ او بې کاره شې ، د شپې ژر ویده کیدلو او د سهار وختې پاڅیدلو سره ځانونه عادت کړې ، سهار چې پاڅې د الله ﷻ بنده ګي پر ځای کړې او په چمن یا میدان کې تفریح لپاره ووزې، د سهار تازه هوا پر روغتیا ښه اغیز پریباسې، هره ورځ د خپل بدنې قوت په لحاظ د مناسب او یوه اندازه ورزش خیال ساتې او پیغمبر ﷺ د باغ سیل خوښاوه او کله کله به یې په خپله هم د باغ سیل ته تشریف ووړ، هغه د ماسختن وروسته ویښ اوسیدل او خبرې کول منع کړې او فرمایلي یې دي چې له ماسختن وروسته هغه څوک ویښ پاتې کیدای شي چې څه دیني خبرې اترې کوي او یا یې د خپلې میرمنې سره څه ضروري خبرې اترې وي.

* د نفس په واک کې ساتلو عادت زده کړې ، خپل جذبات ، خیالات، غوښتنې، او شهوانې توان په واک کې وساتې، خپل زړه له ښوییدلو، خیالات له خوریدلو او نظر له بیځایه کیدلو نه وژغورې ، د غوښتنو او هیلو له بې

لاريتوب او د نظر له گمراهۍ نه زړه او د ماغ له آرام او عافيت نه بې برخې کيږياو داسې ځيرې د ځوانۍ د ښکلا او ښايست او د شان او پر تمينتوب د سړيتوب له زړه راښکونکيو صفاتو نه بې برخې کيږي ، او بيا د ژوندانه په هر ډگر کې بې همته ، بې زړه او بې صبره ثابتيږي .

د پيغمبر اکرم صلی‌الله عليه وسلم لارښوونه ده: د سترگو زنا بد نظر کول او د ژبې زنا بې حيا خبرې کول دي، نفس غوښتنې کوي او شرم ځايونه يې يا تصديق کوي او يا تکذيب .

يو پوه او حکيم ويلي دي مسلمانانو! بدکارۍ ته مه ورنږدې کيږي په دې کې شپږ خرابې دي ، درې خرابې خو په دې دنيا کې دي او درې پـه اخرت کې، د دنيا درې بدې دا دي چې له دې سره په دنيا کې د سړي د ځيرې ښکلا او ښايست ورکيږي، پر سړي د فقـر او مفلسې مصيبت را نازل شي او دريم يې ژونـدون لنډ شي .

* د نشه لرونکيو شيانونه ځانونه وژغورۍ، نشه لرونکي شيان پر دماغ هم اغيز پريباسۍ او پر معده هم، شراب خو حرام دي خو تر دې پرته کوم شيان چې نشه تري پيدا کيږي له هغو نه هم ځانونه وساتي .

* په هر کار کې د اعتدال او ساده گۍ خيال ساتۍ، په بدني کارو زيار کې په دماغۍ کارونو کې، په ازدواجۍ اړيکو کې، په خوراک څښاک کې، په ويده کيدلو او آرام کې، د غم په زغم او خندلو کې، په تفريح او عبادت کې، په رفتار او گفتار کې لنډه دا چې په هر څه کې اعتدال غوره کړي او خير او ښه والی سرچينه يې وگڼی د پيغمبر اکرم ﷺ لارښوونه ده: په خوښي کې ميانه روي ځومره ښه ده، په بې وسۍ کې د اعتدال رويه ځومره غوره ده، او په عبادت کې منځنۍ درجه ځومره بهتره ده [ مستند بزاز، کنز العمال ] .

* خواړه تل پر خپل وخت خوری ، له زيات خوراک نه ځانونه ساتۍ، هر وخت د شخوند وهلو نه ځان وساتي، خواړه د وږې کيدلو پر وخت خوری او چې لا يو څه وږې ياست نو پاځۍ، د ولږې نه زياته مه خوری ، د نبي ﷺ لارښوونه ده: مومن يې پر يوه ژامه خوری او کافر يې پر اوو ژامو خوری [ جامع ترمذی ]

د روغتيا دارو مدار د معدي پر روغتيا دي، او په زياتو خوړلو معده خرابيږي، پيغمبر اکرم صلى الله عليه وسلم يې په مثال کې داسې واضح کوي: معده د بدن لپاره د ډند په څير ده او رګونه د دې ډنډ نه څښونکې دي، نو که معده روغه جوړه وي نو رګونه هم له روغتيا نه مړيږي او که معده خرابه او ناروغه وي نو رګونه هم ناروغي څښي [بيهقي]

د لږو خوړو په مينه وال کولو کې نبي عليه السلام دا هم فرمايلي: د يوه سړي خواړه د دوه کسانو لپاره بس دي".

* تل ساده خواړه خوري، د بې چانه وړو ډوډۍ خوري ډېرو ګرمو خوړو له خوړلو ځان ساتي، د مسالو، سرو کړيو او له اړتيا نه د زياتو خوندورو شيانو هيله مه کوي، داسې خواړه خوري چې ژر هضميږي او ساده وي او بدن پرې روغ او توانمن وي.

يوازې په مزو چړچو او د خولې په سرو کړيو پس مه درومې.

د پيغمبر اکرم صلى الله عليه وسلم د بې غلبيله اوړو ډوډۍ خوښه وه، نرې او د ترميده وړو فتيرۍ يې خوښې نه وې، ډېر ګرم خواړه به يې چې تاوېونه بـه ترې ختل نه خوړل لا چې سړيدو ته به يې انتظار کاوه د ګرمو خوړو په باب بـه يې کله فرمايل چې الله جل جلاله پر مونږ اور نه خوروي او کله به يې فرمايل پـه ګرمو خوړو کې برکت نه وي، د هغه غوښه خوښه وه په ځانګړي توګه يې د لاس، ورميږ او لنډي غوښه خوښوله، په حقيقت کې د بدن د قوي کولو او د مجاهدانـه مزاج د پيدا کولو لپاره غوښه يوه مهمه او غوره غذا ده او د مومن سينه بايد تل د مجاهدانه ولولو نه ډکه وي د پيغمبر آکرم صلى الله عليه وسلم لارښوونه ده: څوک چې د الله جل جلاله په لار کې له جهاد کولو پرته مړ شو او په زړه کې يې د جهاد هيله هم نه وه هغه د نفاق په يو حالت کې مړ شو [صحيح مسلم]

* خواړه ښه په آرام او اطمينان او ژولو ژولو سره خوري، د غم، غوسې، تکليف او ويرې په وخت کې د خوړو له خوړلو ځان وساتي، د خوښي او ذهني آرام په حالت کې چې کوم خواړه په اطمينان سره خوړل کيږي، هغه بدن ته قوت ورکوي او د غم او فکر او ويرې په حالت کې چې کوم خواړه خوړل کيږي هغه پر معده بده اغيزه پريباسي او بدن ترې په زړه پورې قوت نه تر لاسه کوي، پر دستر

خوان نه بيخي چپ او غم ځپلي کښيني او مه د اندازې نه زياته خوشحالي ښکاره کوي چې پر دستر خوان مو قهقهې پورته شي، د خوړو په وخت په زوره خندل ځينې وختونه د بدن لپاره د خطرې لامل کيږي .

پر دستر خوان پخپله اندازه موسکا او خبرې کوي، په خوښي او خوشحالي سره خواړه خوري او د الله په درګړاى شويو نعمتونو د هغه شکر ادا کوي او چې کله ناروغ شي په مکمله اندازه پرهيز کوي .

ام منذر رضی الله عنها وايي چې نبي اکرم صلی الله عليه وسلم زمونږ کره راغی، زمونږ کره د خرما خوشي ځوړندي وي، حضور صلی الله عليه وسلم له هغو نه په خوړلو پيل وکړ، حضرت علی کرم الله وجهه هم ورسره و، هغه هم ورسره په خوړلو شروع وکړه، نو نبي ﷺ هغه منع کړ، چې ته اوس له ناروغی نه راپورته شوي يې، ته يې مه خوره حضرت علی رضی الله عنه بس کړل، او رسول اکرم صلی الله عليه وسلم خوړلې، ام منذر رضی الله عنها وايي چي بيا مې لږ څه د اوربشو وړه او چغندر پاخه کړل ، نبي ﷺ حضرت علی کرم الله وجهه ته وويل علی ! دا وخوره دا ستا لپاره مناسب خواړه دي [ شمايل جامع ترمذی ] .

د پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم پر دستر خوان به چې څوک ميلمه و نو هغه صلی الله عليه وسلم به ورته بار بار فرمايل خوری ، نوره وخوری کله به چې ميلمه ښه موړ شو او بې اندازې انکار به يې کاوه نو بيا به هغه ټينګار نه کاوه يعنې هغه به په ډيره ښه فضاء او د خوښي په چاپيريال کې د ښو او مناسبو خبرو اترو تر څنګ خواړه خوړل .

* د غرمې ډوډۍ له خوړلو وروسته قيلوله ( لږ څه آرام وکړی او د شپې ډوډۍ له خوړلو وروسته تر يو ځايه لاړ او راشي او د ډوډۍ خوړلو وروسته په سملاسی ډول کوم ګران دماغی او يا بدنی کار هيڅکله مه کوي، د عربې مشهوره مقوله ده : ( تغد تمد تعش تمش ) چې د غرمې ډوډی وخوری و غزيږی او چې د شپې ډوډی وخوری نو وګرځه را وګرځه .

* د سترګو د ساتنې پوره خيال ساتنی، د تيزې رڼا سره سترګې مه جنګوی، لمر ته نيغ مه ګورې، په ډيره لږه او ډيره زياته رڼا کې لوست مه کوي، تل په صافه او برابره رڼا کې مطالعه وکړی، له ډيري بې خوبی نه ځان وژغوری، د

لوګو او دوړو نه سترګې وساتي، رانجه استعمال کړی او تل د سترګو پاکو ساتلو کوښښ وکړی، په فصلونو، بڼونو او شنو شنو ځايونو کې سيل او تفريح کوي، د شنو ځايونو په ليدلو پر سترګو ښه اغيز پريووزي.

سترګې د بد نظر نه هم وساتي، له دي سره سترګې بې ډوله کيږی او پر صحت يې هم اغيز پريوزی، نبې صلی‌الله عليه وسلم فرمايل "ستاسې د سترګو هم پر تاسې حق دي" پر مؤمن فرض دي چې د الله جل جلاله د دي نعمت درناوي وکړی، د الله جل جلاله رضا سره سمی يې په کار واچوي. د ساتنی او پاکوالی خيال يې وکړی، هغه تولی لاری چاری غوره کړی چې سترګو ته تری فايده رسيږی، او له هغو خبرو ځان وساتي چې سترګو ته تری زيان رسيږی، همدا رنګه د بدن د نورو غړيو د قوت ساتلو ته خيال کوي، د پيغمبر اکرم ﷺ لارښوونه ده: خلکو! سترګو په رنجو کوي، رانجه د سترګو خيری لری کوي او ويښتان رازر غونوي [جامع ترمذی]

* د غاښونو پاکوالی او ساتنی ته پام وکړئ، د غاښونو له پاکو ساتلو نه خوشحالي حاصليږی او پر هاضمه يې ښه اغيز پريوزی او غاښونه کلک هم پاتی کيږی، د مسواک سره ځانونه عادت کړئ، کريم او د غاښونو پاکوالی پودر هم استعمالوئ، پر پان يا نسوارو زياتو استمالولو غاښونه مه خرابوي، د خوړو وروسته هم غاښونه ښه پاک کړی، د غاښونو له چتلی نه ډول ډول ناروغی پيدا کيږی د همدي لامله د نبې صلی‌الله عليه وسلم معمول ؤ چې کله به له خوبه راويښ شو نو په مسواک به يې خپله خوله پاکوله [صحيح بخاری او صحيح مسلم]

حضرت عايشه رضی الله عنها وايی چې (مونږ به د نبې عليه السلام لپاره د اوداسه اوبه او مسواک تيار ساتل چې کله به د الله جل جلاله حکم وشو هغه به راويښ شو کيبه ناست بيا به يې مسواک استعمالاوه بيا به يې اودس وکړ او لمونځ به يې اداء کاوه [صحيح مسلم]

حضرت انس رضی الله عنه وايې چې نبې اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ما تاسې ته د مسواک وهلو ډېر ټينګار کړی دي [صحيح بخاری]

د حضرت عایشه رضی الله عنها وینا ده چې نبي علیه السلام مبارکه لاربنوونه وکړه: مسواک د خولی پاکوونکي او د الله جل جلاله راضی کوونکي دي [سنن نسایی]

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم لاربنوونه ده: که زما د امت لپاره گرانه نه وای نو ما به د هر لمانځه پر وخت مسواک وهلو حکم کړی وُ [سنن ابو داود]

یو ځلی د هغه د لیدو لپاره څو تنه مسلمانان په خدمت کې حاضر شول، د هغوي غاښونه د ناپاکی له امله زیړ شوي وو، هغه چې ولیدل ورته وي ویل: ستاسې غاښونه څنگه زیړ زیړ ښکاره کیږي مسواک استعمالوي [مسند احمد]

* که تشو او یا ډکو متیازو ته مو اړتیا پیښه شي نو په سملاسی ډول خپله اړتیا پوره کړئ، د دې اړتیاو د نه پوره کولو له امله پر معده او دماغ بد اغیز پریووزی.

* د پاکی، طهارت او نظافت ډېر خیال ساتئ په قـرآنکریم کې دي: الله جل جلاله هغه کسان خپل دوستان گرځوي چې ډېر زیات پاک او صاف اوسیږي [التوبه]

او د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دي: پاکی او سپیڅلتیا نیم ایمان دي.

د پاکی او سپیڅلتیا د همـدې اهمیت د پــه نظر کې نیولو لـه مخی نبي ﷺ پاکوالي په باب مفصل احکام ورکړی دي او په هره چار کې یې پر پاکی او سپیڅلتیا ټینگار کړی دي.

د خوراک څښاک شیان پاک او پټ ساتی، د چټلتیا نه یې ژغوری او مچانو ته یې مه پریږدي. لوښی پاک او صاف ساتی، جامي او د ناستی ملاستی بستري ساتی، د ناستی ولاړی ځایونه مو باید پاک وي، د بدن د پاکوالي لپاره د اوداسه او غسل خیال ساتی، د بدن، جامو او د اړتیا د شیانو د پاکوالی نه د سړی روح خوشحاله او سوکاله کیږی، او بدن هم تر او تازه کیږی، او په مجموعی ډول یې د انسان پر روغتیا ښه اغیز پریوځي.

حضرت عدي بن حاتم رضی الله عنه فرمایي د کله نه چې مې ایمان راوړی دي د هر لمانځه لپاره په اوداسه کې یم:

یو ځلی نبي اکرم ﷺ حضرت بلال رضی الله عنه ته وویل، سبا به ته له مانه څنگه مخکې جنت ته داخلیږی؟ هغه وویل: یا رسول الله چې کله زه آذان ووایم

نو دوه رکعته لمونځ ضرور ادا کوم او چې کله مې اودس مات شي نو سملاسي نوي اودس کوم ، تل په اوداسه اوسیدلو کوښښ کوم.

حضرت ابو هريره رضی الله عنه وايي چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلی :
پر هر مسلمان د الله جل جلاله حق دي چې په هره هفته کې یوه ورځ غسل وکړي او خپل سر او بدن ومینځی [صحیح بخاری]

❀❀

## د جامو آداب

☜ جامې داسې اغوندي چې د شرم او حياو غيرت او شرافت او بدن پټولو او ساتلو غوښتنې پوره کړي او تهذيب او سليقه او ښکلا او جمال ترې ښکاره وي.

په قرآنکريم کې الله جل جلاله د خپل دي نعمت د يادوني په ترخ کې فرمايي: يَابَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ وَرِيشًا وَلِبَاسُ التَّقْوَى ذَلِكَ خَيْرٌ ذَلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ (اى د آدم اولادې ! مونږ تاسې ته جامې نازلې کړې دي چې ستاسې د بدن شرم ځايونه وپوښي او ستاسې د بدن د ساتنې او ښکلا وسيله هم وي او ډيره غوره جامه د پرهيزګارى جامه ده داد الله له نښانو څخه يوه نښانه ده ، په کار ده چې خلک ورڅخه درس وخلې)

ريش په اصل کې د مرغانو ښکو ته وايي، د مرغانو ښکې د هغو لپاره د ښکلا او ښايست وسيله هم ده او د بدن د ساتنې هم، په عامه اصطلاح کې د ريش کلمه د ښکلا او ښايست او غوره جامو لپاره استعماليږي.

د جامو هدف ښکلا او ښايست او له موسمي اغيزو څخه ځان ساتنه هم ده، خو لومړنى هدف ترې د شرم ځايونو پټول دي، الله جل جلاله شرم او حيا د بشر په فطرت کې پيدا کړيده، همدا لامل دي چې کله د حضرت آدم عليه السلام او حضرت بي بي حوا نه د جنت وياړلي جامې کوزې شوې، نو د جنت د ونو په پاڼو يې خپل بدنونه پټول، د دې لپاره په جامو کې دغه هدف تر ټولو لومړى وګڼئ او داسې جامې د ځان لپاره وټاکئ چې د ځان پټولو هدف ترې په ښه توګه پوره شي، ورسره د دې خيال ساتئ چې جامې مو د موسمى اغيزو نه د بدن ساتوونکې هم وي او داسې ورنسې جامې هم وي چې د ښکلا او ښايست او د اخلاقو وسيله هم وي، داسې نه وي چې تاسې يې واغوندې او کوم حيرانونکى يا د لوېواله درنه جوړه شي ، او د خلکو د خندا شي.

☜ د جامو اغوستلو پر وخت دا فکر وکړئ چې دا هغه نعمت دي چې الله تعالى پرى په ګردو مخلوقاتو کې يوازې انسان نازولى دي، نور مخلوقات ترى بې برخى دي، پر دي امتيازى بخشش او انعام د خپل الله شکر ادا کړى، او

د دي غوره انعام د سر لوړی له امله هيڅکله د الله د ناشکری او نافـرمانی عمل مه کوي، جامي د الله جل جلاله ډېر غوره نعمت دي، جامي چې واغـوندي نو دا احساس را ژوندي کړی او د شکر په ولولو د هغې دعا الفاظ ووایاست.چې پيغمبر اکرم صلی‌الله علیه وسلم مؤمنانو ته زده کړی ده .

غوره جامي د تقوا جامي دي، د تقوا له جامو نه باطنی سپيڅلتيا هم مراد ده او د ظاهری تقوا جامي هم، يعنی داسې جامي واغوندي چې د شريعت په نظر کې د تقوي لرونکيو جامي وي، چې کبر او غرور تری نه ښکاره کيږی چې نه د ښځو لپاره د سړو سره مشابهت ولری او نه د سړو لپاره د ښځو سره مشابهت ولری ، داسې جامی واغوندي چې ليدونکی تری احساس کړی چې اغوستونکی يې څوک له خدايه ويريدونکی او نيک انسان دي او ښځی دي په جامو کې د هغو حدودو خيال وساتي چې شريعت د هغوي لپاره ټاکلی دي او سړی دي د هغو بريدونو خيال ساتی چې شريعت د هغوي لپاره ټاکلی دي .

چې نوي جامي اغوندي نو د رخت نوم واخلی او د الله تعالی شکر ادا کړی چې الله جل جلاله پخپل فضل او کرم دا ټوټه رابښلی ، او د شکر او شکرانې په جذبه نوي جامي واغوندئ او دا دعا لولئ چې رسول اکرم ﷺ به لوستله : حضرت ابو سعيد خدری رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ به چې نوي جامي، پټکی، کميس او يا څادر اغوست نو د هغې نوم به يې ياداوه او فرمايل به يې :

اللهم لک الحمد انت کسوتنيه ، اسئلک خيره وخير ما صنع له واعوذبک من شره وشرما صنع له [سنن ابو داود]

( خدايا! ستا شکر دي تا پرما دا جامي واغوستی ، زه يې له تانه د خير غوښتونکې يم او زه خپل ځان ستا په پناه کې درکوم د دي جامو له بدي نه او د دي د مقصد د هغه بد اړخ نه چې دا ورته جوړی کړای شوي دي ) .

د دعا مطلب دا دي چې خدايه ته ماته توفيق راکړی چې زه ستا دا ښښل شوي جامي د هغه اهدافو لپاره وکاروم چې ستا په نزد سپيڅلي اهداف دي او ماته توفيق راکړی چې زه پری خپل ځان پټ کړی شم او د بې حيايی او بې شرمی له خبرو نه پرې خپل ښکاره او پټ وژغورلای شم او د ښکلا او ښايست وسيله يې

کړای شم او د شریعت د اصولو دننه پرې د خپل بدن ساتنه وکړای شم، چې جامې واغوندم نو نه به پر نورو ځان لوړ ګڼم، نه به غرور او تکبر کوم او نه به ستا د دې نعمت په استعمالولو کې د شریعت هغه حدود مات کړم چې تا د خپلو بنده ګانو لپاره ټاکلي دي.

د حضرت عمر رضی الله عنه وینا ده چې نبي ﷺ فرمایلي دي: چې څوک نوې جامې واغوندي که هغه توان لري نو پخوانۍ جامې دې کوم غریب ته خیرات ورکړي او نویو جامو اغوستلو پر وخت دې دا دعا ولولي:

الحمد الله الذی کسانی ما اواری به عورتی واتجمل به فی حیاتی.

(ټوله ثنا د هغه الله جل جلاله لپاره ده چې ماته یې دا جامې واغوستې چې زه پرې خپل شرم ځایونه پټوم او زما لپاره په ژوندانه کې د ښکلا او ښایست وسیله ده).

څوک چې د نویو جامو د اغوستلو پر وخت دا دعا لولي، الله تعالی به یې د دنیا په ژوند کې هم او له مرګه وروسته هم په خپل حفاظت او پالنه کې ساتي [جامع ترمذی]

☜ د جامو اغوستلو پر وخت د ښي لوري خیال ساتي، کمیس، کوټ، کرتې، او نور چې اغوندي نو لومړی ښي لستوڼی واغوندي، او په همدې ډول پرتوګ او نور چې اغوندي نو لومړی په ښي پښه کې پایڅه دننه کړئ نبي کریم صلی الله علیه وسلم به چې کله کمیس اغوسته نو لومړی به یې ښی لاس په ښي لستوڼي کې دننه کاوه او بیا به یې چپ لستوڼي کې دننه کاوه، همدا ډول به یې چې کله کوښې په پښو کولې نو لومړی به یې ښې پښه پـه کوښه کې دننه کوله بیا به یې چپه پښه په چپه کوښه کې دننه کړه او چې کله به یې څپلې ایستلې نو لومړی به یې چپه څپلۍ له پښې نه ایستله او بیا به یې ښـې پښه له ښې څپلۍ نه ایستله.

☜ جامې چې اغوندي نو لومړی یې خامخا وڅنډئ، کیدای شـي چې کمه مضره حشره پکې ننوتي وي او الله جل جلاله مـه کړه چې تاسې ته ضررونـه رسـوي نبي صلی الله علیه وسلم یو ځلې په یوه ځنګل کې خپلې موزې په پښو کولې، د لومړۍ موزې په پښو کولو وروسته یې چې کله د دویمې موزې د پښو

کولو اراده وکړه، نو کارغه راغی او هغه موزه یې پورته کړه او یو یې وړه، او چې ښه پورته ولاړ موزه یې راخوشي کړه، موزه چې له پاسه کښته را پریوته نو د راپریوتو له زوره د هغې نه یو مار لرې پریووت، هغه چې ولید د الله تعالی شکر یې ادا کړ او ارشاد یې وه فرمایه د هر مسلمان له پاره ضروري ده چې کله د موزو اغوستلو اراده وکړي نو هغه دي وڅنډي [طبراني] .

☜ سپینې جامې اغوندي، سپینې جامې د سړو لپاره ډېرې غوره دي د نبي علیه السلام لارښونه ده: سپینې جامې اغوندي، دا غوره جامې دي، سپیني جامي په ژوندانه کې اغوستل پکار دي او په سپینو جامو کې باید مړي دفن کړای شي [جامع ترمذی] .

یو بل مهال رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: سپینې جامې اغوندي، ځکه چې سپینې جامې ډېرې پاکې او سوتره ښکارې او په همدې کې خپل مړي په کفن کوئ .

له پاک او سوتره نه مراد دا دي چې که پر سپینو جامو کوچنی شان داغ هم پریووزي نو ژر احساسیږي او سړی یې ژر مینځي او صافوي یې او که کومه رنګ لرونکي توټه وي، نو پر هغې داغونه ژر نښي ښکاره کیدای او ژر مینځلو ته یې د چا نه پام کیږي.

په صحیح بخاري کې دي چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سپینې جامې اغوستې یعنې هغه پخپله هم سپینې جامې خوښولې او د امت مړیو ته یې هم د سپین کفن اغوستلو ترغیب ورکړی .

☜ پړتوګ، لنګ او نور د پښو له غوزانو ( پړکې یا بجلک ) نه پورته ساتئ ، کوم کسان چې په غرور او تکبر کې خپل پروګ او لنګ راځوړندوي، د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په نظر کې دا نامراده او ناکام کسان دي او د سخت عذاب وړ دي، د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده، درې ډوله کسان داسې دي چې الله جل وعلی شانه به د قیامت په ورځ نه له هغوي سره خبرې کوي او نه به د هغوي په لور ګوري او نه به هغوي پاک او صاف کړي او جنت ته به یې داخل نه کړي، بلکې هغوي ته به درد ناک عذاب ورکوي، حضرت ابو ذر غفاري رضی الله عنه پوښتنه وکړه چې یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ناکام او

نامراد کسان څوک دي؟ وي فرمایل : یو هغه څوک چې خپل پرتوګ د تکبر او غرور له امله د پښو له غوزانو ( پړکیو یا بجلک ) ښکته راځوړندوي ، بل هغه څوک چې احسان باروي او دریم هغه څوک چې د درواغو په سوګندونو خپلې سوداګرۍ ته رونق ورکول غواړي [ صحیح مسلم ] .

حضرت عبید بن خالد رضی الله عنه خپله یو پیښه بیانوي: زه یو ځلې په مدینه منوره کې روان وم چې ما د شا لورې دا غږ واورید " خپل پرتوګ پورته کړه، چې له دې سره سړی له ښکاره پلیتۍ نه هم پاک پاتې کیږي او د دننې مردارۍ نه هم، ما چې مخ ور واړاوه نو نبي اکرم صلی‌الله علیه وسلم مې ولید . عرض مې وکړ " یا رسول الله! دا خو یو معمولي شان څادر دي، نو پر دې څنګه غرور او لویي کیدای شي رسول الله اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایه: آیا ستا لپاره زما پیروي ضروري نه ده، ما چې د رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم دا وینا واوریده سترګې مې د هغوي پر تنګ ولګیدي ومې لیدل چې د هغوي پایڅې مبارک د پنډیو مبارکو په نیمایې کې دي .

د نبي اکرم صلی‌الله علیه وسلم دا وینا چې له غوزانو پورته پرتوګ او نور ساتل سړی د هر ډول ښکاره او پټو مرداریو نه ساتي لویه معنی لرونکې ده، د دې مطلب دا دي چې کله جامې لاندې ځوړندې وي نو د لارې پر مردارۍ خرابې او خیرنې کیږي، پاکي او صافي نه پاتې کیږي‌او دا خبره د پاکوالي او نظافت لرونکیو لپاره ډېره ګرانه تمامیږي ، بیا داسې کول د کبر او غرور له امله کیږي او کبر او غرور باطني مرداري ده او که دا مصلحتونه هم نه وي نو د مؤمن لپاره دا فرمان هر څه دي چې: رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم په ژوندون کې ستاسې لپاره غوره نمونه ده [ القـران ]

او د سنن ابو داود په حدیث کې خو هغه د دې کار ډېره لرزونکې سزا بیان کړیده، هغه فرمایلي: د مؤمن پرتوګ باید د پنډۍ تر نمایې پورې وي او تر غوزانو پورې یې په ټیټولو کې هم کومه بدي نشته، خو له غوزانو چې د چا پایڅې ځوړندې وي هغه به په اور کې سوځي ، او څوک چې د کبر او غرور له مخې خپلې پایڅې زیاتې ټیټوي، د قیامت په ورځ به الله جل جلاله هغه ته نه ګوري .

☜ وربښمیني جامې مه اغوندي دا د ښځو لباس دي او نبي ﷺ سړی د ښځو په څیر جامو اغوستلو نه په کلکه منع کړيدي.

حضرت عمر رضی الله عنه فرمايي چې د رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم لارښوونه ده: وربښمینې جامې مه اغوندئ، څوک يې چې په دې دنیا کې اغوندي هغه يې په آخرت کې اغوستلای نه شي [صحیح بخاری، صحیح مسلم].

یو ځلې پیغمبر اکرم صلی‌الله علیه وسلم حضرت علی رضی الله عنه ته وفرمایل: دا وربښمینې[1] ټوټي ځیری کړه او د فاطمه[2] په نامه بيبيانو يې وه ویشه [صحیح مسلم].

له دې نه دا هم معلومه شوه چې د ښځو لپاره وربښمینې جامې اغوستل غوره دي، نو ځکه هغه حکم وکړ چې بیبیانو ته ترې لوپټې جوړی کړه او که نه نو ټوټه د نورو شیانو لپاره هم په کار راتلای شي.

☜ ښځې دې داسې جامې نــه اغوندي چې بدن يــې ترې ښکاره او نــه دې داسې تنګې جامې اغونــدي چې اندامونــه يې ترې جلا جلا ښکاریږی او نظر جلبوي او د جامو له اغوستلو سره سره لوڅې ښکاري، رسول اکرم ﷺ دا ډول ښځو ته د عبرتناک انجام خبر ورکړی دي: هغه ښځې دوزخیانې دي چې د جامو له اغوستلو سره سره لوڅې ښکاري، نور ځانته لیوال کوي او پخپله پر نورو لیوالې وي، د ناز نخرو له امله غاړه د اوښ په څیر پورته وړي، داسې ښځې به نه جنت ته ځي او نه به د جنت خوشبوي ومو‌ي، په داسې حال کې چې د جنت خوشبويې تر ډېره لرې لرې ځي [ریاض الصالحین].

---

۱ ـ دا ټوټه نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته "اکیدر" د دومه حاکم په تحفه کې رالیږلې وه.

۲ ـ د فاطمه بیبیانو نه مراد درې بیبیانې دي: فاطمه زهرا رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم ګرانه لور او د حضرت علی رضی الله عنه میرمن، فاطمه بنت اسد رضی الله عنه د حضرت علی رضی الله عنه محترمه مور او فاطمه د سید الشهداء حمزه رضی الله عنه لور ده.

يو ځلې حضرت اسماء رضی الله عنها نرۍ جامې اغوستې وي، د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم په خدمت کې حاضره شوه، هغه مبارکه بې بې چې کله ورمخامخ شوه نو هغه تر مخ واړاوه او وي فرمايل :

اسماء کله چې نجونۍ ځوانې شي د هغوي لپاره روانه دي چې له مخ او لاسونو پرته يې د بدن بل ځای وليدل شي .

☜ د پرتوګ او لنګ په اغوستلو سره سره هم له داسې ملاستې او ناستې نه ځان وژغورۍ چې د تن ښکاره کيدلو انديښنه ترې موجوده وي ، د نبي ﷺ لارښوونه ده: يوه څپلۍ پرېښنو په لاره مه درومې او په لنګ کې په يوه زنګاونه مه کښينې پر چپ لاس خوراک مه کوي او څادر د ټولو بدن نه داسې مه تاوه وي، چې د کار کولو او لمونځ ادا کولو لپاره يې راونه ايستلای شي، په دوه لګولو کې يوه پښه پر بله مه اړوي، چې په دي ډول په ځان پټونه کې هم د بې احتياطی انديښنه وي .

☜ په جامو کې دي ښځې او نارينه يو ډول شکل او رنګ نه غوره کوي، د نبي صلی‌الله علیه وسلم لارښوونه ده چې الله تعالی پر هغو نارينه و لعنت فرمايلی دي چې د ښځو په څير رنګ او شکل غوره کوي، او پر هغو ښځو يې هم لعنت فرمايلی دي چې د نارينه وُ پيښې کوي [ صحيح بخاری ] .

حضرت ابو هريره رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله صلی‌الله علیه وسلم پر هغو سړيو لعنت فرمايلی دي چې ښځو په څير جامې اغوندي، او پر هغه ښځه يې هم لعنت فرمايلی دي چې د نارينه په څير جامې اغوندي [ سنن ابو داود ] .

يو ځلې حضرت عايشه رضی الله عنها ته چا يادونه وکړه چې يوه ښځه ده چې د سړيو په څير څپلۍ په پښو کوي، نو هغې وفرمايل: رسول الله ﷺ پر داسې ښځه لعنت وايي چې ځان د سړيو په څير کولو کوښښ کوي .

☜ ښځې بايد د ځوړکی ( ټيکرۍ ) په سر کولو خيال وساتي او پر هغې بايد خپل سر او سينه پټه کړي، داسې نرۍ لوپټه بايد پر سر نه کړي چې د سر ويښتان يې ښکاری، د لوپټې پر سر کولو مقصد همدا دي چې ښکلا پرۍ پټه کړای

شي، په قرانکريم کې د الله جل جلاله لارښوونه ده : وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَىٰ جُيُوبِهِنَّ [۱] (او پر خپلو سينو د خپلو لوپټو پلو راخپور کړئ) .

يو ځلې نبي اکرم صلی الله عليه وسلم ته د مصر جوړ شوي نرۍ ململ راغي ، هغه ترې يوه برخه څيرې کړه او د حيه کلبي ته يې ورکړه او ورته وي فرمايل له دې نه يوه برخه څيرۍ کړه او ته پر خپل کميس جوړ کړه او يوه برخه يې خپلې ميرمنې ته د لوپټې جوړولو لپاره ورکړه، خو هغې ته ووايه چې لاندې ترې بله توټه وګنډۍ چې بدن ترې نه ښکاره کيږي [ سنن ابو داود ] .

د کتاب او سنت دا ښکاره لارښوونۍ په نظر کې ونيسې او الهي احکام عملي کړي .

او د ګز ځلورمې برخې يوه نرۍ توټه مه د غاړې هار کوي او مه د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله عليه وسلم په احکامو پورۍ خندا کوي .

حضرت عايشه رضی الله عنها فرمايې چې: کله دا حکم نازل شو نو بيبيانو نرۍ رختونه پريښول او له پريړو رختونو نه يې ځړوکۍ جوړ کړلو [ سنن ابو داود ] .

☜ جامې تل د خپل توان او طاقت په اندازه اغوندي ، مه داسې جامې اغوندي چې وياړ او ځان ښودنه ترې ښکاره کيږي او تاسې نور خلک له ځانه سپک وګڼۍ او د خپلې شتمنۍ بې ځايه ښودنه وکړۍ او مه داسې جامې اغوندي چې ستاسې له توانه پورته وي او د بد خرڅۍ پر ګناه اخته شي او مه داسې بد حاله کيږۍ چې تل ستاسې په باب پوښتنه راولاړيږي ، او له شتو سره سره تاسې بې برخې ښکاره شي، بلکې د خپل توان او اقتصاد په اندازه برابرۍ او پاکۍ صافې جامې اغوندئ .

ځينې کسان څيرۍ، پيوندي او زړۍ جامې اغوندي او بد حاله ښکاره کيږي او دا کار ديندارۍ ګڼي يوازۍ همدا نه بلکې چې هغوي هغه کسان دنيا دار ګڼي چې پاکې او صافې جامې اغوندي، حال دا دي چې د ديندارۍ دا ډول فکر بيخۍ غلط دي، حضرت ابو الحسن علي شاذلي رحمه الله عليه يو ځلې ډېرې ښۍ جامې اغوستې وي، کوم بد حاله صوفي د هغه پر شان شوکت اعتراض

---

۱ ـ د النور سورت ۳۱ آيت

وکړ، چې الهي مینه والو ته د داسې ارزښتناکو جامو اغوستلو څه اړتیا ده؟ حضرت شاذلي رحمة الله علیه ځواب ورکړ وروره دا شان او شوکت د عظمت او شان د څښتن (الله) د حمد او شکر ښکاره کونه ده، او ستا دا بد حالی د سوال ښبه ده ته د حال په ژبه د خلکو نه سوال کوی ، په اصل کې دینداری پــه زړو، پیوندي او څیری جامو اوستلو پوری تړلی نه ده او نه دنیا داری په ښو جامو اغوستلو پوری تړلی ده، د دینداری دار مدار د سړی په روغ نیت او سم فکر پوری دي، سهی خبره دا ده چې سړی په هره چار کې د خپل توان او طاقت په خیال ساتلو د اعتدال او توازن لار خپله کړی، نه دا چې په خرابو جامو اغو... د خپل نفس مړولو وخت تر لاسه کړی او نه باید په غوره جامو اغوستلو ځانته د ویاړ او تکبر شرایط برابر کړی.

د حضرت ابو الاحوص رحمة الله علیه پلار خپله یــوه پیښه بیانوي چې یــو ځلی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شوم، هغه مهال می پر تن ډېري زړې او خرابې جامې وې ، هغه پوښتنه وکړه آیا له تا ســره مال دولت شته؟ ما ورته وویل هو! پوښتنه یې وکړه څه ډول مال دي ؟ ما ورتــه وویل الله جل جلاله ماته هر ډول مال راکړی دي، اوښــان هــم شته ، غویان هم شته، اوزی هم شته، آسونه هــم شته او غلامان هم، هغـــه وفــرمایل : چې کله الله پاک ته په دومره مال او دول نازولی یې، نو د هغه د فضل او احسان اغیز ستا پر بدن باید ښکاره شي.

مطلب دا دي چې کله الله جل جلاله دا هر څه تاته در کړی دی نو بیا ستا شکل د بی وسی او فقیرانو په څیر ولی دي؟ دا خو د الله ناشکری ده.

د حضرت جابر رضی الله عنه وینا ده چې یو ځلی نبې صلی الله علیه وسلم د خبرو اترو لپاره زمونږ خواته تشریف راوړ، نو هغه یو سړی ولید چې په ګرداو د وړو ککړو او ویښتان یې انجړ بنجړ وو، هغه وفرمایل: آیا د دي سړی سره ږمنځ هم نه وه چې خپل ویښتان یې پری صاف کړی وای ؟ هغه یو بل سړی ولید چې خیرنې جامي یې اغوستی وي ، هغه وفرمایل :آیا د دي سړی سره هغه څیز (صابون او نور) هم نشته چې خپلې جامي پري ومینځی ... [ مشکوة ]

یو سړی رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ته وویل یا رسول الله! زه غواړم چې زما جامې دې ډېرې غوره وي، سر مې غوړ کړی وي، څپلۍ مې هم نازکې وي ، دا ډول هغه د ډېرو شیانو یادونه وکړه، تر دې چې هغه وویل زما زړه غواړي چې زما آس ډېر غوره وي نبي صلی‌الله علیه وسلم د هغه خبر یې اوریدې او بیا یې ورته وفرمایل: دا ټولې غوره خبرې دي او الله جل جلاله دغه ډول غوره ذوق ته په ښه نظر ګوري [مستدرک حاکم] .

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما فرمایي : ما لـه رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه ، یا رسول ! ایا دا تکبر دی چې زه غوره او ښکلې جامې واغوندم هغه وفـرمایل نـه ، بلکې دا خو ښکلا ده او الله ﷻ دغـه ډول ښکلا خوښـوي [سنن ابن ماجه] .

او د همدې حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وینا ده چې پیغمبر اکرم صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل چې په لمانځه کې دواړه جامې ( کمیس پرتوګ ) اغوندئ (ځان په مکملو جامو ښکلې کړی ) الله جل جلاله ډېر حق لري چې د هغه جل جلاله په حضور کې سړی ښه ښکلې او ښایسته ولاړ وي [مشکوه]

د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وینا ده چې نبي ﷺ فرمایلي دي چې په کوم زړه کې د ذرې اومره غرور وي هغه به جنت ته نه ځي. یو سړی وویل، هر څوک دا غواړي چې د هغه جامې دې ښکلې وي، د هغه څپلۍ دې غوره وي ، پیغمبر اکرم ﷺ وفرمایل الله جل جلاله پخپله د جمال څښتن دی او ښکلا یې خوښه ده ( غوره او ښایسته اغوستن غرور نه دی ) غرور خو په اصل کې دا دي چې سړی د حق نه بې نیازه شي او وګړي سپک او خوار وګڼي...[صحیح مسلم]

☜ په اغوستلو او له ځانه تاوه ولو کې د ډول او سینګار او د ذوق او سلیقې پوره پوره خیال ساتئ ، خیرې ګرځیدل، ښې او چپ صدفونه ګنډل یا یوه پایڅه پورته کول او بله کښته کول او یوه څپلۍ په پښو ګرځیدل یا ویښتان انجړ ساتل، دا ټولې خبرې د ذوق او سلیقې پر خلاف دي .

یوه ورځ رسول اکرم ﷺ په جومات کې تشریف لاره چې په دې کې یو سړی جومات ته راغی چې د سر او ږیرې ویښتان یې انجړوو، رسول الله ﷺ پخپل مبارک لاس د هغه په لور نغوته ( اشاره ) وکړه، چې مطلب یې دا و چې لاړ شه د

خپل سر او ږیره ویښتان برابر کړه هغه سړی ولاړ او د خپل سر او ږیری ویښتان یې جوړ کړل او راغی ، نو هغه وفرمایل : چې ایا ښکلا او ښایست له دي نه ښه نه دي چې د سړی ویښتان انجړ بنجړ وي ؟ او داسې معلومیږي چې ګواکی هغه شیطان دي [ مشکوة ] .

حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایلی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چې یوه څپلۍ په پښه مه درومی یا دواړه په پښو کوي روانیږی او یا دواړ اوباسی او پښیبله ګرځی. [ جامع ترمذی ]

او د همدي حدیث په رڼا کې دین پوهانانو یو لستونی او یوه موزه په لاس او پښو کول هم منع کړی دي .

✍ د سره او شوخ رنګ او د ځلیدونکو او نمایشی تورو او ګلابې رنګو جامو اغوستلو نه هم ځانونه وژغورئ، د سور شوخ رنګ او د ځرکیدونکی جامي د ښځو لپاره مناسبي دي او هغوي هم باید د اسلامی حدودو خیال وساتي، پاتی شوي نمایشي اوږدي اوږدي چپنی یاد تورو او ګلابې رنګو جامو اغوستل او د نورو په مقابل کې خپل لوړاوي ښودل او خپل غوره والی ثابتول نو دا خو بیخی د کبر او غرور نښی دي- همدا رنګه داسې حیرانوونکی او خندا وړ جامي هم مه اغوندي چې تاسې پری د تعجب وړ او د خندا وړ ښکاره شی .

✍ تل ساده با وقاره او سپیځلی جامي اغوندي او تل پر جامو د خپلي وسی په اندازه لګښت کوئ، په جامو کې د عیش خوښونی او د اړتیا نه د زیاتو نزاکتونو نه ځان وژغوری ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دي :

له مزو چړچو نه ځان وساتي ځکه چې د الله جل جلاله محبوب بندګان په چړچو پسي نه ګرځي [ مشکوة ]

او پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلی دي چې چا د وسی او توان سره سره یوازي د تواضع او خاکساری له مخی په جامو کې ساده ګی اختیار کړه نو الله جل جلاله به یې د شرافت او مشرتوب په جامو ښکلي کړي [ سنن ابو داود]

صحابه کرام رضی الله عنهم یوه ورځ ناست وو او د دنیا یادونه یې کوله، نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د جامو ساده ګی د ایمان له نښو نه یوه نښه ده [سنن ابو داود]

یو ځلی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې د الله تعالی زیاتره بنده ګان داسې دي چې ظاهری حالت یې ډېر معمولی وي، ویښتان یې ګډ وډ او په دوړو ککړ وي جامې یې کم ارزښته او ساده وي، خو د الله تعالی په نظر کې د هغوي مرتبه دومره لوړه وي چې که هغوي په کومه خبره سوګند یاد کړی نو الله جل جلاله د هغوي سوګند پوره کوي، له دې ډول خلکو نه یو براء بن مالک رضی الله عنه دی [جامع ترمذی]

☜ د الله پاک د دې نعمت د شکر ادا کولو لپاره یې پر هغو بې وسې خلکو هم واغوندي له چا سر چې د تن پټولو لپاره هیڅ نه وي، د نبي ﷺ فرمان دي ځوک چې پر کوم مسلمان جامې اغوندي او د هغه تن پټوي نو الله تعالی به د قیامت په ورځ د جنت شنی جامې ورواغوندي او بدن به یې پری پټ کړی [سنن ابو داود].

او رسول اکرم ﷺ دا هم فرمایلی دي: که کوم مسلمان خپل مسلمان ورور ته جامې واغوستی نو تر کومه چې هغه جامې اغوستونکی د ده جامې اغوندي دي به د خدای جل جلاله په حفاظت او ساتنه کې وي [جامع ترمذی]

☜ خپلو هغو نوکرانو او مزدورانو ته هم د خپلې وسی سره سم جامې جوړې کړی چې شپه او ورځ ستاسې خدمت کوي.

نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی وینځه او غلام ستاسې خویندې ورونه دي، هغوي الله پاک ستاسې په واک کې درکړی دي، نو له تاسې نه یې چې د چا په واک کې ځوک ورکړیدي نو هغه ته لازم دي چې هماغه پری وخوري چې پخپله یې خوری او هماغسی جامې پری واغوندي چې پخپله یې اغوندي او دومره کار تری واخلی چې له توانه یې زیات نه وي او که هغه کار کوي نو پخپله د هغه مرسته وکړی [صحیح بخاری، صحیح مسلم]

## د خوراک ، څښاک آداب

❋ له خوړلو د مخه لاسونه پريمينځی ، د پاکوالی او نظافت غوښتنه ده چې په خوړو کې پر لګيدونکيو لاسونو زړه باوری وي .

❋ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ولولئ او په خوراک پيل وکړی او که بِسْمِ اللهِ ... مو هيره شي نو د ياديدلو وخت کې ( بسم الله من اوله واخره ) ووايا‌ست ، ياد ساتي‌ پر کومو خوړو چې د الله جل جلاله مبارک نوم نه اخيستل کيږی هغه شيطان د ځان لپاره روا کوي .

❋ د خوړو لپاره تکيه کړی مه کينئ، په تواضع سره د پښو په سر کينی ، يا دواړه ذنګونونه ولګوئ او کښينئ او يا يو زنګون او دوروي او بل څملوي کښينی، د الله جل جلاله له استازی‌ حضرت محمد صلی‌الله عليه وسلم همداسې کيناسته .

❋ تل خواړه پرښی‌ لاس خوری، د اړتيا پر وخت له چپ لاس نه هم مرسته اخيستي شي .

❋ خواړه په دری‌ ګوتو خورئ او که اړتيا وي نو څلور ګوتی‌ هم استعمالولای شي، او ګوتی‌ تر پای ککړولو نه ځانونه وژغوری .

❋ مړی‌ ( کپ ) مه غټه اخلی او نه کوچنی او د يوي مړی د تيرولو وروسته بله مړی‌ خولی ته يوسی .

❋ پر ډوډی‌ هيڅکله ګوتی مه پاکوي دا ډېر بد عادت دي .

❋ د ډوډی‌ ځيری کولو او ګذارولو نه ځان وژغوری .

❋ په کاسه کې خپل لوری‌ نه خوراک کوي، مه يې له منځه خوری او نه يې د نورو له مخی کې خورئ .

❋ که مړی مو له لاس پريوته نو را پورته يې کړئ يا يې پاکه کړی او يا يې ومينځئ او وي خورئ .

❋ خواړه پـه ګډه خورئ پـه ګډو خوړلو سره مينه او محبت پيدا کيږی او برکت هم.

❋ پـه خوړو کې هيڅکله عيب مـه را اوباسې که خوښـه مو نـه وي مـه يې خورئ .

* ډېر ګرم او سوزوونکی خواړه مه خوری.
* د ډوډۍ خوړلو پر وخت کې له قهقهو او زیاتو خبرونه ځانونه وژغورئ.
* له ضرورت پرته خواړه مه بوي کوي دا بد عادت دي، د ډوډۍ خوړلو په وخت مو خوله داسې مه وازوي چې ژولی خواړه مو په خوله کې ښکاره شي او مه هر ځلی په خوله کې ګوته ننباسی او له غاښونو څه مه راباسې له دي نه پر دسترخوان ناستو خلکو ته کرکه پیدا کیږي.
* خواړه په ناسته خوری او اوبه په ناسته څښی، هو! د ضرورت پر وخت میوه او نور پر ولاړه خوړلای شي او اوبه هم څښلای شي.
* په کاسه کې چې څه پاتی شي که نرم وي نو وه يې څښی او که ټینګ وي نو پر ګوته يې وڅټی او کاسه پاکه کړئ.
* د خوراک څښاک شیانو ته پوکی مه کوي، د بدن له دننه نه راتلونکی هوا خرابه او زهرجنه وي.
* اوبه په درې ساګانو په وار وار وڅښی له دي سره اوبه هم د ضرورت په اندازه څښل کیږی او اسوده ګې هم وي او په یو وار ټول کټورې څښل ځینی وختونه تکلیف هم پیدا کوي.
* په ټولنیزه خوړه کې، د تیزو خوړونکیو او د ورو خوړونکیو خیال وساتي او د ټولو یو ځای بس کړی.
* د خوړونه چې وزګار شي ګوتی وڅټی او بیا لاسونه ومینځی.
* که میوه او نور څه خوري نو دوه دوه دانی او یا دوه دوه قتری په یووار مه پورته کوئ.
* د لوټی یا کوزی او نورو پر مښوکو اوبه مه څښئ، په داسې لوښیو کې اوبه څښی چې د څښلو پر وخت خولی ته راتلونکی اوبه لیدل کیږی، چې کوم مردار او یا ضرري څیز له اوبو سرنه تیر نه کړئ.
* د خوړونه په وزګاریدو دا دعا ولولی: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ (د هغه الله جل جلاله ثنا ده چا چې پر مونږ وخوړل وڅښل او چا چې مونږ مسلمانان ګرځولي یو).

## د ویده کیدلو او ویښیدلو آداب

کله چې د ماښام تیارۍ خپرېږي کوچنیان کورونو ته راوبولی او بیرون یې لوبو ته مه پرېږدي، هو! چې کله د شپې یوه برخه تیره شي نو له کوره د وتلو اجازه ورکولای شي، احتیاط په دي کې دي چې له شدید ضرورت پرته کوچینیان د شپې له کوره وتلو ته مه پرېږدي، د نبې صلی‌الله علیه وسلم فرمان دي : چې ماښام شي نو کوچنیان په کور کې ایسار کړی، ځکه چې دا مهال شیطانان په ځمکه کې خپرېږي البته چې د یوه ساعت په اندازه وخت تیر شي نو کوچنیان پرېښوولای شي [صحاح سته او د حصن حصین په حواله ].

چې کله ماښام شی دا دعا ولولی ، پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته د همدي دعا د لوستلو تلقین کړی ؤ : اَللّٰهُم بِکَ اَمْسَيْنَا وَبِکَ اَصْبَحْنَا وَبِکَ نَحْيَا وَبِکَ نَمُوْتُ وَاِلَيْکَ النُّشُوْرُ ... [ جامع ترمذی ]

الله! مونږ ستا په توفیق ماښام کړ او ستا په مرسته مو سبا کړ، هم ستا د مهربانۍ له مخې ژوندي یو او هم ستا په اشاره به مرو او بالاخره به هم ستا په حضور کې درېږو. [جامع ترمذی ].

او د ماښام د آذان پر وخت دا دعا ولولئ :

اَللّٰهُمَّ هٰذَا اِقْبَالُ لَيْلِکَ وَاِدْبَارُ نَهَارِکَ وَاَصْوَاتُ دُعَاتِکَ فَاغْفِرْلِیْ ... [ جامع ترمذی ، سنن ابو داود ]

الله! دا وخت دي ستا د شپې د راتللو، ستا د ورځې د تللو او ستا د مؤذنانو د بلنی، نو ته ماته ښښنه وکړه.

د نماسختن تر لمانځه د مخه له ویده کیدلو ځانونه وساتئ، دغه ډول زیاتره د نماسختن لمونځ په خطر کې پر یووزی او څوک خبر دي د خوب تر دي مړینې وروسته الله جل جلاله د بنده روح واپس کوي او که د تل لپاره یې اخلی ، نبې اکرم صلی‌الله علیه وسلم به په داسې کور کې د ویده کیدلو نه ډډه کوله چې رڼا به په کې نه وه شوي .

د شپې له راتلو سره سم په کور کې رڼا ولګوي، نبې صلی الله علیه وسلم به په داسې کور کې د ویده کیدلو نه ډډه کوله چې رڼا به پکې لګیدلې نه وه.

د شپې تر پلې پورې د ویښ اوسیدلو نه ډډه وکړې، د شپې د ژر ویده کیدلو او سهار د ژر ویښیدلو سره ځان بلد کړې، د رسول اکرم ﷺ فرمان دي: د ماسختن د لمانځه وروسته خو یا سړی د الهي ذکر او یا د کوروالاو سره د ضروري خبرو اترو لپاره ویښ پاتي کیدای شي.

د شپې ویښ اوسیدلو او ورځې د خوب پوره کولو نه ډډه وکړې، الله جل جلاله شپه د آرام او سکون لپاره پیدا کړې ده او ورځ یې له خوبه د بیداریدلو او د ژوندانیزو اړتیاو د پوره کولو د منډو تړړو لپاره پیدا کړې ده، په الفرقان سوره ۴۷ ایت کې دي: وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمْ اللَّيْلَ لِبَاسًا وَالنَّوْمَ سُبَاتًا وَجَعَلَ النَّهَارَ نُشُورًا (او همدا الله جل جلاله دي چې شپه یې ستاسې لپاره پرده پوښ او خوب یې د آرام او سکون او ورځ یې د ویښیدلو لپاره وګرځوله).

او په النباء سوره کې دي: وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا()وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاسًا()وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا (او مونږ ستاسې لپاره خوب آرام او سکون، شپه پرده پوښ او ورځ مو د روزی ګټلو د منډو تړړو وخت ګرځولی دي).

او په النمل سوره ۸۶ آیت کې دي: أَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا اللَّيْلَ لِيَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (آیا دي خلکو دا ونه لیدل چې مونږ شپه (تیاره) کړه چې دوي پکې آرام او سکون حاصل کړې او ورځ مو روښانه (چې منډې تړړې پکې ووهی) بې شکه په دي کې د مؤمنانو لپاره د فکر کولو اشارات دي).

شپه تیاره او د آرام او سکون وخت ګرزولو او ورځ د منډو تړړو او د کار او زیار لپاره روښانه کولو کې اشاره دا ده چې د شپې د ویده کیدلو پابندي وکړې، او په ورځ کې د خپلو اړتیاو لپاره د کار او زیار کوښښ وکړې، د ورځې په رڼا کې د خپلو اړتیاو لپاره په مکمله توګه د کار او زیار څه وکړې، تر دي چې ستاسې د بدن غړې ستړیا احساس کړې، په داسې وخت کې نو بیا د شپې په آرامه او پرده پوښه فضا کې د آرام و راحت سره غاړه شي او د ورځې په راختو سره بیا د الله جل جلاله نوم یاد کړې، تازه او دمه د کار میدان ته راکوزی شي، کوم کسان چې د آرام غوښتنې او سستیا له امله د ورځې خوبونه کوي یا په مزو

چرچو او چتیاتو کې شپې ویښې تیروي هغوی د قدرت حکمتونه وژني او خپله روغتیا او ژوندون بربادوي، د ورځې ځو باره ویده کیدونکي د ورځې خپل مسئوولیتونه هم په ښه توګه سرته نشي رسولای او تن او روح هم له ارامه بې برخې کوي، ځکه چې د ورځې خوب د شپې بدل نشي کیدای نبي ﷺ دا هم خوښ کړې نه دي چې سړی د شپې ویښ وي او د الله عبادت وکړي او خپل ځان په تکلیف او زحمت اخته کړي.

له عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه یو ځلی نبي اکرم صلی‌الله علیه وسلم وپوښتل آیا دا خبره چې ماته ویل شوي ده صحیح ده چې ته په پابندي سر د ورځې روژه نیسې او ټوله شپه لمونځونه کوي حضرت عبدالله رضی الله عنه وویل هو! خبره خو صحیح ده، رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل نه! داسې مه کوه کله روژه نیسه او کله خوره څښه، همدا رنګه ویده کیږه هم او پاڅیږه لمونځ هم ادا کوه ځکه چې ستا د بدن هم پر تا حق دی او سترګې هم درباندې حق لري [صحیح بخاري].

☜ ډېره آرام ورکوونکې بستره مه استعمالوي، په نړۍ کې د مؤمـن لپاره د آرام غوښتنې، عیش خوښونې او آسان چلی نه ځان ساتل پکار دي او مؤمن باید زحمت کې با عزمه او زیار ګالونکی وي، د حضرت عایشې رضی الله عنها وینا ده چې د نبي اکرم صلی‌الله علیه وسلم بستره د څرمنې وه چې د خرماو پوټکی یې پکې اچولی و. [شمایل جامع ترمذی].

د حضرت حفصه رضی الله عنها نه چا پوښتنه وکړه چې تاسې کره د نبي صلی‌الله علیه وسلم بستره څه ډول وه؟ وي فرمایل : د وړغنو یو ترپال و چې دوه قاته کړې مو و او د نبي صلی‌الله علیه وسلم لاندې مو غوړاوه، یوه ورځ فکر راغی چې که دا څلور قاته شي او بیا وغوړول شي نو یو څه نرم به شي، لکه چې هغه مو څلور قاته وغوړاوه، سهار هغه پوښتنه وکړه د شپې دې زما لاندې څه غوړولي وو، ما ورته وویل: هماغه د وړغنو ترپال و، هو! خو د شپې مې څلور قاته غوړولی و چې یو څه نرم شي، نبي صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل، نه هماغسې دوه قاته یې پرېږده، د شپې د بستر نرموالی د تهجدو لپاره په پاڅیدو کې خنډ شو [شمایل جامع ترمذی]

حضرت عایشه رضی الله عنها فرمایي چې یو ځلی یو انصاری میرمنی راغله او هغې د نبي صلی‌الله علیه وسلم بستره ولیده، کورته ولاړه او هغې میرمن یوه بستره جوړه کړه، هغه یې له وړیو ډکه کړی او ښه یې نرمه کړی وه، او نبي علیه السلام ته یې راولیږله، پیغمبر اکرم صلی‌الله علیه وسلم چې کورته راغی او هغه نرمه بستره یې ایښی ولیده نو وي فرمایل دا څه دي؟ ما عرض وکړ یا رسول الله! فلانی انصاره میرمن راغلی وه او ستاسې بستره یې لیدلی وه، اوس هغې دا ستاسې لپاره جوړه کړی او رالیږلی یې ده، رسول الله صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل: دا بیرته ورولیږه، زما هغه بستره ډېره خوښه وه، نو ځکه می زړه بیرته لیږل نه غوښتل، خو رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دومره ټینګار وکړ چې ما هغه بیرته ولیږله. [شمایل جامع ترمذی ]

پیغمبر اکرم صلی‌الله علیه وسلم یو ځلی پر یو پوزی ویده ؤ، پر پـوزی د ملاستی له امله د هغه پر بدن د پوزی نښی معلومیدي، حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمایی، ما چې ولیدلی په ژړا شوم. هغه چې زه پـه ژړا ولیدم وي فرمایل: ولی ژاړی؟ ما عرض وکړ یا رسول الله! قیصر او کسری خو دي وریښمو په بسترو ویده کیږی او تاسې دي پر پوزی! نبي ﷺ وفرمایل: دا د ژړا خبره نـه ده، د هغوي لپاره دنیا ده او زمونږ لپاره اخرت دي .

یو ځلی نبي اکرم صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل: زه د عیش او آرام او د بې فکری ژوندون څنګه تیرولای شم، په داسې حال کې چې اسرافیل شپیلی پرخوله، غوږ نیولی ( د حکم پر ځای کولو لپاره ( په ټیټ سر انتظار کوي چې کله بـه د شپیلی پوکولو حکم کیږی [جامع ترمذی ]

د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم دا ( اسوه ) غوښتنه کوي چې مؤمن پـه دي نړی کې مجاهدانه ژوندون تیر کړی او له مزو چړچو نه ځان وساتي.❤

☜له ویده کیدلو د مخه اودس وکړی او پاک او صاف ویده شی ، که لاسونـه مو غوړ شوي وي نو لاسونه ښه ومینځی او ویده شی ، د پیغمبر اکرم ﷺ فرمان دي د چا لاسونه چې غوړ شوي وي او د هغې له مینځلو پرته ویده شو او څه زیان ورته ورسید ( کومی حشری وچیچه ) نو هغه دي خپل ځان ملامت کړی ( چې له مینځلو پرته ویده شوي ؤ ) .

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم معمول وٸ چې له ویده کیدلو د مخه به یې اودس کاوه او که کله به یې په داسې حال کې اراده وکړه چې غسل ته به یې اړتیا وه نو لومړی به یې د ناپاکې ځای ومینځه او بیا به یې اودس وکړ ویده به شو.

د ویده کیدلو پر وخت د کور دروازه بنده کړی، د خوراک څښاک لوښی ومینځئ، چراغ او یا لاټین ګل کړی او که اور بلیږي نو هغه هم مړ کړی، یو ځلی په مدینه کې د شپې د چا په کور کې اور ولګیده، نو نبي ﷺ وفرمایل: اور ستاسې دښمن دي چې ویده کیږی نو اور مړ کړئ او رسول الله ﷺ وفرمایل: چې کله ماښام شي نو کوچنیان د کوره بیرونه مه پریږدي، ځکه چې دا مهال شیطانان په ځمکه کې خپریږي بیا چې د یوه ساعت پــه انـدازه وخت تیر شي نو پرې یې ږدي، او بِسْمِ اللهِ ووایاست دروازه بنده کړی او په بِسْمِ اللهِ ویلو چراغ ګل کړی، او د بسم الله په ویلو د مشک خوله وتړی او هم بِسْمِ اللهِ ووایاست او د خوراک څښاک لوښی پټ کړی، او که د پټولو لپاره یې سر پوښ او نور نه وي نو کوم بل څیز پر لوښی کیږدي [صحاح سته د حصن حصین په حواله]

د ویده کیدلو پر وخت دا شیان پر خپله بستره او یا یې تر څنګ خامخا کیږدي د څښلو اوبه او ګیلاس، لوټه، کوتک، د رڼا لپاره د اور ډبې (ګوګرد) مسواک ځان پاکی او نور او که تاسې چیرې میلمانه یاست نو د کور له څښتن نه د بیت الخلا او نورو ضروري، ځایونو پوښتنه خامخا وکړی، کیداشي چې د شپې مو کوم وخت اړتیا پیښه شي او په تکلیف کې اوسي، رسول اکرم ﷺ چې به کله آرام فرمایه نو د بالښت لاندي به یې اوه شیان ایښی وو، د تیلو ښیښه، ږومنځ ، د رنجو کڅوړه، بیاتی، مسواک، آیینه او د لرګی یو کوچنی شان تیلی چې د سر ګرولو لپاره به په کار راته.

د ویده کیدلو پر وخت څپلی، جامي او نور له ځان سره کیږدي چې کله له خوبه پاځیږي نو لټولو ته یې اړتیا پیښه نه شی او له پاڅیدو سره په څپلی کې پښه مه دننه کوي، همدا رنګه جامي له څنډلو پرته مه اغوندي لومړی یې وڅنډی، کیدای شي چې په څپلیو او یا جامو کې کوم موذی ځناور ننوتي وي او الله جل جلاله مه کړه هغه تاسې ته تکلیف ورسوي.

له ویده کیدلو د مخه بستره ښه وڅنډئ او که کله له خوبه د څه اړتیا لپاره پاڅئ او بیا راشي ویده کیږئ بیا هم بستره ښه وڅنډئ، د رسول الله ﷺ فرمان دي چې: کله له بسترې پاڅئ او بیا هم بسترې ته ورځئ نو د خپلي لنګی پرپیڅکو هغه درې کرتې وڅنډئ، ځکه چې تاسې نه پوهیږئ چې له تاسې نه وروسته بسترې ته څه څیز راغلی دي [ جامع ترمذی ].

کله چې بسترې ته ورسیږئ نو دا دعا ولولئ د پیغمبر اکرم ﷺ خاص خدمتګار حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې کله به هغه په بستره کې ویده کیده نو دا دعا به یې لوستله : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَ اٰوَانَا فَكَمْ مِّمَّنْ لَا كَافِيَ لَهٗ وَلَا مُؤْوِيَ [شمایل جامع ترمذی]

شکر او ستاینه هغه الله لره ده چا چې پر مونږ وخوړول او وڅښول او چا چې زمونږ په کارونو کې مکمله مرسته وکړه، او چا چې زمونږ لپاره د اوسیدلو ځایونه راوښئل ځومره خلک دي چې نه یې کوم مرستندوي او کومک کوونکي شته او نه څوک ورته د پناه ځای ورکوونکي.

بسترې ته د رسیدلو پر وخت د قران عظیم یوه برخه خامخا ولولئ ، رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم به د ویده کیدلو د مخه د قـران عظیم د یوي برخې تلاوت خامخا فرمایه، د هغه فرمان دي: څوک چې پر بستره د ویده کیدلو پر وخت د الهی کتاب کوم سورت لولی نو الله تعالی هغه تـه یوه ملایکه رالیږی چې د هر تکلیف او هر څیز نه د هغه د ویښیدلو پورې د هغه ساتنه کوي که څـه هم هغه هر وخت له خوبه راویښ شي [ احمد ]

او هغه ( محمد صلی‌الله علیه وسلم ) فرمایلی: کله چې انسان د ویـده کیدو لپاره بسترې ته ورشي نو دا مهال یوه ملایکه او شیطان هغه ته راځی ، ملایکه ورته وایي " د خپلو کړو پای پر نیکیو وکړه " او شیطان ورته وایي " د خپلو اعمالو خاتمه پر بدیو وکړه " بیا که هغه انسان د الله جل جلاله په یادولو ویده شو نو ملایکه ټوله شپه د هغه ساتنه کوي.

د حضرت عایشي رضی الله عنها وینا ده چې رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم به کله بسترې ته تشریف یووړ نو دواړه لاسونه به یې د دعا په څیر پورته کړل او د قل هوالله احد، قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس سورتونو تلاوت به

يې وفرمايه بيا به يې پر دواړو لاسونو کف کړل او تر کومه ځايه به چې رسيدل پر خپل مبارک بدن به يې راښکل، د سر مخ او بدن له مخکې برخې به يې پيل وفرمايه او هغه به درې کرتې دا عمل کاوه [ شمايل جامع ترمذی ]

کله چې د ويده کيدلو اراده وکړی نو ښی لاس د خپل ښی مخ لاندي کړی او چپ لاس پر خپل برنی اړخ وغزوي، حضرت براء رضی الله عنه فرمايې چې کله به نبې اکرم صلی الله عليه وسلم آرام فرمايه نو خپل ښی لاس به يې د ښی مخ لاندي کيښود او دا الفاظ به يې لوستل: رب قنی عذابک يوم تبعث عبادک ( الهی ! ما د هغه ورځی له عذاب نه وساته په کومه ورځ چې ته خپل بندګان خپل حضور ته راپورته او حاضر وي، په ( حصن حصين ) کې راغلی چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم به دا الفاظ درې کرتی لوستل .

پر مخه او پـه چپ اړخ له ملاستی نه ځان وساتي ، د حضرت معيش رضی الله عنه پلار طفخه الغفاری رضی الله عنه فرمايې چې زه پـه جومات کې پر مخی پروت وم چې کوم صاحب می پښی وښورولی او وي ويل داسې ويده کيدل د الله جل جلاله خوښ نـه دي ، ما چې څنګه ورتـه وکتل نو هغـه نبي صلی الله عليه وسلم وُ .

د ويده کيدلو لپاره داسې ځای وټاکی چيری چې تازه هوا رسيږی ، د داسې بندو کوټو نه د خوب لپاره ځان وساتي چيری چې تازه هوا نه رسيږی .

په ويده کيدلو کې خوله پر څه څيز مه پټوي، په دي ډول ويـده کيدل کې پر روغتيا بده اغيزه ډيريووزی، په ښکاره مخ د ويده کيدلو سره ځان عادت کړی، چې تازه هوا در رسيږی .

پر داسې بامونو مه ويده کيږی چې ديوال او يا جنګله تری تاوه نـه وي او د چت نه د راکوزيدلو پر وخت د دي خبريې خيال ساتی چې پر زينه د پښی اېښودلو د مخه د رڼا څه چاره وکړی ځينی وختونه په يوه کوچنی غلطی سړی تـه زيات تکليف رسيږی .

که هر څومره سخته يخنی وي چې منقل بل وي مه ويده کيږی او مـه پـه بنده کوټه کې چې لالټين لګيدلی وي ويده کيږی ، د اور بليدو له امله چې پـه

بندو کوټو کې کوم ګاز پیدا کیږي هغه د روغتیا لپاره ډېر ضرري دي، بلکې ځینې وختونه تري د مرګ خطره هم پیدا کیږي.

د ویده کیدلو د مخه دا دعا ولولی د حضرت ابو هریره رضی الله عنه وینا ده چې رسول الله ﷺ به د ویده کیدو د مخه دا دعا لوستله: بِاسْمِكَ رَبِّي وَضَعْتُ جَنْبِي وَبِكَ أَرْفَعُهُ إِنْ أَمْسَكْتَ نَفْسِي فَارْحَمْهَا وَإِنْ أَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهِ عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ [صحیح بخاری، صحیح مسلم]

ای زما ربه! هم ستا په نامه می خپل اړخ پر بستره ولګاوه او هم ستا په مرسته به د خپل بستر نه پاڅیږم او که ته زما نفس واخلی نو پر هغې رحم وکړه او که هغه ته نور وخت ورکوي، نو د هغه ساتنه وفرمایه، څنګه چې ته د خپلو نیکو بنده ګانو ساتنه کوي.

که دا دعا مو یاده نه وي نو دا لنډه شان دعا ولولی: اللهم باسمک اموت واحیی [صحیح بخاری، صحیح مسلم]

(الهی! زه هم ستا په نامه د مرګ غیږې ته ورځم او هم ستا په نامه به ژوندي پاڅیږم).

د شپې په وروستی برخه کې د پاڅیدو سره ځانونه عادت کړی، د نفس روزنې او له الله جل جلاله سره د اړیکو پیدا کولو لپاره په وروستی شپه کې پاڅیدل او الله جل جلاله یادول ضروری دي، الله جل جلاله خپلو محبوبو بنده ګانو ته د همدي غوره والی او ښه والی بیان کړی دي، چې د شپې پاڅیږی، د الله جل جلاله په حضور کې رکوع او سجده کوي او د خپلو ګناهونو ښښنه غواړي، د نبي ﷺ معمول وُچې د شپې په لومړی برخه کې به یې آرام کاوه او د شپې په اخر کې به پاڅیده او په عبادت به مشغولیده.

له خوبه په ویښیدلو دا دعا ولولی: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَآ اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ [صحیح بخاری، صحیح مسلم]

(ثنا او ستاینه هم د الله لپاره ده چې مونږ یې د مړه کولو وروسته پر ژوندانه و نازولو او د هماغه په حضور کې درېدل او حاضریدل دي).

کله چې کوم ښه خوب ووینی د الله جل جلاله شکر ادا کړی او هغه د ځان لپاره زیری وګڼی، د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمان دي، اوس په

نبوت کې له زیریو پرته هیڅ پاتی نه دي، خلکو پوښتنه وکړه چې د بشارت نه مرادخه دي، وي فرمایل ، ښه خوب لیدل [صحیح بخاری]

او هغه دا هم وفرمایل: چې په تاسې کې چې څوک زیات رښتونی وي د هغه خوب به هم زیات رښتونی وي، او هغه دا لارښوونـه هـم وکړه چې: که ښه خوب وګوری نو د الله جل جلاله حمد او ثنا دې ووایې او هغه بیان کړی او دوست تـه یې بیان کړی، نبي صلی‌الله علیه وسلم به چې کله خوب ولیده نو صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین ته به یې بیانوه او صحابه کرامو تـه بـه یې دا هم وویل چې خپل خوب بیان کړی زه د هغې تعبیر کوم [صحیح بخاری]

درود شریف زیات لولی هیله ده چې الله تعالی به مو د رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم پر زیارت مشرف کړی .

حضرت مولانا محمـد علی مونګیری رحمه الله علیه یو ځلی د حضرت فضل الرحمن ګنج مراد آبادي رحمه الله علیه نه پوښتنه وکړه چې کوم خاص درود شریف راوښایاست چې د نبې صلی‌الله علیه وسلم دیـدار را پـه برخه شي، هغه وویل کوم خاص درود نشته پس اخلاص پیدا کول پکار دي، بیا یې له یو څه تامل وروسته وفرمایل البته سید حسن رحمه الله علیه ته پردي درود عمل ښه ثابت شو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعِتْرَتِهٖ بِعَدَدِ كُلِّ مَعْلُوْمٍ لَّكَ ( یا الهی! پر محمد رحمت نازل کړه او د هغه پر آل او اولاد د هغه ټولو شیانو په شمیر چې اندازه یې تاته معلومه ده ) .

د رسول الله ﷺ فرمان دي چا چې زه پـه خوب کې ولیدم هغه واقعًا زه لیدلی یم، ځکه چې شیطان زما په شکل نشي کیدای [شمایل جامع ترمذی]

حضرت یزید قاری رحمه الله علیه قران عظیم الشان لیکه، یو کرتی یې د رسول الله ﷺ دیدار په نصیب شو، حضرت ابن عباس رضی الله عنهما ژوندي ؤ، حضرت یزید یې هغه ته یادونه وکړه نو حضرت ابن عباس رضی الله عنه هغه ته د رسول الله ﷺ دا حدیث واو راوه چې "چا زه په خوب کې ولیدم هغه واقعًا زه لیدلی یم ځکه چې شیطان زما په شکل نشي کیدای" بیا یې تری پوښتنه وکړه " تا چې کوم ذات په خوب کې لیدلی دي د هغه حلیه بیانولای شی ؟

حضرت یزید رحمه الله علیه وویل : د هغه قد او قامت او تن بې اندازې متوازن وُ، د هغه رنګ غنمي سپینوالي ته مایل وُ سترګې یې داسې وي لکه په رنجو توري ، خوشحاله څیره، ګرد مخ ډیره ګڼه ږیره مبارکه چې ټول مخ یې احاطه کړې وُ او پر سینه یې راخپره وه حضرت ابن عباس رضی الله عنه وویل که تا په ژونـــدانه کې لیدلی وای بیا به دې هم تر دې زیاته حلیه بیان کړې نه وای یعنی تا چې کوم حلیه بیان کړې ده ، هغه واقعی د رسول اکرم ﷺ حلیه ده [شمایل جامع ترمذی ] .

کله چې الله جل جلاله مکړه کوم خراب او ویرونکی خوب ووینې نو هیڅکله، یې چاته مه وایې او د هغه خوب د بد والی نه د الله جل جلاله پناه وغواړه، که الله جل جلاله غواړي د هغه خوب له شر نه به مو وساتي، حضرت ابو سلمه رضی الله عنه فرمایې چې زه به د خرابو خوبونو د لیدلو له امله تل ناروغه کیدم، یوه ورځ مې حضرت ابو قتاده رضی الله عنه تـه شکایت وکړ، نو هغه راته د نبي اکرم ﷺ دا حدیث شریف واوراوه: ښه خوب د الله جل جلاله له لوري وي که لـه تاسې نـــه څوک ښه خوب ووینې نو د خپل ګران دوست پرته دې چاته نه بیانـوي او که کوم خراب خوب وګوري نو بیخی دې چاته نه بیانوي، بلکې د وینښیدو سره دې " اعوذ باالله من الشیطان الرجیم " ولولي او درې کرتې دې چپ اړخ ته لاړې تو کړي او اړخ دې پدل کړي نو هغه به د خوب له شر نه محفوظ وي [*رياض الصالحين* ، *صحيح مسلم*]

له ځانه جوړ کړی خوب هیڅکله مـه وایې، د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه وینا ده چې د نبې صلی‌الله علیه وسلم فرمـان دې څوک چې د خوب لیدلو پرته له ځانه خوبونه جوړوي او خلکو ته یې بیانوي، هغه تـه بـه دا سزا ورکول کیږي چې دوه د وربشو دانو ته بـه غوټـه اچوي او داسـې نـه شـی کولای [صحیح مسلم ]

او د خاتم الانبیاء محمد صلی الله علیه وسلم فرمان دې : دا ډیر ستر بهتان دې چې سړی داسې خبره وکړي چې سترګو یې لیدلی نه وي [صحیح بخاری ]

کله چې مو څوک دوست خوب درته واروي نو د هغې ښه تعبیر وکړی او د هغه په حق کې دعا وکړی، يو سړی نبي علیه السلام ته خپل خوب بیان کړ، هغه وفرمايل غوره خوب دي ليدلی دي او غوره تعبير به يې وي.

نبي صلی الله علیه وسلم به په عامه توګه د سهار له لمانځه وروسته پلتی ووهله او خلکو ته به يې فرمايل: چا چې خوب ليدلی وي بیان دي کړی او د خوب له اوريدلو وروسته به يې دا دعا لوستله:

خَيْرًا تَلَقَّاهُ وَشَرًّا تَوَقَّاهُ وَخَيْرًا لَنَا وَشَرًّا عَلَى أَعْدَائِنَا وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

( د دي خوب نيکی دي ستا په برخه شي او له بدي نه يې وساتل شي، زمونږ په حق کې دي خير او زمونږ د دښمنانو لپاره دي وبال وي او حمد او ثنا د هغه الله جل جلاله لپاره ده چې د ګردو عالمونو پالونکی دی ).

کله چې په خوب کې وه ویریږی یا پریشانوونکی خوب ووینی او پریشانه شي نو د ويری او پريشانی د لری کولو لپاره دا دعا ولولی او خپل هوښيارو کوچنيانو ته هم دا دعا ورزده کړی، حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما وايی چې: کله په څوک په خوب کې وه يريده او يا به پريشانه شو نو نبي صلی الله علیه وسلم به ورتـه د پريشانی د لری کيدو لپاره د دي دعا تلقين کاوه: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَأَنْ يَحْضُرُوْنِ [ابو داود، جامع ترمذی]

زه همدا د الله جل جلاله په کاملهکلماتو پناه غواړم، د هغه له غضب او غوسی نه، د هغه له سزا نه، د هغه د بندګانو له بدونه، د شيطانانو له وسوسو نه او له دي خبرې نه چې هغوي ماته راشی.

❋

## د لارې آداب

- پر لاره په درمیانه مزله درومئ مه دومره چټک درومې چې خامخا د خلکو پام ستاسې په لورې راوګرځي او مه دومره سست او په ورو ورو درومې چې خلک مو ناروغ وګڼي او د ناروغتیا پوښتنه در نه وکړي، نبي ﷺ به اوږده اوږده ګامونه اینښودل او تاو راتاو ګامونه به هیڅکله نه اینښودل.
- له ادب او وقار سره ځمکې ته ګورئ او پر لاره درومې او په لاره کې اخوا دیخوا هر څیز ته مه ګورې او مه درومې، داسې کول د عقل او پوهې پر خلاف دي، نبي صلی الله علیه وسلم به د مزله پر وخت خپل مبارک بدن د مخې لورې ته مایل مزل کاوه لکه څوک چې له څوړې نه راکوزیږي، هغه به په باوقاره توګه یو څه چټک رفتار کاوه او بدن مبارک به یې کلک او مضبوط نیولې وُ ښې او کیڼ لورې ته به یې نه کتل.
- له تواضع سره په درندو ګامونو درومې نیغ او په تکبر پر لاره مه ځې، نه خو به په تکبر سره ځمکه څیرې کړای شي او نه به غرونو د لوړوالی سره څانونه برابر کړای شي، نو بیا بیځایه غرور ته څه اړتیا ده .
- تل خپلې په پښو درومې، لوڅې پښې پر لار تللو نه ځانونه وساتي، د خپلیو په وسیله پښې له اغزو، خندونو او نورو تکلیف ورکوونکیو شیانو نه ساتل کیږي او له موذي حیواناتو هم ساتل کیږي د نبي اکرم ﷺ فرمان دي زیاتره وخت خپلي په پښو کوي خپلې پښو کوونکي هم یو ډول سپور وي.
- پر لاره تللو کې د ښه ذوق، پاکوالی او عزت خیال هم وساتي ، یا خو دواړه خپلې په پښو درومې او یا بیا دواړه اوباسې، یوه پښه لوڅه او یوه پښه کې خپلې پر لاره تلل ډېر د خندا وړ او بد حرکت دي ، که واقعًا مو څه عذر نه وي نو له دي بې خوندي او بې سلیقې توب نه ځانونه په کلکه وژغورئ ، د رسول اکرم ﷺ فرمان دي : یا دواړه خپلې په پښو د رومي او یا بیا دواړه اوباسی [ شمایل جامع ترمذی ] .
- د مزله پر وخت خپلي جامې راټولي کړې وساتئ چې د چټلتیا خطـره یې نه وي نبي اکرم ﷺ به د مزله پر وخت خپل پرتوګ یو څـه پورتــه تاره .

تل له لوړ او ځوړ پرته د خپلو ملګرو سره پر لار درومی، پر لار تللو کې خپل غوره والی په چا مه منی، کله کله د مینی او محبت له مخې د خپل ملګري لاس په لاس ونیسی او پر لار دورمی، نبي اکرم ﷺ به د خپلو ملګرو سره پر لار تللو کې هیڅکله خپل غوره والی نه ښکاره کاوه، زیاتره به له اصحابو نه وروسته وروسته پر لار روان ؤ او کله به یې د خپل ملګري لاس په خپل مبارک لاس کې ونیو او پر لار به روان و.

د لاری د حق ادا کولو هم خیال ساتی، په لاره کې د ودریدلو او یا ناستی پر وخت د تلونکیو له سیل نه ځانونه وساتئ، او که کله په لاره کې ایسار او یا کیناستی نو د لاری د حق ادا کولو د پاره د شپږو خبرو خیال وساتئ.

- نظرونه ټیټ ساتی.
- تکلیف رسوونکی شیان له لاری نه لری کړی.
- د سلام ځواب ورکوی.
- یو بل ته د نیکی تلقین کوی او له بدو خبرو نه ځانونه وژغوری.
- نا بلدو لارویو ته لار وروښایئ.
- د مصیبت ځپلیو مرسته وکړی.

پر لار تل د نیکانو سره درومی او له بدانو خلکو نه ځانونه وساتي.

پر لاره ښځې او نارینه یو ځای مه دورمی، ښځی دي د لاری له مینځ نه د لاری پر څنډو څنډو درومی، او سړیو ته ښایي چې له هغو بچ ولاړ شي، د رسول الله ﷺ فرمان دي: په ختو ککړ، بدبویه او په مرداریو کې لت پت خنځیر سره ټکر کول به ښه وي خو دا د منلو خبره نه ده چې د کوم سړی اوږه له پردی ښځی سره ولګیږي.

بیبیانی چې د کومی اړتیا له مخې پر لار روانی وي نو د برقعی یا څادر په وسیله دي خپل بدن، د ښکلا او ښایست هر څیز په ښه ډول پټ کړی او پر مخ دي پرده را خپره کړی.

داسې ګاڼی چې په لار شرنګار کوي چیرته د تللو پر وخت مه اغوندئ یا ورو ورو پر لار درومی چې شرنګا یې پردي خلک متوجه نه کړي.

ښځې چې چیرته ځې خپریدونکی خوشبویې دي نه استعمالوي، د داسې ښځو په باب نبي اکرم صلی الله علیه وسلم سخت الفاظ فرمایلی دي.

ﷺ له کوره چې ووځی اسمان تــه مخ کړي او دا دعــا ووایاست : بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُبِکَ مِنْ اَنْ نَزِلَّ اَوْ نُزَلَّ وَ اَنْ نَضِلَّ اَوْ نُضَلَّ اَوْ نَظْلِمَ اَوْ يُظْلَمَ عَلَيْنَا اَوْ نَجْهَلَ اَوْ يُجْهَلَ عَلَيْنَا [ مسند احمد].

د الله جل جلاله په نامه می ( بهر قدم کیښود ) او پر هماغه می توکل دي، الله! زه ستا پناه غواړم له دي خبرې نه چې پر خطا ولاړ شم او یا مو نور څوک بې لار کړي، یا مونږ پخپله بې لاری شو او یا مو نور څوک بې لاری کړی ، یا مونږ پر چا باندي ظلم وکړو او یا نور را باندي ظلم وکړی، مونږ پخپله ناپوهه شو او یا نور را سره د ناپوهي رویه وکړی.

ﷺ چې بازار ته لاړشی نو دا دعا ولولی : بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ اِنِي اَسْئَلُکَ خَيْرَ هٰذِهِ السُّوقِ وَخَيْرَ مَا فِيهَا وَاَعُوْذُبِکَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيهَا اللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوْذُبِکَ اَنْ اُصِيْبَ بِهَا يَمِينًا فَاجِرَةً اَوْ صَفْقَةً خَاسِرَةً ( الله ﷻ په نامه ( بازار ته داخلیږم ) خدایا! زه له تانه د دي بازار ښیګړه او څه چې په دي کې دي د هغې ښیګړه غواړم او د دي بازار له شر نه او څه چې په دي کې دي د هغې له شرنه پنا غواړم، الهی ! زه له تا نه پناه غواړم د دي خبري نه چې زه دلته په د روغو سوګند یاد کړم او یا بې کاره سودا وکړم )

د حضرت عمر بن خطاب ﷺ وينا ده چې نبې اکرم ﷺ فرمايلی: څوک چې بازار ته داخل شي او دا دعا ولولي ، الله ﷻ يې په حساب کې لس لکه نيکی ليکی، لس لکه ګناهونه يې بخښي او لس لکه يې درجې لوړوي :

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْکَ لَهُ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِ وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِير [ جامع ترمذی ]

له خدايه جل جلاله پرته هيڅوک معبود نشته هغه ځانله دي، هيڅوک يې شريک نشته واک او اقتدار د هماغه دي ، هماغه د شکر او ستاينی حقدار دي ، هماغه ژوندون بښي او هماغه مرګ راولی، هغه تل ژوندي دي ، د هغه لپاره مرګ نشته، ټولی نيکی د هغه په واک او قـدرت کې دي او هغه پر هر څه واکوال دي.

## د سفر آداب

د سفر لپاره په داسې وخت روانیدل پکار دي چې د لږ نه لږ وخت پرې ولګیږي او د لمانځه د وختونو هم خیال وساتل شي ، نبې صلی‌الله علیه وسلم به چې پخپله سفر ته تشریف وړ او یا به یې بل څوک لیږه نو د پنجشنبې ورځ به یې مناسبه ګڼله .

پر سفر یوازي مه ځئ که امکان لري نو لږ تر لږه درې کسان ملګري شي، په دي ډول به په لاره کې د سامان په ساتنه او نورو چاروکی اسانتیا هم وي او سرې له زیاتو خطراتو هم ساتل کیږي ، د نبی اکرم صلی‌الله علیه وسلم فرمان دي: که خلکو ته د ځانله سفر خرابۍ معلومی شي چې ماته معلومی دي نو یو سپور به هم د شپې ځانله سفر ونه کړي [صحیح بخاری]

یو کرتې یوه سړی اوږد سفر وکړ او د نبی صلی‌الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو، نو هغه له مسافر نه پوښتنه وکړه، ستا ملګري څوک دي؟ مسافر وویل: یا رسول الله! له ما سره هیڅوک نشته زه ځانله راغلی یم نو هغه وفرمایل: یوازي سپور شیطان دي او دوه سپاره شیطانان دي البته درې سپاره، سپاره دي [جامع ترمذی]

ښځه باید تل له محرم سره سفر وکړی هو! که یوه یا نیمه ورځ سفر وي نو ډیـره بده نه ده خو احتیاط دا دي چې هیڅکله دي یوازي سفر نه کوي د نبې صلی‌الله علیه وسلم فرمان دي " کومه میرمن چې پر الله ﷻ او د اخرت په ورځ ایمان لری د هغې لپاره روا نه دي چې هغه درې ورځی یا تر دي زیات یوازي سفر وکړی، هغه، دومره لوي سفر، هغه وخت کولای شي چې پلار، ورور، میړه، او یا ځوي یې ورسره وي، او یا کوم بل محرم وي [صحیح بخاری]

او په یو بل وخت کې هغه تر دي وفرمایل چې ښځه یوه ورځ او یـوه شپه ځانله په سفر نشي تللای .

سفر ته د روانیدو پر وخت چې کله پر سپرلۍ سپاره شي او حرکت وکړی نو دا دعا ووایاست .

سُبحنَ الذِیْ سَخَّرلَنَا هَذَا وَمَا کُنّا لَهُ مُقرِنِیْنَ وَ اَنّا اِلٰی رَبّنَا لَمُنقَلِبُوْن اَللّٰهُمّ اِنّا نَسْئَلُکَ فِیْ سَفرِنَا هٰـذَا البِرَّ وَالتَّقْوٰي وَ مِن العَمَل مَا تَرضٰي اَللّٰهُمّ هوّنْ عَلَیْنَا سَفرَنَا هٰذَا وَاطْوِعَنَّا بُعْدَهُ اَللّٰهُمّ اَنتَ الصَّاحِبُ فِی السَّفرِ وَ الْخَلِیْفَهُ فِی الاَهْلِ ، اَللّٰهُمّ انِیْ اَعُوذُبِکَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفرَ وَکَآبه المنظر وَسُوْءِ الْمُنْقَلبِ فِی الْمَالَ وَالاَهْلِ وَالْوَلَدِ وَالْحَوْرِ بعْدَ الْکَوْرِ ودَعْوَةِ الْمَظْلُوْمِ ... [ صحیح مسلم، سنن ابو داود، جامع ترمذی ]

پاک او تر ټولو لوړ دي هغه الله جل جلاله چا چې دا ( د سپرلۍ وسیله ) زمونږ په واک کې راکړی حال دا دي چې مونږ د دي تر واک لاندي راوستلو توان نه لاره، رښتیا ده چې مونږ د خپل پروردګار لوري ته ورتلونکی یو. خدایا! مونږ له تا نـه پـه دي خپل سفر کې د نیکی او تقوا توفیق غواړو او د داسی کارونو توفیق چې ستا د خوښي لپاره وي، خدایه! پر مونږ دا سفر آسان کړی او فاصله یې زمونږ لپاره لنډه کړی، خدایه! ته مو په دي سفر کې ملګري یې او ته مو د کورونو خلیفه او ساتونکی یې، خدایه! زه ستا پناه غواړم د سفر له تکالیفو څخه، د نـاوړه منظر د لیدلو څخه، او د خپل مال نه، خپلوانو او اولاد ته د بد بیرته ستنیدو نه او له نیکی نه وروسته له بدي او د مظلوم له ښیر او نه.

په لاره کې د نورو د سوکالی او آرام هم خیال ساتئ، د لاری د ملګری هم حق دي، په قرآن عظیم کې دي : ( وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ ) او د څنګ له ملګري سره هم ښه رویه وکړه، د څنګ له ملګري نه هر هغه څوک مراد دي چې که هر چیری او هر ځای کې ورسره تاسې ملګري شي، د سفر په دوران کې د لنډی ملګرتیا هم دا حق دي چې تاسې خپل د سفر له ملګري سره ښه رویه وکړی او کوښښ وکړی چې ستا له وینا او عمل نه ورته هیڅ ډول ضررونه رسیږی ، د رسول اکرم ﷺ لارښوونه ده، د قام سـردار د هغوي خدمتګار وي، څوک چې له نـورو نـه پـه خدمت کولو کې مخکې شي، له هغه نه په نیکي کولو کې که څوک مخکې کیدای شي نـو یوازي هغه څوک چې د الله ﷻ پـه لاره کې شهادت ومومی [ مشکوه ].

سفر ته د روانیدو په وخت کې او د راتلو په وخت کې دوه رکعته د شکرانی لمونځ اداء کړئ نبي اکرم صلی الله علیه وسلم به همدا عمل کاوه.

✈ کله چې ستاسې موټر یا بس او یا الوتکه روانه شي او یا والوزي نو دا دعا ولولی : اَللّٰهُمَّ لَکَ الشَّرَفُ عَلٰی کُلِّ شَرَفٍ وَلَکَ الْحَمْدُ عَلٰی کُلِّ حَالٍ ( الهی ! تا ته پر هر لوي ستر توب حاصل دي ، حمد او ثنا پـه هر حال کې همدا ستا حق دي ) .

✈ د شپې چې په کوم ځای کې پاتې کیدل غواړي نو پـه محفوظ ځای کې قیام وکړئ چیرې چې له غلو او ډاکوانو تاسې په امان کې اوسې او مـوذی ځناور هم هلته نه وي .

✈ د سفر د اړتیا د پوره کیدلو پر وخت ژر خپل کورته راستانه شي، بې اړتیا له ګرځیدلو را ګرځیدلو نه ځان وژغورئ .

✈ د سفر نه د بیرته را ګرځیدو پر وخت له کوم خبر پرته د شپې کورتـه مـه راځی ، لومړی کورته خبر ورکړئ او که نه نو جومات کې د دوه رکعته نفلو پـه ادا کولو د کور خلکو ته وخت ورکړئ چې هغوي په ښه ډول ستاسې د استقبال لپاره تیار شي .

ــ په سفر کې که ځاروي در سـره وي نو د هغې د آرام او آسایش هـم خیال ساتی او که کوم بل سپور در سره وي نو د هغـه اړتیا او حفاظت تـه هـم پام کوئ .

ــ د یخنی په موسم کې بستره او د یخنی سامان له ځانه سره خامخا واخلئ او کوربه بې ځایه په پریشانی مه اخته کوي .

ــ په سفر کې د اوبو لوښی او جانماز له ځان سره اخلئ ، چې د استنجاء، اوداسه، لمانځه او اوبو څښلو تکلیف درته نه وي .

ــ څو کسان چې سفر کوي نو یو تن خامخا خپل امیر وټاکی، البته هر سړی دي خپل ټکټ او خپلي د اړتیا ټولی پیسی او نور ضروری سامان د خپل ځان سره وساتي .

ــ کله چې په سفر کې شپه در باندې راشي نو دا دعا ولولی :
یَا أَرْضُ ! رَبِّيْ وَرَبُّکِ اللّٰهُ وَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّکِ وَشَرِّ مَا خُلِقَ فِیْکِ وَشَرِّ مَا یَدِبُّ عَلَیْکِ وَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ أَسَدٍ وَأَسْوَدَ وَمِنَ الْحَیَّةِ وَالْعَقْرَبِ وَمِنْ شَرِّ سَاکِنِی الْبَلَدِ وَمِنْ وَالِدٍ وَمَا وَلَدَ [سنن ابو داود]

( ای ځمکې ! زما او ستا پروردگار الله دي، زه د الله ﷻ پناه غوارم ستا له شر نه او د هغو مخلوقاتو له شر نه چې په تا کې الله ﷻ پیدا کړیدي او د هغو مخلوقاتو له شر نه چې په تا کې ګرځي ، او زه د الله ﷻ پناه غوارم له زمرې نه او له تور ښامار نه او د مار له بچونه او د لړم نه او د دي ښار له اوسیدونکیو نه او د هر پلار او زوي له شر نه ) .

☙ کله چې له سفر څخه کورته راشي نو دا دعا ولولي : آوِبًا آوِبًا لِرَبِّنَا تَوبًا اَلّا يُغَادِرُ عَلَيْنَا حَوبًا [ حصن حصين ]

را ګرځیدل دي د خپل رب لورې ته او هم د خپل رب په حضور کې توبه ده، داسې توبه چې پر مونږ د ګناه کوم اغیز پاتې نه شي .

☙ کله چې څوک په سفر رخصت کوي نو یو څه لرې له هغه سره ولاړ شئ د رخصتولو په وخت له هغه نه هم د دعا غوښتنه وکړی او هغه په دي دعا سره رخصت کړی : اَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَکَ وَاَمَانَتَکَ وَخَوَاتِيْمَ عَمَلِکَ [ حصن حصين ]

زه ستا دین، امانت او د عمل پای الله جل جلاله ته سپارم .

☙ کله چې څوک له سفر نه راشي هغه ته ښه راغلاښت ووایاست او د مینې او محبت د الفاظو په ویلو د ځای او وخت په خیال ساتلو ورسره مصافحه[1] او یا معانقه[2] ورکړئ .

---

۱ـ مصافحه ( چاته د ښه راغلاست لپاره لاس ورکول )

۲ ـ معانقه ( چاته د ښه راغلاست لپاره غاړه ورکول )

## د غم او مصیبت آداب

مصیبتونه په صبر او آرام سره وزغمئ ، هیڅکله همت له لاسه مه ورکوئ او غم او مصیبت هیڅکله له اندازې نه زیاتیدلو ته مه پرېږدئ، په دنیا کې یو انسان هم له غم او مصیبت، له تکالیفو او افتونو او له زیان او ناکامۍ نه بې ویرې او په امان نشي پاتې کیدای، البته د مؤمن او کافر په کړو کې دا بیلتون خامخا وي چې کافر د غم او مصیبت پر وخت خپل هوش او عقل له لاسه ورکوي، د نا میدي له امله لاس پښې ښورول پرېږدي او ځینې وختونه د غم د توان نه لرلو له امله خپلځان پخپله وژنې او مؤمن د سترې نه په ستره پیښه کې د صبر او زغم لمن نه پرېږدي او د صبر او زغم د پیکر په څیر د ډبرئ په څیر کلک ولاړ وي، هغه داسې فکر کوي چې دا څه چې وشول، له الهي تقدیر سره سم وشول، د الله جل جلاله یو حکم هم له حکمت او مصلحت نه خالئ نه وي او دا فکر کوي چې الله جل جلاله څه کوي د خپل بنده د ښه والي لپاره یې کوي ، یقیناً چې په دې کې به د خیر کوم اړخ وی مؤمن ته داسې روحاني سکون او آرام په برخه وي چې د غم په زغم کې د خوند احساس کوي او د تقدیر دا عقیده هره ګرانه اسانوي .

د الله جل جلاله لارښوونه ده : مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَبْرَأَهَا إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ()لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَىٰ مَا فَاتَكُمْ [ الحديد ]

هر ډول مصیبتونه چې د ځمکې پر مخ پیښیږي او کوم افتونه چې پر تاسې راځي، هغه تر دې د مخه چې مونږ یې را مینځته کړو په یو کتاب کې ( لیکل شوي او فیصله شوي ) دي، په دې کې هیڅ شک نشته چې دا خبره الله جل جلاله ته آسانه ده، چې تاسې پر خپله ناکامۍ غم ونه کړئ .

یعنی پر تقدیر د ایمان راوړلو یوه ګټه دا ده چې مؤمن سترې سترې پیښې د قضا او قدر پریکړه ګڼي او د خپل غم علاج پرې کوي او خفګان ته تن نه ورکوي، په هره چار کې یې د خپل مهربان الله جل جلاله په وړاندې لور سترګې وي او د هغه له لورې نه د خیر هیله لري او د صبر او شکر په ادا کولو له هر

ځیزنه ځانته د خیر اړخ را اوباسي د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لار ښوونه ده: د مؤمن هره چاره ښه وي په هر حال کې چې وي له (الله ﷻ) خیر غواړي ، که هغه په غم، ناروغی او بې وسی اخته وي نو په آرام سره یې زغمی او دغه ازمیښت یې په حق کې خیر ثابتیږي او که خوښي او خوشحالي ور په برخه کیږي نو شکر پرې کاږي او دا خوشحالي د هغه لپاره د خیر لامل کیږي [صحیح مسلم].

که د کوم غم او تکلیف خبر واوري یا تاوان ور ورسیږي یا له غم او تکلیف سره مخامخ شي او یا الله جل جلاله مکره په کوم ناڅاپي مصیبت کې اخته شي نو انا لله و انا الیه راجعون ووایاییست یعنی مونږ هم د الله ﷻ یو او د هماغه لوري ته ورتلونکي یو.

مطلب دا چې زمونږ سره چې څه دي هغه هر څه د الله جل جلاله دي، هماغه را کړي دي، او هماغه یې اخیستونکی دي، مونږ هم د هماغه یو او د هماغه لوري ته به ورځو، مونږ په هر حال کې د الله جل جلاله پر رضا راضي یو، د هغه هر کار پر مصلحت، حکمت او عدالت بنا دی هغه چې څه کوي د کوم لوي خیر په خاطر یې کوي ، د وفادار غلام او بنده دا کار دي چې هیڅ وخت یې باید تندي ګونځې نه شي، د الله جل جلاله فرمان دي:

وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ() الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ()أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِن رَبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ

(او مونږ به خامخا تاسې د ویرې ، خطرې ، ولږې، د ځان او مال په تاوان او په ګټو کې د زیان په ازمېښت اخته کړو او زیرې هغو خلکو ته ورکړې چې د مصیبت (پر وخت صبر کوي) او وایې مونږ هم د الله ﷻ یو او د الله ﷻ لوري ته ورتلونکي یو، پر دوي به د الله ﷻ لوري ډېره مهرباني او رحمت وي او همداسې کسان پر سمه لار دي).

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمان دي چې کله کوم بنده د مصیبت پر وخت (ان لله و انا الیه راجعون) ووایي نو الله ﷻ تري هغه مصیبت لرې کوي ، غوره پای ور په برخه کوي او د هغه د خوښي ځیز ورته په بدله کې ورکوي.

یو ځلې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم چراغ مړ شو هغه ( اِنالِلّٰهِ و اِنّا الیه رَاجِعُوْنَ ) وویل، چا ترې وپوښتل یا رسول الله! آیا د چراغ مړه کیدل هم کوم مصیبت دي، هغه صلی الله علیه وسلم وویل هو! له هرې خبرې نه چې مؤمن ته تکلیف ورسي، هغه مصیبت دي او د نبي صلی الله علیه وسلم لار ښوونه ده:

هر مسلمان چې کوم روحی، بدنی او د ناروغی، او یا غم کوم تکلیف او درد رسیږي ان تر دي چې اغزي یې په کوم ځای کې ولاړ شي او هغه پرې صبر کوي نو الله جل جلاله یې ګناهونه ببښي. [صحیح بخاری، صحیح مسلم]

حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ فرمایلی دی که هر څومره سخت مصیبت او ازمیښت چې وي، هماغومره لویه بدله یې وي او الله ﷻ چې کله له کومی ډلی سره مینه کوي نو د هغوي د ( لا ښکلا او غوره والي لپاره ) هغوي په ازمیښت کې اخته کوي، نو چې څوک د الله ﷻ پر رضا راضی شول الله ﷻ هم له هغه نه راضی کیږي او څوک چې په آزموینه کې له الله ناراضه وي، الله هم له هغه نه ناراضه کیږي. [جامع ترمذی]

حضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه وایي چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې کله د کوم بنده اولاد مړ شي نو الله ﷻ له خپلو ملائیکو نه پوښتنه کوي چې ایا تاسې زما د بنده د اولاد روح واخیست ؟ هغوي وایي هو، بیا ترې پوښتنه کوي تاسې د هغه د ځیګر د ټوټي روح واخیست؟ هغوي وواییې هو، بیا ترې وپوښتي، نو زما بنده څه وویل؟ هغوي وواییې: په دي مصیبت کې هغه ستا ثنا ویله او انا لله و انا الیه راجعون یي وواېه، نو الله ﷻ هغو ملائیکو ته وواییې زما د دي بنده لپاره په جنت کې کور ودان کړی او د هغې نوم بیت الحمد ( د شکر کور ) کیږدي [جامع ترمذی] .

پر کوم تکلیف او پیښه غمجن کیدل فطری کار دي، البته دي خبري ته پوره پوره خیال ساتئ چې د غم او اندوه په ډېرو مشکلاتو کې مو له خولي نه کومه ناحقه خبره ونه وزي او د زغم او شکر لمن مو له لاسه ونه وزي .

د رسول الله ﷺ زوي حضرت ابراهیم د هغه په غیږ کې وُ او د زنکدن په حال کې و، د دغه غموونکی منظر په لیدلو د نبي ﷺ سترګو مبارکو نه اوښکی

رواني شوي او وي فرمايل : اى ابراهيمه ! ستا په جدايي غمجن يو خو په ژبه به مى هماغه څه وي چې د پروردګار د خوښي سره سم وي [صحيح مسلم].

د ډېر غم او مشكلاتو په حال كې داسې حركت مه كوي چې د شكايت بوي ترى راځي او د شريعت پر خلاف وي، په چيغو چيغو ژړلو ګريوان څيرول، سينه وهل او په غم كې نارې سورى وهل د مؤمن لپاره په يو حال كې هم روا نه دي، د نبي اكرم صلى‌الله عليه وسلم فرمان دي " څوک چې ګريوان څيروي ، مخ په څپېړو وهي او د جاهليت په څير چغې سورې وهي او ژاړې هغه زما له امت څخه نه دي [جامع ترمذى] .

حضرت جعفر طيار رضى الله عنه چې كله شهيد شو او د شهادت خبر يې كورته ورسيد ، نو د هغه د كور ښيبيانو په چيغو سورو ژړل، نبي ﷺ ورته څواب ورولېږه چې ماتم مه كوي، خو هغوي منع نه شول ، نو هغه دويم ځلى منع كړل خو بيا هم هغوي منع نه شوي، نو هغه حكم وكړ د دوي خولى له خاورو ډکې كړى [صحيح بخارى].

يو كرتې نبي اكرم صلى‌الله عليه وسلم په يوه جنازه كې شريک ؤ يوي ښځى له ځان سره منقل را اخيستى ؤ هغه دومره سخته ودګله، چې هغه په هماغه وخت وتيښنده [ سيرت النبي شپږم ټوک] .

او هغه وفرمايل د جنازې تر شا به څوک اور او ستايني نه وايې، په عربو كې دا دود وچې په جنازې پسې به تلل نو له غمه به يې څادر ګذار كړ او يوازې ګنډې به يې اغوستې وه يو ځلى هغه خلک په دي حال كې وليدل وي فرمايل: د جاهليت دود مو غوره كړى دي، زما په زړه كې راغلل چې داسې بده ښيرا درته وكړم چې شكلونه مو مسخ شي، خلكو هماغه وخت خپل څادرونه واغوستل او بيا يې هيڅكله داسې ونه كړل [ سنن ابن ماجه ].

ناروغى ته بدي ردي مه وايې او مه ترى شكايت كوي بلكه د خورا زغم او صبر نه كار واخلئ او د اخرت د اجر غوښتنه او هيله وكړى، د ناروغى په تيرولو او په تكليفونو زغملو د مؤمن ګناه ويلى كيږى او تزكيه يې كيږى او په اخرت كې ورته ستر اجر په برخه كيږى ، د نبي ﷺ فرمان دي : مؤمن ته كه د بدنى ناروغى او يا د كوم لامل ( سبب ) په خاطر درد ورسيږى الله تعالى يې له

دي امله گناهونه داسې تويوي لکه له ونې نه چې پاڼې تويېږي [ صحيح بخاري ، صحيح مسلم ]

يو کرتې نبې صلى‌الله عليه وسلم يوه ميرمن وليده چې لړزيده، هغه ترې وپوښتل اې د سائب يا ميسب موري! څه خبره ده ولې لړزېږې ؟ هغې وويل: تبې نيولې يم، الله ﷻ دي ورسره پوه شي! رسول الله ﷺ ورته لارښوونه وکړه چې " تبې ته بد مه وايه، ځکه چې تبه د آدم عليه السلام اولاده داسې له گناهونو نه پاکوي لکه څنگه چې اور د اوسپنې زنگ لرې کوي [صحيح مسلم ]

حضرت عطاء ابن رباح رضى الله عنه خپله يوه کيسه بيانوي چې يو ځلې د کعبې تر څنگ حضرت عباس ﷺ ماته وويل: تا ته يوه جنتي ميرمن دروښيم؟ ما ورته وويل خامخا يې را وښايه، وي ويل ، وگوره دا تکه توره ميرمن چې ده، دا يو کرتې د نبې ﷺ پــه خدمت کې حاضره شوه وي ويل، يا رسول الله ﷺ ! پر ما د ميرگيو داسې څپه راځي چې بدن مې په هوش کې نه پاتې کيږي‌او زه په داسې حالې کې بيخې لوڅه شم، يا رسول الله ﷺ زما لپاره د الله ﷻ نه دعا وغواړه، نبې ﷺ ورته وويل: که ته دغه تکليف پــه صبر سره زغمې نو الله جل جلاله به تاته جنت در کړي او که غواړې چې زه تا ته دعا وکړم چې الله جل جلاله دي روغه کړي، دا يې چې واوريده دي بې بې وويل يا رسول الله دا تکليف خو به په صبر زغمم، البته دا دعا راته وکړې چې د تکليف په وخت کې نه لوڅيږم، نو نبې ﷺ ورته دعا وکړه، حضرت عطاء رضى الله عنه فرمايي چې ما دغه لوړ قدي ميرمن ( ام رفن ) د کعبې پر پاټکيو وليدله .

▪د چا پر مړينه له درې ورځو زيات غم مه کوي، د خپلوانو په مړينه غمجن کيدل او اوښکې بهول فطرې خبره ده خو د هغې موده له زياتو نه زياته درې ورځې ده. نبې صلى‌الله عليه وسلم فرمايلې: د کوم مؤمن لپاره روا نه دي چې تر درې ورځو زيات په غم او ماتم کې کښيني، البته د مړې د کونډې ماتم څلور مياشتې لس ورځې دي په دي موده کې به نه رنگينې جامې اغوندي، نه دي خوشبوي کاروي او نه دي ډول او سينگار کوي [ جامع ترمذى ].

د حضرت زينب بنت جحش رضى الله عنها ورور وفات شو په څلورمه ورځ خو تنه ښځې د فاتحې لپاره راغلې، حضرت زينب رضى الله عنها د تولو نورو

میرمنو په مخ کې عطر ولګول او ویې فرمایل زه دا وخت خوشبوي لګول ته هیڅ اړتیا نه لرم، ما ځکه دا خوشبوي ولګوله چې د نبي صلی الله علیه وسلم نه مې اوریدلې دي چې له میړه پرته د هیچا لپاره هم تر درې ورځو زیات په غم کیښناستل روا نه دي.

په رنځ او غم او مصیبت کې یو بل ته د صبر او حوصلې تلقین کوي، پیغمبر اکرم ﷺ چې کله د احد له غزا نه بیرته تشریف راووړ نو بیبیانې د خپلو خپلوانو د حال معلومولو لپاره حاضرې شوي، کله چې حضرت زینب بنت جحش رضی الله عنها د رسول الله ﷺ مخې ته راغله نو هغه ورته د صبر توصیه وکړه او ورته وې ویل پخپل ورور عبدالله صبر وکړه، هغې مبارکې بې بې بیا " انا لله وانا اله راجعون " ولوست او د ښښنې دعا یې وکړه.

د حضرت طلحه رضی الله عنه زوی ناروغ و، هغه یې د ناروغې په حال کې پریښود او پخپل کار پسې ولاړو د هغه له تللو وروسته یې زوي وفات شو، د حضرت طلحه رضی الله عنه میرمن خلکو ته وویل چې ابو طلحه باید خبر نه شي، هغه ماښام د خپل کار نه بیرته کور ته راغی نو د خپلې میرمنې نه یې وپوښتل چې د هلک حال څنګه دي؟ وي ویل، له مخکې نه زیات آرام دي دا یې وویل ابو طلحه رضی الله عنه ته یې خواړه راوړل، هغه په جمع زړه خواړه وخواړه او وغځید، چې سهار شو نو خپلې نیکې بې بې په خورا حکیمانه ډول پوښتنه وکړه، که څوک چاته کوم څیز امانت ورکړي او بیا یې ترې بیرته وغواړي، نو ایا ده ته دا حق په برخه دي چې هغه څیز ترې منع کړي؟ هغه وویل نه هیڅکله نه، دا حق به څنګه حاصلیږي نو هغې صابرې بې بې ورته وویل، د خپل زوي په بیرته اخیستو هم صبر وکړه [صحیح مسلم]

د حق لارې مشکلات په پراخه تنده ومنه او په دې لار کې که څه تکالیف در ورسیږي پر هغې د غمجن کیدو په ځای خوښ شي او د الله جل جلاله شکر ادا کړي چې هغه پخپله لار کې ستاسې قربانې قبولې کړې.

د حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنهما مور حضرت اسماء رضی الله عنها سخته ناروغه وه، حضرت عبدالله رضی الله عنه یې د حال پوښتلو لپاره ولاړ، مور ورته وویل زویه! لومړۍ مې دا هیله ده چې له دوه خبرو نه یوه ونه وینم

الله جل جلاله مې دي ژوندي لري، یا خو ته د جنګ په ډګر کې شهید شي او زه ستا د شهادت د خبر په اوریدو د صبر سعادت حاصل کړم او یا ته بریء ومومې او زه تا فاتح ووینم او خپلې سترګې یخې کړم، الله ﷻ کول چې حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه د هغې مبارکې په ژوندانــه کې د شهادت جام وګوټ، له شهادت نه وروسته حجاج هغه پر سولې وخیژاوه، حضرت اسماء رضی الله عنها دا مهال ډېره بوډۍ شوي وه، خو د خورا زیاتــی کمزوری سره سره یې د دغه غمونکی منظر د لیدلو لپاره تشریف راوړ د خپل زړه د ټوټې د لیدلو پر وخت یې د ژړا او واویلا په ځای حجاج تـه پــه خطاب کې وویل : د دې سپور لپاره اوس هغه وخت نـه دي رارسیدلی چې د اس له شا نـه را کوز شي .

په غم او درد کې یو د بل مرسته وکړی، د دوستانو په درد او غم کې ګډون وکړی او د هغوي د غم غلطولو لپاره هــر ډول کوښښ وکړی ، د رسول اکرم ﷺ لارښوونه ده : ټول مسلمانان په ګډه د یو سړی د بدن په څیر دي چې که د هغه سترګه هم درد منه شي نو ټول بدن یې درد احساسوي او که په سر کې یې درد وي نو ټول بدن یې په درد اخته وي [ صحیح مسلم ]

حضرت جعفر طیار رضی الله عنه چې کله شهید شــو نو رسول اکرم ﷺ وفرمایل: د جعفر کور ته خواړه ورولیږی ، ځکه چې د زیات غم له امله به د هغه د کور بیبیانی خواړه نشي پخولای [سنن ابو داود ].

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه وینا ده چې رسول اکرم ﷺ فرمایلی: چا چې د داسې میرمن غم شریکی وکړه چې زوي یې وفات شوي وي هغه به په جنت کې داخلول کیږی او د جنت څادر به ور په سر کیږی [ جامع ترمذی ]

او نبي صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلی دي، چا چې د کوم غمځپلی سره غم شریکی وکړه هغه ته به هماغومره اجر ورکول کیږی، څومره چې پخپله غمځپلی ته ورکول کیږی [ جامع ترمذی ]

په دې لړ کې نبي ﷺ پر دې هم ټینګار وکړ چې په جنازه کې ګډون وکړی، د حضرت ابو هریره رضی الله عنه وینا ده چې نبي اکرم ﷺ فرمایلی: څوک چې په جنازه کې شریک شو او د جنازی لمونځ یې ادا کړو هغه ته به د دوه قیراطو په اندازه ثواب ورکول کیږی .

چا ترې پوښتنه وکړه دوه قیراطه به څومره وي، وي فرمایل د دوه غرونو په اندازه [صحیح بخاری ، صحیح مسلم]

د زیاتو مصیبتونو او غمونو په وخت کې د الله جل جلاله لوري ته رجوع وکړي او لمونځ ادا کړي، الله جل جلاله ته په عاجزی سره دعا وکړي، په قران عظیم الشان کې دي : اَاَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ [1]

( مؤمنانو! په مصیبتونو او ازمیښتونو کې د صبر او لمانځه په وسیله ( له خدایه ) مرسته وغواړئ ) .

د غم په حالت کې له سترګو نه اوښکی بهیدل او غمیدل فطری خبره ده، البته په چیغو سورو له ژړا نه ځانونه وژغوری، نبي صلی‌الله علیه وسلم به چې ژړل له سره به یې آواز نه اوریدل کیده، ساړه ساړه اسویلی به یې کول، له سترګو مبارکو به یې اوښکی روانی وي او له سینی نه به یې داسې اواز راته لکه هګی چې په اوبو کې خوټیږی او یا ژرنده ګرځی، هغه پخپله د خپلي ژړا او غم حالت داسې بیان کړی دي : سترګی اوښکی بهوي ، زړه غمجن کیږی او مونږ له خولی نه هغه کلمات را اوباسو چې زمونږ رب پری خوشحالیږی .

حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمایې چې نبي صلی‌الله علیه وسلم به کله فکر مند وُ نو د آسمان لوری ته به یې مخه کاوه او فرمایل به یې: سبحان الله العظیم ( الله پاک د لوي عظمتونو څښتن دي ) او چې کله به په ژړا ، زاری او دعا کې دوبیده نو فرمایل به یې " یا حی یا قیوم " [ جامع ترمذی ]

د رنج او غم په زیاتوالی او تکالیفو په دېرښت کې دا دعا ووایاست حضرت سعد بن وقاص رضی الله عنه وایې چې نبي ﷺ فرمایلی: ذو النون[2] چې د ماهی په نس کې خپل پروردګار ته کومه دعا کړی وه هغه دا وه : أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ [3]

---

[1] ـ د البقره سورت ۱۵۳ایت
[2] ـ د ماهیانو والا یعنی حضرت یونس علیه السلام .
[3] ـ د انبیاء سورت ۸۷ ایت

( له تا پرته هیڅوک معبود نشته ته بې عیبه او پاک یې مونږ پخپله پر ځان ظلم کوونکي یو ) .

نو چې هر مسلمان پخپل کوم تکلیف او یا مشکل کې له خدایه دا دعا غواړي، الله ﷻ یې خامخا قبلوي د حضرت ابن عباس رضی الله عنه وینا ده چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم به له کوم تکلیف او مشکل سره مخامخ ؤ نو دا دعا به یې لوستله :

لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَرَبُّ الْاَرْضِ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ [صحیح بخاری، صحیح مسلم]

( له الله ﷻ پرته هیڅوک د عبادت وړ نه دي هغه د ستر عرش څښتن دي، له الله ﷻ پرته هیڅوک معبود نشته هغه د ځمکې او اسمانونو څښتن دي د عظیم عرش څښتن دي ) .

د حضرت ابو موسی رضی الله عنه وینا ده چې نبي اکرم ﷺ فرمایلي : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ وَلَا مَلْجَاءَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّا اِلَيْهِ .

دا کلمه د نهه نوي ناروغیو دوا ده، تر ټولو لږه خبره یې دا ده چې د دې لوستونکی‌ی له رنج او غم نه ساتلې وي (۱) حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمایي چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي هر بنده ته چې هر ډول تکلیف ورسي او هغه دا دعا وغواړي الله جل جلاله ضرور د هغه رنج او غم په خوښي او خوشحالي بدلوي .

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ عَبْدُکَ وَ ابْنُ عَبْدِکَ وَابْنُ اَمَتِکَ نَاصِیَتِیْ بِیَدِکَ، مَاضٍ فِیَّ حُکْمُکَ عَدْلٌ فِیَّ قَضَاءُ کَ اَسْئَالُکَ بِکُلِّ اسْمٍ هُوَ لَکَ سَمَّیْتَ بِهٖ نَفْسَکَ اَوْ اَنْزَلْتَهٗ فِیْ کِتَابِکَ اَوْ عَلَّمْتَهٗ اَحَدًا مِّنْ خَلْقِکَ اَوِ اسْتَاْثَرْتَ بِهٖ فِیْ عِلْمِ الْغَیْبِ عِنْدَکَ اَنْ

۱ ـ له ګناه نه د ځان ساتلو قوت او د نیک عمل توفیق بخښل یوازې د الله ﷻ له لوري دي او د هغه له عذاب نه د بچ کیدلو لپاره هیڅ د پناه ځای نشته، پر ته د هغه له ذات نه یعنی د هغه له قهر نه هغه څوک خلاصیدای شي چې پخپله د هغه د رحمت په لمن کې پناه غواړي .

تَجۡعَلَ الۡقُرۡاٰنَ الۡعَظِيۡمَ رَبِيۡعَ قَلۡبِيۡ وَ نُوۡرَ بَصَرِيۡ وَجَلَاۤءَ حُزۡنِيۡ وَذَهَابَ هَمِّيۡ [ احمد ، ابن حبان ، حاکم بحواله حصن حصین ]

الهی ! زه ستا بنده يم، زما پلار ستا بنده دي، زما مور ستا بنده ده، زما کوچولی د ستا په واک او قدرت کې دي ( زه ټول ستا په واک کې يم ) هغه ستا حکم زما په باب عملي کيدونکی ډي، زما په باب ستا هر حکم له يوي مخی انصاف دي، زه تا ته ستا هر هغه نوم وسيله کوم چې تا پری ځان نومولی دي او يا دي پخپل کتاب کې نازل کړی دي، يا دي له خپل مخلوق نه چا ته ښودلی دي، او يا دي له ځان سره د غيبو په خزانو کې پری ايښی دي، تا ته درخواست ګوم چې قران عظيم زما د زړه پسرلی زما د سترګو نور ، زما د غم علاج او زما د انديښنو دوا وګرځوي.

ﷺ که کله الله جل جلاله مکړه د ژوندانه په مشکلاتو کې داسې راګير شي چې ژوندون ګران وي، او غمونه او تکليفونه داسې شکل اختيار کړی چې تاسې ته ژوندون عذاب ښکاری، بيا هم هيځکله د مرګ هيله مه کوي او مه کله پخپله لاس د ځان وژنی شرموونکی حرکت کوي، دا بزدلی هم ده او ډېره بده ګناه او خيانت هم، په داسې حالاتو کې له الله جل جلاله نه پرله پسی دا دعا غواړی :

اَللّٰهُمَّ اَحۡيِنِيۡ مَا كَانَتِ الۡحَيٰوةُ خَيۡرًا لِّيۡ وَتَوَفَّنِيۡ اِذَا كَانَتِ الۡوَفَاةُ خَيۡرًا لِّيۡ [صحيح بخاری، صحيح مسلم ]

خدايا! تر څو چې زما ژوندي پاتی کيدل ښه وي ژوندي مې وساتئ او چې کله زما لپاره مرګ غوره وي مرګ را په برخه کړئ .

ﷺ کله چې څوک په ګناه کې اخته وويني نو دا دعا ووايا ست حضرت ابو هريره رضی الله عنه وايې چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل : چا چې څوک په هر ډول مصيبت کې اخته وليد او دا دعا يې وغوښتله ( انشاء الله ) هغه به له دغه مصيبت نه وساتل شي .

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِيۡ عَافَانِيۡ مِمَّا ابۡتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِيۡ عَلٰى كَثِيۡرٍ مِّمَّنۡ خَلَقَ تَفۡضِيۡلًا [ جامع ترمذی ]

د الله ﷻ شکر دي چې زه يې له دي مصيبت نه ساتلی يم په کوم کې چې ته اخته يې او پخپلو ډېرو مخلوقاتو يې ماته غوره والی را بخښلی دي .

## د ویرې آداب

✓که د دین دښمنانو د وژلو او لوټلو، تیری او ناروا او د فتنې او فساد ویره وي، یا د الهی فطری عذابونو د تباه کاریو ویره وي، په هر حال کې د مؤمنانه وراندي لید له مخې د هغې اصلي لاملونه ولټوئ او پر سطحی تدبیرونو د وخت ضیاع کولو په ځای د قرآن او سنت په ښوول شویو لارو چارو خپل ځواکونه ولګوي، په قران عظیم کې دي:

وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ[1]

(او پر تاسې چې کوم مصیبتونه راځی هغه ستاسی د کړو نتیجه ده او الله ﷻ (ستاسې له ډېرو ګناهونو تیرېږی).

او همدي قرانکریم یې داسې علاج ښودلی دي: وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ[2]

(او تاسې ټول په ګډه الله جل جلاله ته توبې وکاړی، ای مؤمنانو! تر څو چې تاسې خلاصون ومومی)

د توبې معنی ده الله ﷻ ته راګرځیدل، الله ﷻ ته رجوع کول، د ګناهونو په ویره وونکی کنده کې لویدلی امتونه چې کله پر خپلو ګناهونو پښیمانه شي او د الله جل جلاله په لوری بیا د بنده ګې په ولوله رجوع وکړی او د ملامتی په اوښکو د خپلو ګناهونو چټلی ومینځی او بیا د خپل څښتن سره د وفاداری بنده ګې وعده وکړی نو قرآن دغه حالت د "توبې" په لفظ سره تعبیروي او همدا توبه او بخښنه غوښتل د هر ډول فساد او ویری نه د ځان ژغورلو رښتینی وسیله او علاج دي.

✓ د دین دښمنانو د فتنی خپرولو او د ظلم او تیری نه د ویریدلو، د بې همتۍ ښودلو او له بې رحمو نه د رحم د سوال کولو د ذلت او رسوایۍ په وسیله

---

[1] ـ د شوری سورت ۳۰ آیت

[2] ـ د النور سورت ۳۱ آیت

هیڅکله خپل ملي ژوندن مه داغمنوئ، بلکې د دي کمزورۍ د له منځه وړلو لپاره خپله د همت ملا وتړئ، د څه له امله چې په تاسې کې بې زړه توب پیدا کیږي، او په دښمنانو کې پر تاسې د ظلم کولو او ستاسې د لاندې کولو جرائت پیدا کیږي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم یې دوه لاملونه ښودلی دي :

- د دنیا سره مینه.
- له مرګه کرکه.

هوډ ( عزم ) وکړئ چې تاسې به نه یوازې له خپل زړه نه بلکې د ټول ملت له زړونو نه د ویرې ترهې په ایستلو ساه اخلی د نبي صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده : زما پر امت هغه وخت راتلونکی دي چې کله به نور قامونه پر تاسې د ( تیاری مړی ) په توګه را پریووزی لکه څنګه چې خواړه خوړونکی پر خوړو را پریوزی، چا تری وپوښتل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم آیا په هغه وخت کې به زمونږ شمیر دومره لږ وي چې زمونږ د لاندې کولو لپاره به قامونه سره یو کیږي او مونږ به لاندې کوي، وي فرمایل نه هغه مهال به ستاسې شمیر لږ نه وي البته تاسې به په سیلاب کې د بهیدونکیو خاشو په څیر بې وزنه یاست او ستاسې د دښمنانو له زړونو به ستاسې ویره ووځي، او ستاسې په زړونو کې به بې همتی او له مخلوقه ویره پیدا شي پر دي یو سړی پوښتنه وکړه یا رسول الله ! دا بې زړه توب به ولې پیدا کیږي ؟ وي فرمایل. له دي امله چې تاسې به له دنیا سره مینه کوي او له مرګ به کرکه کوي [ سنن ابو داود ]

✍ له نیس پالنی مزو چړو، د ښځو له مشرتابه او له ګناهونو نه خپله ټولنه پاکه کړئ ، او خپل ملی یووالی له قوي نه لاپسی قوي کړی د خپل ملی او ټولنیز قوت په وسیله د فتنې او فساد له منځه وړلو او په ملت کې د زړور توب ، ژوندیتوب او حوصلی د پیدا کولو کوښښ وکړی د نبي اکرم ﷺ فرمان دي : کله چې ستاسې حاکمان ښه خلک وي او ستاسې شتمن کسان لاس پراخی او سخیان وي او ستاسی ټولنیزې چاری د خپلمنځی مشورو په وسیله فیصله کیږی نو په رښتیا سره ستاسې لپاره د ځمکی پر مخ ( ژوندون ) د ځمکی په نس کې ( له مرګه ) غوره دي او چې کله ستاسې آمران او حاکمان بد کاری وي او ستاسې د ټولنی شتمن زر خوښي او بخیلان وي او ستاسی چاري ستاسې د

ښځو په لاسو کې وي نو بيا ستاسې لپاره د ځمکې نس ( مرګ ) د ځمکې له مخ نه څو چنده غوره دي [ جامع ترمذی ]

✔ حالات که هر څومره لړزوونکي وي ، د حق له ملاتړ نه لاس مه اخلی ، د حق پر ملاتړ مرګ ته غاړه ورکول تر دي څو چنده غوره دي چې سړی د بې دينی او بې غيرتی ژوندون تير کړی .

له ګران نه په ګران آزميښت او د خورا زياتې ويری ترهی په حالت کې د حق لمن مه پريږدی ، څوک مو چې له مرګه ويروي ورته موسکی شي او که د شهادت وخت راشي نو په مينه او ولوله ورته ښه راغلاست ووايې، د نبي ﷺ فرمان دي: د اسلام ژرنده په ګرځيدو ده، نو چې په کوم لوری د قران مخه وي تاسې هم په هغه لوری وګرځی، او هوښيار اوسي قرآن او اقتدار به په نږدې وختونو کې سره بيل شي ( خبر دار ) تاسې قـران پری نږدي ، په ګانـده ( راتلونکی ) کې به داسې حاکمان وي چې ستاسې په باب به پريکړه کوي، که تاسې د هغو پيروي کوي، نو هغوي به تاسې له سمی لاری بې لاری کړی او که تاسې د هغوي نافرمانی کوي نو هغوي به تاسې وژنی ، صحابه وويل نو بيا مونږ څه وکړو؟ يا رسول الله ! وي فرمايل هماغه وکړی چې د عيسی عليه السلام ملګرو وکړل، هغوي په اره څيری کړای شول، پر سولی وځړول شول ، د الله ﷻ په نافرمانی کې له ژونـدي پاتی کيدلو نه په کراتو غوره ده چې سړی ﷻ په پيروي کې مرګ تـه غاړه کيږدي .

✔ د هغو ټولنيزو ناروغيو پر خلاف پرله پسې جهاد وکړئ چې په نتيجه کې يې په ټولنه کې د ويري ترهي فضا خپريږي، مفلسي، قحطی او وينی تويول عام کيږدي او د ښمنانو په تيری کوونکيو لاسونو کې ملت بې لاس پښـو پاتی کيږی .

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمايي: په کوم قام کې چې د خيانت بازار ګرم وي، الله ﷻ د هغه قام په زړونو کې د ښمن ويره کښينوي او په کومه ټولنه کې چې د زنا ناروغی خپره وي هغه ملت او قام له منځه ځی ([1]) په کومه

---

[1] ـ د ايدز د سپکی او تباکونکی ناروغی خوريدل د پورتنی حديث د حکمت او د دی دين د کمال ستر ثبوت دی ( مهتمم )

تولنه کې کې چې په گز او تول کې خیانت کیږي هغه خامخا د قحط او ولږې ښکار کیږي او چیرې چې ناحقه فیصلې کیږي هلته به په حتمي دول وینې تویول عام وي ، او کوم قوم او ملت چې وعده خلافي کوي ، پر هغوي به خامخا دښمن واکوال کیږي [ جامع ترمذی ]

✓ کله چې د دښمنانو له لوري له خطري سره مخامخ یاست دا دعا ولولئ:
اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَجْعَلُکَ فِیْ نُحُوْرِهِمْ وَنَعُوْذُبِکَ مِنْ شُرُوْرِهِمْ [ ابو داود ، نسایې ] .
یا الهی ! مونږ د دي دښمنانو په مقابل کې تا خپل ډال کوو او د هغوي له شر او فساد ته له تا څخه پناه غواړو.

✓ او چې کله د دښمن په واک کې گیر یاست دا دعا لولئ: اَللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا وَاٰمِنْ رَوْعَاتِنَا [ احمد بحواله حصین حصن ] .
یا الهی! ته زمونږ د پت او حیا ساتونکې شي او له ویرې ترهې امان را کړې.

✓ کله چې سیلې او دوړې گردونه ووینئ نو ویره ترهه احساس کړئ، حضرت عایشه رضی الله عنها فرمایي چې ما نبي ﷺ داسې په خټ خټ خندا نه دي لیدلی چې د هغه مبارکه خوله پرې تر‌له خلاصه شوي وي ، هغه به یوازې مسکې کیده او چې کله به گردونه دوړې او سیلې راغلې نو هغه به ویریده او په دعا به یې پیل کاوه، د ویرې له امله به کله پاځیده او کښیناسته او چې ترڅو به اوبه نه وي راتوي شوي د هغه به همدا حالت وُ، ما ترې پوښتنه وکړه یا رسول الله ! زه خلک گورم چې کله هغوي وریځ ووینې نو خوشحاله کیږي چې اوبه به راوه اوري او تاسې چې گورم چې کله تاسې وریځ ووینئ نو له مبارکې څیرې نه مو پریشانې او خفگان ښکاره کیږي، رسول الله ﷺ وفرمایل :
عایشې! څنگه زه ونه ویریږم چې که په دي وریځ کې عذاب وي او د عاد پر قام هم سیلۍ راغلې وه، د عاد قام چې کله هغه وریځ ولیده نو ویلې یې وو، چې پر مونږ به باران اوري [صحیح بخاري، صحیح مسلم].
او دا دعا لولئ : اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا رِیَاحًا وَلَا تَجْعَلْهَا رِیْحًا اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا رَحْمَةً وَلَا تَجْعَلْهَا عَذَابًا [ طبرانی ]
( الهی ! ته دا د خیر هوا کړې د شر سیلۍ یې مه گرزوي ، خدایا! ته یې د رحمت کړې عذاب یې مه کړې ) .

او که د سیلۍ سره ډېره تیاره هم وي نو" قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس " هم ولولی [ سنن ابو داود ] .

حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها فرمایی چې نبې ﷺ به چې کله سیلی را روانه ولیده نو دا دعا به یې کوله :

اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡ اَسۡئَلُکَ خَیۡرَهَا وَخَیۡرَمَا فِیۡهَا وَ خَیۡرَمَا اُرۡسِلَتۡ بِهٖ وَاَعُوۡذُبِکَ مِنۡ شَرِّهَا وَشَرِّمَا فِیۡهَا وَشَرِّمَا اُرۡسِلَتۡ بِهٖ [ صحیح مسلم، جامع ترمذی ] .

( یا الهی! زه له تانه د دي سیلی خیر او څه چې په دي کې دي د هغې خېر غوارم او د کوم هدف لپاره چې دا رالیږل شوي ده د هغې خیر غوارم. او د دي سیلی ، توپان له شر نه او څه چې په دي کې دي د هغې له شر نه او د کوم غرض لپاره چې دا رالیږل شوي ده د هغې له شر نه پناه غوارم .

✔ کله چې د باران د زیاتوالی له امله د ورانی اندیښنه وي نو دا دعا ووایاست : اَللّٰهُمَّ حَوَ اَلَیۡنَا لَا عَلَیۡنَا اَللّٰهُمَّ عَلَی الۡاٰکَامِ وَالظِّرَابِ وَبُطُوۡنِ الۡاَوۡدِیَـةِ وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ [ صحیح بخاری، صحیح مسلم ] .

یا الهی ! زمونږ پر شا و خوا یې وه اوروي پر مونږ یې مه را اوروي ، یا الهی ! پر غرونو، درو، کرنیزو ځمکو او فصلونو یې او د ونو پر راشنه کوونکیو ځایونو یې وه اوروي .

✔ کله چې د وریځو شور او د بریښنا کړسار واورې نو خبرېې اترې بندي کړی او د قران عظیم دا ایت لوستل پیل کړی :

وَیُسَبِّحُ الرَّعۡدُ بِحَمۡدِهٖ وَالۡمَلٰٓئِکَةُ مِنۡ خِیۡفَتِهٖ[1] ( او د وریځو غرهاری د الله ﷻ له حمد سره، د هغه ثنا وایی او ملایکې هم د هغه له ویری لړزیږی او پاکی او لوړاوي یې بیانوي ) .

حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه چې کله د وریځو غرهاری اوریده نو خبرېې اترې به یې بندي کړی او همدا ایت به یې تلاوت کاوه [ الادب المفرد ] .

---

۱ ـ الرعد سورت ۱۳ آیت

حضرت کعب رضی الله تعالی عنه فرمایی چې څوک د وریځو د غرهــاری پر وخت دری کرتی دا آیت تلاوت کړی ، هغه بـه د تندر له افت نـه پـه امان وي [جامع ترمذی]

نبې اکرم ﷺ به چې کله د وریځو غرهاری او د بریښنا کړساری اوریده نو دا دعا به یې لوستله : اَللّٰهُمَّ لَا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِکَ وَلَا تُهْلِکْنَا بِعَذَابِکَ وَعَافِنَا قَبْلَ ذَالِکَ [الادب المفرد] .

( یا الهی ! مونږ پخپل قهر مه وژنی پخپل عذاب مو مه هلاکوي او د داسې وخت له راتګ نه مخکې مونږ د خپل امان تر لمنی لاندې راولی ) .

✓ کله چې کوم ځای کې اور ولګی د هغه د مړ کولو د زیات کوښښ سره الله اکبر هم ووایې د نبې صلی‌الله علیه وسلم فرمان دی کله چې اور لګیدلی ووینی نو الله اکبر ووایې تکبیر اور وژنی .

✓ د ویری ترهی د زیاتوالی پر وخت دا دعا لولی که د الله جل جلاله رضا وه نو ویره تر هغه په مو لری شي او د زړه آرام به مو په برخه شي ، حضرت براء بن عازب رضی الله عنه فرمایی ، چې یو سړی نبې ﷺ ته شکایت وکړ چې زه ویریږم، هغه وفرمایل : دا دعا لوله هغه به د دي دعا ګردان کاوه، الله ﷻ یې له زړه نه ویره ترهه لری کړه [معجم الطبرانی] .

سبحان الله المَلِکِ القُدُّوسِ رَبِّ المَلٰئکَةِ وَالرُّوحِ جَلَّلْتَ السَّمٰوٰاتِ وَالْاَرْضِ بِالْعِزَّةِ وَالجَبَرُوْتِ ( الله پاک او تر ټولو لوړ دي، رښتینی بادشاه دي، له عیبونو پاک دي، ای د ملایکو او جبرائیل پروردګاره! هم ستا واک او پرتم پر ځمکو او آسمانونو واکوال دي ) .

✻ ✻ ✻

## د خوښي او خوشحالي آداب

⇦ د خوښي او خوشحالي په وختونو کې خوشحالي خامخا وکړی ، خوښي د انسان فطري غوښتنه او اړتیا ده، دین ستاسې د فطري اړتیا اهمیت احساسوي او له یو څه ګټورو بریدونو او شرایطو سره مو د دغو اړتیاو پوره کولو ته لیوالوي، دین هیڅکله دا نه خوښوي چې تاسې د مصنوعي وقار، د ناوړه کلانکاریو هر وخت مړ زړیتوب او مړ ژواندیتوب له امله د خپل سړیتوب په زړه پوري والي پای ته ورسوي، دین د خوښي په ګردو روا وختونو کې د خوښیدلو مکمل حق ورکوي او دا غواړي چې تاسې تل له لوړو حوصلو، تازه ولولو او نویو هیلو سره تر او تازه اوسي، په روا وختونو کې خوشحالي نه ښکاره کول، او خوشحالي نه کول د دیني وقار پر خلاف ګڼل د دین له پوهي نه بې برخې والي دي.

تاسې ته که د کومي فریضي د سرته رسولو بریالیتوب در په برخه شي، تاسې او یا ستاسې کوم خپلوان په علم او پوهه کې لوړ مقام تر لاسه کړي، الله جل جلاله تاسې د مال او دولت په نعمت ونازوي، که تاسې له کوم اوږده سفر نه په خیر سره کورته راشئ ، یا ستاسې څوک خپلوان له کوم اوږده سفر نه په خیر سره راورسي ، ستاسې کره کوم عزتمن میلمه راتلونکی وي، د کوم خپل د روغتیا او خیرت پیغام درته راشي ، یا د صحیح مسلمانانو د بریالیتوب خبر واوري یا د کومي خوشحالي ورځ وي، په دي ټولو وختونو کې خوشحالي کول ستاسې فطري حق دي، اسلام نه یوازې د خوشحالیو کولو اجازه ورکوي بلکې پخپله یوه دیني چاره یې ګڼي.

د حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه وینا ده چې کله الله تعالی زما توبه قبوله کړه او ماته یې زیری راکړ شو، نو زه په سملاستي توګه د نبي ﷺ په خدمت کې حاضر شوم زه ولاړم سلام مي وکړ، هغه مهال د نبي ﷺ څېره له خوشحالي نه ځلیده او همداسې به چې پر نبي ﷺ د کومي خوشحالي زیری کیده، د هغه مبارکه څیره به د سپوږمي د یوي ټوټي په څیر ځلیده او مونږ

به د هغه له ځلا او ښکلا نه پوهیدو چې هغه دا مهال بې اندازې خوشحاله دي [ رياض الصالحين ] .

⇦ د خوشحالیو د ورځو پر وخت ښه په پراخه زړه خوشحالي وکړی ، او طبیعت یو څه آزاد پریږدي، نبي اکرم ﷺ چې کله مدینی ته تشریف راوړ نو وي فرمایل: تاسې په کال کې دوه خوشحالي کولی، اوس الله تعالی تاسې ته له هغې نه غوره خوشحالي دربخښلی دی (کوچنی اختر او لوي اختر) نو د کال په دي دوه د خوشحالیو په وختونو کې ښه په پراخه زړه خوشحاله اوسي او یو څه په آزادانه طبیعت، تفریحی مزاج او تفریحی چاری پخپل فطری اندازه سره اختیار کړی ، نو څکه د دي دوه د خوشحالیو په وختونو کې د روژی نیول منع دي، د نبي اکرم ﷺ ارشاد دي : کوچنیانو ته وخت ورکړی چې هغوي په روا ډول لوبو زړونه خوښ کړی او آزادانه خوشحالي وکړی .

د حضرت عايشي رضی الله عنها وینا ده چې د اختر ورځ وه څو تنه پیغلوټی ناستی وي هغو شعرونه یې ویل چې د بعاث (١) د جنګ په اړه انصارو ویلی وه چې په دي دوران کې حضرت ابو بکر صدیق ﷺ تشریف راوړ وي ویل : د نبي اکرم ﷺ په کور کې سندرې ويل: نبي ﷺ وفرمایل: ابو بکره! پرې يې ږده، د هر قام لپاره د خوښي یوه ورځ وي او نن زمونږ د اختر ورځ ده.

یو کرتی د اختر په ورځ څو تنه حبشي لوبغاړو پوځی حیرانوونکی ننداری ښودلی، هغه دغه لوبه پخپله هم ولیدله او حضرت عایشه رضی الله عنها یې هم پخپل څنګ کې ودروله او لوبه یې ولیدله هغه ﷺ به هغو لوبغاړو ته شاباس هم ورکاوه، حضرت عایشه رضی الله عنها یې په لیدو لیدو ستړې شوه هغه ورته وویل ښه نو اوس ولاړه شه [ صحیح بخاری ] .

⇦ په خوشحالیو کولو کې د اسلامی ذوق او مزاج او د اسلامی لارښوونو او آدابو خامخا خیال وساتي، کله چې تاسې ته خوشحالي حاصله شي نو د خوشحالونکی شکریه ادا کړی د هغه په حضور کې د شکر سجده پر ځای کړی،

---

١ - د بعاث جنګ هغه مشهور جنګ دی چې د جاهلیت په زمانه کې د انصارو د دوه قبیلو (اوس او خزرج) تر منځ پیښ شوی و.

د خوشحالي په جذباتی لمحو کې کوم داسې کار او رویه اختیار نه کړی چې له اسلامی مزاج سره سمون نه خوری او د اسلامی آدابو او لاربښوونو پر خلاف وي، خوښي خامخا ښکاره کړی، خو د اعتدال په هر حال کې خیال وساتي د خوښي په ښکاره کولو کې دومره وړاندي مه درومی ، چې کبر او غرور تری ښکاره شي، او د نیازمندي ، بنده ګې او عاجزی ولولی تر لاندي شي، په قران عظیم کې دي: وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ [1]

(او ځان لوړ مه ګڼه په هغه څه چې الله ﷻ در کړی دي الله ﷻ کبرجن او ځان غوره ګڼونکی نه خوښوي).

او په خوشحالي کې دومره مستیږی هم مه چې د الله ﷻ له یاد نه بې پروا شي، د مؤمن خوښي دا ده چې هغه خوشحالي راوستونکی نور هم وساتي، د هغه په حضور کې د شکر سجده پر ځای کړی او په خپلو کړو او وینا کې د الهی فضل او کرم او عظمت او جلال لا زیاته یادونه وکړئ.

د روژې په تولو میاشت کې د ورځی روژې نیول او د شپې له تراویحو او د قرانکریم له تلاوت وروسته چې کله تاسې د کمکی اختر میاشت وینی نو په خوشحالي کې ډوب شي چې الله ﷻ چې کوم حکم کړی وٌ د هغه په مرسته مو تر سره کړ او تاسې په سملاسی ډول د خپل مال نه د خپلو بې وسی ورونو برخه بیله کړی، او هغوي ته یې ورسوي چې ستاسو په عباداتو کې کومه کوتاهی شوي وي او د بندګی د حق په اداء کولو مو لا پروایی کړی وي چې هغه د دي مالی خیرات په وسیله الله ﷻ په خپل فضل او کرم لری کړی او د الله ﷻ بې وسی بنده ګان هم له تاسې سره د اختر په خوشحالیو کې شریک شي او بیا د اختر د ورځی په سهار تاسې په اجتماعی ډول د الله ﷻ په حضور کې دوه رکعته د شکرانی لمونځ ادا کوي او خپله خوښي په صحیح ډول ښکاره کوي ، او همدا ډول د لوي اختر په ورځو کې د حضرت ابراهیم او حضرت اسمعیل د بې ساری قربانیو په یادونه پخپله د قربانۍ په ولوله د الله ﷻ په دربار کې د شکر سجدي ادا کوئ.

---

[1] ـ د الحدید سورت ۲۳ آیت

او بیا ستاسې په هر یو کلي، کوڅه، ښارونو او بازارونو کې د الهی ستر توب تکبیرونه پیل کیږي او بیا تاسې د الی شریعت سره سم چې د اخترونو په ورځو کې ښه خواړه خوری، ښې جامي اغوندي او د خوشحالیو د کولو لپاره روا لاری چاری غوره کوي، نو ستاسې دا ټولی چاری الهی یاد گرځی .

⇦ په خپلو خوښیو کې نور هم شریک کړی او د همدا ډول د نورو په ښادیو کې پخپله گډون وکړی او د هغوي خوشحالي زیاتی کړی او د ښادیو په وختونو کې د مبارکی ورکولو ته هم خیال ساتی .

د حضرت کعب بن مالک ﷺ توبه چې کله قبوله شوه او مسلمانانو ته پته ولگیده نو خلک ډلی ډلی هغه ته د مبارکی لپاره ورغلل او خوښي به یې ښکاره کوله، ان تر دي چې د حضرت طلحه ﷺ له مبارکی ورکولو نه هغه دومره اغیزمن شو چې تر ژونده به یې یادوله، حضرت کعب ﷺ چې کله د بـوډا توب په زمانه کې خپل زوي عبدالله تــه د خپل ازمیښت او توبې پیښه واوروله نو پــه ځانگړی توگه یــې د حضرت طلحه ﷺ د خوښي او مبارکی یادونه وکړه او وي فرمایل چې زه د طلحه ﷺ د مبارکی او خوښي ولولی هیڅکله نشم هیرولای .

پخپله رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم چې حضرت کعب ﷺ ته د توبې قبلیدو زیری ورکړ نو په خورا ډیره خوشحالي یې ورته وفرمایل : کعبه! دا ستا په ژوندانه کې له ټولو نه زیاته د خوښي ورځ ده [ رياض الصالحين ]

که د چا واده وي او یا چا کره اولاد پیدا شي او یا دغه ډول کومه بله خوښي یې په برخه شي نو په خوشحالي کې یې گډون وکړی او مبارکی ورته وواياست .

حضرت ابو هریره ﷺ فرمایی چې نبي ﷺ به چاته په نکاح کولو مبارکی ورکوله نو داسې به یې فرمایل : بارک الله لک وبارک علیکما وجمع بینکما فی خیر [ جامع ترمذی ] .

الله جل جلاله دي تا خوشحاله کړی او پر تاسې دواړو دي برکتونه نازل کړی او په خیر او ښه والی دي ستاسې ژوندون تیر کړی .

یو کرتی حضرت حسین ﷺ چا ته د زوي د مبارکی ورکولو طریقه زده کوله ورته وي فرمایل داسې وایه: الله ﷻ دي تا ته په دي بخښښ کې خیر او برکت در

کړي د شکرانې ادا کولو دي تاته توفيق درکړي، زوي دي درته زلمی کړي او هغه دي ستا منونکی زوي را لوي کړي.

⇦ کله چې ستاسې کوم خپل يا پیژندګلو له کوم اوږده سفر نه راستون شي نو هغه ته ښه راغلاست ووایاست او د هغه په خير راتګ او پخپل مرام کې بریالیتوب خوښي ښکاره کړي او که هغه پخپل پخير راتګ کوم خيرات وکړي په هغې کې ګډون وکړي ، او که کله تاسې له کوم سفر نه راستانه شي او د خوښي کوم خيرات وکړي ، نو خپل نږدې اوسيدونکي پکی رابلی ، البته له بې ځايه اسراف او ځان ښودنی ځان وژغوری او داسې لګښت هيڅکله مه کوي چې ستاسې له توانه بهر وي .

نبي ﷺ چې کله له تبوک نه تشريف راوړ نو د مسلمانانو نارينه او زنانـه د هغه د ښـه راغلاسـت لپاره ثنيه الوداع تـه ورغلل [ سنن ابو داود ] .

● او چې کله رسول اکرم ﷺ له مکی نه مدينی ته په هجرت کولو ورسيد او د سویل ( جنوب ) له لوری مدینی منوری ته داخل شو، نو صحیح مسلمانان واړه او زاړه، ښځی او نر ټول د هغه د استقبال لپاره راوتی وو، د انصارو کوچنيو نجونو ل خوشحالي نه دا سندره ويله :

طلع البــدر علينا — من ثنيات الــوداع
وجب الشكرو علينا — ما دعـــا لله داع
ايها المبعـوث فينا — جئت باالامر المطاع

نن پر مونږ د څوارلسمی سپوږمی راوختنه ( له سويلی غرونو ) ثنيات الوداع نه ، پر مونږ شکر واجب دي د هغه بلنی او لاربښوونی چې بلونکی مونږ د الله لوری ته ويللو، ای زمونږ په منځ کې راليږل شوي رسوله! تاسې داسې دين راوړی دي چې مونږ يې اطاعت کوو.

[1] - ثنيه الوداع د مدينی په جنوب کې يوه غونډۍ وه، د مدينی خلک به د خپلو ميلمنو د رخصتولو پر وخت تر دی ځايه ورسره راتلل، په همدی خاطر د ثنيه الوداع ( د رخصت غونډۍ ) په نوم ياد شو.

يو کرتي. نبي ﷺ له کوم سفر نه مديني منوري ته راستون شو، هغه يو اوبښ يا غوايي حلال کړ او خلک يې راوبلل [سنن ابو داود]

⇦ د ښادي او ودونو پر وخت هم خوښي کوي او په دي ښــادي کې خپل دوستانو او خپلوانو تـه هـم د ګـډون بلنه وركړی ، پـه دي وخت کې رسـول الله صلى الله عليه وسلم يو څه ښو سندرو ويلو او چمبې وهلو ته هم اجازه ورکړه، له دي نه د خوښي جذباتو تسکين هم مقصود دي، او د نکاح عام اعلان او مشهورتيا ترې هم هدف و.

حضرت عايشي رضی الله عنها له خپل کورنۍ نه د يوي بې بې نکاح له يوه انصار سره وکړه کله چې هغه بې بې رخصت کړای شوه، نو نبي اکرم ﷺ وفرمايل: خلکو د هغې سره کومه وينځه ولی ونه ليږله چې چمبه ( دايره ) يې وهلی او يو څه سندری يې ويلی [صحيح بخاری] .

کله چې د حضرت ربيع بنت معوذ رضی الله عنه نکاح وشوه، نو له هغې سره څو نجونۍ ناستی دايره يې وهله او د خپلو هغو لويانو په ستاينه کې يې يو څه اشعار وويل چې د بدر په غزا کې شهيدان شوي وو، يوي پيغلوټی يو بيت ووايه: زمونږ په منځ کې يو داسې نبي دي چې په سبا ته پيښيدونکيو خبرو پوهيږي، هغه چې واوريد نو وي فرمايل چې: دا پريږدي او هماغه سندری ووايې چې لومړی مو ويلی [صحيح بخاری] .

⇦ د واده د ښادي په خوښيو کې له خپل توان سره سم خپل خپلوان، دوستان او ګاونډيان خوراک، څښـاک ته راوبولی ، نبي اکرم ﷺ هم پخپل مبارک واده کې وليمه ( له نکاح نه وروسته خوړه ) کړی وه او نورو ته يې هم لارښوونه کړی ده .

د نبي اکرم ﷺ ارشاد دي : که نور هيڅ نه وي نو يو سپرلی حلال کړی او وي خوری .

که په واده کې د ګډون وخت کې نه لری نو د مبارکی پيغام خامخا ورولیږی ، په نکاح واده او دا ډول نورو وختونو کې په سوغاتونو ورکولو اړيکی تازه او ټينګيږی ، او مينه محبت لاپسی زياتيږی ، هو! د دي خبری خيال خامخا وساتي چې سوغاتونه د خپلي وسی سره سم ورکوي او له ځان ښودنی ځان وساتی او د خپل اخلاص اظهار خامخا وکړی .

## دویم څپرکی ( فصل )

## د بندګۍ ښکلا او غوره والی

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایي:
خلکو! د بنده ګي پر ښکلا خانونه ښکلي کړئ - د آخـــرت د ویری څـادر پر څـان وغـوړوئ - اخرت د خپل ژوندانه مرام وګرځوئ او دلته خانته د ځای جوړولو لپاره پرله پسی کارو کړئ.
ښه پوه شي! ستاسې له دي ځایه تلل دي او د الله جل جلاله حضور ته رسیدل دي - هلته به دوه شیان ستاسې په کار راځي : یا خو هغه غوره او نیک عمل چې تاسې یې په خپل ژوندانه کې له ځانه مخکې ولیږی او یا هغه جاري صدقه چې تاسې یې له ځانه وروسته پریږدي.

[ د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خطبه ]

## د جومات آداب

د الله ﷻ په نظر کې د ځمکې له ټولو نه غوره برخه هغه ده چې جومات پرې آباد کړای شي، له الله جل جلاله سره د مینه لرونکیو نښه دا ده چې هغو له جومات سره هم مینه لري ، د قیامت په هیبتناکه ورځ چې هیڅیرې به کوم سیوري نه وي، الله ﷻ به په هغه ورځ خپل هغه بنده د خپل عرش له سیوري لاندې ساتي. چې زړه یې په وجومات کې آرام مومي د نبي ﷺ فرمان دي: او هغه ځوک (به د عرش له سیوري لاندې وي) چې زړه یې له جومات سره تړلی وي.

د جومات خدمت وکړي او ودان یې وساتي، د جومات خدمت کول او ودان ساتل د ایمان نښه ده، د الله ﷻ فرمان دي: إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ فَعَسَى أُولَئِكَ أَنْ يَكُونُوا مِنَ الْمُهْتَدِينَ [د التوبه سورت ۱۸ ایت]

(د الله د مسجدونو ودانوونکي (مجاوران او خدمتګاران) خوهماغه خلک کیدای شي چې الله اود اخرت ورځ ومني او لمونځ قایم کړي، زکات ورکړي اوله الله نه پرته له بل هیچاڅخه ونه ویریږي. لههماغوي څخه دا توقع ده چې په سمه لاره باندې به لاړشي).

فرض لمونځونه تل په جماعت سره ادا کړی، په جومات کې د جماعت او اذان تر منځ نظم ساتی او د جومات له نظام سره خپل ټول ژوندون منظم کړی ، جومات یو داسې مرکز دي چې د مؤمن ټول ژوندون منظم کوي، جومات یو داسې مرکز دي چې د مؤمن ټول ژوندون د هغې پر شاو خوا څرخي ، نبي ﷺ فرمایلي: په صحیح مسلمانانو کې ځینې کسان داسې دي چې تل په جوماتونو کې وي او له هغه ځایه بل خوانه ځي، ملائکې د داسې کسانو سره په مجلس کې کیني، که دا کسان چیرې ولاړ شي نو ملائکې د هغوی په لټې پسې ګرځي، او که ناروغه شي نو ملایکې یې د ناروغي پوښتنه کوي او که کوم کار کوي نو ملایکې ورسره مرسته کوي، په جوماتونو کې ناست خلک د الله د رحمت انتظار کوي [مسند احمد]

جومات ته د لمانځه لپاره په مینه ولاړ شي، نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلی : د سهار او ماښام جومات تـه د لمانځه لپاره تلل داسې دي لکه جهاد تـه تلل، او دا يې هم وفرمایل: کوم کسان چې په تیاره کې د سهار لمانځه تـه ځي، په قیامت کې به له هغه سره مکمله رڼا وي، او دا يې هسم وفرمایل د جماعت د لمانځه لپاره د تلونکیو هر پل یـوه نیکي واجبوي او یوه ګناه لـه منځه وړي [ ابن حبان ] .

جومات پاک او صاف ساتی ، جومات جارو کړی ، ډکي، ګیاوي او دوړې ترې پاکي کړی، عطر پکي وشیندي، په ځانګړی توګه د جمعی په ورځ پـه جومات کې د خوشبويي لګولو او یا د مښکو ډکي بل کړی د نبي اکرم ﷺ فرمان دي : جومات جارو کول، جومات پاک او ښکلي ساتل، له جومات نه ګردونه او دوړې لرې کول او په جومات کې خوشبويي پاشل، په ځانګړی توګه د جمعی په ورځ پاشل جنت ته د تلونکیو کار دي [ سنن ابن ماجه ]

او نبي صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلی دي له جومات نه خلی خاشاک لرې کول د ښکلیو سترګو والا حورو مهر دي [ طبراني ]

جومات ته لړزیدونکی او ویریدونکی ځی، د داخلیدو پر وخت له السلام علیکم ... ویلو وروسته غلی کینی او د الله ﷻ ذکر داسې کوي چې الهی عظمت او جلال مو پر زړونو خپور وي ، په خندا او خبرو او په بې پروایي سره جومات تـه مه داخلیږی، دا د بې ادبو غافلانو کار دي، د چا زړونه چې د الله ﷻ له ویرې خالی دي، ځینی کسان له امام سره په رکوع کې د یو ځای کیدلو او د رکعت لاندي کولو لپاره منډې وهی، دا هم د جومات د درناوي پر خلاف دي .

که رکعت لاندي کړی او که نه په جومات کې په درناوي، وقار او عاجزی سره لاړ شي او له منډو ترړو نه ځان وژغورئ .

په جومات کې ارام کینی او د دنیا خبری مه کوي په جومات کې شور او غوغا جوړول، په قهقهه خندا کول، د بازار نرخونه پوښتل او ویل د دنیا پر حالاتو تبصره کول او د پلورنی اخیستنی بازار ګرمول د جوماتونو بې عزتی ده، جومات د الله جل جلاله د عبادت کور دي، په هغه کې یوازي عبادت وکړی .

جومات ته داسې کوچنيان مه راولې چې د جومات د درناوي شعور نه لري او په جومات کې تشي يا ډکې بولې وکړي او يا پکې لاړې توکړي.

له جومات نه د تيريدو را تيريدو لار مه جوړوي، په جومات کې له داخليدو نه وروسته پر تاسې دا حق دي چې لمونځ ادا کړې او يا کيني او ذکر او تلاوت وکړې.

که ستاسې کوم څيز چيرې بيرون ورک شي نو د هغې اعلان په جومات کې مه کوي.

د نبي صلى الله عليه وسلم په جومات کې به چې چا داسې اعلان کاوه نو هغه به خفه کيده او داسې به يې فرمايل: لَا رَدَّ اللهُ عَلَيْكَ ضَالَّتَكَ [ الله ﷻ دي تاته ستا ورک شوي څيز نه پيدا کوي ].

په جومات کې د داخليدو پر وخت لومړی ښی پښه کيږدي او پر رسول الله صلى الله عليه وسلم درود ووايإست، بيا دا دعا ولولی د نبي صلى الله عليه وسلم فرمان دي چې کله له تاسې نه څوک جومات ته راشي، نو لومړی دي درود ووايي او بيا دي دا دعا ولولی: اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ [ الهی ! زما لپاره د خپل رحمت دروازې بيرته کړې ] [صحيح مسلم]

په جومات کې له داخليدو نه وروسته دوه رکعته لمونځ ادا کړې دي نفلو ته تحيه المسجد وايي، همدا رنګه کله چې له سفر نه راستانه شي، تر هر څه لومړی جومات ته ولاړ شي نبي ﷺ به چې کله له سفر نـه راستون شو لومړی به يې جومات ته تشريف ووړ، لمونځ به يې ادا کاوه او بيا به يې خپل کورته تشريف ووړ.

له جومات نه د راوتو پـه وخت کې چپه پښـه بيرون کړی او دا دعا ولولی: اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ ) [صحيح مسلم ]

( الهی ! زه تا نـه ستا د فضل او کرم غوښتنه کوم )

په جومات کې پنځه وخته د اذان او د جماعت د لمانځه پوره پوره خيال ساتئ، او هغه څوک امام او موذن کړی چې په دين او اخلاقو کې پـه مجموعی ډول غوره وي، تر کومه چې امکان لري داسې کسان امام او مـوذن وټاکی چې مادي بدله يې نه غواړی او پخپله خوښه د اخرت پـه هيله دغه مسئووليتونه سرته ورسوي.

۞ له اذان نه وروسته دا دعا وواياست ، نبي ﷺ فرمايلي دي : څوک چې اذان واوري او دا دعا ولولي د قيامت په ورځ به زما دعا د هغه لپاره واجب وي [مشکوه ] .

اَللهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَامَّةِ وَالصَّلوٰةِ الْقَائِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَ نِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَالدَرَجَةَ الرَّفِيْعَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدًا نِ الَّذِىْ وَعَدْتَهٗ وَارْزُقْنَا شَفَاعَتَهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اِنَّکَ لَاتُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ( الهی! د دي مکملی بلني او د دي ودريدونکی لمونځ څښتنه ! محمد ﷺ ته خپل نږديوالی، غوره والی او لوړوالی ورو بخښه! او هغه پر هغه ستايلی شوي مقام سر لوړی کړی چې تا يې ورسره وعده کړی ده او مونږ د هغه له شفاعت نه برخمن وګرځوه، بې شکه چې ته هيڅکله د خپلي ودي پر خلاف نه کوي ) .

۞ موذن چې کله اذان وايې نو د اذان د کلماتو په اوريدو اوريدو سره يې تاسې هم تکرار کړی، البته چې کله موذن حي علي الصلوة او حي علی الفلاح وايې نو تاسې يې په ځواب کې لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ وواياست او د سهار په اذان کې چې کله موذن "اَلصَّلوٰةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ" ووايی نو په ځواب کې يې صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ تا رښتيا وويل او د نيکی خبره دي وکړه، وواياست .

۞ اقامت کوونکي چې کله : قَدْ قَامَتِ الصَّلوٰة ووايی نو په ځواب کې يې ووايی : اَقَامَهَا اللهُ وَاَدَامَهَا ( الله دي دا تل ولری ) .

۞ ښځی دي جومات ته د تللو په ځای په کور کې لمونځ ادا کړی ، يو ځلی د حضرت ابو حميد ساعدي ميرمن رسول الله ﷺ ته عرض وکړو يا رسول الله زما له تاسې سره د لمانځه ادا کولو سره ډيره مينه ده، هغه ورته وفرمايل : ما ته ستا مينه معلومه ده، خو ستا لپاره په کوټه کې لمونځ ادا کول په دالان کې له ادا کولو نه غوره دي او په دا لان کې لمونځ ادا کول په غولی ( حويلی ) کې له ادا کولو نه غوره دي .

هو! مومنی بيبيانی بايد د جومات د اړتياو د پوره کولو لپاره د خپلي وسی په اندازه کوښښ وکړی، د لمونځ کوونکيو لپاره د اوبو تيارولو او د خوشبويی او نور سامان ليږلو او له جومات سره د مينې لرلو کوښښ بايد وکړی .

۞ هوښيار کوچنيان له ځانه سره جومات ته بوزی، ميندو ته پکار دي چې هغوي جومات ته تللو ته ليوال کړی او جومات ته يې وليږی ، تر څو په

کوچنیانو کې د جومات مینه پیدا شي او په جومات کې له هغوي سره د ېر نرم او د مینی محبت او شفقت رویه وکړی کوچنیان که په جومات کې کوم ورانی وکړی نو د کنځلو او وهلو پر ځای یې په مینه او محبت پوه کړی او نیکی چاري ور وښایاست.

## د لمانځه اداب

◈ د لمانځه لپاره د طهارت او پاکوالۍ پوره پوره خیال ساتی ، د اوداسه کولو پر وخت د مسواک وهلو هم خیال ساتی، نبي صلی‌الله علیه وسلم فرمایلی: په قیامت کې به زما د امت نښه دا وي چې د هغو کوچولی او د اوداسه غړی به له نوره ځلیږي ، نو چې څوک خپل نور زیاتول غواړی زیات دي کړی .

◈ پاکی ، صافی، ښکلي او درنی جامې واغوندي او لمونځ ادا کړی ، په قران مجید کې دي : يَابَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ [1] (د آدم اولاده د هر لمانځه پر وخت ځان صاف او ښکلي کوي ) .

◈ لمونځ په خپل وخت سره ادا کوي .

إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَابًا مَوْقُوتًا (پر مؤمنانو پخپل خپل وخت لمونځ فرض کړای شوي دي )

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه یو ځلی د نبي صلی‌الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه، یا رسول الله! د الله جل جلاله په وړاندي کوم عمل تر ټولو زیات محبوب دي، هغه وفرمایل: لمونځ پر خپل وخت ادا کول، او نبي اکرم ﷺ دا هم وفرمایل : الله جل جلاله پنځه لمونځونه فرض کړی دي، چا چې د دغه لمونځونو لپاره په ټاکلی وخت په ښه ډول اودس وکړ او په خشو او خضوع سره یې ادا کړل، نو پر الله جل جلاله یې دا حق دي چې وه یې بخښی ، او چا چې په دي لمونځونو کې لټی وکړه نو پر الله جل جلاله یې.د بښنی او مغفرت هیڅ مسئوولیت نشته ، که وغواړی وه به یې ښنی او که نه په عذاب به یې کړی [ موطا مالک] .

◈ لمونځ تل په جماعت ادا کوي، که کله د جماعت لمانځه ته ونه رسیدي نو بیا هم د فرض لمانځه په جومات کې د ادا کولو کوښښ وکړی، البته سنت لمونځونه په کور کې ادا کول ښه دي، د رسول الله صلی‌الله علیه وسلم لاربښوونه

---

[1] ـ د الاعراف سورت ۳۱ آیت

ده " څوک چې تر څلویښت ورځو له اولنئ تکبیر " سره د جماعت لمونځ ادا کړي ، هغه به له دوزخ او نفاق دواړو نه په امان وي [ جامع ترمذی ]

او رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم دا هم فرمایلی دي. که خلکو ته د جماعت د لمانځه د ثواب او اجر اندازه معلومه شي، نو هغوي به له زرونو مجبوریو او اړتیاو سره سره د جماعت د لمانځه لپاره په منډو ولاړ شي، د جماعت د لمانځه لومړی صف داسې دي لکه د ملایکو صف. له ځانله لمانځه نه د دوه کسانو د جماعت لمونځ غوره دي ، بیا چې شمیر زیات وي همدومره هغه جماعت الله ﷻ ته ګران وي [ سنن ابو داود ]

◈ لمونځ په ورو او آرام سره ادا کوي ، او سجده او رکوع په مطمئن زړه سره ادا کوي، د رکوع نه د راپورته کیدو پر وخت سم دریږه ، بیا سجدي ته ولاړ شي، همدا ډول د دواړو سجدو تر منځ لږ څه تم شي او د دواړو سجدو تر منځ دا دعا ووایاست : اَللّٰهُمَّ اغْفِرلی وَارْحَمْنِیْ وَاهْدِنِیْ وَاجْبُرْنِیْ وَ عَافِنِیْ وَارْزُقْنِیْ [ سنن ابو داود ] .

یا الهی ! ته مې وبښی ، ته را باندي رحم وکړی ، پر سمه لاری مې روان کړې، زما بد حالی لری کړی ، روغ رمټ مې وساتي او روزی راوبښی .

د نبې اکرم صلی الله علیه وسلم لاربښوونه ده ، څوک چې په ښه طریقه لمونځ ادا کوي، لمونځ هغه ته دعا کوي چې الله جل جلاله دي ستا همداسې ساتنه وکړی لکه څنګه چې تا زما ساتنه وکړه .

او پیغمبر اکرم ﷺ دا هم فرمایلی دي : بد ترینه غلا د لمانځه غلا ده " خلکو پوښتنه وکړه، یا رسول الله ﷺ په لمانځه کې څنګه غلا کیدای شي؟ وي فرمایل: چې نیمګړی نیمګړی سجدي او رکوع ادا کړی .

◈ د اذان له اوریدو سره سم د لمانځه لپاره تیاری پیل کړی اودس وکړی او تر لمانځه د مخه جومات ته ولاړ شي، په صف کې غلی کینی او د لمانځه انتظار وکړی، د آذان له اوریدو وروسته لتی او وروسته والی کول او بې ولولی لمانځه ته تلل د منافقانو نښه ده .

◈ اذان هم په ذوق او شوق سره ووایاست ، له نبې اکرم ﷺ نه چا وپوښتل یا رسول الله ماته داسې کار وښاست چې جنت ته مې بوزی ، هغه وفرمایل : د

لمانځه لپاره اذان کوه هغه دا هم وفرمايل د موذن غږ چې تر کومه ځايه رسيږي او هر څوک يې چې اذان اوري ، هغوي به د قيامت پر ورځ پر هغه ګواهي ورکوي ، څوک چې په ځنګل کې رمه څروي او د اذان پر وخت په لوړ اواز اذان ووايې نو تر کومه ځايه چې د هغه آواز رسيږي هغه ټول شيان به د قيامت پر ورځ د هغه په باب ګواهي ورکوي [صحيح بخاري] .

◈ که تاسې امام ياست نو د لمانځه د ټولو آدابو او شرايطو سره سره لمونځ ادا کړی ، او د مقتدیانو د اسانتيا و په خيال ساتلو سره په ښه ډول لمونځ ادا کړی، کوم امام چې خپلو مقتدیانو ته په ښه ډول لمونځ ادا کوي او دا ګنې چې د هغوې د لمانځه مسئوول دې، هغه ته د خپلو مقتدیانو د لمانځه هماغومره ثواب هم ورپه برخه کيږي ، څومره يې چې د مقتدیانو په برخه کيږي، همدومره ثواب يې امام ته هم په برخه کيږي او د مقتدیانو په اجر او ثواب کې هيڅ کمی نه راځي [ طبراني ] .

◈ لمونځ په داسې خشوع او خضوع سره ادا کړی چې د الله جل جلاله عظمت او هيبت مو به زړونو حاوي وي او ويره ترهه در سره وي، په لمانځه کې له څه سبب پرته لاس پښې خوځول، بدن کږول، په ږيره کې ګوتی وهل، په سپږمو کې ګوتی وهيل، جامي سمول د سختی بې ادبې حرکتونه دي په کلکه تری ځان وساتی.

◈ د لمانځه په وسيله ځانونه الله جل جلاله ته نږدې کړی، لمونځ داسی ادا کړی چې ګواکې تاسې الله جل جلاله ګوری، او يا لږ تر لږه دومره احساس ولری چې الله جل جلاله تاسې وينی، نبې صلی الله عليه وسلم فرمايلی دي بنده خپل رب ته هغه مهال نږدې کيږي چې کله يې په حضور کې سجده کوي نو چې کله تاسې سجده کوي نو په سجده کې ښه دعا وکړی [صحيح مسلم ]

◈ لمونځ په شوق او مينه ادا کوي، څو ټونګی وهل په حقيقت کې لمونځ نه دي، يو وخت لمانځه د ادا کولو وروسته په مينه د بل لمانځه د ادا کولو انتظار وکړی، يوه ورځ څو کسانو د ماښام له لمانځه وروسته د ماسختن د لمانځه انتظار کاوه ، نبې اکرم صلی الله عليه وسلم تشريف راوړ او دومره چټک چټک راغی چې مبارکه ساه يې په ډېره چټکتيا سره اخيسته ، هغه وفرمايل :

خلکو! خوشحاله شي ستاسې پروردګار د آسمان يوه دروازه خلاصه کړه او تاسې يې ملايکو ته مخامخ کړي ، او په وياړ سره يې ورته وفرمايل: وګورئ زما بنده ګانو يو لمونځ ادا کړي او د بل لمانځه انتظار کوي [ سنن ابن ماجه ]

◈ د غافلانو په څير په چټکتيا سره د لمانځه پيتى له سر نه مه کوزوي او د زړه او دماغ په حاضرۍ سره لمونځ ادا کړئ، او زړه، دماغ ، احساسات، ولولې افکارو او خيالاتو هر څه سره د الله جل جلاله لورې ته رجوع وکړئ، او په مکمل سکون او آرام سره لمونځ ادا کړئ، لمونځ هماغه لمونځ دي چې الله جل جلاله پرې ياد شي، د منافقانو لمونځ د الله جل جلاله له يادو خالي وي.

◈ له لمانځه نه بيرون هم د لمانځه حق ادا کړئ او خپل ټول ژوندون د لمانځه آئينه وګرزوي، په قرآن مجيد کې دي " لمونځ له بې حيايى او نافرمانۍ نه خلک منع کوي، نبي صلى الله عليه وسلم يې ډېر اغيزمن تمثيل داسې وړاندي کړى دي، هغه صلى الله عليه وسلم يوه وچه لښته په زوره زوره وښوروله، د وچې لښتې نه ټولې پاڼې ورژيدي هغه وفرمايل د لمونځ کوونکيو ګناه داسې رژيږي لکه څنګه چې له وچې لښتې پاڼې ورژيدي او له دي وروسته هغه د قرانکريم دا ايت تلاوت کړ:

وَأَقِمْ الصَّلَاةَ طَرَفِي النَّهَارِ وَزُلَفًا مِنْ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذَلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ [ د هود سورت ۱۱۴ آيت ]

( او لمونځ ادا کړئ د ورځې په پيل او پاى کې ( سهار او ماښام ) او يو څه په شپه کې، بيشکه نيکۍ بدي له منځه وړي دا نصيحت دي د پند منونکيو لپاره )

◈ په لمانځه کې د قرانکريم ايتونه ورو ورو ولولئ او د لمانځه نور ذکرونه هم ورو ورو په مکمله پاملرنه، د زړه، دماغ او مزاج په حاضرۍ لولئ ، د لمانځه پر کلماتو له ځان پوهولو سره د لمانځه سره مينه زياتيږي او لمونځ واقعًا لمونځ کيږي.

◈ لمونځ په پابندي سره اداء کوي او هيڅکله يې مه قضاء کوي، د مؤمنانو اساسي غوره والى همدا دي چې هغوي له قضاء کولو پرته په پابندي سره لمونځونه اداء کوي.

إِلَّا الْمُصَلِّينَ۝الَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ ( مګر لمونځ کوونکي هغه څوک دي چې خپل لمونځونه په پابندي سره تل ادا کوي ) .

◈ د فرض لمونځونو له پابندي سره سره د نفل لمونځونو هم خيال ساتی او نفل لمونځونه زيات ادا کوی د نبي صلی الله عليه وسلم فرمان دي: څوک چې پر فرض لمونځونو سربيره په شپه او ورځ کې دولس رکعته نفل لمونځ ادا کوي د هغه لپاره يو کور په جنت کې جوړيږی

◈ سنت او نفل لمونځونه کله کله په کور کې هم ادا کوي د رسول اکرم صلی‌الله عليه وسلم لاربنوونه ده: په جومات کې د لمانځه له ادا کولو وروسته يو څه لمونځ په کور کې هم ادا کړی، الله جل جلاله به د دي لمانځه په وسيله ستاسې په کورونو کې خير پيښ کړی [ صحيح مسلم ]

او نبي اکرم صلی‌الله عليه وسلم به خپل سنت او نفل لمونځونه زياتره په کور کې ادا کول .

◈ د سهار د لمانځه لپاره چې کله له کوره ووځی نو دا دعا لولی:

أَللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا وَّفِيْ بَصَرِيْ نُوْرًا وَّفِيْ سَمْعِيْ نُوْرًا وَعَنْ يَمِيْنِيْ نُوْرًا وَعَنْ شِمَالِيْ نُوْرًا وَمِنْ خَلْفِيْ نُوْرًا وَمِنْ أَمَامِيْ نُوْرًا وَاجْعَلْ لِيْ نُوْرًا وَفِيْ عَصَبِيْ نُوْرًا وَفِيْ لَحْمِيْ نُوْرًا وَفِيْ دَمِيْ نُوْرًا وَفِيْ شَعْرِيْ نُوْرًا وَفِيْ لِسَانِيْ نُوْرًا وَاجْعَلْ فِيْ نَفْسِيْ نُوْرًا وَأَعْظِمْ لِيْ نُوْرًا وَاجْعَلْنِيْ نُوْرًا وَاجْعَلْ مِنْ فَوْقِيْ نُوْرًا وَمِنْ تَحْتِيْ نُوْرًا اللّٰهُمَّ أَعْطِنِيْ نُوْرًا [ حصن حصين ] .

( الهی ! ته زما په زړه کې رڼا پيدا کړی، زما په ليد کې رڼا زما په اوريدو کې رڼا ، زما ښی اړخ ته رڼا ، زما چپ اړخ ته رڼا ، زما شاته رڼا ، زما مخی ته رڼا ، او زما لپاره رڼا رڼا کړی، زما په پلوکی رڼا کړی، زما په غوښه کې رڼا ، زما په وينه کې رڼا ، زما په ويښتانو کې رڼا ، زما په غوږونو کې رڼا ، زما په ژبه کې رڼا او زما په نفس کې رڼا پيدا کړی او ماته ستره رڼا راکړی ، او ما سر تر پايه روښانه کړی او زما له پاسه نور پيدا کړی او زما نه لاندي نور ، يا الله ماته رڼا راوبښی) .

◈ د سهار او ماښام له لمانځه نه چې فارغ شي لومړی اووه کرتی دا دعا ووايا ست : أَللّٰهُمَّ أَجِرْنِيْ مِنَ النَّارِ ( يا الله ! ماته د جهنم له اور نه پناه راکړی )

د نبي اکرم صلی‌الله علیه وسلم فرمان دي: د سهار او مابنام له لمانځه نه وروسته اووه کرتی پورته دعا ولولی که په دي ورځ او یا شپه مړه شوي.است نو د جهنم له اور نه به خامخا نجات ومومی [ مشکوه ] .

◈ له هر لمانځه وروسته دری کرتی " استغفر الله " ووایاست او بیا دا دعا ولولی : أَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وِمِنْکَ السَّلَامُ تَبَارَکْتَ یَا ذَالْجَلَالِ وَالْإِکْرَامِ ( ای الله ! ته السلام یې، او د سلامتی ښښنه ستاله لوری ده، ته د خیر او برکت ښښتن یې، ای د عظمت ښښتنه او پالونکیه! ) [ صحیح مسلم ]

حضرت ثوبان رضی الله عنه فرمایې چې نبي اکرم صلی‌الله علیه وسلم به چې د لمانځه نه سلام وګرځاوه نو له دری کرتی استغفر الله ویلو نه وروسته به یې دا ( پورتني ) دعا لوستله [ صحیح مسلم ]

◈ د جماعت د لمانځه پر وخت د صفونو سم ساتلو خیال ساتی صفونه بیخی مستقیم کړی، او د ودریدو پر وخت اوږی یو تر بله سره ولګوي، چې په منځونو کې خالی ځای نه پاتی کیږی، او تر څو چې لومړی صفونه ډک نه شي بل صف مه جوړوي، یو ځلی یو سړی د لمانځه ودریدو په وخت کې په صف کې داسې ولاړ وُ چې سینه یې بهر وتلی وه، رسول الله ﷺ چې ولید خبر داری یې ورکړ د الله ﷻ بنده ګانو خپل صفونه خامخا سم وساتي او که نه نو الله ﷻ به ستاسې مخ د یو بل پر خلاف کړی [ صحیح مسلم ]

په یو بل ځای کې نبي اکرم صلی‌الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې د لمانځه کوم صف سم کړی الله ﷻ به هغه کس سم کړی او څوک چې کوم صف وران کړی، الله جل جلاله به هغه وران کړی [ ابو داود ] .

◈ د کوچنیانو صف باید خامخا له لویانو وروسته وي او له لویانو سره یې مه ودروي ، البته د اختر په لمانځه کې چې د کوچنیانو له ځانه جلا کول مشکلات پیدا کوي یا د کوچنیانو د ورکیدو اندیښنه وي نو هلته د کوچنیانو د وروسته کولو اړتیا نشته او له ځانونو سره یې درولای شو او د زنانه و صفونه دي یا له نارینه و نه وروسته وي او یا دي بیخی جلا وي که په جومات کې د هغوي لپاره جلا ځای جوړ کړای شوي وي ، همدا ډول د اختر د لمانځه په ځای ( عید ګاه ) کې د زنانوو لپاره د جلا لمونځ ادا کولو چاره وکړی .

## د قرآنکریم د تلاوت آداب

📖 د قرآنکریم تلاوت په ذوق او شوق او د زړه په مینه وکړئ، او دا باور ولرئ چې له قرانکریم سره مینه له الله ﷻ سره مینه ده، نبي اکرم ﷺ فرمایلي: " زما د امت لپاره تر ټولو غوره عبادت د قران تلاوت دي ".

📖 زیاتره وختونه د قرانکریم په تلاوت مشغول اوسئ او هیڅکله د قرانکریم له تلاوت نه مه مړه خوا کیږئ ، نبي اکرم ﷺ فرمایلي چې د الله جل جلاله لارښوونه ده :

کوم بنده چې د قران په تلاوت کې دومره مشغول وي چې له ما نه د دعا غوښتلو وخت ونه لري نو زه ورته د دعا غوښتونکیو نه له دعا غوښتنې پرته زیاته ورکوم [ جامع ترمذی ]

او نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي : بنده د قرآنکریم د تلاوت په وسله الله جل جلاله ته نږدیوالی حاصلوي [ جامع ترمذی ]

او هغه د قـرانکریم تلاوت ته په لیوال کولو دا هم فرمایلي " کوم سړی چې قرانکریم ولوست او هره ورځ یې تلاوت کوي، د هغه مثال داسې دي لکه د مشکو ډک زنبیل چې د هغې خوشبویي څلورو خواو تـه خپرېږي او چا چې قرآن لوستی وي او بیا یې تلاوت نه کوي د هغه مثال داسې دي لکه د مشکو ډک بوتل چې سر پوښ پرې لګیدلی او بند کړای شوي وي [ جامع ترمذی ]

📖 د قرآنکریم تلاوت یوازې د هدایت غوښتنې په خاطر وکړئ، خلک د ځان معتقد کول، خپل ښه آواز په خلکو کې مشهور کول او د خپلې دینداری له شهرت نه په کلکه ځان وژغورئ ، دا بې اندازې خراب هدفونه دي او د دې اهدافو لرونکي د قرآن تلاوت کوونکي له هدایت نه محروم او بې برخې وي

📖 له تلاوت د مخه د پاکوالي او نظافت پوره پوره خیال وساتي، له اوداسه پرته په قرانکریم له لاس لګولو نه ځان په کلکه وساتي او په پاک او صاف ځای کې کیښنئ او تلاوت وکړئ .

د تلاوت په وخت کې قبلې ته مخ کړی د قاعدي په شکل کیني او په ټیټ سر په مکلمه توجه او د زړه په حضور او ادب سره تلاوت وکړی.

د الله جل جلاله ارشاد دي: كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُولُوا الْأَلْبَابِ [1] (کتاب چې مونږ تاسې ته درلیږلی د برکت والا دي، چې هغوي پرې غور او فکر وکړي او د عقل څښتنان ترې پند حاصل کړي).

تر کومه ځایه چې کیدای شي د تجوید او ترتیل هم خیال ساتی، حروف سم او صحیح ادا کړی او په ورو ورو یې ولولی، د رسول اکرم ﷺ فرمان دي " په خپل آواز او لهجه قرانکریم ښکلي کړی [سنن ابو داود].

رسول اکرم ﷺ یو یو حرف واضحه او یو یو ایت به یې جلا جلا لوسته او د نبي اکرم ﷺ لارښوونه ده: قران تلاوت کوونکي ته به د قیامت په ورځ ویل کیږي، په کوم ورو والی او ښه آواز سره چې تا ښکلي او ښایسته قرآن لوسته، هماغسی قرآن لوله او د هر ایت په بدله کې دي یوه درجه لوړیږي، ستا د اوسیدو ځای ستا د تلاوت وروستی آیت ته نږدې دي [جامع ترمذی].

مه ډیر په لوړ آواز تلاوت کوي او مه یې بیخی ورو لولی بلکه په برابره اندازه تلاوت کوي، د الله جل جلاله لارښوونه ده:

وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا [2] (او پخپل لمانځه کې مه په ښکاره (جهر) تلاوت او مه یې ډوب ډوب کوي، بلکې د دواړو په منځ کې لاره غوره کړئ).

دا رنګې چې کله هم وخت پیدا کړی تلاوت وکړی خو د تهجد لمانځه پر وخت د قرانکریم د تلاوت کوښښ وکړی، د دي وخت تلاوت تر نورو ټولو وختونو غوره دي او د مؤمن باید دا هیله وي چې تلاوت تر ټولو غوره مرتبه حاصله کړی.

---

۱ ـ د ص سورت ۲۹ آیت
۲ ـ د بنی اسرائیل سورت ۱۱۰ آیت

📖 له دری ورځو نه په کم وخت کې د قرآنکریم د ختمولو کوښښ مه کوي، رسول اکرم ﷺ فرمایلی دي : چا چې له دری ورځو نه په کم وخت کې قرانکریم ولوست هغه بیخی قرانکریم ونه پیژانده .

📖 د قرانکریم د عظمت او لویوالی احساس ولری او لکه څنګه مو چې د ښکاره چټلتیا د لری کولو خیال ساتلی همداسې له زړه نه بد خیالونه ، بې کاره ولولی او نا پاکی هیلی اوباسې، کوم زړه چې ناپاک او له بې کاره خیالاتو او وسوسی نه ډک وي، په هغه کې نه د قران عظمت او پاکوالی کیناستلای شي او نه هغه د قران مجید په حقایقو او معارفو پوهیدای شي، حضرت عکرمه ﷺ به چې کله قران مجید بیرته کاوه نو زیاتره وختونه به بی هوشه کیده او فرمایل به یې دا زما د جلال او عظمت څښتن الله جل جلاله کلام دي.

📖 د تلاوت پر وخت دا یقین په زړه کې وساتې چې که په مخ د ځمکه انسان ته هدایت په برخه کیدای شي، نو یوازي د همدي کتاب په وسیله، او د همدي ډول تصور له مخی د قران مجید د لوستو پر وخت فکر وکړی او پر حقیقتونو او حکمتونو یې د پوهیدلو کوښښ وکړی، ژر ژر تلاوت مه کوي ، بلکې د ځان له پوهولو سره سره د قرآن کریم تلاوت خپل عادت وګرځوي ، او د غور او فکر کولو کوښښ وکړی ، حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه به فرمایل چې زه د " القارعه " او " القدر" په څیر کوچنی کوچنی سورتونه له پوهي او تدبر سره لوستل تر دي غوره ګڼم چې د " البقره " او " آل عمران " په څیر اوږدو سورتونو تلاوت وکړم او پر هیڅ پوه نه شم، نبي ﷺ یو ځلی توله شپه هم دا یو ایت تکرار وه :

إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ [1] ( ای الله که ته دوي په عذاب کړی نو دا ستا بنده ګان دي او که ته دوي وبخښی نو ته خورا غالب او بې اندازی د حکمت څښتن یې ) .

---

[1] ـ د المائده سورت ۱۱۸ آیت

📖 له دي عزم سره د قرانکريم تلاوت وکړی چې زه بايد له دي احکامو سره سم خپل ژوندون بدل کړم او د دي د لارښوونو په رڼا کې خپل ژوندون جوړ کړم او بيا چې کومی لارښوونی درته وشوي، له هغی سره د خپل ژوندون سمولو او له گناهونو نه د خپل ژوندون د پاکولو پرله پسې کوښښ وکړی قرآن مجيد به د آئينی په څير ستاسې هر داغ او خيری تاسی ته در ښکاره کوي، نو اوس دا ستاسې کار دي، چې تاسې له دي خيريو او داغونو نه خپل ځان پاک کړی.

📖 د تلاوت په دوران کې د قرآن حميد له آيتونو نه د اغيز اخيستلو هم کوښښ وکړي، چې کله د رحمت، مغفرت او د جنت د لازوالو نعمتونو يادونی لولی نو خوشحاله شي او چې کله د الله جل جلاله د قهر او غضب او د جهنم د عذاب ويرونکي يادونی لولی نو بدن مو ولړزيږی ، اوښکي مو بې اختياره له سترگو را رواني شي او زړه مو د ملامتيا پر توبو وژاړی، چې د مؤمنانو د برياليتوبونو حالات لولی نو څيره مو وغوړيږی او چې کله د قامونو د تباهی او بر بادي حالات لولي نو غمجن ښکاره کيږی، چې د وعيد او ويری ايتونه لولي نو ويښتان مو پر بدن ودريږی او چې د زيري او بشارت ايتونه تلاوت کوي نو روح مو د شکر پر ولولو خوشحاله شي.

📖 له تلاوت نه وروسته دعا وکړئ ، د حضرت عمر رضی الله عنه د دعا الفاظ دا دي : اللهم ارزقنی التفکر والتدبر بما يتلوه لسانی من کتابک والفهم له، والمعرفه بمعانيه والنظر فی عجائبه والعمل بذالک ما بقيت ، انک علی کل شي قدير ( اې الله !زما ژبه چې ستا له کلام نه څه تلاوت کړی ، توفيق را کړی چې زه په کې غور او فکر وکړم، الهی ماته پکی پوهه راکړی، ماته يې د مفهوم او معانيو پيژندنه را په برخه کړی او د عجايباتو د ميندلو سترگی او ليد راکړی، او تر څو چې ژوندي يم توفيق راکړی چې زه پری عمل وکړم، بې شکه چې ته پرهر څه قادر يې ) .

# د جمعې ورځې اداب

ﷻ د جمعې په ورځ د پاکوالي او نظافت او د ځان د مينځلو او لمبلو او ښکلا او ښايسته کولو پوره پوره خيال وساتي.

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي چې: کله څوک د جمعې لمانځه ته ځي نو بايد غسل وکړي [صحيح بخاري، صحيح مسلم].

د حضرت ابو هريره ﷺ وينا ده چې نبي ﷺ فرمايلي: پر هر مسلمان د الله ﷻ دا حق دي چې په هره هفته کې غسل وکړي او سر او بدن ومينځي.

او حضرت ابو سعيد رضي الله عنه فرمايي چې د نبي اکرم ﷺ لارښوونه ده: د جمعې پر ورځ پر هر بالغ او عاقل مسلمان غسل کول لازم دي او مسواک کول او خوشبويي لګول که وسنه يې وشي [صحيح بخاري، صحيح مسلم].

حضرت سلمان ﷺ بيانوي چې نبي ﷺ فرمايلي دي: چا چې د جمعې په ورځ ولمبل او ځان يې ومينځه او پخپل وس سره يې د پاکوالي او نظافت خيال وساته او بيا يې تيل ولګول، خوشبويي يې ولګوله بيا، غرمه وخته مسجد ته ولاړ او په جومات کې په صف کې د کيناستلو پر وخت يې دوه کسان له خپله ځايه لرې نه کړل او بيا يې چې څه تقدير او لمونځ ادا کړ، او بيا چې کله امام د ممبر خواته راغی نو غلی کيناست او خطبه يې واوريدله نو د دي سرې هغه ټول ګناهونه وبخښل شول، چې له يو جمعې نه تر بلې يې کړي وو. [صحيح بخاري]

ﷻ د جمعې ورځ زيات نه زيات د ذکر او تسبيح، د قران د تلاوت او دعا او د خيرات او ناروغانو د پوښتنې، په جنازه کې د ګډون هديرې ته په تللو او د نورو نيکو کارونو په سر ته رسولو کې ولګوي.

حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي چې نبي اکرم ﷺ فرمايلي دي: د ټوله غوره ورځ په کومه چې لمر راوخوت هغه د جمعې ورځ ده، په همدي ورځ آدم عليه السلام پيدا شو او په همدي ورځ په جنت کې داخل شو او په همدي ورځ له جنت نه راوايستلای شو، ( د الله جل جلاله خليفه وګرځول شو ) او په همدي ورځ به قيامت قايميږی [صحيح مسلم]

حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه وایي چې نبي ﷺ فرمایلي : پنځه کارونه داسې دي چې څوک یې په یوه ورځ کې وکړي الله جل جلاله به یې په جنتیانو کې ولیکي: د ناروغ پوښتنه کول ، په جنازه کې ګډون کول، روژه نیول ، د جمعې لمونځ ادا کول او غلام آزادول [ ابن حبان ] .

ښکاره خبره ده چې دا پنځه کارونه کول هغه وخت امکان لري چې د جمعې ورځ وي .

ابو سعید خدري رضی الله عنه روایت کوي چې نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: کوم بنده چې د جمعې پر ورځ سوره کهف تلاوت کوي د هغه لپاره به د دواړو جمعو تر منځ یو نور ځلیږي [ سنن نسایی ]

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه وینا ده چې رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي: کوم بنده چې د جمعې په شپه سوره دخان تلاوت کوي، د هغه لپاره اویازره فرښتې استغفار وایي او ټول ګناهونه یې بخښل کیږي [ جامع ترمذي ]

نبي ﷺ فرمایلي دي: د جمعې په ورځ کې یو داسې مبارک ساعت دي چې بنده په هغې که هره دعا وغواړي هغه قبلیږي [ صحیح بخاری ] .

دا ساعت کوم یو دي، په دي باب د علماو تر منځ اختلاف دي، ځکه چې په روایتونو کې د بیلا بیلو وختونو یادونه شوي ده، خو علماو ویلي دي چې دوه روایتونه په هغو کې بیخي صحیح دي، یو دا چې خطیب کوم وخت د خطبې لپاره ممبر ته راځي، دویم روایت دا دي چې دا وخت د جمعې د ورځې وروستی ساعت دي، کله چې لمر پریوځي، غوره دا ده چې تاسې په دواړو وختونو کې په خورا عاجزۍ او زاري سره په دعا تیر کړی ، د خپلو نورو دعاګانو سره چې دا دعا هم وغواړی نو ډیره ښه ده :

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبِّیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ خَلَقْتَنِیْ وَاَنَا عَبْدُکَ وَاَنَا عَلٰی عَهْدِکَ وَ وَعْدِکَ مَااسْتَطَعْتُ اَبُوْءُ لَکَ بِنِعْمَتِکَ عَلَیَّ وَاَبُوْءُ بِذَنْبِیْ فَاغْفِرْلِیْ فَاِنَّهٗ لَایَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ اَعُوْذُبِکَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ [ صحیح بخاری - سنن نسائی ]

الله هم ته زما رب یې له تا پرته بل هیڅوک معبود نشته، تا زه پیدا کړی یم، زه ستا بنده یم او تر خپلې وسې له تا سره په کړیو وعدو ولاړ یم، زه ستا د نعمتونو او حساناتو اقرار کوم چې تا پر ما کړی دي او پر خپلو ګناهونو اعتراف

کوم، نو ته ما وبخښه ، ځکه چې له تا پرته بل هیڅوک نشته چې د ګناهونو بخښوونکی وي او د خپلو اعمالو له شر نه په تا سره پناه او امان غواړم ) .

☜ د جمعې د لمانځه پوره پوره خیال ساتئ، د جمعې لمونځ پر هر بالغ روغ رمټ، مقیم او هوښیار مسلمان باندې فرض دي ، که کوم ځای کې له امام پرتـه دوه کسان هم وي نو د جمعې لمونځ خامخا ادا کړئ ، نبي اکرم ﷺ فرمایلي دي : خلکو ته پکار دي چې د جمعې لمونځ هیڅکله پرې نږدي او که نه نو الله جل جلاله به یې پر زړونو مهر ولګوي بیا به ( له هدایت نه محروم شي ) او له غافلانو نه به وشمیرل شي [صحیح مسلم]

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه وینا ده چې نبي ﷺ فرمایلي دي چې چا ولمبل او ځان یې ومینځه او د جمعې د لمانځه لپاره جومات ته راغی بیا یې سنت ادا کړل، چې الله جل جلاله یې په نصیب کړي وو، بیا چوپ کیناست ( خطبه یې واوریده ) تر دې چې له خطبې اوریدلو نه وزګار شو بیا یې له امام سره فرض ادا کړل نو د هغه له یوې جمعې نه تر بلې ګناهونه بخښل کیږي او درې ورځې پر د پاسه .

حضرت یزید بن مریم رضی الله عنه فرمایي چې زه د جمعې لمانځه ته تللم چې په لار کې مې د حضرت عبایه بن رفاعه رضی الله عنه سره خبرې اترې وشوې هغه له مانه پوښتنه وکړه چیرې روان یې ؟ ما ورته وویل د جمعې د لمانځه ادا کولو لپاره ځم، وي فرمایل: بختور دې وي ستا تلل د الله جل جلاله په لار کې تلل دي، نبي ﷺ فرمایلي دي : د کوم بنده پښې چې د الله جل جلاله په لاره کې ګردجنې شوي پر هغو اور حرام دي .

☜ د جمعې د اذان اوریدو سره د جومات په لور روان شي، کارو بار او نورې چارې له یوه سره بندې کړئ او په جمع زړه د خطبې اوریدلو او لمانځه ادا کولو لپاره حاضر شي او چې کله له لمانځه نه وزګار شي، بیا د پخپل کارو بار پیل وکړئ په قران مجید کې دي :

یَاأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ یَوْمِ الْجمعه فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَیْعَ ذَلِكُمْ خَیْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنتُمْ تَعْلَمُون () فَإِذَا قُضِیَتْ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا

فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ [۱] (ای مومنانو کله چې د جمعي په ورځ د لمانځه لپاره نداء وشي نو د الله د ذکر خواته وځغلئ او پيرل پلورل پريږدي دا ستا سې لپاره ډيره غوره ده که تاسې پوهيږي - بيا کله چې لمونځ تر سره شي نو په ځمکه کې خواره شي او د الله ﷻ فضل ولټوي او د الله ﷻ ډير ډير يادونکي اوسی ، ښايي چې تاسې ته فلاح په برخه شي)

له پورته ايتونو نه چې مؤمن ته کومی لارښووني کيږی هغه دا دي :

ا - د مؤمن لپاره په پوره فکر او شعور سره په لمانځه کې ګډون کول پکار دي او د آذان له اوريدو سره سم بايد هر څه پريږدي او د لمانځه په لور ولاړ شي

ب - د اذان له اوريدو وروسته د مؤمن لپاره روا نه دي چې په نورو دنيوي چارو کې لګياوي او له الله ﷻ غافل دنيا دار وګرځي

ج - د مؤمن د ښيګنی راز دا دي چې هغه به دنيا کې د الله ﷻ د بنده او غلام په حيثت وي، او چې کله ورته د الله ﷻ په لوری آواز وشي نو هغه د وفادار بنده او غلام په څير خپل ټول کارونه پريږدي او له خپلو ټولو دنيوي ګټو نه تير شي او د الله جل جلاله لور ته د آواز کوونکي په لور ولاړ شي او د خپل عمل په وسيله اعلان وکړی چې تباهی او ناکامی دا نه ده چې سړی پر ديني غوښتنو دنيوي ګټی قرباني کړی، بلکې تباهی او ناکامی دا ده چې انسان د دنيا جوړلو په مينه دين او او اخرت قربان کړی

د دنيا په باب دا نظر صحيح نه دی چې سړی له هغی نه سترګی پټی کړی او داسې ديندار جوړ شی چې د دنيا لپاره بيخی بيکاره ثابت شی، بلکې قران لارښوونه کوی چې د لمانځه نه په وزګاريدو سره د الله جل جلاله په ځمکه کې خواره شی او الله جل جلاله چې پخپله ځمکه کې د رزق کوم وسايل پيدا کړی دی له هغو نه پوره پوره فايده واخلی او خپل ټول استعدادونه په کار واچوی او خپله برخه روزی تر لاسه کړی نو ځکه د مؤمن

---

۱ - د الجمعه سورت ۹ - ۱۰ آيتونه

لپاره دا هم صحیح نه ده چې هغه د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره نورو ته اړوي، او نه دا صحیح ده چې د خپلې کورنۍ د اړتیاو په پوره کولو کې سستي او لټي وکړي او هغوي د پریشانۍ او لټي ښکار شي.

☜ وروستي مهمه لارښوونه دا ده چې مؤمن په دنیوي چارو او کارونو کې داسې ونښلي چې له خپل الله ﷻ نه بې پروا شي او هغه په هر حال یاد ساتل په کار دي، ځکه چې د مؤمن د ژوندانه اصلي جوهر د الله ﷻ یادول دي د الله ﷻ یادول یوازې دا نه دي چې په ژبه تسبیح او حمد او تکبیر او تهلیل وویل شي، بلکې هر هغه څوک په الهي ذکر کې مشغول دي چې د الهي اطاعت لاندې د خپل ژوندانه په جوړولو بوخت وي.

☜ د جمعې د لمانځه لپاره ژر تر ژره جومات ته د تللو کوښښ وکړي، او په لومړي سر کې تلل او په لومړي صف کې د ځای نیولو هڅه وکړي. د حضرت ابوهریره رضی الله عنه وینا ده چې نبي ﷺ فرمایلي دي: هر چا چې د جمعې په ورځ داسې ولمبل لکه څنګه چې د پاکوالي لپاره غسل کوي ( په مکمل دقت سره خپل ټول بـدن مینځي او خپل بدن پاکوي ) او بیا په لومــړي وخت کې ځان جومات ته رسـوي نو ګواکې چې هغه د یو اوښ قربانـي وکړه او څوک چې له هغه وروسته ځان جومات ته رسوي نو هغه ګواکې د غوایې قـرباني وکړه او څوک چې په دریم نمبر کې ځان جومات ته رسوي نو هغه ګواکې د ښکرونو والاپسه قـرباني کړ او څوک چې په څلورم نمبر کې جومات ته ورسید، ګواکې چې هغه د الله ﷻ د رضا لپاره یوه هګۍ ورکړه.

کله چې خطیب د خطبې لپاره راشي نو ملائکې د جومات دروازه پریږدي او راځي د خطبې اوریدلو او لمونځ ادا کولو لپاره کیني [ صحیح بخاري ، صحیح مسلم ] .

حضرت عرباض بن ساریه رضی الله عنه وایي چې نبي ﷺ به د لومړي صف کیناستونکي ته درې کرتې استغفار فرمایه او د دویم صف لپاره به یې یو ځلې [ سنن ابن ماجه، سنن نسایي ]

حضرت ابو هريره رضی الله عنه فرمايي: چې خلکو ته د لومړی صف اجر او ثواب معلوم نه دی، که د لومړی صف اجر او ثواب ورته معلوم شی نو خلک په پر لومړی صف پچه ( قرعه ) واچوی .

☸ لمونځ په جامع جومات کې ادا کړی او چيری چې ځای وی هلته کينی، د خلکو پر اوږو او سرونو د تيريدلو کوښښ مه کوی، په دی سره خلکو ته بدنی تکليف هم رسيږی او زړونه يې هم خفه کيږی، او د هغوي په سکون او توجه کې هم خلل پيدا کيږی .

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما فرمايي، چې د نبی ﷺ لار ښوونه ده: کوم سړی چې لومړی صف پريښود او په دويم صف کې ودريد، د دی لپاره چې مسلمان ورور ته يې تکليف ونه رسی نو الله ﷻ به ورته د لومړی صف والاو نه دوه چنده اجر او ثواب ورکړی [طبرانی ].

حضرت سلمان رضی الله تعالی عنه وايی چې نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی: چا چې په لومړی برخه ورځ کې ولمبل او ځان يې ومينځه او د خپلی وسی په اندازه يې ځان پاک او صاف کړ بيا يې تيل او خوشبويی ولګوله او له غرمی سره يې ځان جومات ته ورساوه او دوه کسان يې پخپلو کې سره پانه څول يعنی د نورو پر سرونو او اوږو يې پښی وانه ړولی، د صفونو په منځ کې تير نه شو او يا يې د دوه لمونځ کوونکيو تر منځ د کيناستو غلطی ونه کړه، بلکې چې چيرته ورته ځای پيدا شو همالته يې غلی لمونځ او سنت اداء کړل، هر څه يې چې الله جل جلاله په تقدير کې ليکلی وُ، بيا چې کله خطيب ممبر ته راغی چوپ کيناست او ( خطبه يې واوريده ) نو داسې سړی ته هغه ټول ګناهونه وبښل شول چې له يوی جمعی نه يې تر بلې جمعی پوری کړی دی [ صحيح بخاری ].

☸ خطبه تل د لمانځه په مقابل کې لنډه لولی، ځکه چې خطبه په اصل کې يادونه ده چې تاسې د الله بنده ګان بنده ګې او عبادت ته هڅوی، او لمونځ نه يوازی دا چې عبادت دی بلکې تر ټولو غوره عبادت دی، نو ځکه دا هيڅکله صحيح نه ده چې خطبه دی اوږده او د ډېر وخت لپاه ورکړل شی او لمونځ دی لنډ او ژر ژر اداء کړای شی، د نبی صلی الله عليه وسلم

لارښوونه ده: لمونځ اورېدول او خطبه لنډول د دې خبرې نښه ده، چې خطیب د پوهې او فراست څښتن دی نو تاسې لمونځ اوږد اداء کړی او خطبه لنډه ورکړی [صحیح مسلم]

☙ خطبه ډېره په خاموشي، توجه، پاملرنې او تیاری او د منني په جذبه واوری او د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ چې کوم احکام درته معلوم وی پر هغې په رښتیا سره د عمل کولو اراده وکړی، نبی ﷺ فرمایلی دی چا چې غسل وکړ او بیا د جمعې د لمانځه اداء کولو لپاره راغی او پخپله اندازه یې لمونځ ادا کړ بیا غلی کیناست او په پوره توجه او پام سره یې خطبه واوریده ان تر دې چې خطیب له خطبې نه وزګار شو، بیا یې له امام سره فرض لمونځ ادا کړ، نو د ده هغه ټول ګناهونه وبښل شول چې له یوې جمعې نه تر بلې جمعې پورې ترې شوی دی، بلکې د درې نورو ورځو ګناهونه یې هم وبښل شول [صحیح مسلم]

په یو بل روایت کې دی چې کله خطیب د خطبې لپاره راووت نو بیا نه لمونځ کول صحیح دی او نه خبری کول صحیح دی.

☙ دویمه خطبه په عربی ژبه ولولی، البته په لومړۍ خطبه کې مقتدیانو ته یو څه د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ احکامو له ضرورت سره سم یو څه نصیحتونه او لارښوونې او د ذکر او عباداتو په باب یو څه په خپله ژبه کې هم بیان کړی، نبی صلی الله علیه وسلم چې د جمعې په ورځ کومې خطبې ورکړې دی، له هغو نه همدا معلومیږی چې خطیب دی له حالاتو سره سم یو څه هدایات او لارښوونې وکړی او دا مقصد هغه وخت پوره کیدای شی چې خطیب د اوریدونکیو په ژبه هغوي ته وینا وکړی.

☙ د جمعې په فرضونو کې الاعلی سورت او الغاشیه لوستل او یا د منافقون سوره او جمعه سوره تلاوت کول غوره او سنت دی، نبی ﷺ به زیاتره همدا سورتونه د جمعې په لمانځه کې تلاوت کول.

☙ د جمعې په ورځ په خصوصی توګه په نبی ﷺ درود او سلام لیږلو اهتمام وکړی او د نبی ﷺ لارښوونه ده: د جمعې په ورځ پر ما زیات

درودونه ولیږی، په دی ورځ درود لوستلو کې ملائکی حاضری وی او دا درود زما حضور ته وړاندی کیږی [ جامع ابن ماجه ]

✧
✧✧

## د جنازې د لمانځه آداب

◄◄ د جنازې په لمانځه کې باید ګډون وکړې، د جنازې لمونځ د مړي لپاره د ښښنې دعا ده او دا د مړي مهم حق دی که دا اندیښنه وی چې د اوداسه په کولو کولو د جنازې لمونځ تیرېږي نو تیمم وکړې او ودرېږې، د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: د جنازې لمونځ ادا کړې، ښایې چې د دې لمانځه لامله تاسې غمجن شی غمګین انسان د هر نیک کار استقبال کوی [ حاکم ].

او رسول اکرم ﷺ دا هم فرمایلي: چې پر کوم مړي درې صفه د جنازې لمونځ اداء کړای شی د هغه لپاره جنت واجبېږي [ سنن ابو داود ]

◄◄ د جنازې د لمانځه لپاره کټ ( چارپایی ) داسې کیږدی چې سر یې د شمال لورې ته وی او پښې یې د جنوب لورې ته وی او د مړي مخ د قبلې لورې ته کړې[1]

◄◄ که تاسې د جنازې د لمانځه امامت کوی نو داسې ودرېږې چې تاسې د مړي سینې ته مخامخ ولاړ واوسې.

◄◄ د جنازې په لمانځه کې د صفونو شمیر تل طاق ساتې او که لږ کسان وی یو صف جوړ کړې او که نه نو درې، پنځه، اوه څومره چې کسان زیات وی هماغومره صفونه جوړ کړې خو شمیر یې باید طاق وی.

◄◄ چې د جنازې لمونځ شروع کوی نو دا نیت وکړې چې مونږ د دې مړي لپاره د ارحم الراحمین ذات جل جلاله نه د ده د ښښنې لپاره د جنازې لمونځ ادا کوو، امام دې هم نیت وکړې او مقتدی دې هم همدا نیت وکړې

◄◄ د جنازې په لمانځه کې چې څه امام لولي مقتدی به یې هم هماغه لولي، مقتدی باید چپ ولاړ نه وی، البته امام به تکبیرونه په جهر ( ښکاره ) لولي او مقتدی به یې په پټه لولي.

---

[1] - داسې د کیښودل شی چې په ښی اړخ راړول شی مخ یې قبلې ته وی د هر وطن او اقلیم سره برابر ( مهتم ).

◄◄ د جنازې لمانځه کې څلور تکبيرونه ولولي د لومړي تکبير په ويلو سره لاسونه تر غوږونو پورته کړي او بيا لاسونه وتړي او ثنا ولولي: سُبْحَنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَجَلَّ ثَنَاءُكَ وَلَآ إِلٰهَ غَيْرُكَ.

( يا الله! ته پاک يې او تر ټولو لوړ يې د خپل حمد او ثنا سره او ستا نوم د خير او برکت والا دی او ستا لويي او ستر توب ډېر لوړ دی او ستا تعريف ډېر د عظمت څښتن دی او له تا پرته هيڅوک معبود نشته ).

او دويم تکبير وواياست، خو په تکبير کې نه لاسونه پورته کړي او نه په سر کومه اشاره وکړي، له دويم تکبير وروسته درود شريف وواياست: أَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ أَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ( الهی! ته پر محمد صلی الله عليه وسلم رحمت وکړې او د هغه پر آل رحمت وکړې لکه څنګه چې تا رحمت وفرمايه پر ابراهيم عليه السلام او د ابراهيم پر آل، بيشکه ته د ډېرو ستاينو او عظمت څښتن يې، خدايا! ته برکت نازل کړې پر محمد صلی الله عليه وسلم او د هغه پر آل، لکه څنګه چې تا برکت نازل کړ پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پر آل بی شکه د زياتو ستاينو څښتن او د عظمت خښتن يې ).

اوس د لاسونو له پورته کولو پرته دريم تکبير ولولي او د مړي لپاره مسنون دعا ولولي، بيا څورم ځلی تکبير وواياست او دواړو خواو ته سلام وګرځوي.

◄◄ که مړی بالغ سړی او بالغه ښځه وي نو له دريم تکبير وروسته دا دعا ولولي: أَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَكَبِيْرِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا أَللّٰهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيْمَانِ [ ای الله! زمونږ ژوندي، زمونږ مړي، زمونږ حاضر، زمونږ غائب، زمونږ کوچنيان، زمونږ لويان، زمونږ نران، زمونږ ښځې وبښې، خدايه! زمونږ نه چې ته څوک ژوندي ساتل غواړې، پر اسلام يې ژوندي وساتې او څوک کې ته مړ کوې هغه له ايمان سره مړ کړې ].

او که مړی نابالغ هلک وی دا دعا ووایاست: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّ اجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وَّ ذُخْرًا و اجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّ مُشَفَّعًا (خدایا! ته دا هلک زمونږ لپاره د ښښنې وسیله وګرځوی او دا زمونږ لپاره اجر او د اخرت ذخیره وګرځوی او داسې واسطه یې وګرځوی د چا سپارښتنه چې ومنل شی).

او که مړی نابالغه نجلۍ وی نو دا دعا ووایاست د دې دعا مطلب هماغه دی چې د هلک لپاره لوستل کیږی: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَّ اجْعَلْهَا لَنَا اَجْرًا وَّذُخْرًا وَّجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّمُشَفَّعَةً

چې جنازې ته ځی د خپل انجام په باب فکر کوی او دا فکر له ځان سره کوی لکه څنګه چې تاسې د بل چا خاورو ته د سپارلو لپاره ځی، همداسې به یوه ورځ نور خلک تاسې وړی، د دې غم او فکر په نتیجه کې به تاسې لږ تر لږه دومره وخت د اخرت د فکر نیکبختی بیامومی او د دنیا له لانجو نه او نورو چارو به بې غمه یاست.

## د مړي آداب

◈ کله چې کوم څوک مرګ ته نږدې انسان ته ورشي نو په یو څه لوړ آواز سره د توحید کلمه ( لا اله الا الله محمد رسول الله ) لولي، ناروغ ته یې د ویلو مه وایې د نبي صلی الله علیه وسلم لاربنوونه ده کله چې د ځنکدن په حالاتو کې ناروغانو سره ناست یاست نو د کلمې ذکر کوی [صحیح مسلم]

◈ د ناروغ د نزع ( ساه وتو ) په وخت کې سوره یس تلاوت کړی، د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم لاربنوونه ده چې: د مرګ په حال کې کسانو سره سوره یس لولی، ( عالمګیری سلم مخ لومړی توک ) هو! له ساه وتلو نه وروسته تر څو چې مړی ته غسل نه وی ورکړای شوی ( چې د غسل اړتیا ورته وی ) چې ورسره ناست واست تلاوت مه کوی .

او هغه څوک چې غسل ته یې اړتیا وی د حیض او نفاس لرونکی ښځه دی هم مړی ته نه ورنږدی کیږی.

◈ د مرګ د خبر له اوریدو سره ( إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ ) ولولی .

د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرمان دی څوک چې د مصیبت پر وخت ( إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ ) وایی د هغه لپاره دری اجرونه دی .

لومړی دا چې پر هغه د الله جل جلاله له لوری رحمت او سلامتی وی .

دویم دا چې هغه ته د حق د لتې او تلاش اجر او ثواب ورکول کیږي.

دریم دا چې د هغه زیان تلافی کیږی او هغه ته د هر ورک شوی څیز له هغې نه ښه بدله ورکول کیږی [طبرانی ]

◈د مړی په غم کې د چیغو سورو او ستاینو ویلو نه ځان وساتی، البته که په غم کې د چا له سترګو اوښکی ولاړی شی دا فطری خبره ده، د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم زوی حضرت ابراهیم چې وفات شو نو د هغه له سترګو اوښکی روانی شوی همدا رنګه کله چې یې لمسی ( د حضرت زینب رضی الله عنها زوی ) وفات شو نو د هغه له سترګو مبارکو اوښکی روانی وی، پوښتنه تری وشوه یا رسول الله دا څه دی؟ وی فرمایل دا رحمت دی چې الله ﷻ د خپلو بنده ګانو په زړونو کې ایښی دی او الله ﷻ په خپلو

بنده گانو کې پر هغه چا رحم کوي چې رحم کوونکی دی: او هغه دا هم وفرمايل چې ځوک مخ په خپيرو وهي، گريوان څيري کوي د جاهليت په څير ستايني کوي د هغو زمونږ سره هيڅ اړيکی نشته .

◊ له ساه وتلو وروسته د مړي پښې لاسونه سم کړي سترگی يې پټی کړي، او په يوه چيرړه يې زنه وتړي، او د پښو دواړه غټی گوتی يې هم په يوه چيرړه وتړي ځادر پري وغوړوي او دا واياست : بِسْمِ اللهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ ( شروع کوم په نامه د الله او د رسول الله پر ملت ) او خلکو ته د مړي خبر ورکړي او قبر ته د کوزيدو پر وخت هم همدا دعا ولولي .

◊ د مړي نيکی بيانوی او د بديو يادونه يې مه کوي ، د نبي ﷺ لارښوونه ده: د خپلو مړيو نيکی بيانوی او د هغوي له بديو نه ژبه بنده کړي [سنن ابو داود ]

او نبي صلی الله عليه وسلم دا هم فرمايلي دی کله چې ځوک مړ شی او د هغه څلور گاونډيان د هغه پر نيکی گواهی ورکړي نو د الله جل جلاله فرمايي : ما ستاسې گواهی قبوله کړه او د کومو خبرو نه چې تاسې خبر نه وی هغه مې وبښلې [ ابن حبان ]

يو ځلي د نبي صلی الله عليه وسلم پر وړاندي صحابه کرامو د يوی جنازی ستاينه وکړه هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل " د ده لپاره جنت واجب شو، خلکو تاسې پر ځمکه د الله جل جلاله گواهان ياست، تاسې چې چاته ښه واياست الله جل جلاله هغه جنت ته داخلوی او تاسې چې چا ته بد واياست الله جل جلاله هغه دوزخ ته ليږي [ صحيح بخاري، صحيح مسلم ]

او هغه دا هم فرمايلي چې کله د کوم ناروغ پوښتنی ته ولاړ شی او يا د چا په جنازه کې گډون وکړی تل پر ژبه د خير کلمات واياست، ځکه چې ملائکی ستاسې پر خبرو آمين وايي [ صحيح مسلم ]

◊ تل پر مړيو له صبر او استقامت نه کار اخلی، هيڅ کله په ژبه د ناشکری کلمات مه وايي د نبي ﷺ ارشاد دی : کله چې ځوک د خپل زوی پر مړينه صبر کوي نو الله جل جلاله خپلو ملائکو ته فرمايي: آيا تاسې زما د بنده د زوی روح واخيست، فرښتی ځواب ورکوی الهی مونږ ستا حکم پر

ځای کړ، بیا الله ﷻ پوښتنه کوي تاسې زما د بنده د زړه ټوټې روح قبض کړ؟ هغوي وايې هو! بیا الله ﷻ پوښتنه کوي نو زما بنده څه وویل؟ هغوي وايي الهي هغه ستا حمد وایه او " إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ " يې په خوله جاري ؤ نو الله ﷻ وايې: زما د دې بنده لپاره په جنت کې يو کور ودان کړی او د هغه نوم بيت الحمد يعنی د شکر کور کيږدی [ جامع ترمذی ] .

◈ د زيات وخت لپاره مړی بې غسله مه پريږدی که د غسل لپاره په اوبو کې د بيری پاڼی واچوی او ترمی يې کړی نو ښه ده ، مړی په پاکه او صافه تخته باندی واچوی جامې تری اوباسی او لنګ تری تاو کړی، د لاس نه ټوټه تاوه کړی لومړی يې غټه او وړه استنجا ورکړی او خيال کوی چې لنګ تری تاو وی، بيا يې اودس ورکړی، په اوداسه کې په خوله او پوزه کې اوبو تيرولو ته ضرورت نشته ، د غسل ورکولو په وخت کې د مړی په پوزه او غوږونو کې مالوچ کيږدی چې اوبه پکې لاړی نه شی، بيا يې پر سر صابون او يا بل خيز ووهی او ښه يې ومينځی او پاک يې کړی بيا يې په چپه ډډه واړوی او په ښی اړخ يې له سره تر پښو اوبه تيری کړی، بيا يې همداسې چپ اړخ له سره تر پښو ومينځی، اوس لوند شوی لنګ تری لری کړی، او وچ لنګ تری تاو کړی بيا يې پورته کړی په کټ کې يې په کفن باندی کيږدی، نبی ﷺ فرمايلی دی: چا چې مړی ته غسل ورکړ او د هغه عيب يې پټ کړ، الله ﷻ د داسې شخص څلويښت کبيره ګناهونه ښښی او چا چې مړی په قبر کې کيښود ګواکی چې د مړی لپاره يې د قيامت تر ورځی کور جوړ کړ [طبرانی ]

◈ کفن د منځنی درجی له سپينی ټوټی نه جوړ کړی چې رخت يې نه ډېر قيمتی وی او نه ډېر خراب، د نارينه و لپاره کفن دری ټوټی کړی يو څادر، يو لنګ او يو د کفن کميس، د څادر اوږدوال بايد د مړی له قد نه زيات وی، چې سر او پښو دواړو خواته وتړل شی او سور يې بايد دومره وی چې مړی پکې ښه تاو شی، د ښځو لپاره پر پورته دری ټوټو سربيره يو سربند ونيسی چې د يو ګز نه لږ پلن او له يو ګز لږ څه اوږد وی او له تخرګونو واخله تر زنګونونو پوری يو سينه بند يې هم بايد وی .

د نبی ﷺ فرمان دی، چې چا مړی تـه کفن واغوست الله جل جلاله به هغه ته په جنت کې د سندس او استبرق جامې ورواغوندی [ حاکم ].

◊ جنازه د هدیرې په لور لږ څه په چټک مزله یوسی، نبی ﷺ فرمایلی دی: په جنازه کې له چټکتیا نه کار اخلی حضرت ابن مسعود رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه یا رسول الله! جنازه په څه ډول رفتار سره یوسو؟ وی فرمایل: چټکه چټکه له منډو وهلو نه لږ څه کمه " که مړی د خیر خښتن وی، نو هغه ژره تر ژر د خیر انجام ته ورسوی او که د شر خښتن وی نو دغه شر ژر تر ژره له ځانه لری کړی [ سنن ابو داود ].

◊ له جنازې سره پیاده لاړ شی نبی ﷺ له یوې جنازې سره روان وی لیدل چې څو تنه سپاره روان دی، هغه ورته وویل تاسې ته شرم نه درځی چې د الله جل جلاله ملایکی پیاده روانی دی او تاسې د ځارویو پر شا یاست، البته له جنازې تر شاته سپاره راتلای شی، نبی ﷺ ابو واحدی په جنازه کې پیاده ولاړ او بیرته پر آس سپور راغی .

◊ کله چې تاسې جنازه را روانهووینی نو ودرېږی بیا مو که ورسره د تللو اراده نه وی نو معطل شی چې جنازه یو څه وړاندی ولاړه شی، نبی ﷺ فرمایلی دی: چې کله تاسې جنازه ووینی نو ودرېږی او کوم خلک چې له جنازې سره ولاړ شی هغوي دی تر هغو نه کینی ترڅو چې جنازه کې نه ښودل شی .

◊ د جنازې د لمانځه د ادا کولو خیال ساتی او له جنازې سره ځی هم او پر اوږه کوی یې هم، د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: پر مسلمان د مسلمان دا هم حق دی چې د هغه له جنازې سره ولاړ شی او رسول اکرم ﷺ دا هم فرمایلی: څوک چې په جنازه کې شریک شو او د جنازې لمونځ یې هم ادا کړ هغه ته به یو قیراط ثواب ورکول کیږی، د لمانځه وروسته چې په ښخولو کې هم ګډون وکړ هغه ته به د دوه قیراطو اومره ثواب ورکول کیږی، چا تری پوښتنه وکړه، دوه قیراطه به څومره وی وی فرمایل د دوه غرونو اومره [صحیح بخاری، صحیح مسلم ]

◈ د مړي قبر د شمال او جنوب لور ته اوږد وکنی او مړی چې قبر ته کوزوی نو د قبر په ښی غاړه یې کټ کیږدی او بیا یې لحد ته کوز کړی، که د مړي وزن کم وي نو دوه کسان یې کوز کړي او که نه نو د اړتیا په اندازه یې دري یا څلور کسه قبر ته کوز کړي، د کوزولو پر وخت د مړي مخ د قبلې په لور کړی، او د کفن غوټې خلاصې کړي .

◈ قبر ته د ښځینه مړي ښکته کولو پر وخت پرده وکړي .

◈ په قبر کې د خاورو اړولو پر وخت د سر او سینې له لوري پیل وکړی، او دواړه لاسونه له خاورو ډک کړي او دري کرتې یې په قبر واچوی، لومړی ځل د خاورو اچولو پر وخت " مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ (له همدې خاوري مونږ ته پیدا کړی ) دویم ځل د خاوری اچولو پر وخت "وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ ( او همدې ته دې بیا راولو ) او دریم ځل چې خاوری اچوی نو "وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى (او له همدې نه به بیا مونږ تا را پاځوو ) ولولی .

◈ د مړي قبر مه ډېر لوړوی او نه یې له ځمکې سره برابر کړی بس همدومره خاوره پر قبر واچوی څومره مو چې تری ایستلی وی او له خاوری اچولو وروسته پری لږ څه اوبه وشیندی .

◈ د مړي له دفن کولو نه وروسته یو څه وخت له قبر سره ودریږی د مړي لپاره د مغفرت دعا وکړی، یو څه قرآن شریف تلاوت کړی او ثواب یې مړي ته وبخښی او د خلکو پام هم را وګرځوی چې استغفار ووایی ، نبی اکرم ﷺ به د مړي له دفن کولو وروسته په خپله استغفار وایه او خلکو ته به یې هم لارښوونه کوله : دا د حساب وخت دی-د خپل ورور لپاره د ثابت قدمی دعا وکړی او ( له الله یې ) بخښنه وغواړي [سنن ابو داود ].

◈ د خپلو خپلوانو او یا ګاونډیانو کره مو چې مړی واقع شی نو هغوي کره یو دوه وخته خواړه ولیږی، ځکه چې هغوي به په غم کې غمګین وی، په جامع ترمذی کې دی چې کله د حضرت جعفر رضی الله عنه د شهادت خبر راغی نو رسول الله ﷺ وفرمایل: د جعفر رضی الله عنه د کور خلکو لپاره خواړه تیار کړی، هغو نن مشغول دی .

◊ له درې ورځو زيات د مړي په غم مه کيني البته که د کومې ښځې ميړه وفات شي نو د هغې د غم ناستې موده څلور مياشتې لس ورځې ده کله چې د ام المؤمنين حضرت ام حبيبه رضى الله عنها پلار ابوسفيان رضى الله عنه وفات شو نو بى بى زينب رضى الله عنها يې فاتحې ته ورغله، حضرت ام حبيبه رضى الله عنها خوشبويي را وغوښته په هغې کې د زعفرانو ژيړوالى وُ ام المؤمنين هغه خوشبوى پر خپلې مينځې ومږله او بيا يې پر خپل مخ ووهله او بيا يې وفرمايل : الله شاهد دى ماته د خوشبوى هيڅ اړتيا نه وه خو ما له نبى ﷺ نه اوريدلى چې فرمايل به يې چې کومه ميرمن پر الله جل جلاله او د اخرت پر ورځ ايمان لرى هغه دې د کوم مړي غم له درې ورځو زيات نه کوي، البته د ميړه موده څلور مياشتې او لس ورځې وي [سنن ابو داود]

◊ د مړي له خوا د خپلې وسې سره سم صدقه او خيرات هم ورکړي، خو په دې چار کې غير مسنون لارې مه غوره کوي .

❁

❁❁

❁❁❁

## د هدیرې آداب

له جنازې سره هدیرې ته هم ولاړ شئ او د مړي په دفن کولو کې ګډون وکړئ او کله هسې هم هدیرې ته ځئ او د اخرت یاد پرې تازه کيږي او له مرګه وروسته ژوندانه لپاره د تیارۍ ولوله پیدا کيږي، نبي اکرم ﷺ له جنازې سره هدیرې ته ولاړ، هلته د یو قبر تر څنګ کیناست او دومره یې وژړل چې ځمکه لمده شوه، بیا یې صحابه وُ ته په خطاب کې وویل: ورونو! د دې ورځې لپاره تیاری وکړئ [ابن ماجه]

یو کرتې له قبر سره کیناست او وې فرمایل، قبر هره ورځ په ډېر ویروونکي آواز غږ کوي ای د آدم ځوځاته! آیا تا زه هیر کړی یم! زه د یوازیوالي کور یم، زه د پردیتوب او ویرې ځای یم، زه د چنجیو کور یم، زه د تنګسیا او مصیبت ځای یم، له هغو نیکبختانو پرته د چا لپاره چې زه الله پاک پلن او پراخه کړم، زه د ګردو انسانانو لپاره همداسې تکلیف ورکوونکی یم، او هغه وفرمایل: قبر یا د جهنم له کندو یوه کنده ده او یا د جنت له باغیچو نه یوه باغیچه ده [طبراني]

هدیرې ته ولاړ شئ او پند ترې واخلئ او د سوچ او فکر قوتونه رایو ځای کړئ او له مرګه وروسته د ژوندانه په باب فکر وکړئ، یو ځلې حضرت علي رضی الله عنه هدیرې ته تشریف یووړ، له هغه سره حضرت کمیل رضی الله تعالی عنه هم وُ هدیرې ته په رسیدو یې ټولو قبرونو ته وکتل او بیا یې د قبرونو خلکو ته په وینا کې وویل: ای د قبرونو اوسیدونکیو، ای په کنډرو کې اوسیدونکیو ای په وحشت او تنهایي اوسیدونکو وایاست ستاسې د خیر خبر څه دی؟ زمونږ حال خو دا دی چې مال وویشل شو اولاد یتیم شو، کونډو نور میړونه وکړل، دا خو زمونږ حال دی، اوس تاسې هم خپل ووایاست، بیا هغه تر ډېره وخته غلی وُ، له دې وروسته یې د حضرت کمیل رضی الله عنه په لورې وکتل او وې فرمایل: کمیله! که دې قبرونو ته د خبرو کولو اجازه وای، نو دوی به ویلي وو چې : غوره توښه تقوی ده " دا

يې وفرمايل او په ژړا شو، تر ډېره يې وژړل بيا يې وويل کميله! قبر د عمل صندوق دی او د مرګ پر وخت دا خبره معلومېږي.

هديرې ته د رسيدو پر وخت دا دعا ووایاست: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ أَسْئَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ (سلامتي دې وي پر تاسې ای د مؤمنو مسلمانانو د کلي اوسيدونکيو! او مونږ انشاء الله له تاسې سره يو ځای کيدونکي يو او مونږ د ځان او ستاسې لپاره الله جل جلاله ته دعا کوو، چې هغه جل جلاله مو له عذاب او غضب نه وساتي).

په هديره کې د بې پروا او غافلانو په څير خنداو توکې او د نياوې خبرې مه کوی، قبر د اخرت دروازه ده، د دې دروازې په ليدلو د هغه ځای فکر وکړی او د ويرې او ژړا کوښښ وکړی، نبی صلی الله علیه وسلم فرمايلي: ما به تاسې د هديرې له تللو منع کړې واست (چې د توحيد عقيده ستاسې په زړونو کې په مکمله توګه ځای ونيسي) اوس نو که غواړې ولاړ شي ځکه چې قبرونه د اخرت ياد تازه کوی [صحيح مسلم]

د قبرونو له پخو جوړولو او بنايسته کولو نه ځانونه وژغوری پر نبی صلی الله علیه وسلم چې کله د نزع حالت جاري و، د درد له تکليف نه خورا زيات پريشانه و، کله به يې پر مخ څادر غوړاوه او کله به يې لرې کاوه، په همدې بې اندازې تکليف کې ترې حضرت عايشه رضی الله عنها واوريدل پر مبارکه ژبه يې دا الفاظ وو" پر يهودو او نصاراو د الله جل جلاله لعنت، هغوي د خپلو پيغمبرانو قبرونه عبادت ځايونه کړل".

چې هديرې ته ولاړ شي، د مړو لپاره د خير دعا وغواړي او له الله ﷻ د بښنې دعا وغواړي، حضرت سفيان رحمه الله عليه فرمايي: څه ډول چې ژوندی انسان خوراک او څښاک ته اړوی، همدا رنګه مړی د دعا لپاره بې اندازې محتاج وی.

د طبرانی په يو روايت کې دی چې الله ﷻ په جنت کې د يوه نيک بنده درجه لوړوی نو هغه بنده پوښتنه کوی، الهی ماته دا مرتبه له کومه راکړای شوه، الله ﷻ وفرمايې: ستا د زوی له امله چې هغه تاته د بښنې دعا کوله

## د کسوف او خسوف آداب

● که لمر یا سپوږمی تندر[1] ونیسی نو د الله تعالی ذکر کوی ، له هغه جل جلاله نه دعا وغواړي، تکبیر او تهلیل او خیراتونه وکړی د دغو نیکو چارو په برکت الله ﷻ مصیبتونه او افتونه څنډوی، حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنهم فرمایې چې نبی ﷺ فرمایلی: لمر او سپوږمی د الله ﷻ دوه نښې دی، د چا په مړه کیدلو او یا پیدا کیدلو یې تندر نه نیسی، کله چې تاسې وینی چې تندر نیولی دی نو الله ﷻ ته زاري وکړی او له هغه نه دعا وغواړي او لمونځونه ادا کړی، ان تر دی چې لمر یا سپوږمی صافه شی [صحیح بخاری ، صحیح مسلم]

● کله چې لمر تندر ونیسی نو په جومات کې په جماعت سره لمونځ ادا کړی البته د دی لمانځه لپاره اذان او اقامت مه وایاست، همداسې خلک په نورو وسیلو راټول کړی او چې کله سپوږمی تندر ونیسی نو څانله نوافل ادا کړی، په جماعت سره یې مه کوی .

● د لمر تندر نیولو پر وخت په جماعت سره دوه رکعته لمونځ ادا کړی او د قرانکریم تلاوت اوږد وکړی او تر هغه وخته په لمانځه مشغول اوسی تر څو چې لمر تندر پری نږدی، او په لوړ آواز تلاوت وکړی، د نبی ﷺ په وخت کې لمر تندر ونیو، په اتفاقي ډول په دی ورځ د هغه شیدی خوړونی زوی حضرت ابراهیم وفات شو، خلکو ویل چې څرنګه چې نن حضرت ابراهیم بن محمد ﷺ وفات شوی دی نو ځکه لمر تندر نیولی دی، نو رسول اکرم ﷺ خلک راټول کړل، دوه رکعته لمونځ یې په جماعت سره ادا کړ، په دی لمانځه کې هغه اوږد تلاوت وکړ، د بقره سوره اومره تلاوت یې وکړو اوږدی رکوع او سجدی یې وکړی، د لمانځه نه چې فارغیدو لمر تندر پریښی و، له دی نه وروسته یې خلکو ته وویل: لمر او سپوږمی د الله تعالی دوه نښې دی، د چا په مړه کیدلو او پیدا کیدلو یې تندر نـه نیسی، خلکو!

---

[1] - د لمر تندر نیولو ته کسوف وایی او د سپوږمی تندر نیولو ته خسوف وایې

کله چې تاسې له داسې پیښې سره مخ شې نو د الله جل جلاله په یاد مصروف شی، له الله جل جلاله دعا وغواړي او په تکبیر او تهلیل مشغول اوسی، لمونځونه ادا کړی او خیراتونه صدقې ورکړی [ صحیح بخاری اوصحیح مسلم ].

حضرت عبدالرحمن بن سمره رضی الله عنه وایې چې د رسول اکرم ﷺ په زمانه کې یو ځلی لمر تندر ونیو، ماله مدینی نه بیرون غشی ویشتل، سملاسی می غشی وغورزول چې وګورم نن په دی پیښه کې نبی اکرم ﷺ څه عمل کوی ، د حضرت محمد عربی ﷺ په خدمت کې حاضر شوم، هغه مبارک لاسونه پورته نیولی وو د الله رب العالمین، حمد، ثنا، تکبیر او تهلیل یې وایــه ، بیا یې دوه رکعته لمونځ ادا کړ او دوه اوږده اوږده سورتونه یې تلاوت کړل او تر هغه وخت مصروف و چې لمر صاف شو.

صحابه کرامو به هم د خسوف او کسوف پر وخت لمونځ ادا کاوه یو کرتی په مدینه منوره کې تندر واقع شو، نو حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله تعالی عنهم د لمانځه امامت وکړ او یو بل وخت تندر واقع شو نو حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهم خلک را ټول کړل او په جماعت سره یې لمونځ ادا کړ.

● د کسوف ( لمر تندر ) په لمانځه کې په لومړی رکعت کې له فاتحی سورت وروسته عنکبوت سورت تلاوت کړی او په دویم رکعت کې روم سورت تلاوت کړی، د دغو سورتونو لوستل سنت دی، البته ضروری نه دی، نور سورتونه هم لوستل کیدای شی.

● د لمر تندر په جماعت لمانځه کې که زنانه ګډون کول غواړي او د ګډون کولو آسانتیا وی نو خامخا د ګډون اجازه ورکړی او کوچنیان هم لیواله کړی چې له پیله د هغوي پر زړونو د توحید نقش کینی او د توحید پر خلاف بل ډول فکر یې په زړونو کې ځای ونه نیسی.

● په کومو وختونوکې چې د لمانځه ادا کول منع دی یعنی د لمر راختلو، لمر پریوتلو او د زوال ( غرمی ) په وختونو کې که لمر تندر ونیسی نو لمونځ مه کوی، البته ذکر او تسبیح ووایاست ، غریبانو او مسکینانو ته خیراتونه

ورکړي او که د لمر راختلو او د غرمې ( زوال ) د وخت تيريدلو وروسته بيا هم تندر پاتې وو نو بيا لمونځ ادا کړي .

## د رمضان المبارک آداب

◉ د رمضان المبارک ( روژې ) له شانه سره سم ښه راغلاست لپاره د شعبان ( برات ) نه خپل ذهن تیار کړی، او د برات ( شعبان ) میاشتې له پنځلسمې د مخه روژې ونیسې د حضرت عایشې رضی الله عنها وینا ده چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به د برات په میاشت کې تر نورو میاشتو زیاتې روژې نیولې.

◉ په پوره مینه او هیله د روژې مبارکې د میاشتې د لیدلو کوښښ وکړی او د سپوږمۍ په لیدلو دا دعا ولولې : أَللهُ أَكْبَرُ أَللّٰهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْأَمْنِ وَالْإِيْمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ، وَالتَّوْفِيْقِ لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى رَبُّنَا وَرَبُّكَ اللهُ [ الله جل جلاله تر هر څه لوی یې، الهی! دا میاشت زمونږ لپاره د امن، ایمان، سلامتیا او اسلام میاشت راوخیژوی او د هغو چارو توفیق راکړه چې ستا خوښ دی، ای سپوږمۍ! زمونږ رب او ستا رب الله جل جلاله دی ] .

د هرې میاشتې نوی سپوږمۍ چې ووینې همدا دعا ولولې [ جامع ترمذی، ابن حبان ]

◉ د روژې په میاشت کې په ځانګړې توګه عبادت زیات وکړی، پر فرض لمونځونو سربیره په خصوصي توګه نوافل هم ادا کړی، او د زیات نه زیاتې نیکۍ ګټلو لپاره ملا وتړی، دا د ستر توب او برکت میاشت ده، د الله جل جلاله د ځانګړې بخشش او رحمت میاشت ده، د برات میاشتې په وروستۍ ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د روژې د برکتونو په یادونه کې وفرمایل : خلکو! پر تاسې د یوه ستر عظمت او برکت میاشت سیوری کیدونکې ده، دا هغه میاشت ده چې پکې یوه شپه ( لیل القدر ) له زرو میاشتو نه غوره ده، الله جل جلاله د دې میاشتې روژې فرض کړې ، او د شپې یې ( مسنون تراویح ) نفل مقرر کړې دی، څوک چې په دې میاشت کې د زړه په غوښتنه نیک کار وکړی، د نورو میاشتو د فرضو په اندازه به اجر ومومی او څوک چې په دې میاشت کې فرض ادا کړی، الله جل جلاله به ورته د نورو میاشتو د اویا فرضونو اجر او ثواب ورکړی .

◉ د روژې د میاشتې ټولې روژې په ذوق او مینه ونیسې او که کله د ناروغتیا له امله یا د کوم شرعي عذر له مخې روژې نشې نیولای بیا هم د روژې د درناوي په خاطر په ښکاره له څه خوړلو نه ځانونه وساتي او داسې اوسې چې ګواکې تاسې روژه یاست .

◉ په ځانګړې توګه د قرآن مجید تلاوت زیات کوی د دې میاشتې له قرانکریم سره ځانګړې مناسبت دی، قران مجید په همدې میاشت کې نازل شو او نور آسماني کتابونه هم په همدې میاشت کې نازل شوي دي، حضرت ابراهیم خلیل الله ته د همدې میاشتې په لومړۍ یا دریمه نیټه صحیفې وربښل شوې وې، حضرت داود علیه السلام ته د همدې میاشتې په دولسمه یا اتلسمه نیټه زبور ورکړای شو، پر حضرت موسی علیه السلام د همدې میاشتې پـه شپږمه نیټه تـورات نازل شـو او دا رنګې حضرت عیسی علیه السلام ته هم د دې میاشتې په دولسمه یا دیارلسمه نیټه انجیل ورکړای شو. نو ځکه په دې میاشت کې د قرآن مجید د زیات تلاوت کولو کوښښ وکړې، حضرت جبرائیل علیه السلام به هر کال د روژې پـه میاشت کې پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم ته قرانکریم اوراوه او ترې اوریده به یې او په وروستي کال کې یې دوه کرتې له هغه سره دور وکړ.

◉ قرآن عظیم ورو ورو او د ځان پوهولو سره سره تلاوت کړې له زیات تلاوت سره سره پرې د ځان پوهولو او ترې د اغیز اخیستلو هم کوښښ وکړې .

◉ په تراویح کې د مکمل قرانکریم د لوستلو کوښښ وکړې؛ په روژه کې یو ځل قرانکریم اوریدل سنت دي .

◉ د تراویح لمونځ په خشوع خضوع او مینه او ولوله سره ادا کړې، ژر ژر د شل رکعتو شمیر مه پوره کوې، بلکې لمونځ د لمونځ په څیر ادا کړې، چې ستاسې په ژوندانه یې اغیز پریوزي او له الله تعالی سره مو اړیکې کلکې شي، او چې الله توفیق در کړې د تهجد لمانځه کولو هم کوښښ وکړې .

◉ خیراتونه او صدقې ورکړې، د غریبانو، کونډو، او یتیمانو له حاله ځان خبر کړې او د بې وسیلې خلکو لپاره د روژه ماتي او پیشمنې ( سحرې )

انتظام وکړی د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمان دی : دا د مواساتو[۱] ( همدردی ) میاشت ده، حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمايې چې نبی صلی الله علیه وسلم خو سخی و خو د رمضان په میاشت کې به یې سخاوت او فیاضی نوره هم زیاتیده، کله به چې حضرت جبرائیل علیه السلام هره شپه هغه ته راته او قران کریم به یې لوسته او اوریده، نو په هغو ورځو کې به نبی صلی الله علیه وسلم له تیزی چلیدونکی هوا نه هم زیات سخی و.

◉ د قدر په شپه زیات نه زیات نفلونه ادا کړی او د قران مجید تلاوت وکړی، د دی شپی اهمیت دا دی چې په دی شپه قران حمید نازل شوی، په قران مجید کې دی: إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ()وَمَا أَدْرَاكَ مَا لَيْلَةُ الْقَدْرِ()لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ شَهْرٍ()تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِمْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ()سَلَامٌ هِيَ حَتَّى مَطْلَعِ الْفَجْرِ( مونږ دا قرآن د قدر په شپه نازل کړ او ته څه پوهیږی، چې د قدر شپه څه شی ده، د قدر شپه له زرو میاشتو بهتره ده په دی ( شپه کې ) ملایکی او حضرت جبریل د خپل پروردګار په حکم د هر کار د تنظیم له پاره را کوزیږی سلامتی او سلامتی وی ان تر دی چې سهار شی .

په حدیث شریف کې راغلی دی چې د قدر شپه د مبارکی روژی د میاشتی په وروستیو لسو شپو کې طاق شپی وی، په دی شپه دا دعا وایاست : اَللّٰهُمَّ إِنَّکَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفُوَ فَاعْفُ عَنِّیْ ( الهی! هم ته ډیر زیات بخښوونکی یې ځکه چې بخښش کول ستا خوښ دی نو ته ماته معافی وفرمایی [حصین حصین ]

حضرت انس رضی الله تعالی عنه فرمايې یو کال د روژی میاشت راتلونکی وه نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خلکو پر تاسې یوه میاشت را روانه ده چې یوه شپه پکې له زرو میاشتو غوره ده، څوک چې له

---

[۱] - یعنی له غریبانو او حاجتمندانو سره د همدردی میاشت، له همدردی نه مراد مالی همدردی هم ده او ژبنی همدردی هم، له هغوی سره په خبرو او سلوک کې نرمی وکړی، په خپلو نوکرانو اسانتیا راولی او مالی مرسته ورسره وکړی

دی میاشتی بی برخی پاتی شو هغه له ټول خیر نه بی برخی پاتی شو او د دی شپې له خیر او برکت نه هغه څوک بی برخی پاتی کیږی چې واقعی محروم وی [سنن ابن ماجه]

◉ د روژی په وروستیو لسو کې اعتکاف وکړی، نبی ﷺ به د روژی په وروستو لسو کې اعتکاف کاوه.

د حضرت عایشی رضی الله عنها وینا ده چې د روژی د ورستی‌لسیزه به را ورسیده نو نبی صلی الله علیه وسلم به د شپې زیات نه زیات ویښ وٴ او عبادت به یې کاوه او د کور والا و د پاڅیدو خیال یې هم کاوه او په پوره جذبه او یکسویی سره به یې د الله جل جلاله بنده ګی کوله.

◉ د روژی په میاشت کې د خلکو سره په ډېره نرمی او مهربانی رویه وکړی، مزدورانو ته زیات نه زیاتی اسانتیا وی برابری کړی او په پراخه زړه د هغوي اړتیاوی پوره کړی، او د کور خلکو سره هم د مهربانی او سخاوت سلوک وکړی.

◉ په ډېره عاجزی او مینه او ولوله سره زیاتی دعاګانی وکړی په دورمنثور کې دی چې کله به د روژی میاشت راتله نو د نبی ﷺ مبارک رنګ به بدلیده او په لمونځونو کې به یې زیاتوالی راتـه او په دعا کې به یې ډیره عاجزی کوله او ویره به پری ډیره غالبیده.

او په حدیث شریف کې دی چې الله جل جلاله په روژه کې عرض وړونکیو ملایکو ته حکم کوی، چې خپل عبادت پریږدی او د روژه نیوونکیو پر دعاګانو امین وواياست.

◉ صدقه فطر (سرسایه) د زړه په مینه أو اخلاص سره ورکوی او د اختر د لمانځه نه یې د مخه ورکوی، بلکې دومره یې د مخه ورکوی چې اړ او بی وسی خلک په اسانتیا سره د اختر اړتیاوی پری پوره کړای شی او هغوي هم له ټولو سره یو ځای د اختر د لمانځه ځای (عیدګاه) ته ولاړ شی، او د اختر په خوشالیو کې ګډون وکړای شی.

په حدیث کې دی چې نبی ﷺ د امت لپاره سر سایه په دی خاطر ضروری کړی ده، چې هغه بی ځایه او بدی خبری چې له روژه دار نه په روژه کې

شوی وی، کفاره وګرځی او د بی وسی مسکینانو د خوراک، څښناک چاره وشی [ سنن ابو داود ] .

◉ د روژی په مبارکو ورځو کې پخپله د زیاتو نیکیو کولو سره سره نور وګړی هم په ډېره نرمی، هیله، مینه او حکمت سره د خیر کارونو ته وهڅوی، تر څو په ټوله فضا کې له الله د ویری خیر خوښونی او نیکی ولولی خپری شی، او ټولنه زیات نه زیات د روژی میاشتی له بی اندازی برکتونو نه ګټه واخلی .

## د روژې آداب

☼ د روژې ستر اجرونه او ثوابونه په نظر کې ونیسی او په پوره مینه او ولولو سره د روژې نیولو خیال ساتی، دا یو عبادت دی چې بدل یې بل یو عبادت هم نشی کیدای، همدا علت دی چې روژه پر هر امت فرض شوی ده، رب العلمین فرمایی: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (ای مؤمنانو! پر تاسې روژه فرض کړای شوی ده لکه څنګه چې له تاسې مخکې خلکو باندی فرض کړای شوی وه، ښایی تاسې متقیان او پرهیزګاران شی ).

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د روژې دا ستر مقصد داسې بیان فرمایلی دی کوم سړی چې د روژې له نیولو سره سره دروغ ویل او په دراوغو عمل کول پری نه ښودل د الله جل جلاله له دی سره هیڅ دلچسپی نشته چې هغه وږی تږی اوسی [صحیح بخاری]

او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی: کوم سړی چې له ایمان کیفیت او احتساب (۱) سره د روژې میاشتی روژې ونیسی نو الله جل جلاله به یې هغه ګناهونه وبخښی چې د مخه تری شوی دی [صحیح بخاری ]

☼ د رمضان المبارک روژې په مکمله پاملرنه سره ونیسی او له کومی سختی ناروغی او یا شرعی عذر پرته هیڅکله روژه ونه خوری، د رسول عربی صلی الله علیه وسلم فرمان دی کوم سړی چې د کومی ناروغی او یا شرعی عذر پرته د رمضان یوه روژه هم پریښوده نو د ټول ژوندون په روژو نیولو د دی یوی روژې تلافی نه شی کیدای [ جامع ترمذی ] .

☼ په روژه کې له ځان ښودنی او ریا نه د خلاصون په خاطر د پخوا په څیر تازه او تکړه او هشاش بشاش په خپلو کارونو لګیا اوسی او په خپلو

---

(۱) - له احتساب نه مراد دا دی چې روژه یوازی د الله جل جلاله د خوشحالی او د اخرت د اجر لپاره ونیول شی او له هغو ټولو بی کاره خبرو ځان وساتل شی چې روژه بی روحه کوی.

کړو وړو کې د روژې له امله کمزورتیا مه ښکاره کوی، د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه وینا ده، سړی چې کله روژه ونیسی نو پکار ده چې د پخوا په څیر تیل ولګوی چې د روژې اغیزه پرې نه ښکاره کیږي.

☼ په روژه کې له خورا زیاتی پاملرنی سره له هری بدی نه د لرې اوسیدلو کوښښ وکړی، ځکه چې د روژې اساسې هدف ژوندون سپیڅلی کول دی د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم لاربښونه ده : روژه ډال دی او چې کله له تاسې نه څوک روژه وی نو له خپلی خولی نه دی کومه د بی شرمی خبره ونه باسی او نه دی شور او نه غوغا جوړه کړی او که څوک ورته کنځلی کوی یا ورسره جنګ ته تیار شی نو روژه نیونکی ته فکر کول پکار دی چې زه خو روژه یم. نو زه څنګه چا ته د ښکنځلی ځواب ورکولای شم [ صحیح بخاری ، صحیح مسلم ]

☼ په احادیثو کې چې د روژې کوم ستر اجر بیان کړای شوی دی د هغی هیله ولری او په ځانګړی توګه د روژه ماتی پر وخت الله جل جلاله ته دعا وکړی، چې الله! زما روژې قبولی کړه او ماته هغه اجر او ثواب راکړی چې تا یې وعده کړی ده، د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاربښونه ده: روژه دار به په جنت کې په یوه ځانګړی دروازه ننووزی، د دی دروازی نوم " ریان "(۱) دی چې کله روژتی پری ننووزی نو دا دروازه به بنده شی، بیا به هیڅوک په دی دروازه نشی ننوتلی [صحیح بخاری ]

او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلی دی چې: د قیامت په ورځ به روژه سپارښتنه کوی او وایې به پروردګاره! ما دا سړی د ورځی له خوړو څښو او نورو خوندونو بچ وساته الهی د دی سړی په باب زما سپارښتنه منظوره کړه او الله جل جلاله به یې سپارښتنه منظوره کړی [ مشکوه ] .

او نبی صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلی چې: د روژه ماتی پر وخت چې روژتی هر څه وغواړي د هغه دعا قبلیږی، ردیږی نه [ جامع ترمذی ]

---

(۱) - د ریان معنی ده سیرابوونکی د نبی صلی الله علیه وسلم لاربښوونه ده: په باب الریان داخلیدونکی به هیڅکله نه تږی کیږی. ( ترمذی ).

☼ د روژې تکلیفونه په خوښۍ خوشحالۍ وزغمی او د ولږې تندې د زیاتوالی له امله په شکایت کولو د روژې بې قدری مه کوی.

☼ د سفر په دوران یا د ناروغۍ د مشکل له امله که روژه نشی نیولای نو پریږدی او په نورو ورځو کې یې قضا پر ځای کړی، قرآن فرمایی : فَمَنْ كَانَ مِنكُمْ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ ( که څوک ناروغ او یا په سفر کې وی نو په نورو ورځو کې دی هغه شمیر پوره کړی ) .

حضرت انس رضی الله تعالی عنه فرمایی: کله به چې مونږ له نبی علیه السلام سره په روژه کې پر سفر وو، نو ځینو خلکو به روژې نیولې او ځینو به نه نیولې، بیا به نه روژه نیوونکی پر روژه پریښودونکی اعتراض کاوه او نه به روژه پریښودونکی پر روژه نیونکی اعتراض کاوه [صحیح بخاری ].

☼ په روژه کې له غیبت او بد نظر نه په ځانګړې توګه ځان وساتی د رسول الله ﷺ لارښوونه ده: روژتی له سهاره تر ماښامه د الله جل جلاله په عبادت کې وی، تر څو چې هغه د چا غیبت ونه وکړی او چې کله هغه د چا غیبت کوی نو په روژه کې یې درزونه پیدا کیږی [ الدیلمی ]

☼ د حلالی روزی خوړلو کوښښ وکړی، په حرامه ګټه د لوی شوی بدن عبادت نه قبلیږی، د نبی کریم ﷺ لار ښوونه ده: په حرامه ګټه چې کوم بدن را لوی شوی وی هغه هم د جهنم لایق دی [صحیح بخاری]

☼ پیشمنی ( سحری ) خامخا وخوری، چې روژه نیول پرې آسانیږی او کمزوری اوسستی نه پیدا کیږی، د پیغمبر اکرم ﷺ فرمان دی: پیشمنی خوری،د دی لپاره چې په پیشمنی کې برکت دی [ صحیح بخاری ]

او نبی صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایل: په پیشمنی خوړلو کې برکت دی، که نور څه نه وی څو ګوټه اوبه خو وڅښیی او د الله جل جلاله ملائکی پر پیشمنی کوونکیو سلامونه وایي [ احمد ]

او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: غرمه د یو څه وخت لپاره آرام وکړی او د شپې د ویښیدو لپاره آسانتیا تر لاسه کړی او پیشمنی وخوری د ورځې د روژې قوت حاصل کړی [ جامع ابن ماجه ]

او په صحیح مسلم کې دی د نبی عربی صلی الله علیه وسلم لاربنوونه ده: زمونږ او د اهل کتابو په روژه کې یوازي د پیشمنی خوړلو فرق دی .

☼ له لمر پریوتو وروسته روژه ماتی مه وروسته کوی ځکه چې د روژی اصل هدف د فرمانبرداری ولوله پیدا کول دی نه چې ولږه تنده، د نبی صلی الله علیه وسلم لاربنوونه ده: مسلمان به په ښه حالت کې وی تر څو چې ژر روژه ماتی کوی [ صحیح بخاری ].

☼ د روژه ماتی پر وخت دا دعا ولولی: اَللّٰهُمَّ لَکَ صُمْتُ وَعَلٰی رِزْقِکَ أَفْطَرْتُ (الهی! ستا لپاره می روژه ونیوله او هغه ستا په رزق می روژه ماته کړه، او چې کله روژه ماته کړی نو دا دعا ولولی [ صحیح مسلم]

ذَهَبَ الظَّمَاءُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوقُ وَثَبَتَ الْأَجْرُ إِنْشَاءَ اللهُ (آینده ولاړه ، رګونه ترو تازه شول او اجر به هم ضرور را کړل شی که الله جل جلاله غوښتل) [ سنن ابو داود ]

☼ چې د چاکره روژه ماته کړی نو دا دعا ولولی : اَفْطَرَ عِنْدَ کُمُ الصَّائِمُوْنَ وَاَکَلَ طَعَامَکُمُ الْاَبْرَارُ وَصَلتْ عَلَیْکُمُ الْمَلَائِکَةُ [ سنن ابو داود ] .

(الله جل جلاله دی وکړی چې ستاسې کره روژه تیان روژه ماتی وکړی او ستاسې خواړه نیکان خلک وخوری او ملائکی ستاسې لپاره د رحمت دعا ګانی وکړی .

☼ خلکو ته د روژه ماتی ورکولو هم خیال ساتی د دی لوی اجر دی، د نبی ﷺ لاربنوونه ده: څوک چې په روژه کې چاته روژه ماتی ورکړی، نو په بدله کې یې الله جل جلاله ګناهونه بخښی او د جهنم له اوره نجات ورکوی او روژه ماتی ورکوونکی ته د روژه تی اومره اجر ورکول کیږی او د روژه تی په ثواب کې هیڅ کمی نه راځی، خلکو وویل: یا رسول الله! مونږ ټولو سره دومره خواړه کوم دی چې روژه تیانو ته روژه ماتی ورکړو او پر هغوی خواړه وخورو، ارشاد یې وفرمایه: یوازی یوه خرما او یا یو ګوټ اوبه یا شیدی ورکول هم د روژه ماتی لپاره بس دی [ ابن خزیمه ]

## د زکوه او خیرات آداب

⇦ د الله جل جلاله په لاره کې چې هر څه ورکوی یوازې د الله جل جلاله د خوشحالی لپاره یې ورکړی، د کوم بل غرض په خاطر خپل سپیڅلی عمل هیڅکله ضایع نه کړی دا اسره هیڅکله مه کوی چې تاسې چاته څه ورکړی دی هغه دی ستاسې احسان ومنی ، ستاسې شکریه دی ادا کړی او ستاسې پر پرتم دی قانع شی، مؤمن د خپل عمل بدله یوازی له خدایه غواړي په قران مجید کې د مؤمنانو د جذباتو ښکارونه داسې شوی ده: إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا ( مونږ یې پر تاسې خاص د الله جل جلاله لپاره خوروو نه له تاسې د بدلی غوښتونکی یو او نه د مننی ) [ الـدهر ]

⇦ له ریا او ځان ښودنی ځانونه په کلکه وژغوری، ریا له ښه نه ښه عمل د خاورو سره خاوری کوی.

⇦ زکوه په ښکاره ورکړی، چې په نورو مسلمانانو کې هم د فرض اداء کولو ولوله پیدا شی. خو نور خیراتونه په پټه ورکړی، چې اخلاص په کې لازیات شی، د الله ﷻ پر وړاندی هغه عمل ارزښت لری چې په اخلاص سره شوی وی، د قیامت په ویروونکی ډګر کې هیچیری به سیوری نه وی ، الله جل جلاله به خپل داسې بنده د عرش له سیوری لاندی ساتی، چا چې په ډیر پټه توګه د الله ﷻ په لاره کې لګښت کړی وی، تر دی چې چپ لاس یې له دی نه خبر نه وی چې ښی لاس څه لګولی دی [ صحیح بخاری ]

⇦ د الله جل جلاله په لار کې له خیرات کولو وروسته مه پر چا احسان کوی او مه هغه کسان خفه کوی چې تاسې څه ورکوی چاته له څه ورکړی وروسته له اړو او محتاجو خلکو سره د حقارت رویه کولو د هغوی خپلواکی ته ضرر رسول، پر هغوي احسان بارول، د هغوي مات زړونه غمول، او دا فکر کول چې هغوي دی ستاسې احسان ومنی، ستاسې پر وړاندی دی سر ټیټ کړی، ستاسې لوړاوی دی ومنی، دا ډیر بد احساسات

دی د مؤمن زړه باید له داسې احساساتو پاک وی، الله ﷻ فرمایی: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ وَالْأَذَى كَالَّذِي يُنفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسكَالَّذِي يُنفِقُ مَالَهُ رِئَاءَ النَّاسِ ( مؤمنانو! خپل خیراتونه په احسان بارولو او د غریبانو د زړونو په خورولو د هغه چا په څیر مه په خاوری کوی چې یوازی د ریا لپاره لګښت کوی ) .

⇦ د الله جل جلاله په لاره کې له ورکړی وروسته لوی ( غرور ) مه کویی، پر خلکو خپل غوره والی مه ثابتوی بلکې دا فکر وکړی چې معلومه نده الله جل جلاله ته زما خیرات منظور هم شو او که نه. د الله جل جلاله فرمان دی : وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ أَنَّهُمْ إِلَى رَبِّهِمْ رَاجِعُونَ ( او د هغوي دا حال دی یې ورکوی هر څه چې ورکوی او زړونه یې له دی فکر نه رپیږی چې د خپل رب لوری ته زمونږ ورګرځیدل دی ) .

⇦ له اړو او غریبو خلکو سره نرمه رویه کوی نه هغوي ودګی او مه پری دپکی وکړی، او نه پری خپل لوړاوی ثابت کړی سوالګر تـه که د ورکړی لپاره هیڅ هم نه وی بیا هم ورسره په ښو اخلاقو چلن وکړی ، او بخښنه تری وغواړي چې له څه لاس ته ورتلو پرتـه هغوي تاسې ته دعا وکړی او ولاړ شی، قران مجید لارښوونه کوی : وَإِمَّا تُعْرِضَنَّ عَنْهُمُ ابْتِغَاءَ رَحْمَةٍ مِنْ رَبِّكَ تَرْجُوهَا فَقُلْ لَهُمْ قَوْلًا مَيْسُورًا ( که ته له هغوي نه پـه مـخ اړولـو مجبور شی د خپل الله جل جلاله د مرحمت پـه هیله له هغوي سـره پـه نرمـی خبری وکړه ) .

او دا هم د الله فرمان دی: وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ ( او سوالګر مه رټی ) .

⇦ د الله جل جلاله په لاره کې په پراخه زړه او مینه لګښت وکړی، خیرات تاوان، زور او زیاتی مه ګڼی او په تنګ زړیتوب سره یې مه ورکوی، د خلاصون او بریالیتوب حقدار هماغه کسان وی، چې له بخیلی، تنګ زړیتوب، خسیتوب او نورو بدو ولولو نه خپل زړونه پاک ساتی.

⇦ د الله جل جلاله پـه لاره کې حلال مال ولګوی ، الله ﷻ یوای هماغه مـال قبلوی چې پاک او حلال وی، کوم مؤمن چې د الله جل جلاله په لاره

کې د ورکړې او لګښت جـذبه ولرې، نو هغه ځنګه دا منلای شي چې د هغه په ګټه کې دې حرام مال وي، الهي لارښوونه ده: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ ( د ايمان څښتنانو! د الله جل جلاله په لار کې خپله پاکه ګټه ولګوی ) .

⇦ د الله جل جلاله په لار کې غوره مال ولګوی، الله جل جلاله فرمايي: لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ (تاسې نيکۍ تـه نشئ رسېدای ترڅو خپل هغـه شيان د الله ﷻ په لار کې ونه لګوئ چې تاسې تـه ګران وي، او څه شی چې تاسې ولګوئ الله ﷻ به ورڅخه ناخبره نه وي ).

په خيرات کې ورکړای شوی مال د اخرت د تلپاتی ژوندانه لپاره ذخيره کيږی، نو مؤمن دا څنګه فکر کولای شي چې هغه دی د خپل دايمی ژوندانه لپاره خراب او بی کاره مال جمع کړی .

⇦ د زکاه د فرض کيدو نه وروسته په ورکړه کې ډيل مه کوی ژر يې د ورکولو کوښښ وکړی او ښه حساب وکړی او ورپی کړی، چې الله ﷻ مه کړه ستاسې پر غاړه څه پاتی نه شی .

⇦ زکوه په ټولنيز ډول ادا کړی او د لګښت لپاره يې هم ټولنيز چـار ولټوی، چيری چې د مسلمانانو حکومت نشته هلته دی مسلمانان خپلمنځی بيت المال جوړ کړی او زکات دی پکی د ټولنيزو ښيګڼو لپاره ورکړی .

## د حج آداب

❖د حج په کولو کې ډیل او تاخیر هیڅکله مه کوی هر وخت چې الله ﷻ دومره توان درکړی چې دغه په زړه پوری فریضه ادا کړای شی نو په لومړی فرصت کې روان شی، پر ژوندانه هیڅ باور نشته، چې تاسې به دغه فریضه له یو کال نه بل کال ته ټال کوی، قران مجید لارښوونه کوی:

عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنْ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنْ الْعَالَمِينَ

( او پر خلکو د الله ﷻ دا حق دی چې څوک یې کور ته د تللو توان ولری هغوي دی حج وکړی او څوک چې د دی حکم له پیروی نه انکار وکړی نو هغه ته دی معلومه وی چې الله ﷻ له ګردو نړیوالو بی نیازه دی) .

د انسان به له دی نه نوره تباهي او محرومی بله کومه وی چې الله ﷻ ورسره د لاپروایی او بې تعلقی اعلان وکړی .

حدیث شریف دی څوک چې د حج اراده وکړی، په ادا کولو کې دی له چټکتیا نه کار واخلی، امکان لری چې ناروغه شی. امکان لری چې اوښه یی بی کاره شی، او امکان لری چې کومه داسې اړتیا ورته پیښه شی چې بیا یې ورته حج ادا کول امکان نه لری [جامع ابن ماجه] .

مطلب دا دی چې له شتمن کیدو نه وروسته له ډیل او ټال ورکولو نه کار نه اخیستل کیږی، معلومه نه ده چې په ګانده (آینده) کې به د وسایلو پر اختیا او پریمانی وی او که نه او بیا چې الله ﷻ مکړه سړی د بیت الله له حج نه بی برخی پاتی شی، الله ﷻ دی له دی محرومی نه هر مؤمن بنده وساتی، رسول اکرم ﷺ داسې کسانو ته ډېر سخت خبرداری ورکړی دی، په حدیث مبارک کې دی څوک چې ( له حج ادا کولو نه ) کومی ناروغی یا کوم واقعی ضرورت یا کوم ظالم او جابر حکم منع کړی نه وی او بیا هم هغه حج اداء نه کړ نو خوښه یې چې یهودی مړ کیږی او که نصرانی [ سنن کبری ۴ توک ] .

او له حضرت عمر رضی الله عنه نه اوریدل شوی دی، چې کوم کسان له توان لرلو سره سره حج نه ادا کوی، زما زړه غواړي چې جزیه پری ولګوم، هغه مسلمان نه دی هغه مسلمان نه دی. . .

❖د الله ﷻ د کور زیارت او حج یوازی د الله جل جلاله د رضا او خوشحالولو لپاره وکړی، د کوم دنیوی هدف لپاره دغه سپیڅلی هدف مه کوی، په قرآن عظیم الشان کې دی : وَلَا آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنْ رَبِّهِمْ وَرِضْوَانًا ( او مه له هغو خلکو سره غرض لری چې د خپل رب او د هغه د خوشحالی لپاره د درناوی څښتن کور په لور درومی ).

وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ (حج او عمره یوازی د الله ﷻ د خوشحالی لپاره پوره کړی ...) .

او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده چې د مبرور حج ([1]) بدله له جنت نه کمه نه ده [ صحیح مسلم، کتاب الحج ].

❖ حج ته د تللو پر وخت خلک مه خبروی، غلی ولاړ شی او راشی او د هر هغه دود او دستور نه ځان وساتی چې د ریا او ځان ښودنی څرک پکې وی، هسی خو هر عمل هغه وخت صالح عمل او د قبلیدو وړ وی چې صرف د الله جل جلاله لپاره وی او کومه بله غوښتنه پکې د ذری اومره شامله نه وی، خو په ځانګړی توګه په حج کې ورته زیاته پاملرنه ځکه ضروری ده چې دا د نفسی تزکیی او روحانی انقلاب وروستی تدبیر دی او کوم روحانی مریض چې پر دغه جامع علاج روغ نه شی بیا یې د روغتیا هیله د کوم بل علاج په وسیله ډېره لږه کیدای شی.

❖ که حج ته مو د تللو توان نه وی، بیا هم د الهی کور د لیدلو او د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پر روضه د سلام کولو او له حج نه د پیدا کیدونکی ابراهیمی ولولو په وسیله خپل زړونه آباد کړی، له دی ولولو

---

[1] - مبرور حج هغه دی چې د الله جل جلاله د رضا لپاره په ټولو آدابو سره ادا کړای شوی وی.

پرته کومه سینه د مؤمن سینه نشی کیدای، بلکې یو وران کنډر به وی، د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: حج او عمری ته تلونکی د الله ﷻ میلمه وی، هغه که خدای ته دعا کوی الله جل جلاله یې قبلوی او که بخښنه تری وغواړي نو بخښي یې [طبرانی].

❖ د حج لپاره ډېره غوره د لاری خرڅه واخلی، غوره د لاری توښه تقوی ده د ده سپیڅلی سفر په دوران کې د الهی نافرمانیو نه د ځان ژغورلو او د بیت الله د حج نه د زیاتو برکتونو او ګټو اخیستو والا بنده هغه دی چې په هر حال کې له الله جل جلاله ویریږی او د هغه د خوشحالولو مینه ناکه ولوله ولری، قران عظیم کې دی : وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِ يَاأُولِي الْأَلْبَابِ ( او تر هرڅه ښه د لارې توښه پرهیزګاري ده - نوای هوښیارانو! زما له نافرمانی نه ډډه وکړئ ) .

❖ د حج له ارادی کولو سره سره ذهنی تیاری هم پیل کړی ، د حج تاریخ تازه کړی او د یوه یوه رکن پر حقیقت یې غور وکړی او د الله ﷻ د دین په باب هم غور وکړی، د حج د دی ارکانو په وسیله چې د مؤمن بنده په زړه کې کوم جذبات پیدا کول پکار دی، پر هغې د پوهیدلو کوښښ وکړی او بیا د یوه با شعوره مؤمن په څیر په پوره دقت سره د حج د ارکانو په اداء کولو د دغو حقایقو د جذب او د هغوي سره سم د ژوندون تیرولو په خپل ځان کې د صالح انقلاب راوستلو کوښښ وکړی، د څه لپاره چې الله ﷻ پر مؤمنانو حج فرض کړی دی، الهی لارښوونه ده:

وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِنْ كُنتُمْ مِنْ قَبْلِهِ لَمِنْ الضَّالِّينَ ( او الله جل جلاله یاد کړی، د څنګه یادولو چې تاسې ته لارښوونه شوی ده او دا حقیقت دی چې تاسې تر دی د مخه له دغو حقیقتونو بی لاری شوی یاست ) .

د دی مقصد د حاصلولو لپاره د قران مجید د هغو برخو ژوره مطالعه وکړی په کومو کې چې د حج د حقیقت او اهمیت نه د پیدا کیدونکیو ولولو ښکارونه شوی ده. او د دی لپاره د نبی احادیثو او د هغو کتابونو مطالعه

هم ضروري ده چې د حج د تاريخ او ارکانو د حقيقت په باب پکې خبرى شوى دى .

❖د حج په دوران کې چې کومې مسنوني دعاګاني د احاديثو په کتابونو کې دى هغه يادى کړى او د رسول الله ﷺ په وينا کې له الله جل جلاله هماغه څه وغواړي چې د الله څخه رسول الله ﷺ غوښتي وى .

❖د خپل حج پوره پوره ساتنه وکړى او ياد ساتى چې ستاسې حج چيرى د هغو دنيا پالونکيو حج نه شي چې په آخرت کې يې هيڅ برخه نشته، څکه چې هغوي له اخرت نه په سترګو پټولو هر څه په دنيا کې غواړى، هغوي چې کله بيت الله ته رسيږى، نو دعا يې دا وى: رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ( خدايا! مونږ ته چې څه په دنيا کې دى په همدى دنيا کې راکړى، د داسې ( دنيا پالونکيو ) خلکو په اخرت کې هيڅ برخه نشته ) .

تاسې د حج په وسيله د دواړو جهانو نيکبختى او برياليتوبونه وغواړي او خداى جل جلاله ته دعا وکړى چې الهى زه ستا حضور ته څکه راغلى يم چې ته مى په دواړو ژوندونو کې کامياب او بريالى کړى او دا دعا پرله پسى کوى : رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ( اى ربه! مونږ ته په دى دنيا کې هم ښيګڼى راپه برخه کړى او په اخرت کې هم ښيګڼى را په برخه کړى او د اور له عذابه نه مو وساتى ) .

❖د حج په دوران کې دَ الله ﷻ له نافرمانى نه په کلکه ځانونه وژغورى، د حج سفر د الله ﷻ د کور سفر دى، تاسې د الله ﷻ د ميلمنو په حيث تللى ياست، له هغه سره د بنده ګى د وعدى تازه کولو لپاره تللى ياست، پر حجر اسود د لاس ايښودلو سره ګواکى تاسې د الله ﷻ په لاس کې لاس ورکوى، او وعده کوى او د هغى په مچى کولو ګواکى تاسې الهى دربار مچى کوى، هر ځل د تکبير او تهليل د آوازونو په لوړولو سره خپله وفاداري ښکاره کوى، په داسې حالاتو کې غور وکړى کومه معمولى ګناه او سهوه به څومره خطرناکه او ويروونکى وى الله ﷻ خپل دربار ته

حاضري ورکوونکيو بنده ګانو ته د هوښيار اوسيدلو ويلی دی ولا فسوق (د الله جل جلاله د نافرمانۍ خبري بايد نه وي).

❖د حج په دوران کې له جنګ جګړو نه په مکمله توګه ځانونه وساتی، د سفر په دوران کې ځای په ځای د خلکو هجوم وی، مشکلات وی، تکاليف وی، ځای په ځای ګټی له لاسه ورکوی او ځای په ځای مو جذبات مجروح کيږی نو د الله جل جلاله د ميلمه کار دا دی چې هغه له پر اخزړيتوب او قربانی نه کار واخلی او له هر چا سره په تيريدنه او د سخاوت رويه وکړی، ان تر دی چې د خدمتګار له رټلو هم ځان وساتی، الله جل جلاله فرمايی: وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ (او د جنګ جګړی خبری بايد نه وی).

❖د حج په دوران کې له شهوانی خبرو نه د ځان ساتلو پوره پوره خيال وساتی، د سفر په دوران کې د جذباتو را پاريدلو او هر لوری ته د نظر کولو انديښنه هم يو څه زياته وی، تاسې هم زيات هوښيار اوسی او د نفس او شيطان له چالونو خپل ځانونه وژغوری، او که ستاسې ميرمن له تاسې سره وی نو نه يوازی دا چې له هغه سره مخصوصی اړيکی مه ساتی، بلکې د داسې خبرو نه هم په شعوری توګه ځان وساتی چې د شهوانی ولولو راپارونکی کيدای شی. الله جل جلاله ړښتيا فرمايلی دی : الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ (د حج مياشتی ټولو ته معلومی دی، څوک چې په دی ټاکليو مياشتو کې د حج نيت وکړی هغه بايد باخبر اوسی چې د حج په دوران کې بايد شهوانی خبری نه وی).

او د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم لارښونه ده: څوک چې د الله ﷻ د کور زيارت ته دلته راغی او له بی حيايی او شهوانی خبرو يې ځان وژغوره او په فسق او فجور کې هم اخته نه شو نو هغه به پاک او صاف بيرته داسې ستنيږی لکه څنګه چې د مور له نس نه پاک او صاف پيدا شوی وی [مسلم، صحيح بخاری]

❖د شعائر الله (الهی نښانو) پوره پوره درناوی وکړی، د کوم روحانی او معنوی حقيقت د احساس کولو او يادولو لپاره چې الله جل جلاله کوم څيز

د نښې په توګه ټاکلې دي هغه ته شعيره وايي شعاير يې جمع ده، د حج په لړ کې هم ټول شيان د الله پالنې د يو نه يو حقيقت د احساسولو لپاره د علامت ( نښې ) په توګه ټاکلي دي، د هغو ټولو درناوی وکړی په قرآن مجيد کې الهي لارښوونه ده: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحِلُّوا شَعَائِرَ اللَّهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَائِدَ وَلَا آمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنْ رَبِّهِمْ وَرِضْوَانًا [1] (ای مؤمنانو! د الله نمانځنې د دغو نښو بې عزتي مه کوی، نه د دغو مياشتو بې عزتي وکړی او نه د قرباني څارويو ته لاس وروړی، نه هغه څارويو ته لاس ورووړی چې پر غاړو کې يې د الهي نذر د نښې په توګه پټې پرتې وي او نه د هغو خلکو په لارو کې خنډ شی چې د خپل پروردګار د فضل او خوشحالي په لټه کې د درناوی د کور ( کعبې ) په لور روان وي )

او په سوره حج کې دي : ذَلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ [2] ( او څوک چې د الله جل جلاله نمانځنې د هغو نښانو درناوی وکړی چې الله جل جلاله ټاکلې دي نو دا د زړونو د تقوا خبره ده ) .

❖د حج د ارکانو د ادا کولو پر وخت د بې اندازې تواضع او احتياج او د بې ځواکي او بې وسي ښکارونه وکړی. چې الله ﷻ ته د بنده بې وسي او عاجزي تر هر څه زياته خوښه ده، له نبي اکرم صلى الله عليه وسلم نه چا پوښتنه وکړه حاجي څوک دی؟ وی فرمايل: د چا ويښته چې ګډ وډ وي او ستړي ستومانه وي .

❖له احرام تړلو نه وروسته د هر لمانځه نه وروسته پر هر پيچومي دختو پر وخت، پر هر ځوړې د کوزيدو پر وخت، له هرې قافلې سره د يو ځای کيدو پر وخت او هر سهار له خوبه ويښيدو پر وخت په لوړ آواز تلبيه ووايا ست، تلبيه دا ده: لَبَّيْكَ اَللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ لَبَّيْكَ اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَاشَرِيْكَ لَكَ [ مشکوة ]

---

[1] - د المايده سورت ۲ آيت

[2] - د الحج سورت ۳۲ آيت

( زه حاضر یم، خدایا! زه حاضر یم، له تا سره هیڅوک شریک نشته، زه حاضر یم بې شکه ټولې ستاینې تا لره دي، نعمتونه ټول هم ستا دي، ټوله بادشاهي هم ستا ده، تا سره هیڅوک شریک نشته )

❖د عرفات په میدان کې د حاضریدو په وخت زیات نه زیات استغفار او توبه وکړي، د قران مجید لارښوونه ده : ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ ( بیا تاسې ( مکه والو ) را کوز شی له کوم ځایه چې نور خلک را کوزیږي او له الله بخښنه وغواړي، بیشکه الله جل جلاله ډېر زیات بخښونکی او ډېر زیات مهربانه دی ) .

د الله ﷻ پر وړاندې د عرفې ورځ له ټولو ورځو نه غوره ده، په دې ورځ الله جل جلاله په ځانګړې توګه د دنیا اسمان ته متوجه شي، د ملایکو پر وړاندې د خپلو حاجیانو بنده ګانو د عاجزۍ او بې وسې په حالت ویاړ کوي، ملایکو ته فرمایي: فرښتو! وګورئ زما بنده ستړي ستومانه په ګرمۍ کې زما په حضور کې ولاړ دي، دا خلک له لرې لرې نه دلته راغلي دي. زما د رحمت هیلو دلته راوستي دي حال دا دی چې دوی زما عذاب لیدلی نه دی، له دې ویاړ وروسته خلکو ته د جهنم له عذاب آزادولو حکم ورکول کیږي، او د عرفې په ورځ دومره خلک بخښل کیږي چې دومره په بله ورځ نه بخښل کیږي [ ابن حبان ]

❖ منی ته په رسیدو سره په هماغو ولولو قرباني پوره کړئ له کومو جذباتو سر چې حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل ګران زوی حضرت اسمعیل علیه السلام پر غاړه چاړه ایښې وه، او د قربانۍ داسې ولولې په خپل زړه او دماغ کې ولرئ چې د ژوندانه په هر ډګر تاسې د قربانۍ لپاره تیار اوسئ او ژوندون مو په واقعي توګه د دغې وعدې عملي شکل وګرځي چې: قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ() لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ( ووایه، زما لمونځ، زما د عبادت ټول مراسم، زما ژوند او زما مرګ هر څه د الله رب العلمین له پاره دي چې د

هغه هېڅوک شریک نشته، د هماغه امر ماته شویدی او تر ټولو لومړی د اطاعت سر ټیټوونکی زه یم).

❖د حج په وختو کې پرله پسې د الله جل جلاله په یادو کې مشغول اوسی او یو وخت یې هم له ذکر نه زړه غافل نه کړی، د الله جل جلاله یادونه د ټولو عباداتو اصلي جوهر دی.

الهی لارښوونه ده: وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ (او د الله جل جلاله په یاد کې مشغول اوسئ د شمار په دغو څو ورځو کې).

او همدا رنګه فرمایی: فَإِذَا قَضَيْتُمْ مَنَاسِكَكُمْ فَاذْكُرُوا اللَّهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ أَوْ أَشَدَّ ذِكْرًا (بیا چې تا د (حج) ټول ارکان ادا کړل نو بیا د الله ﷻ ذکر کوی لکه څنګه چې ستاسې مور او پلار ذکر کاوه بلکې له هغوي نه زیات کوه).

د حج د ارکانو مقصد همدا دی چې تاسې په دی وختونو کې پرله پسې د الله ﷻ په یاد کې ډوب اوسی او په دی ورځو کې مو د هغه یاد داسې په زړونو کې ځای شی چې بیا د ژوندانه مشکلات او اړو پېچ هیڅ شی تاسې د هغه له یاد نه غافل نه کړی د جاهلیت په دوران کې به خلک د حج د ارکانو له ادا کولو نه وروسته د مور او پلار لویی بیانوله او لا پې به یې وهلی، الله ﷻ لارښوونه وکړه چې دا وختونه د الله ﷻ په یاد کې تیر کړئ او د هماغه لویی بیان کړئ چې واقعًا لوی دی.

❖د الله جل جلاله په کور، د پتنګ په څیر طواف وکړی، الهی لارښوونه ده: او پکار دی چې د بیت الله طواف وکړی.

د نبی اکرم ﷺ لارښوونه ده الله ﷻ هره ورځ د خپلو حاجیانو بنده ګانو لپاره یو سل شل رحمتونه نازلوی: چې له هغو نه شپیته رحمتونه د هغو لپاره وی چې د بیت الله طواف کوی، څلویښت د هغو لپاره چې هلته لمونځ ادا کوی او شل د هغو لپاره چې یوازي کعبه وینی [ بیهقی ].

او نبی اکرم ﷺ دا هم فرمایلی: چا چې پنځوس کرتی د بیت الله طواف وکړ هغه له خپلو ګناهونو داسې پاک شو لکه چې خپلی مور همدا اوس زیږولی وي [ جامع ترمذی ]

## دريم څپرکی ( فصل )

## د ټولنيز ژوندانه ښکل

وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا ( د الله جل جلاله بنده ګی وکړه څوک ورسره مه شريکوه ، او ښه رويه کوه له مور او پلار سره ، له خپلوانو سره . له يتيمانو سره ، له غريبانو سره . له ګاونډيانو سره چې خپلوان دی وي او له هغه ګاونډی سره چې خپلوان دی نه وي ، له ملګری سره چې ملګرتيا يې د لږ وخت لپاره هم درپه برخه شي ، او له مسافر سره ، او له هغو لاس لاندی خلکو سره چې ستا په واک کې وی - د احسان چار چلند وکړئ، باور ولرئ چې الله ﷻ يو داسي څوک نه خوښوي چې په خپله انګېرنه مغرور وي او په خپله لوړتيا وياړي ) .

[د النساء سورت ۳۶ آيت ]

## د مور او پلار آداب

⇐ له مور او پلار سره ښه رویه کوئ او دا ښه رویه کول د دواړو جهانو بریالیتوب او سعادت وګڼئ، له الله وروسته پر انسان تر ټولو زیات حق د مور او پلار دی، د مور او پلار د حق اهمیت او عظمت له دې اندازه کړئ، چې قران مجید د مور او پلار حق ځای په ځای د الله ﷻ له حق سره بیان کړی دی او د الله ﷻ له شکر ګذارۍ سره یې د مور او پلار پر شکر ګذاری تاکید کړی دی:

وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا (او ستا رب پریکړه کړې ده چې ته له الله جل جلاله پرته د بل چا بنده ګې مه کوه او له مور او پلار سره ښه رویه کوه).

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمایي ما له حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه کوم ډول عمل الله ﷻ ته ډیــر ګران (محبوب) دی ؟ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه لمونځ چې پخپل وخت ادا کړای شي، ما بیا پوښتنه وکړه له دې نه وروسته کوم عمل الله ﷻ ته تر نورو ډیر محبوب دی، وی فرمایل: له مور او پلار سره ښه رویه، ما پوښتنه وکړه، له دې نه وروسته، وی فرمایل: د الله ﷻ په لار کې جهاد کول [صحیح بخاري، صحیح مسلم]

حضرت عبدالله رضی الله عنه فرمایي: چې یو سړی د نبی علیه السلام په خدمت کې حاضر شو او وی ویل: زه ستاسې په لار د هجرت او جهاد لپاره بیعت کوم او له الله یې اجر غواړم، نبی ﷺ ترې پوښتنه وکړه ایا ستا له مور او پلار نه څوک ژوندی دی ؟ هغه وویل هو! بلکې د الله ﷻ شکر دی دواړه ژوندي دی، هغه ورته وفرمایل: ایا ته واقعًا له الله ﷻ د خپل هجرت او جهاد بدله غواړي؟ هغه وویل هو! (زه له الله ﷻ اجر غواړم) نبی صلی الله علیه وسلم ورته لارښوونه وکړه نو لاړ شه د خپل مور او پلار په خدمت کې اوسه او له هغوي سره ښه چلن کوه [صحیح مسلم]

حضرت ابو امامه ﷺ فرمایي یو سړی له نبی ﷺ پوښتنه وکړه؟ یا رسول الله د مور او پلار پر اولاد څه حق دی؟ لارښوونه یې وکړه مور او پلار ستا لپاره جنت دی او هم مور او پلار ستا لپاره دوزخ دی [جامع ابن ماجه].

یعنی که له هغوي سره ښه رویه وکړي نو د جنت مستحق به شي او که د هغوي حقوق د پښو لاندی کړی نو د جهنم خس به شی.

⇇ د مور او پلار شکریه ادا کوونکي اوسئ ، د چا له تاسې سره د ښه کولو له امله د هغه شکریه ادا کولو او احسان منلو لومړی غوښتنه دا ده او دا حقیقت دی چې زمونږ د وجود احسان سیدونکی لامل مور او پلار دی، بیا د مور او پلار په پالنه او سر پرستی کې مونږ رالوییږو، شعور پیدا کوو او هغوي چې د کومی اندازی قربانی او بی مثاله تکالیفو او له خورا زیات شفقت او مهربانی سره زمونږ سر پرستی کوی، د هغی غوښتنه او تقاضا ده چې زمونږ سینی د هغوي له درناوی او احسان مننی او مینی او محبت نه ډکی وی او زمونږ د زړونو رګ رګ د هغوي احسان وړونکی وی، همدا لامل دی چې الله ﷻ پر بنده د ځان د شکر ادا کولو تر څنګ د مور او پلار د شکر یې ادا کولو تاکید او ټینګار فرمایي: ان اشکرلی ولوالدیک

مونږ لارښوونه کړی چې زما شکریه ادا کړه او د خپل مور او پلار احسان مند اوسه .

⇇ تل د مور او پلار د خوشحاله ساتلو کوښښ وکړئ او د هغوي له خوښی او مزاج پرته هیڅکله هم کومه داسې خبره ونکړی چې د هغوي خوښه نه وی، په ځانګړی توګه د بوډا توب په وخت کې چې کله د هغوي مزاج یو څه تند او تروش شی او مور او پلار یو څه داسې هیلی او غوښتنی کوی چې د توقع پر خلاف وی، دا مهال هم هره خبره په خوشحالی سره وزغمی او د هغوي کومه خبره چې درباندی ښه ونه لګی په ځواب یې کومه داسې خبره هیڅکله ونه کړئ چې د هغوي خوښه نه وی او د هغوي احساساتو ته تری زیان رسیږی.

إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ( که له هغوي نه یو یاد واړه د بوډا توب عمر ته ورسیږي نو ته هغوي ته اف اومره هم مه وایه او مه هغوي رټه ) .

په اصل کې د بوډا توب په عمر کې د خبرې د زغم توان نه پاتې کیږي او د کمزورتیا له امله د ځان د اهمیت احساس زیاتیږي، نو ځکه کوچنی کوچنی خبره پرې بده لګیږي، نو د همدې نزاکت په نظر کې لرلو په خاطر د خپل کوم قول او فعل په وسیله خپل مور او پلار خفه نکړې .

حضرت عبدالله بن عمرو وایي چې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لاربښوونه کړې ده د الله جل جلاله خوشحالی د پلار په خوشحالی کې ده او د الله جل جلاله له نارضائیت د مور او پلار په خفګان کې دی [جامع ترمذی، ابن حبان، حاکم ] .

یعنی که څوک الله جل جلاله خوشحالول غواړي خپل مور او پلار دې خوشحاله کړي، د پلار په ناراضه کولو الله نشی خوشحالولای څوک چې پلار خفه کوی، هغه الهی غضب راپارول غواړي .

د همدې حضرت عبدالله رضی الله عنه وینا ده چې یو سړی خپل مور او پلار په ژړا پریښودل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د هجرت د بیعت کولو لپاره راغی، نو نبی صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: لاړ شه خپل مور او پلار ته بیرته او هغوي داسې خوشحاله کړه راشه لکه څنګه چې دې په ژړا پریښی راغلی وی [ سنن ابو داود ]

⇇ د زړه پــه مینه د مـور او پــلار خـدمت وکړئ ، که تاسې تـه الله ﷻ د دی خبرې وخت درکړی وی نو په اصل کې دا د دی خبرې توفیق دی چې تاسې خپل ځان د جنت حقدار وګرځوي، او د الله ﷻ خوشحالی حاصله کړی، د همدی مور او پلار د خدمت په وسیله د دواړو جهانو بریالیتوب او نیکبختی او عظمت حاصلیږي، او انسان د دواړو جهانونو له مشکلاتو په امان وی، د حضرت انس رضی الله عنه وینا ده، چې نبی اکرم ﷺ فرمایلی

دی: څوک چې غواړي چې عمر يې اوږد شی لو روزی يې پراخه وی، هغه ته پکار دي چې د خپل مور او پلار سره ښه رويه او نيکی وکړی [ الترغيب والترهيب ]
او د نبی صلی الله عليه وسلم لارښوونه ده: هغه څوک دی ذليل وی ، بيا دی ذليل وی، بيا دی ذليل وی، خلکو پوښتنه وکړه يا رسول الله کوم سړی؟ هغه وفرمايل: هغه سړی چا چې مور او پلار د زړښت په حالت کې وميندل، يا يې دواړه وميندل او يا يی يو ومينده او بيا د هغوي په خدمت کولو جنت ته داخل نه شو [صحيح بخاری، صحيح مسلم ]
په يو وخت کې خو نبی صلی الله عليه وسلم د مور او پلار خدمت د جهاد په څير له ستر عبادت نه هم لوړ ګڼلی دی او يو صحابی يې له جهاد نه منع کړ او د مور او پلار د خدمت کولو ټينګار يې پری وکړ.
حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه فرمايی يو سړی د نبی صلی الله عليه وسلم په خدمت کې په جهاد کې د ګډون لپاره حاضر شو هغه تری پوښتنه وکړه مور او پلار دی ژوندی دی ، هغه ووييل هو! ژوندی دی، لارښوونه يې ورته وکړه ، ولاړ شه او د هغوي خدمت کوه ، همدا جهاد دی [ صحيح بخاری صحيح مسلم ] .
⇇ د مور او پلار آدب او درناوی وکړی او کومه داسې خبره يا حرکت مه کوی چې د هغوي د درناوی پر خلاف وی، قران عظيم فرمايی: وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا (او له هغوي سره په احترام خبری کوی ).
يو کرتی حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه له حضرت ابن عباس رضی الله عنه وپوښتل، آيا ته غواړي چې له جهنم نه لری اوسی او په جنت کې داخل شی؟ ابن عباس رضی الله عنه ورته ووييل ولی نه، پر الله ﷻ سوګند همدا غواړم، حضرت ابن عمر تری وپوښتل، ستا مور او پلار ژوندی دی؟ ابن عباس رضی الله عنه ووييل هو! زما مور او پلار ژوندی دی، ابن عمر رضی الله عنه ورته ووييل که ته له هغی سره په نرمی خبری کوی او د هغی د خوراک څښاک خيال ساتی، نو خامخا به جنت ته ځی، په دی شرط چې ځان له کبيره ګناهونو څخه وساتی. [ الادب المفرد ]

حضرت ابو هریره رضی الله عنه یو کرتی دوه سړی ولیدل له یوه نه یی پوښتنه وکړه دا بل دی څه کیږی؟ هغه ورته وویل : دا زما پلار دی، هغه ورته وویل وګوره نه د هغه نوم واخلی، نه له هغه نه مخکی ولاړ شی او نه کله له هغه نه د مخه کښینی. [ الادب االمفرد ]

⇐ له مور او پلار سره له عجز او تواضع نه کار اخلی وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ (او د تواضع او انکسار وزرونه د هغوي په مخ کې وغوړوه).

له وزرو غوړولو نه مراد دا دی چې هر وخت د هغوي د مرتبی خیال وساته او هیڅکله د هغو په مخ کې خپله لویی مه بیانوه او مه د هغوي په شان کې بی ادبی کوه.

⇐ له مور او پلار سره مینه وکړی ، هغوي د خپل ځان د اجر او سعادت او د اخرت د نیکبختی لامل وګنی، حضر بن عباس رضی الله عنه وایی چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : هر نیک اولاد چې له مینی ډک یو نظر مور او پلار ته ګوری، د هغی په بدل کې الله ﷻ ورته د یو قبول شوی حج ثواب ورکوی، خلکو تری پوښتنه وکړه، ای د الله ﷻ پیغمبره! که څوک په یوه ورځ کې سل کرتی مور او پلار ته له مینی په ډکو نظرونو وګوری؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل هوا که څوک سل ځلی داسې وکړی بیا هم الله جل جلاله (ستاسې له تصور نه) ډېر لوی او د تنګ زړیتوب په څیر عیبونو نه بیخی پاک دی [صحیح مسلم]

⇐ د مور او پلار اطاعت په اخلاص سره وکړی او که هغوي یو څه زیاتی هم کوی، بیا هم په خوشحاله زړه یې مینه وکړی، او د هغوي عظیم احسانات په نظر کې ولری، د هغوي هغه غوښتنی په خوشحالی سره پوره کړی، چې ستاسې پر ذوق او مزاج درندی وی، په دی شرط چې د دین پر خلاف نه وی.

د حضرت ابو سعید رضی الله عنه وینا ده، چې د یمن یو سړی د رسول الله په خدمت کې حاضر شو، هغه تری پوښتنه وکړه په یمن کې ستا څوک شته؟ هغه سړی ورته وویل هو! زما مور او پلار شته، هغه تری پوښتنه

وکړه، هغوي تاته اجازه درکړې ده، سړی ورته وویل نه! ما خو له هغوي نه اجازه اخیستې نه ده، حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل نو ښه نو ته بیرته ولاړ شه او له مور او پلار نه اجازه راواخله، که هغوي اجازه درکړي بیانو په جهاد کې ګډون وکړه او که نه نو د هغوي په خدمت کې اوسه او ښه رویه ورسره کوه [سنن ابو داود].

د مور او پلار د اطاعت د اهمیت اندازه له دې نه ولګوی چې یو سړی له لرې لرې نه راغی او غواړي چې د رسول اکرم ﷺ ترڅنګ د دین د سر لوړي لپاره په جهاد کې ګډون وکړي، خو رسول اکرم ﷺ هغه بیرته لیږي او فرمایي چې په جهاد کې ګډون ته په داسې حال کې کولای شې چې مور او پلار دواړه اجازه وکړي.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه وینا ده چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: پر کوم سړي چې په داسې حال کې سهار شو چې هغه الهی لارښوونې او احکام یې عملي کړل چې د مور او پلار د حقوقو په باب یې نازل کړي دي، نو پر ده په داسې حال کې سهار شو چې د ده لپاره د جنت دوه دروازې بیرته دي او که د مور او پلار نه یو ژوندی وي نو د جنت ورته یوه دروازه بیرته ده او پر چا چې په داسې حال کې سهار شو چې د مور او پلار د حقوقو په باب یې له الهي احکامو غاړه غړولې وه، نو پر ده په داسې حال سهار شو چې د هغه لپاره د دوزخ دوه دروازې بیرته دي او که له مور او پلار نه یې یو ژوندی وي نو د دوزخ یوه دروازه ورته بیرته ده، هغه سړي پوښتنه وکړه ای د الله ﷺ رسوله! که مور او پلار له چا سره زیاتی کوي بیا هم، وي فرمایل هو! که زیاتی ورسره کوي بیا هم که زیاتی ورسره کوي بیا هم که زیاتی ورسره کوي بیا هم [ مشکوه ] .

⇇ مور او پلار د خپل مال خاوندان وګڼې او په خلاص مټ پرې لګښت وکړي، په قران عظیم کې دي: يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلْ مَا أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ ( خلک له تانه پوښتنه کوي مونږ څه ولګوو ورته ووایه کوم مال چې ته یې لګوې د هغې لومړنی حقدار مور او پلار دي ) .

وکړه، هغوي تاته اجازه در کړې ده، سړي ورته وویل نه! ما خو له هغوي نه اجازه اخیستې نه ده، حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل نو ښه نو ته بیرته ولاړ شه او له مور او پلار نه اجازه راواخله، که هغوي اجازه در کړې بیانو په جهاد کې ګډون وکړه او که نه نو د هغوي په خدمت کې اوسه او ښه رویه ورسره کوه [سنن ابو داود].

د مور او پلار د اطاعت د اهمیت اندازه له دې نه ولګوئ چې یو سړی له لرې لرې نه راځي او غواړي چې د رسول اکرم ﷺ تر څنګ د دین د سر لوړې لپاره په جهاد کې ګډون وکړي، خو رسول اکرم ﷺ هغه بیرته لیږي او فرمایي چې په جهاد کې ګډون ته په داسې حال کې کولای شې چې مور او پلار دواړه اجازه وکړي.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه وینا ده چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: پر کوم سړي چې په داسې حال کې سهار شو چې هغه الهي لارښوونې او احکام یې عملي کړل چې د مور او پلار د حقوقو په باب یې نازل کړي دي، نو پر ده په داسې حال کې سهار شو چې د ده لپاره د جنت دوه دروازې بیرته دي او که د مور او پلار نه یو ژوندی وي نو د جنت ورته یوه دروازه بیرته ده او پر چا چې په داسې حال کې سهار شو چې د مور او پلار د حقوقو په باب یې له الهي احکامو غاړه غړولې وه، نو پر ده په داسې حال سهار شو چې د هغه لپاره د دوزخ دوه دروازې بیرته دي او که له مور او پلار نه یې یو ژوندی وي نو د دوزخ یوه دروازه ورته بیرته ده، هغه سړي پوښتنه وکړه ای د الله ﷺ رسوله! که مور او پلار له چا سره زیاتي کوي بیا هم، وی فرمایل هو! که زیاتي ورسره کوي بیا هم که زیاتي ورسره کوي بیا هم که زیاتي ورسره کوي بیا هم [ مشکوه ] .

⇐ مور او پلار د خپل مال خاوندان وګڼئ او په خلاص مټ پرې لګښت وکړئ، په قران عظیم کې دي: يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلْ مَا أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ ( خلک له تانه پوښتنه کوي مونږ څه ولګوو ورته ووایه کوم مال چې ته یې لګوې د هغې لومړني حقدار مور او پلار دي ) .

يو ځلی د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم حضور ته يو سړی راغی او له خپل پلار نه يې په شکايت کولو شروع وکړه، چې هغه کله وغواړي زما نه مال اخلی، نبی ﷺ د هغه سړی پلار راوغوښت، يو بوډا سړی چې همسا يې لګوله حاضر شو ، هغه بوډا سړی نه تحقيق پيل کړ، هغه وويل: د الله جل جلاله رسوله! يوه زما نه وه چې دی کمزوری او بی وسی و او په ما کې توان وُ زه مالدار وم او دی خالی لاس وُ، ما دی هيڅکله د خپل ځيز له اخيستلو منع نه کړ، اوس زه کمزوری يم او دی تکړه او قوی دی، زه تش لاس يم او دی شتمن دی، اوس دی له مانه خپل مال بچ بچ ساتی، د بوډا سړی د دی خبرو په اوريدو رسول اکرم ﷺ په ژړا شو او د بوډا زوی ته يی وويل ته او ستا مال ستا د پلار دی .

⇇ که مور او پلار مو نا مسلمان وی بيا هم ښه چلن ورسره وکړی، د هغوي عزت او درناوی کوی او په ښه شان سره يې خدمت وکړی، هو! که د شرک او ګناه حکم درته کوی، له اطاعت نه يې انکار وکړی او خبره يې هيڅکله ونه منی .

وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا (که مور او پلار درباندی فشار راوړل چې زما ( الله ) سره څوک شريک کړه چې تاسې ته يې هيڅ علم نشه، نو هيڅکله د هغوي خبره مه منه او په دنيا کې له هغوي سره ښه چلن کوه ) .

حضرت اسماء رضی الله عنها فرمايی چې د نبی ﷺ په زمانه کې زما مور چې هغه مهال مشرکه وه راغله، ما نبی صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ، چې ما کره زما مور راغلی ده او هغه له اسلام نه کرکه کوی، ايا زه د خپلی مور سره ښه چلن وکړم؟ هغه وفرمايل هو! ته له خپلی مور سره صله رحمی کوه [صحيح بخاری]

⇇◊ د مور او پلار لپاره هميشه دعا کوی او د هغوي د نيکيو په يادولو د الله جل جلاله په حضور کې ودريږی او په خورا زړه سوی او د زړه په ولوله د هغوي لپاره د رحم او مهربانئ غوښتنه وکړی، الهی لارښوونه ده:

وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا [ او دعا کوه چې پروردګاره! پر هغو دواړو رحم وکړه، لکه څنګه چې هغوي دواړو په کوچنيوالی زما پالنه کړې وه ].

يعنی ای پروردګاره! د کوچنيتوب په بې وسی کې چې په کومه مهربانی او قربانی او مينه او شفقت سره دوی زما پالنه کړې وه او زما په خاطر يې خپلی خوشحالی قربان کړې وی، پروردګاره! اوس دوی بوډاتوب، کمزوری او بې وسی په حال کې زما نه زيات پخپله رحمت او شفقت محتاج دی، الهی زه د دوی هيڅ بدله نشم ورکولای هم ته د هغوي پالنه وکړې او د هغوي پر مشکل حالت رحم وکړې.

⇐ د مور د خدمت په خاصه توګه خيال ساتی، مور په فطری توګه کمزوری او ډېره حساسه وی او ستاسې د خدمت او ښې رويې ته اړه هم وی، بيا د مور احسانات او قربانی هم د پلار په نسبت څو چنده زياتی وی، نو ځکه په دين کې د مور حق زيات دی، او له مور سره په ښه چلن کولو هم ټينګار شوی دی، په قران مجيد کې لارښوونه ده: وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ إِحْسَانًا حَمَلَتْهُ أُمُّهُ كُرْهًا وَوَضَعَتْهُ كُرْهًا وَحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلَاثُونَ شَهْرًا ( او مونږ انسان ته د مور او پلار سره د ښې رويې کولو ټينګار کړی، د هغه مور په تکليف زغملو زغملو هغه په نس کې ګرځولی او په تکليف يې زېږولی او په غيږ کې د ګرځولو او شيدو ورکولو دا تکليف ورکوونکی موده دوه نيم کاله يعنی ديرش مياشتی ده ).

قران مجيد له مور او پلار سره د ښه چلن پر کولو ټينګار کړی، او د دی تر څنګ يې په ځانګړی توګه د مور پرله پسی تکاليفو زغملو او مشکلاتو تيرولو نقشه يې په ډېر اغيزمنه توګه وړاندی کړې ده او په خورا ښه طريقه يې په سيکالوژيکی دود سره د دی حقيقت په لور اشاره کړې، چې قربانی ورکوونکی مور د پلار په پرتله ستا د خدمت او ښه چلن ډېره حقداره ده او بيا همدا حقيقت د الله جل جلاله پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم هم په ښکاره ښکاره بيان کړی دی.

ابوهريره رضی الله عنه وايی چې يو سړی د نبی صلی الله عليه وسلم حضور ته راغی او پوښتنه يې وکړه، ای د الله پيغمبره! زما د ښه چلن تر

تولو زیات حقدار څوک دی؟ هغه وفرمایل ستا مور، هغه پوښتنه وکړه بیا څوک دی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل. ستا مور، بیا یې پوښتنه وکړه بیا څوک دی؟ لاربنوونه ورته وشوه ستا مور، هغه سړی وویل بیا څوک دی، نو هغه وفرمایل : ستا پلار [ الادب المفرد ]

حضرت جاهمه رضی الله عنه د نبی ﷺ په خدمت کې حاضر شو او وی ویل : یا رسول الله! زما اراده ده چې زه له تاسره جهاد کې ګډون وکړم او د همدی لپاره راغلی یم چې تاسره په دی باب مشوره وکړم ( وفرمایاست څه حکم دی؟ ) نبی صلی الله علیه وسلم تری پوښتنه وکړه، ستا مور ژوندی ده ؟ جاهمه رضی الله تعالی عنه وویل هو! ژوندی ده نبی ﷺ ورته لاربنوونه وکړه نو بیا لاړ شه او د هماغی خدمت کوه ځکه چې جنت د هماغی په قدمونو کې دی [ جامع ابن ماجه او سنن نسایی ]

حضرت اویس رحمه الله علیه د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې موجود ؤ، خو له هغه سره یې د ملاقات شرف حاصل نه کړای شو، د هغه یوه زړه مور وه، شپه ورځ به یې د هغی خدمت کاوه، د نبی ﷺ د لیدلو یی ډېره هیله وه او کوم مؤمن به وی چې دا هلیه یې په زړه کې توپونه نه وهی چې د هغه سترګی په نبوی دیدار روښانه نه شی لکه چې حضرت اویس راتلل هم وغوښتل، خو نبی صلی الله علیه وسلم منع کړ، د حج د فریضی د ادا کولو یې هم په زړه کې ډېره هیله وه، خو تر څو چې د هغه مور بی بی ژوندی وه، د هغی د ځانله پاتې کیدو له امله یې حج ونه کړ، او د هغی له وفات وروسته یې دا هیله تر سره شوه .

له رضاعی مور سره هم ښه رویه وکړی، د هغی خدمت وکړی او په ادب او درناوی ورسره چلن وکړی، حضرت ابو طفیل رضی الله عنه فرمایی، ما په جعرانه ( یو ځای دی ) کې نبی ﷺ ولیده چې غوښه ویشی، په دی وخت کې یوه ښځه راغله او نبی ﷺ ته نږدی راورسیده، هغه ورته خپل څادر وغوړاوه، هغه پری کیناسته ما له خلکو نه پوښتنه وکړه دا کومه صاحبه ده ؟

خلکو وویل دا د رسول اکرم ﷺ هغه مور ده چې شیدی یې پری خوړولی وی [سنن ابو داود ].

⇐ د مور او پلار له مړینې وروسته هم د هغوي خیال ساتی او له هغوي سره د ښه چلن کولو لپاره لاندې خبرې په نظر کې ولرئ:

⇐ مور او پلار ته تل د ښېګڼې دعا کوئ .

قرآن مجید مؤمنانو ته دا دعا زده کړې ده: رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ ( پروردگاره! ماته ښښنه وکړې او زما مور او پلار ته او ټولو مؤمنانو ته په هغه ورځ ښښنه وکړې کله چې حساب کتاب پیل شي ) .

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه وینا ده چې کله د مړي مرتبې لوړېږي هغه په حیرانتیا سره پوښتنه کوي، دا ولې وشول؟ د الله جل جلاله له لوري ورته ویل کیږي چې ستا اولاد ستا لپاره د ښېګڼې دعا کوله ( او الله ﷻ هغه قبوله کړه ) .

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه وینا ده چې نبی ﷺ فرمایلي دي : کله چې څوک مړ شي د هغه د عمل وخت پای ته رسي، یوازې درې شیان داسې دي چې له مرګه وروسته ورته هم ګټه رسوي ، یو جاري خیرات ( صدقه جاریه ) دویم د هغه خپور شوی علم چې وګړي ترې ګټه اخلي ، دریم هغه صالح اولاد چې د هغه لپاره د ښېګڼې دعا کوي .

⇐ د مور او پلار کړې وعدې او وصیتونه پوره کړئ، مور او پلار به مو پخپل ژوندانه کې د خلکو سره ډېرې وعدې کړې وي، د خپل الله ﷻ سره به یې څه وعده کړې وي، کوم نذر به یې منلی وي، چاته به یې د څه مال د ورکولو وعده کړې وي، د هغه پر غاړه به د چا پور پاتې وي او د ورکولو وخت به یې میندلی نه وي ، له مرګ نه مخکې به یې څه وصیتونه کړې وي، تاسې د امکان تر حده د دې ټولو کارونو د پوره کولو کوښښ وکړئ .

د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه وینا ده چې حضرت سعد ابن عباده رسول الله ﷺ ته عرض وکړ، یا رسـول الله! زما مور نذر منلی وؤ، خو هغه د نذر له ورکولو د مخه وفات شوه، آیا زه د هغې له لوري نذر پوره کولای شم، نبی ﷺ ورته لارښوونه وکړه: ولې نه، ته خامخا د هغې له لوري نذر پوره کړه .

⇇ د پلار او مور له دوستانو سره هم ښه رویه کوی، د هغو درناوی کوی، هغوي پخپلو مشورو کې د خپلو مشرانو په څیر شریک کړی، د هغوي د رایو او مشورو درناوی وکړی، یو ځلی نبی ﷺ لارښوونه وکړه: تر ټولو ښه چلن دا دی چې سړی د خپل پلار له دوستانو سره ښیګڼه وکړی.

یو ځلی حضرت ابو درداء رضی الله عنه ناروغ شو او ناروغتیا یې زیاته شوه ان تر دی چې د روغیدو هیله یې نه وه، نو حضرت یوسف بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما له لری ځایه سفر راوکړ او د هغه د پوښتنی ( عیادت ) لپاره ولاړ، حضرت ابو الدرداء رضی الله عنه چې هغه ولید په ډېره حیرانتیا یې تری پوښتنه وکړه ته دلته له کومه؟ یوسف بن عبدالله وویل: زه دلته یوازی د دی لپاره راغلی یم چې ستا پوښتنه ( عیادت ) وکړم، ځکه چې زما له محترم پلار سره ستاسې ژوری اړیکی وی.

حضرت ابو برده رضی الله عنه فرمایی چې: زه کله مدینی منوری ته راغلم نو حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ماته راغی او وی ویل ابو برده ته پوهیږی، زه تا ته ځنګه راغلی یم؟ ما ورته وویل: زه خو نه پوهیږم چې تاسې ځنګه تشریف راوړی دی، پر دی حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وویل: ما له نبی اکرم ﷺ نه اوریدلی چې فرمایل یې چې څوک په قبر کې د خپل پلار سره ښه رویه کول غواړي هغه ته په کار دی چې د پلار له مرګ وروسته د هغه. دوستانو سره ښه رویه وکړی او بیا یې وفرمایل: وروره زما د پلار حضرت عمر رضی الله عنه او ستاسې د پلار تر منځ ډیره ژوره دوستی وه، زه غواړم چې هغه دوستی وپالم او د هغی دوستی حقوق اداء کړم [ ابن حبان ]

⇇ د مور او پلار له خپلوانو سره پرله پسی ښه چلن کوی او د رحم او مهربانی د خپلوبو په مکمله توګه خیال وساتی، ځکه چې له دغو خپلوانو بی پروایی په اصل کې له مور او پلار نه بی پروایی ده، نبی ﷺ فرمایلی دی: تاسې له خپلو پلرونو او نیکونو هیڅکله مه بی پروا کیږی، له مور او پلار نه بی‌پروا یې په اصل کې د الله جل جلاله ناشکری ده.

⇇ الله مه کړه که په ژوندانه کې له مور پلار سره له ښه چلن کولو او د هغوي د حقوقو په ادا کولو کې درنه کوتاهي شوې وي، نو بیا هم د الله ﷻ له رحمت نه مه نهیلی کیږې، له مرګ وروسته تل د هغوي په باب له خدایه د ښښنې دعا غواړې، هیله ده چې الله ﷻ به ستاسې سهوه درویښې او پخپلو صالحو بنده ګانو کې به مو وشمیرې.

د حضرت انس رضی الله عنه وینا ده چې نبی اکرم ﷺ فرمایلي دي: که کوم د الله ﷻ بندَه په ژوندانه کې د مور او پلار منونکی نه وي او له مور او پلار نه یې یو یا دواړه وفات شول، نو اوس هغه ته په کار دي چې خپل مور او پلار ته تل د ښښنې دعا وکړي او له الله ﷻ د هغوي ښښنه وغواړي او تر دې چې الله ﷻ یې خپل رحمت سره په نیکانو بنده ګانو کې وشمیرې.

## د کورنيز ژوندانه آداب

اسلام چې د کوم تهذيب او تمدن په لوړ بلنه ورکوي، هغه، هله منځته راتلای شي چې کله مونږ د يوې سپيځلې ټولنې په جوړولو کې بريالي شو او د پاکې او سپيځلې ټولنې د جوړولو لپاره ضروري ده چې تاسې د کورنۍ ژوندنيز نظام زيات نه زيات مستحکم او بريالی کړئ، د کورنۍ ژوندانه پيل د ميړه او ميرمنې د پاکيزه ازدواجي ژوندانه له اړيکو پيل کيږي، او د دغو اړيکو ښه والي او دوام پيدا کول هغه وخت امکان لري چې ښځه او ميړه دواړه د ازدواجي ژوندانه له اړيکو او آدابو او مسئوليتونو نه په ښه توګه خبر هم وي، او د دغو آدابو او فرايضو د پر ځای کولو لپاره په پوره زړه سوي او اخلاص سره کار هم وکړي، لاندې مونږ لومړی هغه آداب او فرايض بيانوو چې په ميړه ( خاوند ) پورې اړه لري او بيا به هغه آداب بيان کړو چې په ښځې ( ميرمن ) پورې اړوند دي:

له ميرمنې سره په ښه توګه او نيکه رويه ژوندون تير کړئ، د هغې حقوق په پراخه زړه ادا کړئ او په هره چار کې د احسان او ايثار لاره خپله کړئ، الهي لارښوونه ده: وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ ( او له هغې سره په ښه طريقه ژوند تير کړه ) .

نبي صلی الله عليه وسلم په حجة الوداع کې کې يوې لويې غونډې ته په وينا کې لارښوونه وکړه، خلکو واورئ! له ميرمنو سره ښه رويه کوئ، ځکه چې هغوي له تاسې سره د بنديانو په ډول دي، تاسې له هغوي سره د بد چلنې هيڅ حق نه لرئ او پرته له دې چې د هغوي له لوري په ښکاره نافرمانی وګورئ، که هغوي داسې وکړي نو بيا په خوب ځايونو ( بستر ) کې له هغوي نه بيل شئ او وه يې وهئ، خو داسې يې ونه وهئ چې سخت زخم وروررسيږي، او بيا چې کله هغوي ستاسې خبرې منلو ته غاړه کيږدي، نو بيا ورته خامخا هيلې بانې مه لټوئ، ګورئ، واورئ! ستاسې يو څه حقوق مو پر ميرمنو دي او ستاسې د ميرمنو يو څه حقوق پر تاسې دي، پر هغوي چې ستاسې خوښ نه وي او ستاسې کورونو ته داسې کسان هيڅکله

را دننه نه کړی چې راتګ یې ستاسې خوښه نه وی، او واوری د هغوی پر تاسې دا حق دی چې تاسې پر هغوي ښه خواړه وخوری او ښې جامې ورته واغوندی [ رياض الصالحين ] .

یعنی د هغوي د خوراک څښاک داسې چاره وکړی چې د ښځې، خاوند د بې ساری ګرانښت، د زړه مینې او د ملګرتيا له شانه سره مناسبه وی.

🏠 تر کومه ځایه چې امکان لری پر میرمن ښه ګمان ساتی او په ژوندانه تیرولو کې ورسره له صبر، تحمل او پراخزړیتوب نه کار اخلی، که په میرمن کې مو د شکل او ښکلا یا د عاداتو، اخلاقو او یا د پوهی او هنر په اعتبار کومه کمزوری وی، نو په صبر سره یې وزغمی او د ښو صفاتو په نظر کې نیولو ورسره له سخاوت، تیریدنی، قربانی او مصالحت نه کار اخلی، الهی لارښوونه ده : والصلح خير [مصالحت په خپله خير دی ] .

او منانو ته لارښوونه شوی ده : فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا [ د النساء سورت ۱۹آیت ]

( بیا که هغه ستاسې ( په څه وجه ) خوښې نه وی نو کیدای شی چې یو شي ستا خوښ نه وی خو الله جل جلاله په هغې کې ستاسې لپاره ډېر څه ښیګڼه ایښې وی )

همدا مفهوم نبی اکرم ﷺ په یو حدیث کې داسې واضح کړی دی هیڅ مؤمن دی له خپلی مؤمنی میرمنی نه کرکه نه کوی د میرمنی کوم عادت یې که خوښ نه وی نو کیدای شی چې بل خوی یې خوښ شی .

حقیقت دا دی چې په هره میرمن کې د یوه نه یو لوری له خوا یوه کمزوری خامخا وی او که میړه د هغی په لیدلو له هغې نه سترګې بل لوری ته اړوی او زړه بدوی نو بیا به یوه کورنی کې هم خوشحالی نه وی، د حکمت لاره دا ده چې سړی له تیریدنی ( ګذشت ) نه کار واخلی، او پر الله ﷻ توکل وکړی او د خپلی میرمنی سره په ښه شان ګذاره وکړی، کیدای شې چې الله جل جلاله د دی میرمنی په وسیله سړی ته داسې ښیګڼی ورپه برخه کړی چې د هغه لنډ نظر ورته نه رسیږی د مثال په توګه

په میرمن کې د دین او ایمان او سیرت او اخلاقو په لحاظ یو څه داسې غوره صفتونه وي، د څه له امله چې هغه د ګردې کورنۍ لپاره رحمت ثابت شي، یا د هغې له نس نه الله ﷻ داسې نیک روح وزیږوي، چې عالم ته ترې ګټه ورسي او د ګرد ژوندانه لپاره د پلار لپاره جاري خیرات وګرځي، یا میرمن د میړه د حالاتو د سمون لامل شي او د هغه جنت ته د بیولو وسیله وګرځي، او یا د هغې له قسمته الله ﷻ سړي د پراخې روزۍ څښتن کړي، په هر حال د میرمنې د کوم ښکاره عیب په لیدلو ژر تر ژره خپل ازدواجي ژوندون ګډ وډ نه کړي، بلکې په حکیمانه ډول ورو ورو د کور فضا هواره او خوشحاله کړي او په دې کار کې پر له پسې کوښښ کوي.

د عفوې او بخښش لار غوره کړي او د میرمنې له سهوې، ناپوهۍ او خپلسرۍ نه سترګې پټې کړي، ښځه د عقل او پوهې په اعتبار کمزورې او ډېره جذباتي وي، نو څکه په صبر او آرام او مهربانۍ او زړه سوی سره د هغې د سمولو کوښښ وکړي او له صبر او استقامت نه په کار اخیستلو ورسره ګذاره وکړي، الهي لارښوونه ده:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوًّا لَكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ وَإِنْ تَعْفُوا وَتَصْفَحُوا وَتَغْفِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ [د التغابن سورت ۱۹آیت]

( مؤمنانو! ستاسې څینې میرمنې او څینې اولاد ستاسې دښمن دي، نو له هغو نه څانونه وساتئ او که تاسې له عفوې، مهربانۍ، تیریدنې او سترګو پټولو نه کار واخلئ نو یقین ولرئ چې ﷻ ډېر مهربانه دی ) .

د رسول اکرم ﷺ لارښوونه ده: له میرمنو سره ښه رویه کوئ، ښځه له چپې پښتۍ نه پیدا کړای شوې ده او په پښتیو کې تر ټولو زیاته برنۍ برخه کږه ده، که سموې یې نو ماتیږي او که پریږدې یې نو کږه به وي، نو له میرمنو سره ښه رویه کوئ [صحیح بخاري، صحیح مسلم]

له میرمنې سره په ښو اخلاقو سره ګذاره کوي او په مینې او محبت ورسره ژوند وکړي، د نبي ﷺ لارښوونه ده: د پوره ایمان څښتن مؤمن هغه

دی، چې پخپلو اخلاقو کې تر ټولو غوره وی، په تاسې کې تر ټولو غوره خلک هغه دی چې د خپلو میرمنو په حق کې تر ټولو ښه وی [ جامع ترمذی ]

ستاسې د ښو اخلاقو او نرم خویی د ازمیښت اصلی دګر کورنی ژوندون دی هر وخت ستاسې د کور له خلکو سره ناسته ولاړه وی او د کور په بی احتیاطه ژوندانه کې د اخلاقو هر اړخ مخی ته راځی او دا رښتیا ده چې هماغه مؤمن پخپل ایمان کې کامل دی چې د کور د خلکو سره، په ښو اخلاقو، پراخه تندی او مهربانی سره چلن کوی، د کور خلکو زړونه ساتی او په مینه او محبت ورسره ژوند تیروی .

حضرت عایشه رضی الله عنها فرمایی چې زه به د نبی صلی الله علیه وسلم کره له ګوډیانو ( نانځکو ) سره لوبیدم او زما ملګری به هم را سره لوبیدی، کله به چې نبی صلی الله علیه وسلم تشریف راوړ، نو هغوی ټولی به یوه خوا بله خوا پټیدی، هغه به لټولی او یوه یوه به یې ما ته رالیږله چې زما سره ولوبیږی [صحیح بخاری، صحیح مسلم ]

یو ځلی د حج پر وخت د حضرت صفیه رضی الله عنها اوښ لټ شو او هغه له ټولو نه وروسته پاتی شوه، نبی ﷺ ولیده چې هغه په زوره زوره ژاړی، هغه ودرید او پخپلو مبارکو لاسونو یې د څادر په پیڅکی د هغی اوښکی وچی کړی، هغه به یې اوښکی وچولی او هغی به بی اختیاره ژړل .

په پراخه زړه د خپل ژوندانه د ملګری اړتیاوی پوره کړی او په لګښت کې هیڅکله تنګی مه کوی، د خپل کار او زیار ګټه چې پر خپلو میرمنو ولګوی نو سکون او آرام احساس کړی، خواړه او جامی د میرمنی حق دی او دا حق په خوشحاله زړه او په پراخه تندی ادا کولو لپاره د ښښتن منډی تړی وهل دهر په زړه پوری مسئوولیت دی، په پراخه زړه د دی فریضی له ادا کولو نه یوازی د په زړه پوری ازدواجی ژوندانه نعمت په دنیا کې لاس ته راځی بلکې مؤمن په اخرت کې د اجر او ثواب وړ ګڼل کیږی.

د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: یو دینار خو هغه دی چې تا د الله جل جلاله په لاره کې ولګاوه، یو دینار هغه دی چې تا د کوم غلام په آزادولو کې مصرف کړ، یو دینار هغه دی چې تا کوم فقیر ته په خیرات کې

ورکړ او یو دینار خو هغه دی چې تا پر خپلی میرمن مصرف کړ، په دی ټولو کې زیات اجر او ثواب د هغه دینار د خرڅ کولو دی چې تاسې پخپلو میرمنو لګولی وی.

میرمنی ته دینی احکام او اخلاق ورزده کړی، د دین زده کړه ورته وکړی، په اسلامی اخلاقو یې سمباله کړی او د هغی د روزنی او ښوونی لپاره د امکان تر حده کوښښ وکړی تر څو چې هغه یوه نیکه میرمن، غوره مور او د الله جل جلاله نیکه بنده شی او خپل مسئوولیتونه په ښه توګه ادا کړی شی، الهی لارښوونه ده: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا (مؤمنانو! خپل ځانونه او خپل کور او اولاد دوزخ له اوره بچ کړی).

نبی صلی الله علیه وسلم به چې څنګه له کوره بیرون په تعلیم او تبلیغ مصروف و، همداسې به یې کور کې هم دا فریضه ادا کوله، همدی لوری ته په نغوته (اشاره) قرآن مجید د نبی صلی الله علیه وسلم بیبیانو ته په خطاب کې ویلی دی: او ستاسې په کورونو کې چې د الله جل جلاله ایتونه لوستل کیږی او د حکمت خبری اوریدل کیږی هغه یادی وساتی.

په قران مجید کې د نبی صلی الله علیه وسلم په وسیله مؤمنانو ته ښوونه شوی ده: وامر اهلک بالصلوه واصطبر علیها (او خپلو د کور میرمنو ته په لمانځه ټینګار وکړی او پخپله یې هم تل ادا کوی).

د رسول الله صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: کوم سړی چې د شپی خپله میرمن راویښوی او هغوي دواړه په ګډه دوه رکعته لمونځ ادا کوی نو د خاوند نوم یې په ذکر کوونکیو سړو او د میرمنی نوم یې په ذکر کوونکیو بیبیانو کې لیکل کیږی [ سنن ابو داود ].

دویم خلیفه سیدنا حضرت عمر فاروق رضی الله عنهم به د شپی ولاړ وُ د الله جل جلاله عبادت به یې کاوه، بیا به چې سهار شو نو خپله بی بی به یې راویښوله او ورته ویل به یې پاځه لمونځ ادا کړه او بیا به یې دا ایت تلاوه کاوه: وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا (خپلې کورنۍ ته دلمانځه توصیه وکړه اوپه خپله هم دهغه پابند اوسه).

که څو میرمنی ( له یوی زیاتی تر څلورو پوری ) مو وی له ټولو سره مساوی رویه وکړی، نبی ﷺ به له خپلو مبارکو میرمنو سره د مساویانه رویی کولو ډېر خیال ساته، سفر ته به یې چې تشریف وړو نو پچه ( قرعه ) به یې اچوله او چې د کومی بی بی پچه به راووته، هماغه به یې له ځانه سره په سفر بیوله .

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه وینا ده چې نبی اکرم ﷺ لاربنوونه فرمایلی: که د کوم سړی دوه میرمنی وی او له هغوي سره یې د انصاف او برابری رویه نه وی کړی، نو د قیامت پ ورځ به هغه سړی په داسې حال کې راشی چې نیم تن به یې پریوتی وی [ جامع ترمذی ]

له انصاف او برابری نه مراد په معاملاتو او رویه کې مساوات کول دی، پاتی شوه دا خبره چې د یوی میرمنی په باب د زړه مینه او ولولی زیاتی وی نو دا د انسان د واک او وس خبره نه ده او پر دی یې الله نه نیسی.

په خورا پراخه زړه د خپل میړه اطاعت وکړی او په دی اطاعت کې خوشحالی او آرام احساس کړی ځکه چې دا د الله جل جلاله حکم دی او کوم بنده ګان چې د الله جل جلاله حکم عملی کوی، هغوي خپل الله جل جلاله راضی کوی، په قرآن مجید کې دی : فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ ( نیکی میرمنی [ د خاوند ] اطاعت کونکی وی ) .

د نبی ﷺ لاربنوونه ده: یوه میرمن دی هم د میړه له اجازی پرته روژه نه نیسی.[ سنن ابو داود ]

د میړه د اطاعت او فرمانبرداری د اهمیت د څرګندونی په ترڅ کې نبی صلی الله علیه وسلم ښځو ته خبرداری ورکړی :

دوه ډوله خلک هغه دی چې لمونځونه یې له سرونو پورته نه ځی هغه غلام چې د خپل مالک نه وتښتی او تر څو بیرته ورغلی نه وی او د هغه میرمنی لمونځ چې د میړه نافرمانی وکړی تر څو چې له نافرمانی نه منع نه شی [ الترغیب والترهیب ]

د خپلی ابرو او پاک لمنتوب د ساتنی خیال ساتی او له هغو ګردو خبرو څخه لری اوسی، چې د پاکوالی پر لمن موتری داغ ولګی او یا یی

لګیدلو اندیښنه پیدا شي، د الهي هدایت غوښتنه همدا ده او د ازدواجي ژوندانه د خوشحاله ساتلو لپاره هم دا ډېره ضروري ده ځکه چې که د میړه په زړه کې داسې کوم شک پیدا شي، نو بیا د ښځې یو خدمت او اطاعت او یوه نیکي هم میړه د ځان په لور مایل کولای نه شي او په دې لړ کې د کوچنۍ شان سهوې له امله هم د میړه په زړه کې شیطان په شک پیدا کولو بریالی کیږي، نو په دې خاطر بشري کمزورۍ په نظر کې ونیسئ او بې اندازې احتیاط وکړئ.

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده ښځه چې کله پنځه وخته لمونځ ادا کړي، د خپلې حیا ساتنه وکړي او د خپل میړه اطاعت کوونکې وي، نو هغه چې جنت ته په کومه دروازه غواړي داخله دې شي [ الترغیب والترهیب ] .

د څښتن ( میړه ) له اجازې پرته له کوره بیرون مه ځئ او مه داسې کورونو ته ځئ چیرې چې څښتن ستاسې تلل نه خوښوي او مه داسې کسانو ته خپل کور ته د راتللو اجازه ورکوئ چې راتګ یې ستاسې د خاوند خوښ نه وي.

حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي : پر الله ﷻ ایمان لرونکې ښځې ته دا روا نه دي چې هغه د خپل میړه کورته د داسې سړي د راتلو اجازه ورکړي چې راتلل یې د هغه خوښ نه وي او یا له کوره په داسې حال کې ووځي چې وتل یې د څښتن خوښ نه وي او ښځه دې د میړه په چارو کې د بل چا خبره منې [ الترغیب والترهیب ] .

یعنې د څښتن په معامله کې د میړه خوښه او د هغه د سترګو په اشاره عمل وکړئ او د هغه پر خلاف هیڅکله د نورو مشورې وانه ورئ .

تل په خپلو خبرو، عمل او خوی خاصیت سره د خپل څښتن د خوشحاله ساتلو کوښښ وکړئ، د بریالي ازدواجي ژوندانه راز هم دا دی او د الله جل جلاله د رضا او د جنت حاصلولو لار هم دا ده .

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمايي: هره ښځه چې په داسې حال کې وفات شوه چې د هغې څښتن ترې راضي او خوښ وي نو هغه په جنت کې داخله شوه. [ جامع ترمذي ]

او نبی صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلي: کله چې کوم سړی خپله میرمن د جنسي اړتیا لپاره راوبولي او هغه ورنشي او په دې اساس ښځه ټوله شپه له هغې نه خفه وي، نو په داسې ښځه ملایکې تر سهاره لعنت وايي [ صحيح بخاري ، صحيح مسلم ]

د خپل میړه سره مینه کوي او د هغه د ملګرتیا قدر وکړي، چې میړه د ژوندانه ښکلا ، د ژوندانه تکیه ځای او د ژوندانه د لارې ستر مرستندوی او مددګار دی، د الله جل جلاله پر دې ستر نعمت د هغه جل جلاله شکر ادا کړي او د دې نعمت په زړه او ځان قدر وکړي .

نبی صلی الله علیه وسلم یو ځای فرمایلي له نکاح نه غوره څیز د دوه محبت کوونکيو لپاره میندل شوی نه دی .

د حضرت صفیه رضی الله تعالی عنها له نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره ډېره زیاته مینه وه، نو چې کله هغه ناروغ شو نو هغې په ډېر افسوس سره وویل، کاشکې چې ستاسې پر ځای زه ناروغه وایی .

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نورو بیبیانو د مینې د دومره زیاتی له ښکاره کونې سره په حیرانتیا د هغې په لور وکتل نو نبی ﷺ وفرمایل : ځان ښودنه ( ریا ) نه ده بلکې رښتیا وایی .

د څښتن احسان ومنې او د هغې شکریه ادا کړئ ، ستاسې تر ټولو لوی محسن ستاسې څښتن دی چې په هر ډول ستاسې د خوشحالولو کوښښ کوي، ستاسې هره اړتیا پوره کوي، او تاسې ته د هر ډول آرام په رسونه آرام احساسوی .

حضرت اسما رضی الله عنها وايي چې: یو کرتي نبی ﷺ زما تر څنګه تیر شو، زه د خپلو ګاونډیانو ملګريو نجونو سره وم، هغه مونږ ته سلام وکړ او لارښوونه یې وکړه، پر تاسې چې د چا احسان دی د هغه له ناشکرۍ ځان وژغورئ، له تاسې نه هره یوه د مور او پلار کره د واده تر ورځو پورې ناستې وی بیا الله جل جلاله څښتن ( میړه ) در کړي، بیا مو پر اولاد ونازوی له دې ټولو ښیګنو سره سره که کله په کومه خبره له میړه نه خفه شي نو بیا وايي چې ما خو هیڅکله له تانه خوشحالي لیدلې نه ده [ الادب المفرد ]

ناشکره او احسان هیرونکی ته په خبرداری سره نبی صلی الله علیه وسلم فرمایي: الله جل جلاله به د قیامت پر ورځ د هغه میرمن په لور نظر هم وانه روی، چې د میړه ناشکره وی، حال دا دی میرمن هیڅکله هم له خاوند نه بی نیازه کیدای نه شی [ سنن نسائی ]

🏠 د ښځو په خدمت کولو خوشحالی احساس کړی او تر کومه چې کیدای شی پخپله تکلیف تیر کړی او ښځو ته آرام ورسوی، او په هر ډول خدمت کولو یې زړه لاس ته راولی.

حضرت عایشه رضی الله عنها په پخپل لاس د نبی اکرم ﷺ جامی مینځلی، پر ویښتانو به یې ورته تیل لګول او ورته ګومنځ کول به یې، عطر به یې ورته لګول او همدا حال د نورو صحابیه میرمنو هم و.

یو ځلی نبی اکرم ﷺ لارښوونه وکړه: هیڅ انسان ته دا روا نه دی چې بل انسان ته سجده وکړی ، که د دی اجازه وای نو میرمنی ته به حکم شوی وو چې خپل ښځو ته سجده وکړی ، د ښځو پر میرمنی ستر حق دی دومره ستر حق دی چې که ښځو یې په ټول بدن زخمی شی او میرمن یې د ښځو ټول زخمی تن په ژبه وڅټی بیا هم د ښځو حق نشی ادا کیدای [ مسند احمد]

🏠 د ښځو د کور د مال او سامان ساتنه وکړی، له واده نه وروسته د میړه کور خپل کور وګڼی او د هغه مال د کور په ښایسته کولو، د هغه په عزت زیاتولو او د هغه د اولاد په روزنه کې په حکمت او تدبر سره ولګوی، د ښځو ترقی او خوشحالی د ځان وګڼی، د قریشو میرمنو به ستاینه کې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی : د قریشو میرمنی خومره ښی ښځی دی ، پر اولاد ډیری مهربانه دی او د ښځو د کور ډیری غوره ساتونکی دی [صحیح بخاری ]

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د نیکی میرمنی د غور والی په بیان کې فرمایلی دی: د مؤمن لپاره د الله جل جلاله له ویری وروسته تر ټولو ډیر ګټور او د خیر او نعمت باعث نیکه میرمن ده، چې کله ورته کوم کار ووایی نو په خوشحاله زړه یې سرته ورسوی او چې کله ورته وګوری نو خوشحاله یې کړی او چې کله پر هغی د باور سوګند یاد کړی نو د خپل ښځو سوګند

تر سره کړي او چې کله هغه چیري ولاړ شي نو دا ( میرمن ) يې په غیاب کې د پت او عزت ساتنه وکړي، او د خښتن د مال متاع په ساتنه کې د هغه خیر خواه او وفاداره وي [ جامع ابن ماجه ]

د ښکلا، ښایست او پاکوالي او نظافت پوره پوره خیال وساتي، کور هم پاک او صاف وساتي او هر څیز په ترتیب او سلیقي سره کیږدي او په سلیقي سره يې وکاروي، پاک او صاف کور، ښکلي او ښایسته جوړي کړای شوي کوټي، په کورنیو چارو کې سلیقه او ترتیب او د ښکلي او سینګار شوي میرمن په ناز موسکا نه یوازي کورني ژوندون له میني محبت او خیر او برکت نه ډکوي بلکې د يوي میرمني لپاره د خپل اخرت جوړولو او د الله جل جلاله د خوشحالولو همدا وسیله ده .

یو ځلي د عثمان بن مظعون رضی الله عنه له میرمن سره د حضرت عایشي رضی الله عنها ملاقات وشو، نو هغي رضی الله تعالی عنها چې ولیده چې د عثمان میرمن په ډېرو ساده جامو کې ده او ځان يې جوړ کړی او سینګار کړی نه دی، نو حضرت عایشه رضی الله عنها ډېره حیرانه شوه او پوښتنه يې تري وکړه: بی بی! ایا عثمان رضی الله عنه چیرته په سفر تللی دی ؟ له دی تعجب نه اندازه ولګوی چې د میړونو ښځو لپاره خپل میړه ته ځان سینګارول څومره غوره کار دی .

یو کرتي یوه صحابیه ښځه د نبی ﷺ په خدمت کې حاضره شوه، د هغي په لاسونو کې د سرو زرو ښګړي وو، نبی ﷺ هغه میرمن د سرو زرو ښګړو په لاس کولو نه منع کړه نو هغي ورته وویل: یا رسول الله ! که ښځه د میړه لپاره ځان سینګار نه کړي نو د هغه له نظره پریووځي [ سنن نسایي ]

## اولاد د روزنی آداب

اولاد د الله جل جلاله انعام وگنی، د هغو په پیدا کیدو خوشحالی وکړی یو بل ته مبارکی ورکړی د خیر او برکت په دعاگانو ورته ښه راغلاست ووایی او د الله جل جلاله شکر ادا کړی، چې هغه تاسې ته د خپل یوه بنده د روزنی توفیق در کړ او دا وخت یې در کړ چې تاسې له ځانه وروسته د خپل دین دنیا جانشین پریږدی.

که اولاد مو نه وی له الله جل جلاله د صالح اولاد لپاره دعا وکړی، لکه څنگه چې د الله جل جلاله پیغمبر حضرت زکریا علیه السلام د صالح اولاد لپاره دعا کړی وه:

رَبِّ هَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً إِنَّكَ سَمِيعُ الدُّعَاءِ [ال عمران: ۳۸]

(زما پالونکیه! ته له خپله لوری ماته پاک اولاد راکړه، بی شکه ته دعا اوریدونکی یی).

د اولاد په پیدا کیدو هیڅکله زړه مه تنگوی، د اقتصادی کمزوری، د ناروغتیا او یا د کوم بل لامله د اولاد په پیدا کیدو خفگان مه کوی او یا یی د ځان لپاره د مصیبت گڼلو نه په کلکه ځان وژغوری.

اولاد هیڅکله ضایع نه کړی، له پیدا کیدو نه د مخه یا له پیدا کیدو نه وروسته اولاد ضایع کول بد ترین سخت زړیتوب، بی حده ظلم او بی اندازی بی زړه توب او د دواړو جهانو تباهی ده، الهی فرمان دی:

قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ (هغه کسان په بی اندازی زیان کی دی چا چې خپل اولاد په ناپوهی کې د خپل حماقت له امله وواژه).

او الله جل جلاله د بشری لنډ نظری په زړه پوری ځواب کړی او په کلکه یی د دی کار ممانعت کړی دی، چې خپل اولاد مه وژنی:

وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيرًا (او خپل اولاد د فقر او ولږی له ویری مه وژنی، مونږ به هغوي ته هم

روزی ورکوو او تاسی ته یې هم در کوو، رښتیا دا ده چې د اولاد وژل ډېره لویه گناه ده ).

یو صحابی پوښتنه وکړه یا رسول الله تر ټولو لویه گناه کومه ده؟ وی فرمایل: شرک، پوښتنه یې وکړه له شرک نه وروسته، وی فرمایل: د مور او پلار نافرمانی، بیا یې پوښتنه وکړه له دی نه وروسته، وی فرمایل چې ته خپل اولاد د دی ویری نه ووژنی چې هغه به یی ستا سره خوری.

۴ د ولادت پر وخت له زیږوونکی میرمن سره آیت الکرسی او د اعرافٔ، سوره دوه وروستی ایتونه تلاوت کړی او هم د سوره فلق او الناس سورتونه تلاوت کړی او پری دم یې کړی ایت الکرسی: اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ () لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لَا انْفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ( له الله جل جلاله ، هغه ژوندي ابدي ذات نه پرته چې ټول کائنات یې تنظیم کړیدي بل هېڅ خدای جل جلاله نشته - هغه نه ویده کېږي او نه پریشاني پرې راځي- په ځمکي او اسمانونو کې چې هرڅه دي د هغه دي - څوک دی چې د هغه په وړاندې د هغه له اجازې پرته سپارښت وکړای شي؟ څه چې د بندگانو په وړاندې دي پر هغو هم خبر دی او څه چې له هغو نه پټ دي پر هغو هم خبر دی او د هغه له معلوماتو نه هېڅ شی د هغو په ادراک کښې نشي ایساریدای مگر دا چې د کوم شي علم ورکول هغه په خپله وغواړي - د هغه حکومت پر اسمانونو او ځمکه خور شویدی او د دغو ساتنه د هغه له پاره کوم ستومانوونکی کار ندی یوازې هاغه یو لوی او لوړ ذات دی ).

د دین په چارو کښې څه زور او مجبوروول نشته- سمه خبره له غلطو مفکورو څخه جدا کړای شوېده - اوس چې څوک له کوم طاغوت نه منکر شي او په

الله جل جلاله ايمان راوړي هغه يوه داسې کلکه اسره ونيوله، چې هېڅکله ماتېدونکې نده، او الله جل جلاله (چې هغه خپله اسره نيولې) د هر څه اورېدونکی او په هرڅه پوهېدونکی دی ]

د اعراف سوره دوه ايتونه : إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَ النُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ () ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ ( رښتيا دا ده چې همدا الله جل جلاله ستاسې پروردګار دی، چا چې ځمکه او آسمانونه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړل، بيا د خپل حکومت پر تخت وخليد، همدی شپه پر ورځې پوښي او بيا ورځ د شپې پسې په منډو راځي، همدی ( الله ) سپوږمی او ستوری پيدا کړی دی، چې د هغه په حکم کار کوی، واوری! د همدی ( الله ) کار دی پيدا کول او د همدی ( الله ) حق دی حکم کول نو ډومره د برکت څښتن دی الله جل جلاله د ټولو جهانونو څښتن او پالونکیٔ خپل پالونکی رابولی په پټه او زاری سره، بيشکه چې ( الله ) له حده تيری کوونکی نه خوښوی ) .

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ( ١ )مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ()وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ() وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ()وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ() ( ووايه زه پناه غواړم د سباوون په رب ، د هر هغه څه له شر څخه چې هغه پيدا کړيدی او د شپې د تږمې له شر څخه چې کله هغه خوره شي ، او په غوټو کې د پوکوونکو ( نارينه وٚ يا ښځو ) له شر څخه او د رخه ناک له شر څخه چې کله هغه رخه وکړی ) .

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ()مَلِكِ النَّاسِ()إِلَهِ النَّاسِ()مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ()الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ()مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ( ووايه زه پناه وروړم د انسانانو رب ، د انسانانو باچا ، د انسانانو حقيقی معبود ته د هغه وسوسه اچوونکی له شر څخه چي په وارو وارو راځي ، هغه چې د خلکو په زړونو کې وسوسې اچوي ، که هغه له پېريانو څخه وي که له انسانوانو څخه ) .

⬅ له زیږیدو وروسته کوچنی ولمبوی په ښی غوږ کې آذان او په کیڼ غوږ کې یې اقامت وواياست، کله چې حضرت حسین رضی الله عنه وزیږید، نو نبی صلی الله علیه وسلم د هغه په غوږونو کې آذان او اقامت ووایه [طبرانی].

او نبی صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلی دی چې که د چا کره اولاد وزیږید او په ښی غوږ کې یې ورته آذان او په کیڼ غوږ هغه کې اقامت ووایه، نو هغه کوچنی به له ام الصبیان (مرگو) نه په امان وی [ابو یعلی بن سنی]

له پیدا کیدو سره د کوچنی غوږونو ته د الله جل جلاله او رسول په نوم رسولو کې ستر حکمت دی علامه حافظ ابن قیم پخپل کتاب تحفه الودود کې لیکی: د دی مطلب دا دی چې د انسان غوږونو ته تر ټولو لومړی د الله جل جلاله د عظمت او کبریایی آواز ورسیږی، او پر کومه گواهی چې په شعوری ډول په اسلام کې داخلیږی، د هغی تلقین ورته د زیږیدو په ورځ وکړای شی، لکه څنگه د مرگ پر وخت ورته د توحید کلمی تلقین کیږی، د آذان او اقامت دویمه گټه دا هم ده چې شیطان چې په مرچل کې ناست وی او غواړي چې له زیږیدو سره سم انسان په ازمیښت کې ککړ کړی، د آذان له اوریدو سره تښتی او د شیطان له بلنی د مخه کوچنی ته د اسلام او الهی بنده گی بلنه ورکول کیږی.

⬅ له آذان او اقامت وروسته په کوم نیک سړی یا نیکه ښځه خرما وژوی او د کوچنی له تالو سره یې ولگوی او د خیر او برکت دعا ورته وکړی، حضرت اسماء رضی الله عنها فرمایی چې حضرت زبیر ﷺ چې کله وزیږید نو ما هغه د نبی صلی الله علیه وسلم په غیږ کې ورکړ، هغه خرما را وغوښتی او وی ژولی او مبارکی لاړی یې د عبدالله بن زبیر په تالو پوری کړی او خرما یې په خوله کې ورکړه او د خیر او برکت دعا یی ورته وفرمایله د حضرت عایشه رضی الله عنها وینا ده چې نبی ﷺ ته به کوچنیان راوړل کیدل، هغه به یی تحنیک (ژول شوی خرما وی په خوله کې ورکول) کاوه او د خیر او برکت دعا به یې ورته فرمایله [صحیح مسلم]

د حضرت امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه کره کوچنی وزیږید نو هغه یی د تحنیک لپاره د مکی معظمی خرما وی راوغوښتی چې د هغه په کور کې موجودی وی او له یوی نیکی بی بی ( ام علی ) نه یی د تحنیک لپاره غوښتنه وکړه ۰

ﺻ د اولاد لپاره ښه نومونه وټاکی چې یا د پیغمبرانو په نامه وی او د الله جل جلاله د کوم اسم یا صفت د مخه د عبد لاحقه ( مختاړی ) راوړی، لکه عبدالله او عبدالرحمن او نور.

د رسول اکرم ﷺ لارښوونه ده د قیامت په ورځ بـه تاسې ته په خپل خپلو نومونو غږ کیږی، نو ځکه ښه ښه نومونه کیږدی [ سنن ابو داود ]

او د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه دا هم ده چې د الله جل جلاله ستاسې په نومونو کې عبدالله او عبدالرحمن تر ټولو خوښ دی او هغه دا هم فرمایلی چې د پیغمبرانو په نومونو نوم کیږدی .

او په صحیح بخاری کې دی چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی زما په نامه نومونه کیږدی، زما پر ( کنیت ) یی مه ږدی .

ﺻ که کله مو په ناخبرتیا کې غلط نوم ایښی وی نو هغه بدل کړی او ښه نوم کیږدی، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به غلط نومونه بدلول، د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د یوی لور نوم ( عاصیه ) وه هغه بدل کړ او جمیله نوم یې پری کیښود [ صحیح مسلم ]

حضرت زینب د حضرت ابو سلمه رضوان الله علیهم اجمعین لور ده، د هغې نوم ( بره ) وُ، د بره معنی پاکباز ده، نبی صلی الله علیه وسلم چې واورید نو وی فرمایل ، پخپله ځانته پاکبازه وایی، خلکو ورته وویل نو بیا څه نوم کیږدی، هغه وفرمایل زینب نوم کیږده [ سنن ابو داود ]

ﺻ په اوومه ورځ عقیقه وکړی د هلک له لوری دوه ګډوری ( څیرلی ) او نجلی له لوری یو ګډوری حلال کړی، خو د هلک په زیږیدو سره دوه ګډوری حلالول ضروری دی، یو هم کولای شی، او د کوچنی ویښتان کل کړی او له وزن سره سم یې سره یا سپین زر خیرات کړی .

د نبی صلی الله علیه وسلم لاربنوونه ده: په اوومه ورځ د ماشوم لپاره نوم وټاکی او د هغه ویښتان وخریی او د هغه له لوری عقیقه وکړی، د عقیقی دعا به وروسته راشی [ جامع ترمذی ]

په اوومه ورځ ختنه ( سنت ) هم وکړی خو که د څه لامله یی ونه کړی نو د اوو کلونو په عمر کې دننه دننه یې خامخا سنت کړی، ختنه ( سنت ) اسلامی شعار دی .

کله چې کوچنی په خبرو پیل کوی تر ټولو لومړی ورته "لَا اِلٰهَ اِلَّا الله" زده کړی .

د نبی صلی الله علیه وسلم لاربنوونه ده: کله چې ستاسی اولاد په خبرو پیل کوی نو لومړی ورته ( لَا اِلٰهَ اِلَّا الله ) زده کړی، بیا پرواه مه کوی چې کله مری او چې کله یی د شپږو غاښوونه وغورزی نو د لمانځه حکم ورته وکړی [ ابن سنی ]

او په حدیث کې دا هم دی چې د حضور صلی الله علیه وسلم په کورنی کې به د چا ژبه په خبرو خلاصیده نو هغه به ورته د الفرقان سوره دویم ایت زدکاوه چې د توحید مکمله زده کړه پکی په ډېره ښه توګه راټوله کړای شوی ده .

الَّذِي لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُنْ لَهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا ( هغه الله جل جلاله چې د اسمانونو او ځمکی د پادشاهی څښتن دی چې نه یی څوک په زوی ولی نیولی، په پادشاهی کې ورسره هیڅوک شریک نشته، هغه هر څیز پیدا کړ او بیا یی د هغو هر یو لپاره خپله اندازه وټاکله ) .

اولاد ته خپل شیده هم ورکړی پر مور باندی د اولاد شیدی، حق دی، قران اولاد ته د همدی احسان په وریادولو له مور سره په بی اندازی ښه رویه کولو ټینګار کړی دی، د مور فرض او مسئوولیت دا دی چې هغه خپل اولاد ته ذ شیدو ورکولو سره سره د توحید درس، د رسول الله ﷺ عشق او د دین محبت هم ور زده کړی، او دغه ډول محبت د هغه په زړه او روح کې د ځای کولو کوښښ وکړی، د پالنی مسئوولیت پر بوډی خدمتګاره مه باوری

او خپل پیتی مه سپکوی، بلکې دا خوندوره دینی فریضه پخپله تر سره کړي او روحانی سکون او آرام حاصل کړي.

د کوچنیانو له ویرولو ځانونه وژغوري د کوچنی والی دا ویره تر پای پوری په دماغ حاکمه وی او داسې کوچنیان په عمومی توګه په ژوندانه کې د کومی ستری کارنامې د سر ته رسولو ور نه پاتی کیږي.

د اولاد پر خبره له د ګلو (رټلو) او اوله بدو ردو ویلو نه ځان په کلکه وژغوري او د هغوي له غلطیو نه د نهیلی کیدو په ځای او د کرکی ښکاره کولو په ځای له پوهی او حکمت سره هغوي ته د روزنی او ښوونی کوښښ وکړي او د خپلو کړو په وسیله د کوچنیانو په ذهن دا ویره په هر حال کې غالبه وساتی چې د هغوي کوم وران او د شرعی خلاف کار به تاسې هیڅکله ونه زغمی.

تل اولاد سره د مهربانی، شفقت او مینی او نرمی رویه وکړي او د خپل توان په اندازه د هغوي اړتیاوی پوره کړي او خوشحاله یې وساتی او د مننی او اطاعت ولولی یې ژوندی وساتی.

یو ځلی حضرت معاویه رضی الله عنه له احنف بن قیس رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه وواېه چې د اولاد په باب باید څه ډول روي وکړای شی، احنف بن قیس وویل: امیر المؤمنین! اولاد زمونږ د زړونو میوه ده، د ملاتیر دی، زمونږ حیثیت د هغوي لپاره د ځمکی په څیر دی چې خورا نرم او بی ضرره دی او زمونږ شته د هغوي لپاره د سیوری لرونکی آسمان په څیر دی او مونږ د هغوي په وسیله د سترو سترو کارونو، سر ته رسولو همت کوو، نو که هغوي له تاسې نه څه وغواړي نو ورېی کړي، او که کله خفه وی نو د لاسه یې کړي، په نتیجه کې به یې هغوي له تاسې سره مینه کوی او ستاسې پلرنی کوښښونه به خوښوی او هیڅکله د هغوي لپاره له توانه بیرون بار مه جوړیږي، چې هغوي ستاسې په ژوندانه ستړی شی او ستاسې د مرګ غوښتونکی وی، تاسې ته له نږدې راتګ نه کرکه وکړي.

حضرت معاویه رضی الله عنه چې دا حکیمانه خبری واوریدی ډېر متاثر شو او وی فرمایل: احنف! پر الله جل جلاله سوګند کوم وخت چې ته ماته

راغلي او کيناستی، زه د يزيد پر خلاف ډېر په غوسه وم، بيا چې کله احنف بن قيس ولاړ نو د حضرت معاويه غوسه سړه شوه او له يزيد نه راضي شو او هماغه وخت يې يزيد ته دوه سوه درهمه او دوه سوه جوړې جامې ورولېږلې، يزيد ته چې کله دا سوغاتونه ورسيدل، نو يزيد هغه دوه ځايه برابر وويشل او سل درهمه او سل جوړې جامې يې د احنف بن قيس په خدمت کې ولېږلې.

۞ د کوچنيانو پر سرونو په مهربانۍ لاسونه راکاږئ، په غيږ کې يې اخلئ مينه ورسره کوئ او له هغوي سره د خوش طبعي چلن کوئ، تل بدخويه او حاکمان کېږئ مه، د دغه ډول کړو وړو سره د کوچنيانو په زړونو کې د مور او پلار د مينې ولولې نه پيدا کيږي او په هغوي کې پر ځان باور هم نه پيدا کيږي او د هغوي پر فطري وده هم ښه اغيز نه پريباسي.

اقرع ابن حابس د نبی صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو دا مهال حضور اکرم صلی الله عليه وسلم له حضرت حسن رضی الله عنه سره مينه کوله، اقرع چې وليده حيران شو او وی ويل يا رسول الله تاسی هم له کوچنيانو سره مينه کوی، زما خو لس زامن دی مګر ما خو هيڅکله له يوه سره هم مينه نه ده کړې نبی صلی الله عليه وسلم د هغه په لوری وکتل او ويې فرمايل: چې الله جل جلاله ستا له زړه نه رحمت او مهربانی ايستلې دی نو زه څه کولای شم.

د حضرت عمر فاروق ﷺ په زمانه کې حضرت عامر ﷺ د کومې سترې عهدې څښتن و، يوه ورځ د حضرت عمر ﷺ د ليدو لپاره د هغه کورته ورغی ګوری چې حضرت عمر ﷺ پروت دی او اولادونه يې پر سينه ناست دی لوبې کوی، د حضرت عامر ﷺ دا خبره خوښه نه شوه، امير المؤمنين يې د تندی له ترش والي وپوهيده او له حضرت عامر ﷺ نه يې وپوښتل وواياست ستاسې له کوچنيانو سره څه چلن وی؟

عامر ته وخت په لاس ورغی وی ويل امير المومنين ! کله چې زه کورته ننوزم، نو د کور پر خلکو سکوت جاری کيږي او هر څوک پخپل ځای چوپ چاپ پاتې شي، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په ډېر درد او سوز

ورته وویل: عامره! ته په محمدي امت کې له داخلیدو سره سره پردې نه پوهیږې چې مسلمان باید د خپل کور له خلکو سره څه ډول چلن وکړي؟

د اولاد پاک ساتلو او ښوونې او روزنې په ګانه د ښکلې کولو لپاره خپل ټول کوښښونه وکړي او په دې لاره کې هيڅ ډول قرباني ونه سپموي، دا ستاسې مسئووليت هم دی او له اولاد سره ستر احسان هم، او د خپل ځان سره تر ټولو ستره ښیګنه هم، قران عظيم فرمايي: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا ( مؤمنانو! خپل ځانونه او خپل کور او اولاد دوزخ له اوره بچ کړی )، د جهنم له اور نه د ساتل کيدو يوازينى لاره دا ده چې سړی د دين په ضروري زده کړه سمبال وی او ژوندون يې د الله جل جلاله او رسول الله صلى الله عليه وسلم په اطاعت او فرمانبرداری کې تيريږي ) .

د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: پلار چې اولاد ته څه ورکولای شی په هغو کې تر ټولو غوره ورکړه د اولاد ښه تعليم دی [ مشکوه ] .

او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا هم فرمايلي چې کله انسان مړ کيږی نو د هغه اعمال پای ته رسيږي، خو درې ډوله کارونه داسې دي چې د هغې اجر او ثواب له مړينې وروسته هم ورکول کيږي، يو دا چې جاری خيرات يې کړی وي، دويم دا چې داسې علم تری پاتی وی چې خلک تری ګټه واخلي، دريم صالح اولاد چې د پلار لپاره دعا کوي [ صحيح مسلم ]

په اصل کې صالح اولاد ستاسې نه وروسته ستاسې د اخلاقي روایاتو، ديني زده کړو د توحيد د پيغام د ژوندی ساتلو وسيله ده، او مؤمن د نيک اولاد هيله ځکه کوی، چې تر هغه وروسته د هغه پيغام ژوندی پاتی شی .

کوچنيان مو چې کله اوه کلن شی نو لمونځ ورته زده کړی او د لمانځه ادا کول ور وښايي او له ځان سر يې جومات ته بوزی چې مينه يې پيدا شی او چې کله د لسو کلو شی او لمونځ تری قضا کيږی نو مناسبه سزا هم ورکړی او د خپلې وينا او عمل په وسيله ورته ښکاره کړی، چې د لمانځه قضا کول يې تاسې زغملای نه شی .

کله مو چې اولاد لس کلن شي د هر یوه بستره جدا جدا کړی او بیل بیل یې ویده کړی، د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: اولاد ته په اووه کلنی کې لمونځ وښایاست په لس کلنی کې د لمانځه په نه کولو سزا ورکړی او په همدی عمر کې د هغه بستره بیله کړی .

کوچنیان تل پاک او سپیځلی ساتی، د هغوي د پاکوالی سپیځلتیا او لمبولو خیال ساتی، جامی یې پاکې ساتی، هو! له ډېر ښکلی ساتلو یې ځان وساتی، د نجونو جامی هم ډېری ساده جوړی کړی، په پرکنده جامو د کوچنیانو خویونه مه خرابوی .

د نورو په مخ کې د کوچنیانو عیبونه مه بیانوی او د چا په وړاندی یې مه شرموی او د هغوي عزت او پرتم ته له ضرر رسولو هم ځانونه وژغوری .

د کوچنیانو په وړاندی هیڅکله د هغوي له اصلاح نهیلی ( نا امیدی ) مه ښکاره کوی، بلکې د هغو د همت د زیاتوالی لپاره د هغوي لږ شان ښه والی هم په واز کومی وستایی، تل په هغوي کې د جرائت، پر ځان باور او حوصلی پیدا کولو کوښښ وکړی چې په ژوندنیزو هسکو تیتو کې له هسکو هسک مقام تر لاسه کړای شی .

اولادونو ته د نبیانو تاریخی قصي د صالحانو پیښنی او د صحابه کرام رضی الله تعالی عنهم مجاهدانه پیښنی خامخا واوروی، د روزنی او اخلاقو جوړونی او له دین سره د مینی د پیدا کیدو لپاره دا کار ډېر ضروری وگنی، او له زرونو مسئولیتونو سره سره د دی کار له پاره وخت ورکړی، زیاتره وختونه هغو ته په خواږه آوازه سره قران کریم ولولی او وخت په وخت ورته د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم اغیزمنی خبری هم وکړی او د ژوندانه له لومړیو ورځو د هغوي په زړونو کې د الهی مینی او نبوی عشق د پیدا کولو کوښښ وکړی .

کله کله د کوچنیانو په لاس غریبانو ته څه خواږه یا پیسی او نور شیان هم ورکړی چې په هغوي کې له کوچیتوبه له غریبانو سره د ښی رویی او د سخاوت او خیرات ولوله پیدا شی، او ځینی وختونه داسې حالات هم

برابر کړی، چې د خوراک څښاک شیان خویندی وروڼه پخپلو منځو کې وویشی، چې د یو بل د حقوقو احساس او د انصاف خوی پکی پیدا شی.

د کوچنیانو هر په ځای او بی ځایه ضد پوره نه کړی، بلکې په حکمت او تدبر سره د هغوي د دی عادت پریښوولو کوښښ وکړی، کله کله مناسبه سختی هم وکړی، په بی ځایه نازولتوب یې ضدی او خپلسری نه کړی.

په بد آواز، د خبرو کولو او په زوره زوره له چیغو وهلو نه پخپله هم ځان وساتی او هغوي ته هم لارښوونه وکړی چې، په منځنی آواز سره په نری خبری کوی او پخپلو منځونو کې هم له یو بل سره په زوره خبرو کولو نه ځانونه وساتی.

کوچنیان عادت کړی چې کار پخپل لاس وکړی، په هر کار کې په نوکرانو تکیه ونکړی، د دی سره کوچنیان لټ او بېکاره آموخته کیږی، کوچنیان زیار ګالونکی کار کوونکی او کوښښ کوونکی وروزی.

که د کوچنیانو خپلو منځو کې جګړه پیښه شی د خپل ماشوم بی ځایه ملاتړ ونه کړی، د دی خبری خیال ساتی چې د خپل اولاد لپاره چې ستاسې په سینو کې کوم جذبات دی همدا جذبات د نورو په سینو کې د خپلو اولادونو لپاره دی، تاسې تل د خپلو اولادونو پر ګناهونو نظر ساتی او په هره ناوړه پیښه کې د خپل زوی د سهوو او خطاګانو پته ولګوی او په حکمت او پرله پسی پاملرنی سره یې د لری کولو کوښښ وکړی.

د اولاد تر منځ تل مساوات او برابری قایمه وساتی او په دی لړ کې د بی عدالتی نه په کلکه ځان وژوری، که په فطری ډول مو د کوم اولاد په لور میلان زیات وی نو معذوری ده خو په چلن او راکړه ورکړه کې تل د انصاف او عدالت نه کار اخلی، او هیڅکله هم د کوم یوه سره داسې امتیازی چلن ونه کړی چې نور کوچنیان یې احساس کړی،له دی سره په نورو کوچنیانو که د کمتری احساس، کرکه، نهیلی، او بالاخره بغاوت او سر غړاوی پیدا کیږی، او دا ناوړه جذبات د فطری استعدادونو په پر مختګ کې کلک بندیز او د اخلاقی او روحانی پر مختګ په مخکی زهر قاتل دی.

د حضرت نعمان پلار حضرت بشير رضی الله تعالی عنه خپل زوی له ځان سره کړ او د نبی اکرم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو او وی ويل يا رسول الله! زما سره يو غلام و، هغه ما خپل زوی ته وباښه، نبی صلی الله عليه وسلم تری پوښتنه وکړه ايا تا هر يو زوی ته يو يو غلام ښنلی دی؟ بشير رضی الله عنه وويل نه! نو پيغمبر اکرم ﷺ ورته وويل: دا غلام تری بيرته واخله او وی فرمايل، له الله وويريږه او د خپل اولاد سره د برابری او مساوات رويه کوه، اوس نو حضرت بشير رضی الله تعالی عنه کورته بيرته راغی او له حضرت نعمان رضی الله تعالی عنه نه يې خپل غلام بيرته واخيست، په يو روايت کې داسی دی چې هغه ورته وويل نو بيا ما پرګناه مه ګواه کوه زه د ظلم ګواه کيږم نه.

او په يو بل روايت کې دا دی چې نبی صلی الله عليه وسلم تری پوښتنه وکړه چې ايا ستا خوښه ده چې ټول زامن دی له تاسره ښه رويه وکړی؟ حضرت بشير رضی الله تعالی عنه ورته وويل ولی نه ! نبی صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل بيا داسې کار مه کوه [صحيح بخاری، صحيح مسلم]

☝ تل د کوچنيانو پر وړاندی غوره عملی نمونه وړاندی کړی، ستاسې ژوندون ستاسې د اولاد لپاره چپه خوله استاذی دی، چې کوچنيان هر وخت ورځنی لولی او زده کړه تری کوی، د کوچنيانو پر وړاندی کله په ټوکو کې هم درواغ مه واياست.

حضرت عبدالله بن عامر رضی الله عنه خپله يوه قصه بيانوی چې يوه ورځ نبی ﷺ زمونږ په کور کې تشريف فرما و، زما مور زه راوغوښتم او وی ويل، دلته راشه زه څه شيز درکوم، حضور صلی الله عليه وسلم چې وليدل تری پوښتنه يې وکړه، ته هلک ته څه ورکول غواړی؟ مور می وويل زه ورته خرما ورکول غواړم، هغه زما مور ته وويل، که تا د ورکړی په بهانه دی راوغوښته او له راتګ وروسته دی هيڅ نه ورکولای نو ستا په عمل نامه کې دروغ ليکل کيده [سنن ابو داود]

☝ د نجلی د زيږيدو پر وخت هم همدومره خوشحالی وکړی لکه د هلک د زيږيدو پر وخت يې چې کوی، هلک وی که نجلی دواړه الهی ښښنه ده او

الله ﷻ ښه پوهيږي چې ستاسې لپاره نجلي غوره ده او که هلک، د نجلي په زيږيدو پوزه بروځول، او ځان خفه کول د يوه فرمانبرداري مومن لپاره په هيڅ شان ښه نه دي دا نا شکري هم ده او د عليم او کريم الله جل جلاله سپکاوي هم.

په حديث شريف کې دي چې کله له چا کره نجلي وزيږي، نو الله ﷻ د هغه کره ملائکې ليږي، په ور رسيدو سره ورته وايي، اي د کور خلکو! پرتاسې د سلامتيا وي، هغوي نجلي د خپلو وزرونو په سيوري کې اخلي او پر سر يې لاس راکاږي او وايي دا ناتوانه روح دي، چې له يوه کمزوري بدن نه پيدا شوي دي څوک چې د دي کوچني پالنه کوي، تر قيامته به الهي مرسته د هغه په حال شامله وي [ طبراني ].

☜ د نجونو روزنه او پالنه په خورا خوشحاله زړه، روحاني خوښي او ديني احساس سره وکړي او په بدل کې يې له الله جل جلاله د جنت هيله ولري، د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم لارښوونه ده: کوم سړی چې د دری لوڼو يا دری خويندو پالنه وکړه هغوي ته يې ضروری ښوونه روزنه زده کړه او د مهرباني چلن يې ورسره وکړ، ان تردی چې الله جل جلاله له هغوي بی نيازه کړي، نو د داسې سړي لپاره الله جل جلاله جنت واجب کړ، پر دي خبره يو سړي وويل: که دوه وي، نبي صلی الله عليه وسلم وفرمايل د دوه نجونو د پالنې همدا بدله ده حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي، که خلکو د يوی نجلي په باب پوښتنه کړي وای نبي صلی الله عليه وسلم به همدا زيری ورکاوه [ مشکوة ]

حضرت عايشه رضي الله تعالی عنها فرمايي چې يوه ورځ يوه ښځه د دوه لوڼو سره ماته راغله او څه يې وغوښتل، ما سره يوه خرما وه، ما د هغې په لاس کې کيښوده، هغې ښځې خرما دوه ځايه کړه او نيمه نيمه يې دواړو لوڼو ته ورکړ او پخپله يې ونه خوړه، له دي وروسته هغه پاڅيده او بيرون ووته، همدا وخت نبي صلی الله عليه وسلم کورته راغی، ما هغه ته دا ټوله پيښه واورولە هغه چې واوريده وي ويل، هر څوک چې د نجونو د پيدايښت په وسيله و ازمايل شي او هغه ورسره ښه چلن وکړي او په ازميښت کې

بریالي شي، نو دغه نجونی به د قیامت په ورځ د هغه لپاره د جهنم له اوره (د ساتنی لپاره) ډال شی [مشکوة]

☝ نجلی سپکه مه ګڼی او نه هلک ته پر نجلی لوړاوی ورکړی له دوارو سره یو ډول مینه ښکاره کړی او یو شان چلن ورسره وکړی، د نبی ﷺ لارښوونه‌ده: د چا په کور کې چې نجلې پیدا شوه او د جاهلی دود په څیر یې ژوندی ښخه نه کړه او نه یې سپکه وګڼله او نه یې هلک ته د هغی په مقابل کې لوړاوی ورکړ نو داسې سړی به الله جل جلاله په جنت کې داخل کړی [سنن ابو داود].

☝ په شتمنی او جایداد کې د نجلی برخه په ښه طریقه او پراخه زړه ورکړی دا د الله جل جلاله فرض شوی برخه ده، په دی کې د کمی زیاتی واک هیڅوک نه لری، د نجلی په برخه ورکولو کې حیلی جوړول او یا د خپلی خوښی سره سم څه ورکول او پری مطمئین کیدل د یوه اطاعت کوونکی مؤمن کار نه دی، داسې کول خیانت هم دی او د الله جل جلاله د دین سپکاوی هم.

☝ د دی تولو عملی تدبیرونو سره سره په خورا زړه سوی او د زړه په مینه د اولاد لپاره دعا هم وکړی له رحیم او رحمن الله جل جلاله نه هیله ده چې هغه به د مور او پلار د زړه له تل نه راوتی له سوزه ډکه دعا ضایع نه کړی.

۵

## د دوستۍ آداب

له دوستانو سره مینه وکړی او د دوستانو لپاره د محبت مرکزونه شی هغه سړی بی اندازی نیکمرغه دی چې دوستانو او ملګرو ته ګران وی او ده ته دوستان او ملګری ګران وی .

او هغه څوک ډیر بی برخی دی چې خلک تری بیزاره وی او دی له خلکو تښتی، مفلس هغه نه دی چې دولت ورسره نه وی، بلکې په حقیقت کې مفلس هغه څوک دی چې دوست یې نه وی، دوست د ژوندانه ښکلا ، د ژوندنیز سفر دمه ځای او الهی انعام دی .

دوستان د ځان لپاره ونیسی او د خلکو لپاره دوستان شی، د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده مؤمن له سره تر پښو مینه او محبت دی او په هغه سړی کې له سره کوم خیر او برکت نشته چې نه له نورو سره مینه کوی او نه نور له ده سره مینه کوی ( مشکوه باب الشفقه ) .

قران مجید فرمایی: وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ ( مؤمنان سړی او مؤمنانی ښځی پخپلو منځو کې یو د بل دوستان او معاونان دی ) .

نبی صلی الله علیه وسلم به له خپلو ملګریو سره بی اندازی محبت کاوه او هر یوه به دا احساس کاوه چې نبی صلی الله علیه وسلم ته تر ټولو ګران دی .

حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه وایی چې نبی ﷺ به زما سره دومره په مینه او پاملرنه خبری کولی او دومره خیال به یې ساته چې زما دا خیال شو چې ښایی زه پخپل قوم کې تر ټولو غوره سړی یم، او یوه ورځ ما له نبی صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې یا رسول الله ! زه افضل یم که ابوبکر؟ نبی ﷺ وفرمایل : ابوبکر صدیق افضل دی ، بیا می پوښتنه وکړه زه افضل یم او که عمر رضی الله عنه ؟ وی فرمایل عمر ، ما بیا پوښتنه وکړه یا رسول الله ﷺ زه بهتر یم او که عثمان رضی الله عنه ؟ وی فرمایل : عثمان ، بیا می له نبی اکرم ﷺ نه په وضاحت سره د حقیقت معلومولو پوښتنه وکړه او هغه پرته له مخ روښی خبره سپینه کړه بیا نو زه پخپل دی

حرکت ډېر وشرمیدم او په زړه کې می خیال راغی چې ښه نو ماته د داسې پوښتنې څه اړتیا وه !

له دوستانو سره په تلو راتلو او مینه محبت ژوندون تیر کړی او په اخلاص د اړیکو جوړولو او ساتلو کوښښ وکړی، له دوستانو نه د کرکې ، نفرت او اخیستو را اخیستو رویه پریږدی، کله چې سړی له دوستانو سره په ګډه ژوندون تیروی او په هره چاره کې له هغوي سره شریک وی نو په نتیجه کې یې هغوي ته ډول ډول تکلیفونه رسیږی، کله یې جذباتو ته صدمه رسیږی، کله یې پرتم ته زیان رسیږی، کله یې په آرام کی خلل واقع کیږی، کله یې ورځنی چاری اغیزمنی شی، کله یې د هیلو او غوښتنو پر خلاف څه داسې خبری را منځته کیږی، کله یې صبر او حوصله آزمایل کیږی ، کله ورته مالی زیان رسیږی لنډه دا چې ډول ډول تکلیفونه او ضررونه ورته رسیږی، خو چې کله سړی دا تکالیف زغمی نو په زړه کې یې تری ځلا پیدا کیږی، ښه رویه او غوره اخلاقی یې وده کوی او د روزنی او تزکیی د فطری پوړیو نه په تیریدو می روحانی او خلاقی رویه پر مختګ کوی، په هغه کې صبر او زغم، ایثار او مهربانی، همدردی او خواخوږی ، وفاداری او خوانی، د خیر غوښتنی او مرستی، د اخلاص او محبت ، د سخاوت او زړورتوب، او د ترحم او دوستی لوړ ترین جذبات پیدا کیږی او د بشری ټولنی لپاره سر تر پایه خیر او برکت ګرځی، په هر زړه کې د هغه عزت او ستر توب ولولی وی او هر څوک د هغه شته والی د خپل ځان لپاره د رحمت سیوری ګنی، د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده : هر مسلمان چې د خلکو سره ټولنیز ژوند کوی او د هغوي له لوری رسیدلی تکالیف زغمی هغه له داسې سړی نه څو چنده غوره دی چې له خلکو ځانله او جلا اوسی او د خلکو له لوری په رسیدلو تکالیفو خوا بدی کیږی [ جامع ترمذی ]

تل له نیکو او صالحو خلکو سره دوستانه وکړی، د دوست په ټاکلو کې د دی خبری په ټینګه خیال وساتی چې له کومو کسانو سره چې تاسې د زړه مینه زیاتول غواړي هغوي د دین او اخلاقو له پلوه ستاسې لپاره تر کومی اندازی ګټور کیدای شی او یو مشهور متل دی چې که د چا اخلاقی

حالت معلوموول غواړي نو د هغه د دوستانو اخلاقي حالت معلوم کړه، او د نبي صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده سړی د خپل دوست پر دین وي ځکه هر څوک باید غور وکړي چې له چا سره دوستي کوي. [ مسند احمد، مشکوه ]

د دوست پر دین د کیدلو معنی دا ده چې کله هغه د دوست په مجلس کې کیني نو هماغه ولولې او افکار او هماغه مینه او میلان په ده کې هم پیدا کیږي چې په دوست کې یې دي او د خوښي او نه خوښیدانې هماغه معیار د ده هم کیږي چې په دوست کې یې دي، او د خوښي او نه خوښیدانې هماغه معیار د ده هم کیږي چې د ده د دوست وي، ځکه باید سړی د دوست په ټاکلو کې له خورا غور او فکر نه کار واخلي او د زړه مینه له هغه چا سره زیاتول پکار دي، د چا مینه او میلان او د چا افکار او خیالات او منډې تړي چې د دین او ایمان له غوښتنو سره سمې وي، نبي ﷺ تینګار فرمایلی چې هم له مؤمن سره د مینې اړیکې قایمې کړه او له همده ( مؤمن ) سره خپل خوراک څښاک کوه، د هغه لارښوونه ده: د مؤمن په مجلس کې اوس او ستا پر دسترخوان دې له خدایه ویریدونکي خواړه وخوري، پر یوه دستر خوان ناسته او خوړل، ښښل د قلبي تعلق اصلي محرک دي، او دا اړیکې باید له هغه مؤمن سره وي چې متقي او له خدایه ویریدونکي وي، له خدایه د غافلو بې مسئولیته، بې عمله او بد اخلاقه خلکو لرې اوسی، نبي صلی الله علیه وسلم له ښه او بد دوست سره د اړیکو څرنګوالی په یوه مکمل تمثیل کې داسې بیان کړی دی :

د ښه او خراب دوست مثال د مشک خرڅوونکي او بنې وهونکي آهنګر ( پښ ) په څیر دی، د مشک خرڅوونکي له صحبت نه به یو څه ګټه تا ته ضرور ورسیږي، یا به ترې مشک واخلې او یا به د مشکو بوی حس کړې، خو د آهنګر بنې به دې کور یا جامې وسیزي او یا به دې دماغ ته بد بوی ورسیږي [ صحیح بخاري، صحیح مسلم ]

او په سنن ابو داود کې د حدیث الفاظ داسې دي: د نیک دوست مثال داسې دی لکه د مشک پلورونکي دکان چې که نوره یې هیڅ ګټه نه وي نو خوشبويي خو په یې خامخا در ورسیږي او بد دوست داسې دی لکه د پښ

آهنګر بنی، که اور دی وانه خیست نو په لوګو خو به دی جامی خامخا توری شی.

له دوستانو سره یوازی د الله لپاره مینه وکړی، د الله جل جلاله محبوب بنده ګان هماغه دی چې د الله جل جلاله د دین پر بنسټ یو تر بله سره جوړیږی او له اوړی سره اوږه او له زړه سره د زړه په یو ځای کولو داسې د الله جل جلاله د دین د لوړاوی او ساتنی فریضه سر ته رسوی چې د یوه مستحکم دیوال په څیر ښکاره کیږی، په قرآن مجید کې دی:

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَرْصُوصٌ ( په حقیقت کې د الله جل جلاله محبوب هغه څوک دی چې د هغه جل جلاله په لاره کې داسې په کلکه جنګیږی ته به وایی چې یو مستحکم دیوال دی ).

او د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده : د قیامت په ورځ به الله جل جلاله فرمایی چې هغه خلک چیری دی چې یوازی زما لپاره یې له خلکو سره محبت کاوه، نن به زه هغوي ته پخپل سیوری کې ځای ورکوم [ صحیح مسلم]

او د قیامت په ورځ به داسې خلک چې د بی اندازی شان او پرتم څښتنان وی د هغوي د یادونی په لړ کې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایی : د الله جل جلاله بنده ګانو کې څو ( داسې نیکبختان ) دی چې نبیان او شهیدان خو نه دی خو د قیامت په ورځ به یې الله جل جلاله پر داسې مرتبو سر لوړی کړی چې انبیا او شهیدان به هم د هغوي په مرتبو رخه کوی ، صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم پوښتنه وکړه دا به کوم نیکمرغه وی یا رسول الله ! لارښوونه وشوه: دا به هغه خلک وی چې پخپلو منځو کې یې یو تر بله سره یوازی د الله جل جلاله د دین پر بنیاد مینه کوله، نه دوی پخپلو کې سره خپلوان وو او نه د دوی تر منځ د کومی مالی راکړی ورکړی اړیکی وی، پر الله سوګند چې د قیامت په ورځ به د دوی څیری له نوره ځلیږی، بلکې سر تر پښو به نور وی او کله چې به ټول خلک د الله جل جلاله له ویری لړزیږی نو له دوی سره به هیڅ ویره نه وی او چې کله چې به ټول خلک په غم اخته وی، دا مهال به دوی هیڅ ډول غمجن نه وی او

هغه د قرآن مجید دا آیت تلاوت کړ: أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ [یونس]

[خبر اوسی! له الله جل جلاله سره مینه کوونکیو لپاره به د هیڅ خبری ویره نه وی او نه (به ورسره د تیر شوی ژوندانه په باب) څه ډول غم وی].

د حضرت ابو الدردا رضی الله عنه وینا ده چې نبی ﷺ فرمایلی دی: د قیامت په ورځ به یو شمیر خلک له خپلو قبرونو راوځی او د هغوي څیری به له نوره ځلیږی، هغوي به د مرغلرو په ممبرونو کینول شی، خلک به د هغوي پر پرتم او شان رخه کوی دا خلک به نه نبیان وی او نه شهیدان یو غرنی سړی پوښتنه وکړه یا رسول الله! دا کوم خلک دی مونږ ته یې راوپیژنی، وی فرمایل: دا هغه خلک دی چې پخپلو منځو کې د الله ﷻ لپاره مینه او محبت کوی [طبرانی].

له نیکانو خلکو سره محبت په اخرت کې د خلاصون او د الله ﷻ د خوشحالی وسیله وګنی او الله جل جلاله ته دعا وکړی، چې الله د نیکانو خلکو مینه راکړی او په نیکانو کې می شامل کړی، حضرت عبدالله بن مسعود بیانوی چې یو سړی د نبی صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شو او ویلی یې یا رسول الله! یو سړی له کوم نیک سړی سره د هغه د نیکی پر اساس مینه کوی، خو پخپله له کوم نیک سړی سره د هغه د نیکی پر اساس مینه کوی خو پخپله د هغه سړی په څیر ښه اعمال نه کوی، هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هیڅ ګرانه خبره نه ده دغه، سړی به د قیامت په ورځ له هماغه چا سره وی له چا سره چې مینه کوی [صحیح بخاری]

یوه شپه نبی صلی الله علیه وسلم الهی دیدار وکړ، الله جل جلاله ورته وفرمایل وغواړه، نو نبی صلی الله علیه وسلم دا دعا وغوښته: اللهم انی اسئلک فعل الخیرات وترک المنکرات وحب المساکین وان تغفرلی وترحمنی واذا اردت فتنه فی قوم فتوفنی غیر مفتون و اسئلک حبک وحب من یحبک وحب عمل یقر بنی الی حبک [مسند احمد]

[ خدایا! زه له تانه د نیکو کارونو توفیق غواړم او له بدو کارونو د بچیدو توان غواړم او د مسکینانو مینه غواړم او دا چې ته ماته ببښنه وکړې او په ما رحم وکړې او چې کله ته څوک په عذاب اخته کول غواړې نو ماته داسې حال کې د فتنې نه په امن کې مرګ راکړه، چې زه تری محفوظ یم، او زه له تانه ستا سره د مینې سوال کوم او هغه چا د مینې سوال کوم چې تا سره مینه کوی او د هغه عمل توفیق غواړم چې ستا د نږدیوالي وسیله وی ] .

حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه وایی چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: الهی لاربښوونه ده: پر ما واجب دی چې زه له هغو خلکو سره مینه وکړم کوم خلک چې زما په خاطر په خپلو منځو کې مینه او دوستی کوی او زما د یادولو لپاره یو ځای ته راټولیږی او زما د محبت له امله یو د بل سره خبری اتری کوی او زما د خوښی غوښتنی لپاه له یو بل سره ښه چلن کوی [ مسند احمد - جامع ترمذی ]

نبی صلی الله علیه وسلم د دوه دوستانو د ملاقات ایمان روښانه کوونکی نقشه داسې کاږی او فرمایی: یو سړی د خپل دوست د لیدو لپاره چې په بل کلی کې و ولاړو الله جل جلاله ورته په لاره کې یوه ملائکه کینوله، ملایکی تری پوښتنه وکړه کوم ځای ته دی اراده ده ؟ هغه ځواب ورکړ په دی کلی کې د خپل ورور د ملاقات لپاره ځم ، ملائکی ورته وویل : آیا په هغه باندی ستا څه حق شته چې د غوښتلو لپاره ه لته ورځې؟ هغه ورته وویل : نه ! د دی مقصد لپاره د هغه کره ځم چې له هغه سره د الله جل جلاله لپاره مینه کوم ، ملائکی ورته وویل نو واوره ! زه الله جل جلاله تاته رالیږلی یم او دا زیری یې راکړی دی، چې هغه هم تا سره داسې محبت کوی لکه څنګه چې ته د هغه په خاطر له خپل دوست سره مینه کوی [ صحیح مسلم ]

۞ دوستی له داسې خلکو سره وکړی چې د اسلام له نظره د دوستی لایق وی او بیا د ژوند تر پایه ورسره دوستی پاللو کوښښ هم وکړی، لکه څنګه چې دا ضروری ده چې د دوستی لپاره دی ښه وګړی وټاکل شی، همدا رنګه دا هم ضروری ده چې د دوستی د پاللو او قایم ساتلو هم کوښښ وکړی .

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لاربنوونه ده چې: د قیامت په ورځ چې به له الهی عرش پرته هیڅیری سیوری نه وی، په دی ورځ به اوه ډوله خلک د الهی عرش د سیوری لاندی وی، په هغو کې یو ډول یې هغه دوه کسان وی چې خاص د الله جل جلاله لپاره یو د بل دوستان وی، د الله محبت سره یو ځای کړی وی او پر همدی اساس یو تر بله سره جدا کیږی یعنی د هغوی دوستی د الله جل جلاله په خاطر وی او په ټول ژوندانه کې د دغه دوستی د قایم ساتلو او پاللو کوښښ کوی، او چې کله له هغوی نه یو جدا کیږی او د اخرت په لور رخصتیږی نو په داسې حال چې د هغوی دوستی قایمه وی یو تر بله سره جدا کیږی.

پر دوستانو باور وکړی، د هغوی په منځ کې تر او تازه اوسی، له غمجن اوسیدلو او د دوستانو له غمولو ځان وژغوری، د دوستانو په مجلس کې بی تکلفه اوښه خویه اوسی له غوسی کولو او سوټ بوټ کیناستلو ځان وساتی، له دوستانو سره د یوه ښه ملګری، ښه خویه هم مجلسی او ښه مزاجی ملګری جوړیدو کوښښ وکړی، ستاسې له مجلس نه باید د دوستانو زړونه ماړه نه شی، بلکې خوښی او تازه ګی احساس کړی.

حضرت عبدالله بن حارث رضی الله تعالی عنه فرمایی: چې د نبی ﷺ په مجلس کې له سل کرتی زیات ناست یم، په دی مجلسونو کې به صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم شعرونه هم ویل او د جاهلیت د زمانی قصی او داستانونه به یې هم اورول، نبی صلی الله علیه وسلم به په خاموشی سره ټولی اوریدلی، بلکې کله کله به پخپله هم په خندا کې ورسره شریکیده [ جامع ترمذی ]

حضرت شرید رضی الله عنه وایی چې زه یو ځلی له نبی اکرم سره پر سورلی شاته ناست وم همداسی د سپرلی په شا می هغه ته د امیه بن الصلت سل شعروه واورول پر هر شعر به هغه وفرمایل یو څه نور واوروه یو څه نور واوروه او ما به اورول [ جامع ترمذی ]

همدا ډول به نبی علیه السلام په خپل مجلس کې پخپله کله کله قسی اورولی، حضرت عایشه رضی الله عنها وایی چې یو کرتی هغه د کور خلکو

ته یوه قصه واوروله یوی ښځی وویل دا عجیبه او غریبه قصه خو بالکل د خرافه د قصو په څیر ده، نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د خرافه صحیح قصه هم راته معلومه ده او بیا یې پخپله د خرافه اصلی قصه په تفصیل سره واوروله، همدا ډول یې یوه ورځ حضرت عایشه رضی الله عنها ته د یوولسو ښځو یوه ډېره په زړه پوری قصه واوروله .

حضرت بکر بن عبدالله د صحابه کرامو د ښه خویی او خوش طبعی د حال بیانولو په لړ کې فرمایي: صحابه کرامو به د ټوکو او تفریح په توګه د یوه بل لوری ته د هندوانی پوټکی ورګذارول چې کله به د جنګیدلو او دفاع کولو وخت راته، نو د دغه ډګر شهسواران هم وو [ الادب المفرد ]

حضرت محمد بن زیاد رحمه الله علیه فرمایي: ما سلف صالحین لیدلی چې د هغوي څو څو کورنۍ به په یوه حویلی کې اوسیدلی، ډېر ځلی داسې شوی دی، چې له هغوي نه به د یوه میلمه راغی او د کوم کاله په نغری به دیګ باندی وُ نو د میلمه خاوند به له نغری دیګ را کوز کړ او میلمه ته به یې راوړ بیا به د دیګ خاوند خپل دیګ لټاوه او له خلکو به یې پوښتل زمونږ دیګ چایووړ؟ هغه د میلمه خاوند به ورته وویل چې دروره د خپل میلمه لپاره مونږ وړی و، دا وخت به د دیګ خاوند ویل: الله جل جلاله دی ستاسې لپاره برکتی کړی، او محمد بن زیاد رحمه الله علیه فرمایي، چې هغوي ( تیرو نیکانو ) به چې کله خوراک پخوله هم همدا حال بـه یې و [ الادب المفرد ]

د حضرت علی کرم الله وجهه وینا ده زړه آزاد هم پرېږده او خوشحالونکی نکتی هم زده کوه، ځکه چې زړه هم د بدن په څیر ستړی کیږی .

تند مزاجه او مرزړی مه اوسی، ښه خویه او تر تازه اوسی خو د دی خبری احتیاط خامخا وکړی چې ستاسې ټوکی ټکالی او ظرافت له حده زیات نه شی .

له خوش مزاجی او تفریح سره سره د دینی وقار، پرتمم او غیرت او د توان او اعتدال هم خیال ساتی.

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم صحابی حضرت عبدالرحمن فرمایی چې: د نبی صلی الله علیه وسلم صحابه نه بد خویه وو او نه یې د مړیو په

ځير حرکت ( مزل ) کاوه، هغوي به پخپلو غونډو کې شعر و شاعري کوله او د جاهليت د زماني کيسي او داستانونه به يې هم اورول، خو چې کله به په کومه معامله کې د حق پر خلاف د کومي خبري غوښتنه وه، نو د هغوي په سترګو کې به له قهره اوښکي داسې رغړيدي، لکه د ليونتوب حالت چې پري راغلي وي [ الادب المفرد ]

مشهور محدث حضرت سفيان بن عيينه رحمه الله عليه ته چا وويل چې ټوکي هم يو آفت دی، هغه ځواب ورکړ نه بلکې سنت دی، خو د هغه چا لپاره چې ځای يې پيژني او ښی ټوکي کولای شي [ شرح شمايل جامع ترمذی ]

تاسې چې له چا سره مينه کوی هغه ته خپله مينه خامخا ښکاره کړی، د دی سيکالوژستکی " روحی" اغيز به دا وی چې هغه به هم د نږديوالی احساس وکړی او له دواړو لوريو به د مينی په زياتوالی کې بی اندازی اضافه وشی، او بيا به محبت يوازی د زړه حالت نه وی، بلکې غوښتنی به يې په عملی ژوندانه هم اغيز پريباسی، او دارنګی په ځانګړيو چارو کې يو له بله سره په مرسته کولو به د نورو نږدی کيدو وخت په لاس درشی.

د نبی صلی الله عليه وسلم لارښوونه ده: کله چې د چا په زړه کې د خپل ورور لپاره د اخلاص او مينی ولولی وی نو هغه ته پکار دی چې خپل دوست هم له هغو ولولو نه خبر کړی او ورته ووايي چې مينه ورسره کوی [سنن ابو داود ]

يو ځلی د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په مخه کې يو سړی تير شو، يو شمير خلک له نبی اکرم صلی الله عليه وسلم سره ناست وو له هغوي نه يوه وويل: يا رسول الله! زما د دی سړی سره خاص د الله جل جلاله لپاره مينه ده، د دی خبری له اوريدو سره سم رسول اکرم صلی الله عليه وسلم پوښتنه وکړه، تا هغه سړی ته دا خبره کړی ده؟ هغه سړی وويل نه، نو پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل، ولاړ شه او هغه ته ښکاره کړه چې ته ورسره د الله جل جلاله لپاره مينه کوی، هغه سړی په سملاستی ډول پاڅيد او ولاړ هغه سړی ته يې خپلی ولولی ښکاره کړی ، د دی په ځواب کې هغه سړی ورته وويل : ستا سره دی هغه ذات مينه وکړی د چا په خاطر چې ته زما سره مينه کوی [ جامع ترمذی، سنن ابو داود ]

د دوستانه اړیکو د زیاتي محکمتیا او نتیجه ورکولو او دوستانو ته د لانږدي کیدو لپاره ضروري ده چې ته د دوستانو په شخصي او ځانګړیو چارو کې تر معلوم حده دلچسپي واخلې او له هغوي سره د خپل نږدیوالي او خاصو اړیکو ښکارونه وکړې د نبي صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده:

کله چې یو سړی له بل سره د دوستي او ورور ولي اړیکي جوړې کړي نو له هغه نه دې د هغه نوم، د پلار نوم او د کورنۍ حالات معلوم کړي چې په دې سره د خپلمنځي مینې جوړي ټینګیږي [ جامع ترمذی ]

د مینې په ښکاره کولو او د اړیکو په څرنګوالي کې تل له میانه روی نه کار واخلې، مه داسې سړه رویه کوی چې ستاسې مینه او اړیکي شکمنې ښکاره شي او نه د مینې په جوش کې دومره مخکې کیږې چې ستاسې مینه او محبت د لیونتوب شکل غوره کړي، او الله جل جلاله مه کړه چې کوم وخت تاسې پیښمان شې، د توازن او اعتدال خیال تل ساتې او پخپل طبعیت داسې برابر چلن غوره کړې چې تاسې یې پرله پسې وپالاى شې، د حضرت اسلم رضی الله تعالی عنه وینا ده چې حضرت عمر رضی الله عنه فرمایلي: ستاسې مینه دې د لیونتوب شکل غوره نه کړي او ستاسې دښمني دې د شر رسولو لامل ( سبب ) نه کیږي، ما ورته وویل جناب هغه څنګه؟ هغه وفرمایل هغه داسې چې: کله مینه کوی نو د کوچنیانو په څیر طفلانه حرکتونه کوی، او چې کله له چانه خفه کیږې نو د هغه د مال او ځان په تباهي پسې کیږې [ الادب المفرد ]

حضرت عبید کندي رحمه الله علیه فرمایي: ما له حضرت علي رضی الله عنه څخه اوریدلي فرمایل یې: له خپل دوست سره په دوستي کې نرمي او میانه روي اختیار کړې، کیدای شي چې هغه کوم وخت ستاسي دښمن شي ، همدا رنګه له دښمن سره په دښمنۍ کې د نرمي او اعتدال چلن خپل کړې، کیدای شي چې هغه کوم وخت ستاسې دوست شي [ الادب المفرد ]

له دوستانو سره د وفاداري او خیر غوښتني چلن وکړې او دوست سره تر ټولو لویه خیر خواهي دا ده چې د هغه د اخلاقو د لا لوړولو کوښښ وکړې او د هغه د دنیا له جوړولو د اخرت جوړولو ته زیاته پاملرنه وکړې،

نبي عليه السلام فرمايلي: دين سر تر سره خير غوښتنه ده، د خير غوښتنې اصلي معيار دا دی چې تاسې د خپل دوست لپاره هماغه څه خوښ کړی چې د ځان لپاره يې خوښوی، ځکه چې انسان هيڅکله د ځان بدی نه غواړي .

د نبي صلی الله عليه وسلم لارښوونه ده: پر هغه ذات جل جلاله مې دی سوگند وی چې زما روح يې په واک کې دی، يو بنده هم مؤمن کيدای نه شی، تر څو چې د ورور لپاره هماغه څه خوښ نه کړی چې د ځان لپاره يې خوښوی او د يو مسلمان د شپږو حقوقو د يادلو په لړ کې د نبي اکرم ﷺ ارشاد دی چې: د خپل ورور خير غوښتنه وکړی، که هغه غايب وی او که موجود او هغه دا هم فرمايلي: بی شکه الله جل جلاله پر هغه سړی اور واجب کړی دی او جنت يې پرې حرام کړی دی چا چې په سوگند خوړلو د کوم مسلمان حق وخوړ په صحابه وْ کې چا ورځنی وپوښتل که څه هم هغه معمولي شان څيز وی؟ وی فرمايل هو! که څه هم هغه د مسواک د ونی يوه لخته وی .

❀ د دوستانو په درد او غم کې گډون وکړی او همدا ډول د هغوي په خوښيو کې مکمله برخه واخلی، د هغوي په غم کې د گډون پر وخت يې د غم غلطولو کوښښ وکړی ، او په خوشحاليو کې د گډون پر وخت د هغوي د خوشحاليو د زياتوالي کوښښ وکړی هر دوست پخپل ځای له خپلو دوستانو هيله لری چې په مصيبت کې به يې يوازی نه پريږدی او د مصيبت راتگ په شيبو کې به تری نه جدا کيږی، همدا ډول دوست له دوست نه دا هيله هم لری چې دوست يې په خوشحاليو کې زياتوالي وکړی او د ټولنيزو محفلونو ډول او ښکلايی زياته کړی .

د نبي صلی الله عليه وسلم لارښوونه ده: يو مسلمان د بل مسلمان لپاره د عمارت په څير دی چې يو بل ته قوت رسوی او پرې تکيه کوی، لکه څنگه چې د عمارت يوه خښته پر بله تکيه کوی او قوت ورکوی، له دی وروسته هغه د يو لاس گوتی د بل لاس په گوتو کې ورکړی او په دی ډول يې د مسلمانانو خپلمنځی نږديوالي او اړيکی واضح کړی [ صحيح بخاری، صحيح مسلم ]

ﷺ له دوستانو سره په خوشحاله زړه نرم خوی او خوښی او اخلاص سره روغبړ وکړی او په خورا پاملرنه او پراخه تندہ ورته ښه راغلاست ووای، له بی پروایی، بی نیازی او بی مینی توب نه ځان وساتی، دا د زړونو د بیلتانه بدی دی، د ملاقات پر وخت تل د خوښی، ښه باور او د شکر او ستاینی خبری وکړی د نهیلی، غمجنتیا او مړ زړیتوب خبری هیڅکله له خولی ونه باسی، د ملاقات پر وخت ځان داسې کړی چې ستاسې دوست خوښی او تازګی احساس کړی، په هغسی غمجنه څیره ورته سترګی مه شی ورنه کړی چې د هغه زړه مړ شی، او ستاسې ملاقات خپله ګناه وګنی.

د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: په نیکیو کې یوه نیکی هم سپکه مه ګنی، که څه هم هغه دومره وی چې د خپل ورور سره په پراخه تندہ روغبړ وکړی [صحیح مسلم]

او یو بل وخت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د خپل ورور په لیدلو ستاسې موسکا هم خیرات دی [جامع ترمذی]

له نرم خوی، ښو اخلاقو او نرمی نه په زړنو کې مینه او محبت پیدا کیږی او د همدی صفاتو په شته والی ښه ټولنه منځته راځی.

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایی: زه تاسې ته د هغه سړی ښنه ؤایم پر چا چې د جهنم اور حرام دی او څوک چې پر اور حرام دی، دا هغه سړی دی چې نرم مزاجه، نرم طبیعته او نرم خویه وی [جامع ترمذی]

صحابه کرام رضوان الله علیهم اجمعین فرمایی چې: نبی صلی الله علیه وسلم چې به د مخامخ کیدو پر وخت د چا په لور پام شو نو ټول تن مبارک به یې ورته متوجه کیده او چې کله به چا ورسره خبری کولی نو هغه به په پوره توجه سره د هغه خبره اوریده .

یو ځلی هغه په جومات کې ناست و یو سړی راغی نو نبی ﷺ خپل بدن ته حرکت ورکړ او یو څه را ټول شو، هغه سړی وویل یا رسول الله ځای خو پراخه دی، نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د مسلمان دا حق دی چې کله یې ورورووینی نو هغه ورته خپل بدن یو څه راټول کړی [بیهقی]

د مؤمن په پیژندلو کې قران فرمایي: اذله علی المؤمنین [ هغه د مؤمنانو لپاره ډېر نرم خویه وی ]

مومن صابر او نرم زړی وی د هغه اوښ په څیر چې په پوزه کې یې پیزوان وی، که راکاږي یې نو راکښول کیږي او که پر ډبره یې چوکوی نو پرتیږه چو شي. [ جامع ترمذی ]

که کله مو له خپل ملګری سره په څه خبره اختلاف راشي په سملاسی توګه روغه جوړه وکړي د معافی په غوښتلو او پر خپلی ګناه اعتراف کولو کې له ملګری د مخه اوسی .

حضرت ابو الدردا رضی الله عنه وایی چې یو ځلی د حضرت عمر ﷺ او ابوبکر رضوان الله علیهم اجمعین په څه معامله خبری واوښتی، وروسته حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته ډېر افسوس ورغی او ډېر غمجن د رسول اکرم ﷺ په خدمت کې حاضر شو او وی فرمایل: یا رسول الله! زما او د عمر تر منځ په څه اختلاف راغی او ماته غوسه راغله او یو څه سختی خبری رانه وشوی، زه وروسته ډېر وشرمیدم او ماله عمر رضی الله عنه نه معافی وغوښته، خو یا رسول الله ! هغه بخشش کولو ته تیار نه شو، زه خفه ستاسې په خدمت کې حاضر شوم ، نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : الله جل جلاله به تا معاف کړی او تا ته به بخښنه وکړی، په همدی وخت کې حضرت عمر رضی الله عنه ته هم خپله غلطی معلومه شوه او په منډو منډو د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه کورته ولاړ، هلته معلومه شوه چې حضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه د نبی اکرم ﷺ حضور ته تللی دی، نو دی هم په همدی وخت کې د پیغمبر اکرم ﷺ حضور ته ورغی، د حضرت عمر رضی الله عنه په لیدو د نبی اکرم ﷺ په څیره د غوسی نښی ښکاره شوی د دی حالت په لیدو حضرت ابوبکر رضی الله عنه ډېر په ویره په ګونډو کیناست او نبی ﷺ ته یې عرض وکړ یا رسول الله! د عمر رضی الله عنه هیڅ ګناه نه ده، ټوله ګناه زما ده، ما ورته بدی ردی ویلی وی ، د دی حالت په لیدو حضرت رسول اکرم ﷺ وفرمایل: الله جل جلاله زه تاسې ته پیغمبر رالیږلی یم او چې کله په لومړیو وختونو کې تاسې زه دروغجن

ګنلم، هغه مهال حضرت ابوبکر زه ربښتونی وګڼلم او په مال او ځان هر ډول زما ملګری شو، نو آیا تاسې به اوس زما ملګری خفه کوی ؟

د روغی جوړی په کولو کې هیڅکله وروسته والی مه کوی، څومره چې ورسته کیږی همدومره بدی خپلی جرړی ټینګوی او په زړنو کې فاصله پیدا کیږی، په انجیل کې د حضرت عیسی علیه السلام دا نصیحت ډېر ایمان رڼوونکی دی: نو که ته د قربانی په ځای کې خپل نذر ورکوی او هلته تاته درياد شی چې زما ورور له مانه ګیله من دی، نو همالته د قربانی په ځای کې خپل نذر پرېږدی او ولاړ شئ خپل ورور پخلا کړی او بیا نذر ورکوئ.

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لاربښوونه ده: د خلکو اعمال په هفته کې دوه ورځی یعنی هره دوشنبه او پنج شنبه وړاندی کیږی او هر مؤمن بخښل کیږی پرته له هغه چا چې د چا په زړه کې د خپل مؤمن ورور سره دښمنی وی ویل کیږی چې دی پرېږدی چې دوی پخپلو منځو کې روغه وکړی.

چاته معلومه ده چې راتلونکی وختونه د ژوندانه دی او که د مرګ او څوک پوهیږی چې بیا به د دوشنبی یا پنجشنبی ورځ وګوری او که نه نو بیا د زړه په پاکوالی او د دوستانو د ګیلو په لری کولو کې وروسته والی ولی او په څه امید باید وشی؟ آیا د آخرت پر ورځ ایمان لرونکی کوم هوښیار انسان دی ته تیار دی چې هغه دی له بغض او کینو نه ډک، تیاره او بی رحمه زړه د الله جل جلاله حضور ته ولاړ شی.

له دی سره سره دا خبره هم په ذهن کې ولری چې کله ستاسې دوست د خپلی غلطی اعتراف وکړی او معافی وغواړي نو د هغه عذر ومنی او بخښنه ورته وکړی.

د نبی صلی الله علیه وسلم لاربښوونه ده: چا چې مسلمان ورور تــه په خپله غلطی عذر وکړ او هغه یې عذر ونه مانه، پردی سره هغه دومره ګناه وکړه لکه د یوه ناروا څیز په اخیستلو کې چې په چا د تیری ګناه وی.

❀ د دوستانو له لوری که کومه خبره ستاسې د مزاج پر خلاف هم وی نو تاسې خپله ژبه په واک کې وساتی او په ځواب کې هیڅکله بده خبره یا بد ژبی مه کوی، بلکې په حکمت او نرمی سره خبر وځندوی.

د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم لاربښوونه ده: حضرت موسی علیه السلام له الله جل جلاله نه پوښتنه وکړه، ای زما ربه! تاته پخپلو بنده ګانو کې څوک تر ټولو زیات محبوب دی، الله جل جلاله ځواب ورکړ: هغه څوک چې د انتقام اخستلو د توان لرلو سره سره بخښنه وکړي [ مشکوه ] .

نبی صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلی دی چې: د مؤمن په تله کې به چې د قیامت په ورځ کوم څیز تر ټولو زیات وزن دار کیښودل کیږي هغه به یې ښه اخلاق وي، او هغه څوک د الله جل جلاله ډیر بدیشی چې په ژبه بی‌حیا خبری کوی او بد ژبی کوی .

حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله علیه د ښو اخلاقو تعریف په دری خبرو سره کړی دی :

( ۱ ) چې کله له چا سره مخامخ شی نو په خندا او موسکا ورسره مخ شی.
( ۲ ) د الله جل جلاله په محتاجو او اړو خلکو لګښت وکړی.
( ۳ ) او چاته تکلیف ونه رسوی .

د حضرت عایشه رضی الله عنها وینا ده چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی : د الله جل جلاله په نظر کې به د قیامت په ورځ تر ټولو بد هغه څوک وی د چا د بد ژبی او بدو خبرو له امله خلک ورسره ناسته ولاړه پریږدی [صحیح بخاری، صحیح مسلم ]

د خپلو دوستانو له اصلاح او روزنی هیڅکله بی پروا نه شی او په خپلو دوستانو کې هغه ناروغی هیڅکله پیدا کیدوته پری نه ږدی چې د اصلاح او سمون په لاره کې تر ټولو ستر خنډوی ( ځان خوښونه او کبر ) دوستان تل دی ته تیار کړی چې خپلی سهوی او خطاګانی احساس کړی او د خپلو غلطیو به منلو کې له زړورتوب نه کار واخلی او دا حقیقت تل په نظر کې ونیسی چې د خپلو ګناهونو په احساس نه کولو او د ځان په بی ګناه ګڼلو نفس ته بد ترینه غذا ورکول کیږی .

په اصل کې د ښودانی ( ریاء ) لپاره ځان عاجز او بی وسی ښودلو، په خبرو کې ځان وړوکې ګڼل او په کړو وړو کې تواضع کول دا ډیر آسان کارونه دی، خو پخپل نفس سختی منل خپل ګناهونه او سهوی په ساړه

دماغ اوریدل او منل او د خپل ځان پر خلاف د دوستانو تنقیدونه زغمل ډېر ګران کار دی، خو رښتوني دوست هغه دی چې له ریښتیا سره سره یو د بل ژوندون تر نظر لاندې وساتي او له دې لارې د یو بل په اصلاح کولو له کبر او ځان خوښوني ځانونه وژغوري.

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایيدرې خبرې په هلاکت کې غورځوونکې دي:

( ۱ ) داسې غوښتنه چې انسان يې تابع او غلام شي.

( ۲ ) داسې حرص چې لارښود وګڼل شي او سړی يې پيروي وکړي.

( ۳ ) ځان خوښونه ... او دا ناروغي په دې درې واړوکې زیاته خطرناکه ده [ بهیقی، مشکوه ]

تنقید او د ځان حساب کول دا یو داسې نشتر دی چې د اخلاقي وجود ټولې بدۍ بیرون وباسي او په اخلاقي قوتونو کې د په زړه پورې زیاتوالي کولو د وکړي او ټولنې په ژوندانه کې نوی روح پوه کوي، د دوستانو په احتساب او تنقید برړوسیدل، پوزه مو نجول او ځان ترې بې پروا ګڼل هم هلاکت دی او د دغه په زړه پورې فریضې په ادا کولو کې سستي کول هم هلاکت دی.

د دوستانو پر لمن مو چې تور داغونه ښکاره شي نا آرامي احساس کړې او د لرې کولو لپاره يې حکیمانه لارې چارې غوره کړې او همدا رنګه پخپله هم دوستانو ته په پراخه زړه او تواضع سره د دې وخت ورکړې چې هغوي ستا نور داغونه درته ښکاره کړي او چې کله هغه دا ترخه تجربه سرته ورسوي، نو د خپل ځان د غټ ګڼلو پر ځای په ډېره سړه سینه پراخه زړه او احسان منني په ولولو د هغه تنقید ومنې او د اخلاص او مهرباني يې شکریه ادا کړې، نبی صلی الله علیه وسلم د مثالي دوستۍ دغه ځرنګوالي په یوه بلیغ تمثیل سره داسې واضح کړی دی: له تاسې هر یو ( د خپل ورور ائینه ) ده نو که پخپل ورور کې کومه خرابي وګوري هغه لرې کړي [ جامع ترمذي ]

په دې مثال کې پنځه داسې روښانه نښې ښکارې د کومو په نظر کې نیولو سره چې تاسې خپله دوستي واقعي او مثالي دوستي ګرزولای شي.

(۱) آئینه ستاسې داغونه هغه وخت تاسې ته در ښکاره کوی چې کله تاسې د خپلو دغونو د لیدلو په خاطر د شیشی مخی ته ودریږی، او چې کله تاسې له مخی را دیخوا کیږی نو هغه هم مکمله چوپتیا غوره کوی. دارنګی تاسې هم د خپل دوست عیبونه وربښکاره کړی چې کله هغه خپل ځان ستاسې مخی ته د تنقید لپاره وړاندی کړی او په پراخه زړه د تنقید او احتساب وخت درکړی او تاسې هم احساس کړی چې دا مهال د ده ذهن د تنقید او اوریدو لپاره تیار دی او په زړه کې یې د اصلاح منلو ولولی موجونه وهی او که تاسې پورته ډول حالت نه وینی نو په حکمت سره خپل خبره د کوم بل وخت لپاره وساتی او چوپتیا غوره کړی او د هغه (دوست) په نشتوالی کې دومره احتیاط وکړی چې ستاسې پر ژبه داسې کومه خبره رانشی، چې د هغه د کوم عیب په لوری اشاره پکی وی ځکه دا غیبت دی او په غیبت سره زړنه یو ځای کیږی نه بلکې جدا کیږی.

(۲) آئینه د مخ هغه داغونه سم سم ښیی چې په واقعی ډول پری موجود وی، نه یې لږ ښایی او نه یې شمیر زیاتوی، بیا آئینه د مخ هغه عیبونه ښکاره کوی چې هغی ته مخامخ وی هغه پټ عیبونه نه لټوی او نه یې په لټولو لټولو د عیبونو کومه خیالی عکاسی وړاندی کوی، دا رنګی تاسې هم خپل دوست ته د هغه عیبونه پرته له کموالی او زیاتوالی بیان کړی، نه خو یې بی ځایه چاپلوسی سره عیبزنه پټ کړی او نه د خپلی وینا په زور هغه زیات کړی او بیا یوازی هماغه عیبونه بیان کړئ چې په عام ژوندانه کې تاسې پکی لیدلی وی، لټه او تجسس ورپسی مه کوئ، پټ عیبونه لټول کوم اخلاقی خدمت نه دی، بلکې یو تباه کوونکی او اخلاق سوزوونکی عیب دی.

نبی صلی الله علیه وسلم یو ځلی ممبر ته وخوت او په ډېر لوړ اوازی یې حاضرینو ته خبرداری ورکړ: د مسلمانانو په عیبونو پسی مه کیږی، ځوک چې د خپل مسلمان ورور په پټو عیبونو پسی وی، نو بیا الله جل جلاله د هغه پټ عیبونه ښکاره کوی او د چا عیبونه چې الله جل جلاله ښکاره کوی نو ~~هغه~~ جل جلاله به یې رسوا رسوا پریږدی، که څه هم هغه پخپل کور کې دننه کښیننی [ جامع ترمذی ]

(۳) آئینه د هر ډول غرض او مقصد پرته خپل فرض ادا کوی او هر څوک چې د هغی په مخ کې خپله څیره وړاندی کړی، هغه له کوم لالچ پرته د هغی صحیح صحیح نقشه د هغه مخی ته ایږدی، نه له چا سره بغض او کینه کوی او نه له چا نه انتقام اخلی، تاسې هم له ځانګړیو اهدافو د بدل اخیستلو له ولولوو حسد او کینی او هر ډول بدنیتی نه په پاکوالی سره بی لالچه احتساب وکړی او څکه دا کار وکړی چې ستاسې دوست خپل ځان سم او برابر کړی لکه څنګه چې آئینی ته په کتو سړی ځان جوړوی او سینګاروی.

(۴) په آئینه کې خپل د صحیح عکس په لیدلو نه څوک له چا سره خبری ترخی کوی او نه له غوسی نه بی واکه کیږی چې د آئینی ماتولو حماقت وکړی بلکې په فوری ډول د خپل ځان په جوړولو او سینګارولو اخته کیږی او په خپل زړه کې د آئینی د ارزښت په احساس کولو د حال ژبه د هغی شکریه ادا کوی او وایی چې واقعًا آئینی زما په جوړولو او سینګارولو له ما سره ډېره مرسته وکړه او خپله فطری دنده یې سرته ورسوله او بیا په خورا احتیاط سره د بل وخت لپاره هغه په محفوظ ځای کې ساتی، دغه رنګی که ستاسې دوست د خپلو خبرو په ائینه کې ستاسې صحیح عکس ستاسې په وړاندی کیږدی، نو تاسې په غوسه کې پر خپل دوست څوابی حمله ونکړی، بلکه د هغه شکریه ادا کړی چې هغه ستاسې د دوستی حق ادا کړ او نه یوازی دا چې په ژبه بلکې له زړه نه د هغه د شکر یې په ادا کولو له همدی ګړی نه د ځان اصلاح او روزنی لپاره فکر وکړی او په خورا پراخ زړیتوب او احسان مننی سره د دوست د قدر او ارزښت په احساس کولو له هغه غوښتنه وکړی چې په راتلونکی کې هم تاسې ته خپلی ارزښتناکی مشوری درکړی.

(۵) او اخري اشاره دا ده چې له مسلمانانو هر څوک د خپل ورور آئینه ده او ورور د ورور لپاره د اخلاص او محبت مجسمه وی، وفادار او خیر خواه یې وی همدرد او غم شریک یې وی، ورور چې په تکلیف کې ووینی مړاوی کیږی او چې خوښ یې وګوری تر او تازه کیږی، نو څکه چې ورور او دوست

کوم تنقید کوی، په هغې کې به بې اندازې زړه سوی او غم خوری وی، محبت او اخلاص به وی، بې اندازې دردمندی او خیر غوښتنه به وی او د خیر خبره به یې د اصلاح آئینه وی، او له داسې تنقید نه د ژوندانه جوړولو او د زړونو د یو ځای کیدلو هیله کیدای شی.

له دوستانو سره د اخلاص او محبت د ښکاره کولو او د مینې محبت د لازیاتولو لپاره یو بل ته سوغاتونه ولیږی، د سوغاتونو په را کړې ورکړې سره زړونه نږدی کیږی او مینه زیاتیږی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: یو بل ته سوغاتونه ولیږی، په خپلو منځو کې به مو مینه پیدا شی او د زړونو خیری او لریوالی به مو له منځه ولاړ شی [ مشکوة ]

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به پخپله صحابه کرامو ته سوغاتونه ورکول او د هغه صحابه و به هم پخپلو منځو کې یو بل ته سوغاتونه ورکول.

د سوغات او هدیې ورکولو پر وخت خپل حیثیت په نظر کې ولری او دا فکر مه کوی چې تاسې چاته تحفه ورکوی هغه دی ارزښتناکه او قیمتی وی، هر څه چې مو په وس کې وی وریې کړی ارزښتمنتیایی ستاسې په اخلاص پوری اړه لری او همدا اخلاص او ولولی زړونه سره نږدی کوی، د سوغات ارزښت یې نه یو ځای کوی، همدا ډول د دوست سوغات هم سپک مه گڼی، د هغه اخلاص او مینه په نظر کې ولری.

د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: که ماته څوک په تحفه کې د سپرلی یو پښه هم راکړی نو زه به یې خامخا قبوله کړم او که څوک رابانـدی د ډوډی په بلنه کې یوه پښه وخوری نو زه به خامخا د هغه بلنی ته ورځم[ جامع ترمذی ]

د تحفی په بدله کې تحفه خامخا ورکړی، نبی صلی الله علیه وسلم به همداسې کول، د هغه په نظر کې غوره سوغات د خوشبویی وه، تاسې هم دغه تحفه غوره وگڼی او په اوسنیو حالاتو کې کتاب هم غوره تحفه ده.

په دی لړ کې کله کله یو ځای د خوراک څښـاک انتظام کوی، دوستان خپل کور ته د خوړو لپاره راوبولی، دوستان او ملگری مو چې وغواړي په ډېره خوښی ورکره لاړ شی، په دی سره د مینې او اخلاص ولولی زیاتیږی او ټینگیږی،

البته په دغه ډول وختونو کې د بې اندازې او بې شمیره طعامونو د تیارولو په ځای تاسې د اخلاص او محبت د ولولو د زیاتوالي کوښښ وکړئ .

د دوستانو پوښتنه کوئ او خبر یې اخلئ، د اړتیا په وخت کې یې په کار شئ او له هر ډول مالي او ځاني مرسته یې وکړئ، د اصفهاني په یو روایت کې دي چې حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما ته یو سړی راغئ او پوښتنه یې وکړه چې په خلکو کې الله جل جلاله ته تر ټولو محبوب څوک دئ؟ هغه ځواب ورکړ، په ګردو خلکو کې الله جل جلاله ته ډېر محبوب هغه څوک دئ، چې انسانانو ته زیاته ګټه رسوونکی وي او په اعمالو کې د الله جل جلاله تر ټولو زیات خوښ عمل دا دی چې ته کوم مسلمان خوشحاله کړې، داسې چې د هغه تکلیف او مصیبت لرې کړې، یا د هغه ولږه پای ته ورسوې او دا خبره چې زه له کوم ورور سره د هغه د کومې اړتیا د پوره کولو لپاره ولاړ شم، زما تر دې زیاته خوښه ده چې زه د نبي صلی الله علیه وسلم په جومات کې اعتکاف وکړم، او کوم سړی چې خپله غوسه په داسې حال وزغمله چې که هغه غوښتې وای نو پوره کولی یې شوه نو د قیامت په ورځ به الله جل جلاله د دې سړي زړه له خپلې خوشحالۍ نه ډک کړي، او څوک چې د خپل ورور سره د هغه د اړتیاو د پوره کولو لپاره تللی وي او د هغه ضرورت یې پوره کړی وي الله جل جلاله به د هغه دواړه قدمونه په هغه ورځ ثابت کړي چې کله به قدمونه لړزیږي.

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: څوک چې د خپل ورور اړتیا پوره کوي نو الله جل جلاله د هغه د اړتیاوې پوره کوي او څوک چې له کوم مسلمان نه کوم مصیبت لرې کړي نو الله جل جلاله له هغه نه د قیامت په مصیبتونو کې مصیبت لرې کوي [ صحیح بخاري، صحیح مسلم ]

او هغه دا هم فرمایلي: الله جل جلاله خپل بنده سره تر هغه وخته مرسته کوي تر کومه چې بنده د خپل ورور سره مرسته کوي [ جامع ترمذي ] .

حضرت عبدالله ابن عباس وايي چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: د کوم مسلمان د اړتیا پوره کولو ثواب له لس کاله اعتکاف نه هم زیات دی [طبراني ]

د حضرت انس رضی الله عنه وینا ده چې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمايلي: کوم سړی چې خپل مسلمان ورور ته د خوښی او خوشحالی کومه خبره رسولی وی او په هغه خبره يې هغه خوشحاله کړی وی، الله جل جلاله به د قيامت په ورځ هغه بنده خوشحاله کړی [ طبرانی ]

ترتولو غوره راز ساتونکی شی، چې دوست مو پر تاسې باور وکړی او که د زړه خبره درته ووايي نو هغه وساتی او هيڅکله د دوست باور ته زيان مه رسوی، خپله سينه د رازونو خزانه کړی، چې دوستان مو در څخه له ويری ترهی پرته مشوره واخلی او تاسې دوستانو ته ښی مشوری ورکړای شی او مرسته ورسره وکړای شی.

حضرت عمر رضی الله عنه فرمايي چې حفصه رضی الله عنها چې کونډه شوه نو زه عثمان رضی الله عنه ته ولاړم او ورته می وويل چې که ستا خوښه وی نو چې د حفصه رضی الله عنها نکاح درته وتړم، عثمان رضی الله عنه وويل زه به په دی باب غور وکړم، ما تر څو شپو پوری انتظار وکړ بيا عثمان رضی الله عنه ماته راغی او وی ويل زما اوس د واده کولو خيال نشته، زه بيا حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه ته ورغلم او ورته مې وويل چې که ستاسې خوښه وی نو حفصه رضی الله عنها په خپله نکاح کې اخيستلای شی هغه چپ پاتی شو او هيڅ ځواب يې رانکړ، ماته د هغه چوپتيا ډوکی ښکاره شوی بلکې تر عثمان رضی الله عنه زياتی ډوکی راته ښکاره شوی او په دی ډول څو ورځی تيری شوی، بيا نبی ﷺ د حفصه رضی الله عنها پيغام راوه ليږه او ما له نبی صلی الله عليه وسلم سره د حفصه رضی الله عنها نکاح وکړه، له دی نه وروسته يوه ورځ حضرت ابوبکر رضی الله عنه راغی او وی فرمايل: تا ماته د حفصه رضی الله عنها يادونه کړی وه او ما چوپتيا اختيار کړی وه کيدای شی زما په چوپتيا تاسې ته تکليف رسيدلی وی؟ ما ورته وويل هو! تکليف خو را رسيدلی وُ، وی فرمايل ماته معلومه وه چې د رسول الله ﷺ پخپله دا ډول فکر دی او دا د هغه راز و، چې ما يې ښکاره کول نه غوښتل که نبی اکرم صلی الله عليه

وسلم د حفصه رضی الله تعالی عنها یادونه نه وای کړی نو ما به خامخا ستا خبره قبوله کړی وای [صحیح بخاری]

حضرت انس رضی الله عنه وایی یوه ورځ په هلکانو کې لوبیدم چې په دی کې نبی صلی الله علیه وسلم تشریف راووړ او پر مونږ یې سلام واچولو، بیا یې زه په یوه کار پسې ولیږلم، ما په هغه کار کې ناوخته کړ، د کار نه چې فارغ شوم او کورته ولاړم، نو مور راڅخه پوښتنه وکړه دومره وخت دی چیری تیر کړ! ما ورته وویل نبی صلی الله علیه وسلم پخپله یو ضرورت پسې لیږلی وم، وی ویل: څه ضرورت و؟ ما ورته وویل: هغه د راز خبره ده، مور راته وویل، ګوره د رسول الله صلی الله علیه وسلم راز چاته مه وایه [صحیح مسلم]

په تولنیزو اخلاقو کې داسې پراختیا، هر اړخیزتوب، صبر او حوصله پیدا کړی چې د هر ډول ذوق او طبیعت او هر فکر او میلان لرونکی په تاسې کې بی اندازی کشش احساس کړی او تاسې د هر یوه ځانګړی ذوق او میلان او د ځانګړی مزاج په خیال ساتلو داسې حکیمانه رویه وکړی چې د چا ولولو ته تری ضرر ونه رسیږی.

په خپل ځانګړی مزاج سره هر څوک مه تلی ، مه دا کوښښ کوی چې نور خلک د خپل طبیعت په قالب کې واچوی، د ذوق او میلان اختلاف یوه فطری ښکلا ده، د فطرت ښکلا د مصنوعی ښکلا په بی ځایه هیلو مه مسخ کوی، هر دوست ته د هغه فطری مقام ورکړی او له هغه سره هماغه دول مینه وکړی او د هغه درنښت او درناوی وکړی او د خپلو هر اړخیزو اخلاقو په وسیله د هغه خپل ځان ته دیوال کولو کوښښ وکړی.

د نبی ﷺ هر اړخیز نبوغ همدا کمال ؤ چې د هر ذوق او مواج انسان به د هغه په مجلس کې آرام مینده او د خپل طبیعت په حکیمانه خیال ساتلو به یې لږ کوتی پردیتوب نه احساس کاوه، د هغه په مجلس کې به د ابوبکر صدیق ﷺ په څیر شفیق او مهربان هم و او د عمر فاروق ﷺ په څیر د ښکلی توری څښتن هم ؤ او د حسان بن ثابت ﷺ په څیر له جنګه لړزیدونکی به هم و او د حضرت علی کرم الله وجهه په څیر د خیبر فاتح هم،

د ابوذر غفاری ﷺ په څیر فقیر ډوله به هم و، د عبدالرحمن بن عوف ﷺ په څیر د مال او جمال څښتن هم، خو د نبی ﷺ غوره اخلاق، سپیڅلی کړه وړه ، رسا فکر او کمال تدبر و چې دی ټولو د هغه له ذات سره بی ساری عاشقانه مینه لرله او نبی صلی الله علیه وسلم هم د هغوي هر یوه دومره خیال ساته، چې هر یوه دا ګڼله چې ښایي نبی صلی الله علیه وسلم ته تر ټولو زه ګران یم، او د هندی پراخو اخلاقو غوره فکر او تدبر او د بی اندازی ایثار له امله هغه له صحابه کرامو هغه مثالی ډله جوړه کړه چې پکی له فطری اختلافاتو سره سره هغه بی ساری یو اړخیزتوب، کلک اتحاد او تعاون او د قدر وړ مینه او الفت و، چې بشری تاریخ خپلی دغه صفحی پخپل ځای د خپل اوږده عمر حاصل ګڼی: ستاسې دوستی او ملګرتیاوی هغه وخت پر رښتیا سره ټینګی او دوام کیدای شی چې پخپلو ټولنیزو اخلاقو کې حکیمانه نرمی او ځلا او بی اندازی صبر او تحمل پیدا کړی او په دوستانه اړیکو کې پیرزوینه ، بخښنه او تیریدنه ، سخاوتمندانه رویه او جذباتی قربانی، خپلمنځی مرستی او تواضع او عاجزی او د یو بل د ولولو خیال ساتل او د یو بل د جذباتو تر وروستی حده خیال وساتی، د نبی اکرم ﷺ له څو پیښو نه اټکل وکړی چې هغه په څومره لوړ اندازو پراخه زړه، صبر او زغم او پیرزوینی سره د خلکو د فطری اړتیاو، ولولو او کمزوریو لحاظ کاوه :

زه چې لمانځه ته راځم او زړه می غواړي چې اوږد لمونځ ادا کړم، بیا می د کومی ژړا آواز غوږو ته راځی نو زه لمونځ لنډوم، ځکه چې پړ ما دا خبره درنده تماميږی چې زه د لمانځه په اوږدولو د ماشوم مور په تکلیف اخته کړم [صحیح بخاری]

حضرت مالک بن الحویرث فرمایی چې: مونږ څو تنه همزولی ځوانان د دینی علم د زده کړی لپاره نبی صلی الله علیه وسلم ته ورغلو، مونږ شل ورځی له هغه سره پاتی شو، نبی صلی الله علیه وسلم ډیر مهربان او بی اندازی نرم معامله کوونکی و ( کله چې له هغه سره زمونږ شل ورځی تیری شوی نو ) هغه محسوس کړه چې مونږ کور ته لیواله یو، نو هغه زمونږ څخه

پوښتنه وکړه، تاسې پخپلو کورونو کې څوک پرینبي او راغلي یاستي مونږ ورته د کور حالات وویل: نو هغه وفرمایل: ولاړ شی، خپلو میرمنو او کوچنیانو ته ولاړ شی او د هغوي تر منځ په اوسیدو هغوي ته هم هغه څه ورزده کړی چې دلته مو زده کړی دی او هغوي ته په ښو کارونو ټینګار وکړی، پلانی لمونځ په پلان وخت او پلانی لمونځ په پلانی وخت ادا کړی او کله چې د لمانځه وخت راشي نو له تاسې نه دی یو اذان ووایي او چې څوک په تاسې کې علم او اخلاقو په لحاظ ښه وی هماغه دی د امامت لمونځ ادا کړی [صحیح بخاری اوصحیح مسلم]

حضرت معاویه بن حکم سلمی رضی الله عنه خپله قصه اوروی چې ما له نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره لمونځ ادا ګاوه چې په دی کې یو سړی ته پرنجی راغی، په لمانځه کې زما له خولی نه یرحمک الله ووتلو نو خلکو ماته برګی برګی کتلو ما ویل الله جل جلاله دی تاسې روغ رمټ لری ماته ولی برګی برګی ګوری! بیا چې ما ولیدل چې هغوي ماته د چوپ اوسیدلو وایی نو زه چوپ شوم، چې کله نبی اکرم صلی الله علیه وسلم له لمانځه څخه فارغ شو، (زما مور او پلار دی له هغه نه ځار شی) ما له خاتم الانبیاء حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه غوره ښوونکی او روزونکی نه لومړی لیدلی او نه وروسته، هغه نه زه ورټلم، نه یې ووهلم او نه یې راته بد رد وویل، یوازی دومره یې راته وویل دا لمونځ دی، په لمانځه کې خبری اتری کول ښه نه دی، لمونځ خو د الله جل جلاله د پاکی بیانولو نوم دی، هغه د لویی بیانولو او د قران عظیم د لوستلو [صحیح مسلم]

په خصوصی ډول دعاګانی وکړی، پخپله هم دوستانو ته دعاګانی وکړی او له هغوي نه هم د دعا کولو غوښتنه وکړی دعا د دوستانو په مخ کې هم وکړی او د هغوي په غیر حاضری کې هم د غیر حاضری پر وخت د دوستانو خیال وساتی او د هغوي د نوم اخیستلو سره هم ورته دعا وکړی.

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وایی ما له پیغمبر اکرم ﷺ نه د عمری اجازه وغوښته، هغه ماته د اجازی راکولو سره سره وفرمایل ای زما ورور! مونږ پخپلو دعاګانو کې مه هیروه، حضرت عمر رضی الله عنه وایی زه په

دی خبره دومره خوشحاله شوم چې که د دی په بدله کې ماته ټوله دنیا راکړل شوی وای نو دومره خوشحاله شوی به نه وم .

رسولِ اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایی، چې کله کوم مسلمان د خپل مسلمان ورور لپاره غایبانه دعا کوی، نو الله جل جلاله هغه قبلوی او د دعا کوونکی لپاره یوه مخکښنه ملایکه مقرر وی چې کله هغه سړی د خپل ورور لپاره ښه دعا کوي نو پرښته آمین وایی او وایی چې ستا لپاره هم هماغه څه دی چې ته یې د خپل ورور لپاره غواړي [ صحیح مسلم ]

په خپلو مخلصانه دعا ګانو کې له الله جل جلاله وغواړي چې الهی! زمونږ زړونه، له کینی حسد او تیارو له ګردونو ومینځی او زمونږ سینی په مینه اخلاص روغی کړی او زمونږ اړیکی پخپل منځی ورورولی او مینه ښکلی کړی د قران مجید دا دعا هم په ترتیب سره تلاوت کړی :

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ

( ای زموږ پروردګاره! زما او زما د هغو وروڼو بخښنه وکړی چې په ایمان راوړو کې زمونږ نه د مخه وی او زمونږ په زړونو کې د یو بل پر خلاف کینه او دښمنی مه پریږده، ای ربه! ته ډېر مهربان او خورا رحم کوونکی یی ) .

## د کوربه توب آداب

د میلمه په راتلو مینه او خوشحالي ښکاره کړې او په ډیره پراخه تندي، پراخ زړه او عزت درناوی سره ورته ښه راغلاست ووایې، تنګ زړیتوب، سره وضعه او په تروه تندي ورسره هیڅکله مه مخ کیږې.

د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده څوک چې پر الله ﷻ او اخرت ایمان لري هغه باید د خپل میلمه قدر او عزت وکړي [صحیح بخاري، صحیح مسلم]

په زړه رغاونه ( خاطر تواضع ) کې هغه ټولې خبرې شاملې دي چې د میلمه د عزت او درناوي آرام او راحت، سکون او د ولولو د تسکین لپاره وي، په ښو اخلاقو او پراخه تندي ښه راغلاست ویل، د ټوکو ټکالو په خبرو یې زړه خوشحالول، په عزت او درناوي یې د ناستې ولاړې انتظام کول، د خپلو معززو دوستانو سره یې پیژندګلوي کول، د هغه د اړتیاو خیال ساتل، په ډېره خوشحالي او پراخ زړه یې د خوراک څښاک شیان ترتیبول او پخپله یې په قدر او درناوي کې مشغولیدل دا ټولې خبرې د میلمه په قدر ( اکرام ضیعف ) کې شاملې دي.

نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ته به چې کوم قدرمن میلمنه راته هغه به یې پخپله قدر او درناوی کاوه.

کله به چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم میلمه ته پر خپل دسترخوان خوراک ورکوله نو هر څلی به یې ورته فرمایل: خوري نوره وخوري، کله به چې میلمه ښه موړ شو او انکار به یې کاوه بیا به هغه ټینګار نه کاوه

د میلمه په راتګ سره تر ټولو لومړی هغه ته سلام وکړې او د خیر خیریت پوښتنه تری وکړې، په قران مجید کې دي •

هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ () إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ فَقَالُوا سَلَامًا قَالَ سَلَامٌ قَوْمٌ مُنكَرُونَ

( ایا تاسې ته د ابراهیم علیه السلام د قدرمنو میلمنو حکایت هم رسیدلی دی، چې کله هغوي ورکره راغلل نو له راتګ سره یې سلام وکړ، ابراهیم علیه السلام یې په ځواب کې سلام وکړ ) .

په پراخه زړه د میلمه زړه رغاونه ( خاطر تواضع ) وکړی او چې له ښو نه ښه خواړه چې مو په توان کې وی د میلمه مخی ته کیږدی، د حضرت ابراهیم علیه السلام میلمه چې کله راغی، نو حضرت په سملاسی توګه د هغه د خوراک څښاک په ترتیب پیل وکړ او کوم چاغ خوسکی یې چې لاره د هماغی غوښه یې سره کړه او په مخ کې یې ورته کیښوده په قران مجید کې دی: فَرَاغَ إِلَى أَهْلِهِ فَجَاءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ فَقَرَّبَهُ (نو په منډه کورته ولاړ یو څو رب خوسکی یې حلال کړ او سور یې کړی رایی ووړ او د میلمنو مخی ته یې وراندی کړ) .

فَرَاغَ إِلَى أَهْلِهِ یو مفهوم دا هم دی چې هغه علیه السلام شان کور ته د میلمنو د زړه رغاونی ( خاطر تواضع ) لپاره ولاړ ځکه چې میلمنو ته د ښودانی او احسان بارونی له مخی چې د میلمنو د قدر کولو لپاره مندی ترړی وی، نو هغه له شرمه کوربه له تکلیف کولو نه منع کوی، او دا نه خوښوی چې د هغه له امله کوربه د بی اندازی تکلیف سره مخ شی او بیا د میلمه لپاره وخت نه وی چې په زړه پوری قدر یې وکړی .

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم چې د میلمنو د زړه رغاونی لپاره مؤمنان څومره هڅولی د هماغه نقشی په کښلو حضرت ابو شریح ﷺ وایی: زما دی دوه سترګو لیدلی او دی دوه غوږونو اوریدلی چې کله نبی ﷺ دا لارښوونه کوله ، کوم وګړی چې پر الله جل جلاله او د اخرت په ورځ ایمان لری، هغوي باید د خپلو میلمنو درناوی وکړی د میلمه د انعام لومړی وخت لومړی شپه او ورځ ده [ صحیح بخاری، صحیح مسلم ]

په لومړی شپه او ورځ میلمه د کوربه کره په انعام سره د تعبیر مفهوم دا دی، چې لکه څنګه چې انعام ورکونکی د زړه په بی اندازی خوښی او د مینی نه په ژورو ولولو سره د انعام د ورکړی په وخت روحانی خوښی احساسوی، همدا ډول کیفیت باید په لومړی شپه او ورځ د کوربه هم وی او

لکه څنګه چې انعام اخستونکی د خوښی او خوشحالی ته په ډکو ولولو د انعام ورکوونکی د احساساتو په قدر کولو انعام اخیستل خپل حق ګڼی او اخلی يې، بس همدا پورته ډول عمل باید په لومړی شپه او ورځ میلمه هم وکړی او له شک او شرم پرته د خپل حق ګڼلو تر څنګ د خوښی او نږدیوالی په ولولو د کوربه پیشکش بايډ قبول کړی.

🏠 د میلمه له راتګ سره د هغه د بشری اړتیاو احساس وکړی د رفع حاجت لپاره تری پوښتنه وکړی، د لاس پښو او مخ مینځلو چاره يې وکړی، که اړتیا یی وی د غسل کولو چاره يې هم وکړی، د خوراک څښاک وخت وی او که نه بیا هم تری پوښتنه وکړی او په داسې ښه طریقه چې میلمه ستاسې په تکلیف انکار ونه کړی، په کومه کوټه کې چې د میلمه د ناستی او ملاستی ترتیبات مو نیولی وی هغه وښایی میلمه ته ووایاست.

🏠 د تل لپاره له میلمه سره مه کښینی او همدا رنګه يې تولـه شپه په ناسته مه خفه کوی، تر څو میلمه ته د آرام کولو وخت په لاس ورشی او د خفګان احساس ونه کړی ، حضرت ابراهیم علیه السلام ته چې کله میلمه راغی، نو د هغوي د خوراک څښاک د انتظام کولو لپاره یو څه وخت له هغوي نه جلا شو.

🏠 د میلمنو په خوراک څښاک خوښی احساس کړی، تنګ زړیتوب، کړاو او سوز مه احساسوی میلمه زحمت نه بلکه رحمت دي او د خیر او برکت وسیله ګرځی، او الله جل جلاله چې څوک تاسې کره راولی، د هغه د رزق هم تاسې ته درکوی، هغه ستاسې پر دسترخوان ستاسې برخه نه خوری، خپله برخه خوری او ستاسې په عزت او درناوی کې د زیاتوالی لامل کیږی.

🏠 د میلمه د پت او حیا هم خیال ساتی او د هغه حیا او پت خپله حیا او پت وګڼی، ستاسې د میلمه پر ناموس که څوک حمله وکړی نو دا د خپل پت او ناموس پر خلاف حمله وګڼی.

قران مجید فرمایی: چې کله د حضرت لوط علیه السلام پر میلمنو د کلی خلکو په بدنیتی سره حمله وکړه نو هغه علیه السلام د دفاع لپاره ودریده او وی ویل دا خلک زما میلمانه دی، له دوی سره په بدة رویه کولون ما مه

رسوا کوی د دوی رسوایی زما رسوایی ده : قَالَ إِنَّ هَؤُلَاءِ ضَيْفِي فَلَا تَفْضَحُونِ()وَاتَّقُوا اللَّهَ وَلَا تُخْزُونِ ( لوط وویل: ( خلکو )! دا زما میلمانه دي، ما رسوا نه کړی له الله وویرېږی او زما له بی پتی نه منع شی ) .

تر دری ورځو پوری په ډېره مینه د میلمنو غوښتنی پوره کړی، تر دری ورځو میلمستیا د میلمه حق دی او د حق په ادا کولو کې باید د مؤمن زړه پراخه وی، لومړی ورځ یې په خاص ډول زړه رغاونه وشی، نو څکه په لومړی ورځ د میلمستیا ځانګړی خیال وساتی، په وروستیو ورځو کې که هغه خاص انتظام نه و څه بده خبره نه ده، د نبی ﷺ لارښوونه ده.

وَالضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ فَمَا بَعْدَ ذَالِكَ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ [صحیح بخاری، صحیح مسلم]
میلمستیا تر دری ورځو ده له دی وروسته چې کوربه څه کوی هغه د هغه لپاره خیرات دی .

د میلمنو خدمت کول خپل اخلاقی مسئوولیت وګنی او میلمانه خپلو نوکرانو یا اولادونو ته د سپارلو په ځای پخپله د هغه د خدمت او آرام لپاره ملا وتړی، نبی ﷺ به د معززو میلمنو قدردانی پخپله کوله، حضرت امام شافعی رحمة الله علیه چې د امام مالک رحمة الله علیه کره ولاړ او میلمه شوو نو امام مالک رحمة الله علیة په ډېر عزت او درناوی په یوه کوټه کې ویده کړ، د سهار پر وخت امام شافعی رحمة الله علیه واوریدل چې چایې دروازه وټکوله او په ډېره مهربانی یې ورته غږ کړ، پر تاسې دی د الله ﷻ رحمت وی د لمانځه وخت شویدی، امام شافعی رحمة الله علیه ژر پاسید، ګوری چې امام مالک رحمة الله علیه په لاس کې د اوبو ډکه کوزه نیولی ولاړ دی، امام شافعی خڅه یو څه وشرمیدو امام مالک رحمة الله علیه پری پوه شو او په ډېره مهربانی سره یې ورته وویل: وروره! هیڅ فکر مه کوه د میلمه خدمت کول خو پکار دی .

میلمانه له ځانه سره له دیره کولو نه وروسته هغه ته بیت الخلاء وښاست د اوبو کوزه ورکړی، د کعبی لوری ورته وښایاست، د لمانځه ځای او مصلی ورته برابره کړی، امام شافعی رحمة الله علیه ته د امام مالک

رحمة الله علیه نوکر په یوه کوټه کې له دمه کیدو وروسته وویل: جناب د کعبې لوري دا دی، د اوبو لوښي دلته ایښودل شوي دي، بیت الخلاء دې لوري ته ده.

د خوړو لپاره چې کله لاسونه مینځئ نو لومړی خپل لاسونه ومینځئ او پر دسترخوان کینئ او بیا د میلمنو لاسونه ومینځئ امام مالک رحمة الله علیه چې کله همداسې وکړل، نو امام شافعي رحمة الله علیه یې ترې د لامل پوښتنه وکړه، نو وی فرمایل: له خوړو د مخه باید کوربه لاسونه ومنځي او پر دسترخوان کیني او میلمنو ته ښه راغلاست ووایي، او له خوړو وروسته باید د میلمه لاسونه لومړی مینځي او تر ټولو وروسته دې کوربه لاسونه مینځي، کیدای شي چې په پاڅیدو کې بل میلمه راشي.

⊕ پر دسترخوان د خوراک ښباک وسایل او لوښي د میلمنو له شمیره زیات کیږدي کیدای شي چې د خوړو په دوران کې بل څوک راشي، او بیا د هغه لپاره منډې تړي وهل پیښې شي، او که لوښي او سامان له لومړي سره نه موجود وي، نو راتلونکي هم د سپکتیا په ځای درناوی احساسوي.

⊕ د میلمنو لپاره د قرباني نه کار واخلئ، پخپله تکلیف وزغمئ او میلمنو ته آرام ورسوئ.

یو ځلي یو سړی د نبي ﷺ په خدمت کې حاضر شو او وی ویل محترما! زه له وږې ناتوانه یم، هغه کومې میرمنې ته خبر ولیږه چې د خوړو لپاره چې څه موجود وي راوه یې لیږي، ځواب راغی پر هغه الله جل جلاله سوګند چې ته یې پیغمبر رالیږلی یې، دلته خو له اوبو پرته بل هیڅ نشته. بیا هغه د بلې میرمنې رضی الله عنها کره ځواب ولیږه او له هغې هم دغه ځواب راغی، ان تر دې چې هغه د ټولو میرمنو کره ځوابونه ولیږل او د ټولو څخه هم دا یو ځواب راغی، بیا هغه خپلو صحابه رضی الله عنهم ته متوجه شو او وی فرمایل: د نن شپې لپاره دغه میلمه څوک قبلوي، یوه انصاري صحابي وویل: یا رسول الله! زه یې قبلوم، انصاري میلمه خپل کورته بوته او کورته ولاړ میرمنې ته یې وویل: زما سره دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم میلمه دی، د ده احترام او درناوی وکړه، میرمنې یې وویل: زما سره

خو یوازې د کوچنیانو د خوراک لپاره خواړه شته ) صحابي ورته وویل : پر بل څه تیر یې باسه ویده یې کړه او چې کله د میلمه په مخ کې خواړه کیږدې نو په څه بهانه چراغ مړ کړه او په خوړو به د میلمه سره کینو، چې هغه دا احساس ونکړي چې مونږ ورسره په خوړو کې شریک نه یو.

په دې ډول میلمه په مړه ګیده خواړه وخوړل او د کور خلکو شپه په ولږه تیره کړه، سهار چې کله دغه صحابي د نبي صلی الله علیه وسلم په خدمت کې کې حاضر شو، نو هغه صلی الله علیه وسلم یې په لیدو سره وفرمایل: تاسي دواړو چې بیګاه له میلمه سره کومه ښه رویه کړې هغه د الله جل جلاله ډیره خوښه شوه [صحیح بخاري، صحیح مسلم]

که ستاسي میلمه په کوم وخت کې له تاسي سره نا ځوانی او وچ سترګی کړي وی بیا هم تاسي ورسره د خورا پراخ زړیتوب، سخاوت، او ځوانمردۍ نه کار واخلئ.

حضرت ابو الاحوص حبشي رضی الله عنها د خپل پلار په باب قصه کوي، چې یو ځلې هغه له نبي صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه، که زه د چا په ځای تیریږم او هغه زما د میلمستیا حق ادا نه کړي او بیا څو ورځې وروسته هغه زمونږ پر ځای تیریږي نو ایا زه د هغه د میلمستیا حق ادا کړم؟ او که د ناځوانی او نامردۍ بدله ترې واخلم ؟ نبي صلی الله علیه وسلم ورته لارښوونه وکړه، بلکې ته په هر حال کې د هغه د میلمستیا حق ادا کړه [ مشکوة ]

له میلمه نه د ځان لپاره د خیر او برکت د دعا غوښتنه وکړئ، په ځانګړي توګه که میلمه دیندار نیک او عالم وي، حضرت عبدالله بن بسر رضی الله تعالی عنه وایي چې نبي صلی الله علیه وسلم زما د پلار کره میلمه شو، مونږ هغه ته هریسه [1] وړاندې کړه، هغه لږ شان وخوړه بیا مونږ ورته خرما وی کیښودې هغه خوړې او زړې به یې د شهادت د ګوتې او

---

[1] - هریسه : یو ډول خواړه دي چې د کوچ له شړومبو او له یخې ښوروا او له شیدو نه جوړیږي.

منځنی ګوتی په منځ کې نیول او ګزارول به یې، بیا مو ورته د ښنلو لپاره یو څه وړاندی کړل هغه وښنل او خپل ښی لوری ته ناستو خلکو ته یې ورکړل کله چې هغه روانیدو نو زما پلار یې د سپرلۍ واګی ونیولی او غوښتنه یې تری وکړه چې ای د الله رسوله! زمونږ لپاره دعا وکړه نبی صلی الله علیه وسلم ورته دعا وکړه : اَللّٰهُمَّ بَارِکْ لَهُمْ فِيمَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْلَهُمْ وَارْحَمْهُمْ (یا الهی ! تا چې ده ته کوم رزق ورکړی دی ، هغه برکتی کړه. دوی ته ښښنه وکړه او پر دوی رحم وکړه ) [جامع ترمذی ]

## د میلمستیا آداب

۱ ) چې د چا کره میلمانه ولاړ شي نو د خپلې وسې سره سم د کوربه یا د کوربه د کوچنیانو لپاره یوه څه سوغات یوسي او په سوغات کې د کوربه د ذوق خیال وساتي د تحفو او سوغاتونو په راکړې ورکړې سره د مینې او محبت ولولې زیاتیږي او د سوغات ورکوونکي لپاره په زړه کې ځای پیدا کیږي .

۲ ) د هر چا کره چې په میلمستیا ولاړ شي، کوښښ وکړي چې له درې ورځو زیاتې تیرې نه کړي، مګر دا چې جلا حالت وي او کوربه زیات ټینګار وکړي.

د پیغمبر اکرم ﷺ لارښوونه ده: میلمه لپاره روا نه دي چې د کوربه کره دومره وه اوسیږي چې هغه په خفګان اخته کړي [الادب المفرد ]

په صحیح مسلم کې دي چې د مسلمان لپاره روا نه دي چې هغه د خپل ورور کره دومره وه اوسیږي چې هغه ګنهګار کړي، خلکو پوښتنه وکړه یا رسول الله! ګنهګاروی به یې څنګه؟ وی فرمایل: داسې چې هغه ورکره دومره وه اوسي چې د کوربه کره د میلمستیا هیڅ پاتي نه شي .

۳ ) تل د نورو میلمانه کیږی مه، نور هم خپل کورته رابولی او په اخلاص زړه یې قدر او درناوی وکړي.

۴ ) چې میلمستیا ته ځي د موسمي حالاتو سره سم بستره او سامان له ځان سره واخلي د یخني په موسم کې له بستری پرته هیڅکله ولاړ نه شي، او که نه نو کوربه ته به له زغمه پورته تکلیف ورسي او دا هیڅکله مناسبه نه ده چې میلمه د کوربه په ځان عذاب شي .

۵ ) د کوربه د کارونو او مسئوولیتونو هم خیال ساتي او دی ته مو پام وي چې د هغه کارونه ستاسې له امله ګډ وډ نه شي، او مسئوولیتونو ته یې زیان ونه رسي .

۶ ) له کوربه نه ډول ډول غوښتنې مه کوی هغه چې ستاسې د زړه رغاونې او قدر دانی لپاره پخپله څه وکړي، پر هماغې د کوربه شکریه ادا کړي، او بې ځایه تکلیف ورته مه رسوی .

۷ ) که تاسې د کوربه زنانه و لپاره غیر محرم نه یاست نو د کوربه په نشت والی کې د څه لامله پرته ورسره خبری اتری ونکړی او نه د هغوی خپله منځی خبرو ته غوږ ونیسی، او په داسې انداز کې و اوسی چې ستاسې له خبرو اترو او کړنلاری نه هغوی ته خفګان ونه رسی او کوم وخت بی پردی توب رامنځته نه شی .

۸ ) او که د څه لامله تاسې له کوربه کره خواړه نه خوری او یا روژه یاست، نو په ډېر ښه ډول ورته عذر وکړی او د کوربه لپاره د خیر او برکت دعا وکړی .

کله چې حضرت ابراهیم علیه السلام د خپلو قدرمنو میلمنو مخی ته خوندور او ارزښتناک خواړه کیښودل او هغوی لاسونه ونیول نو حضرت ابراهیم علیه السلام تری غوښتنه وکړه تاسې محترم یې ولی نه خوری؟ په ځواب کې ملایکو حضرت ابراهیم علیه السلام ته په ډاډ ورکولو وویل: تاسې یې بده ونه ګڼی په اصل کې مونږ خوړلای نه شو، مونږ یوازی تاسې ته د یوه لایق زوی د زیږیدو د زیری لپاره راغلی یو.

۹ ) چې کله د چا میلمستیا ته ولاړ شی نو له خوراک څښاک وروسته د کوربه لپاره د پراخه روزی خیر او برکت او د ښښنی او رحمت دعا وکړی، حضرت ابو شهیم بن تیهان رضی الله عنه چې کله نبی علیه السلام او د هغه صحابه رضی الله عنهم میلمانه کړلو کله چې هغوی له خوړونه وزګار شول، نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل: خپل ورور ته بدله ورکړی، صحابه رضی الله عنهم تری پوښتنه وکړه څه بدله ورکړو؟ یا رسول الله؟ وی فرمایل: کله چې سړی د خپل ورور کره ولاړ شی، او هلته وخوری وڅښی نو د هغه لپاره دی د خیر او برکت دعا وکړی دا یې بدله ده [سنن ابو داود ]

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم یو کرتی د حضرت سعد ابن عباده کره تشریف یووړ، حضرت سعد رضی الله تعالی عنه ورته ډوډی او زیتون وړاندی کړل، هغه وخواړه او دا دعا یې وفرمایله :

افطر عندکم الصائمون و اکل طعامکم الابرار وصلت علیکم الملائکه ( تاسې کره دی روژه نیوونکی روژه ماتی وکړی ، نیکان دی ستاسې خواړه

۷ ) که تاسې د کوربه زنانه و لپاره غیر محرم نه یاست نو د کوربه په نشت والی کې د څه لامله پرته ورسره خبری اتری ونکړی او نه د هغوی خپله منځی خبرو ته غوږ ونیسی، او په داسې انداز کې و اوسې چې ستاسې له خبرو اترو او کړنلاری نه هغوی ته خفګان ونه رسی او کوم وخت بی پردی توب رامنځته نه شی.

۸ ) او که د څه لامله تاسې له کوربه کره خواړه نه خوری او یا روژه یاست ، نو په ډېر ښه ډول ورته عذر وکړی او د کوربه لپاره د خیر او برکت دعا وکړی.

کله چې حضرت ابراهیم علیه السلام د خپلو قدرمنو میلمنو مخی ته خوندور او ارزښتناک خواړه کیښودل او هغوی لاسونه ونیول نو حضرت ابراهیم علیه السلام تری غوښتنه وکړه تاسې محترم یې ولی نه خوری ؟ په ځواب کې ملایکو حضرت ابراهیم علیه السلام ته په ډاډ ورکولو وویل : تاسې یې بده ونه ګڼی په اصل کې مونږ خوړلای نه شو، مونږ یوازی تاسې ته د یوه لایق زوی د زیږیدو د زیری لپاره راغلی یو.

۹ ) چې کله د چا میلمستیا ته ولاړ شی نو له خوراک ښناک وروسته د کوربه لپاره د پراخه روزی خیر او برکت او د ښښنی او رحمت دعا وکړی ، حضرت ابو شهیم بن تیهان رضی الله تعالی عنه چې کله نبی ﷺ او د هغه صحابه رضی الله عنهم میلمانه کړلو کله چې هغوی له خوړونه وزګار شول ، نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : خپل ورور ته بدله ورکړی، صحابه رضی الله عنهم تری پوښتنه وکړه څه بدله ورکړو؟ یا رسول الله؟ وی فرمایل: کله چې سړی د خپل ورور کره ولاړ شی، او هلته وخوری وڅښی نو د هغه لپاره دی د خیر او برکت دعا وکړی دا یې بدله ده [سنن ابو داود ]

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم یو کرتی د حضرت سعد ابن عباده کره تشریف یووړ، حضرت سعد رضی الله عنه ورته ډوډی او زیتون وړاندی کړل، هغه وخواړه او دا دعا یې وفرمایله :

أَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّائِمُونَ وَ اَكَلَ طَعَامَكُمُ الأَبْرَارَ وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلَائِكَة

( تاسې کره دی روژه نیوونکی روژه ماتی وکړی ، نیکان دی ستاسې خواړه

وخوري، او ملائکی دی ستاسې لپاره د رحمت او مغفرت دعا گانی وکړی ) [سنن ابو داود ]

❀❀
❀

## د مجلس آداب

تل د ښو خلکو په مجلس کې د ناستې کوښښ وکړی.

په مجلس کې چې کومې خبرې اترې کیږي په هغوی کې برخه واخلی، د مجلس په خبرو اترو کې ګډون نه کول او ګونځې تندی کیناستل د غرور نښه ده، په مجلس کې به چې صحابه کرام په کومو خبرو اترو کې مشغول وُ، نبی صلی الله علیه وسلم به هم په هماغو خبرو کې شریک و، په مجلس کې غمجن او پریشانه مه کینی، له موسکا نه په ډک مخ سره تر او تازه کینی.

کوښښ وکړی چې ستاسې کومه غونډه د الله جل جلاله او اخرت له یادونه خالی نه وی، او چې کله تاسې احساس کړی چې د غونډی ګډون کوونکی په دینی خبرو کې دلچسپی نه لری، نو د خبرو اترو مخه د نیوی مسئلو په لور راوګرځوی، او بیا چې کله مناسبه موقع په لاس درشی، نو د خبرو اترو مخه په حکمت سره د دینی موضوعاتو په لور د راګرزولو کوښښ وکړی.

په غونډه کې چې چیری ځای پیدا کړی همالته کینی، په مخکی ځای کې په زوره د کیناستلو کوښښ مه کوی، په داسې کولو سره لومړیو راغلیو او ناستو کسانو ته هم تکلیف رسی، او په داسې کوونکیو کې هم د لویی او ستر توب احساس او غرور پیدا کیږی.

په مجلس کې د چا د پاڅولو او د هغه پر ځای د کیناستلو کوښښ مه کوی دا ډیر بد عادت دی له دی نه د نورو په زړونو کې حسد او کینه پیدا کیږی او د خپل ځان د ستر توب غرور او احساس هم پیدا کیږی.

که په مجلس کې وګړی د دایری په شکل ناست وی نو د هغوی په منځ کې مه کینی دا ډیره بد تمیزی او مسخره توب دی، نبی ﷺ پر داسې کوونکی لعنت ویلی دی.

په مجلس کې که څوک د څه احتیاج لپاره له خپل ځایه پاڅی، د هغه پر ځای قبضه مه کوی، د هغه لپاره ځای وساتی، هو! که دا پته درته ولګی چې هغه سړی بیرته نه راځی نو بیا بی تکلیفه د هغه پر ځای کینی.

☜ که په مجلس کې دوه کسان يو بل ته نږدې سره ناست وي نو د هغوی له اجازې پرته هغوی دواړه سره جلا نه کړی، ځکه چې د خپلمنځي آزادي او يا ميني او يا مصلحت په خاطر به ناست وئ، او د هغوی په سره جداوالي به يې زړونه په تکليف شي .

☜ په مجلس کې د کوم غوره ځای له ناستې نه ځان وژغوری، که له چا کره ولاړ شي، هلته هم د هغه په در من ځای د کيناستو کوښښ مه کوی، هو! که هغه پخپله ټينګار وکړی، نو کيناستل بد نه دی ، په مجلس کې تل په ادب سره کينې، په غزولو پښو يا پلتې وهلو سره مه کينې .

☜ دا کوښښ مه کوی چې تاسې دې په هر حال کې د غونډې مشر ته نږدې کينې، بلکې هر چيرته چې ځای ومومې کينې، او داسې کينې چې وروسته راتلونکيو ته د ځای په پيدا کيدلو او کيناستلو کې هيڅ تکليف نه وی، او چې کله خلک زيات راشي، نو راټول کينې او راتلونکيو ته په پراخه زړه سره ځای وکړی .

☜ په مجلس کې د چا مخې ته يا چا پيره دريدل نه دي پکار، د درناوی دا طريقه د اسلام د مزاج پر خلاف ده .

☜ په مجلس کې دوه کسان پټې پټې خبرې مه کوی له دی نه نورو ته دا احساس هم کيږی چې دوی مونږ د خپل راز په خبرو کې د ګډون حقدار ونه ګڼلو او دا بدګمانی هم تری کيږی چې ښايی زمونږ په باب به څه خبره کوی.

☜ په غونډه کې چې څه واياست د غونډې د رئيس په اجازه يی ووايی او په خبرو اترو يا سوال او ځواب کې داسې انداز اختيار نه کړی چې تاسې پخپله د مجلس رئيس معلوم شي، دا ځان ښودانه هم ده او د مجلس له مشر سره زياتی هم .

☜ په يو وخت کې بايد يو سړی خبری وکړی او د هر چا خبره بايد په غور سره واريدل شي، د خپلی خبری د کولو لپاره بايد داسې بی حوصلی نه اوسی چې ټول په يو وخت خبری پيل کړی او مجلس مو په ټوکو مسخرو بدل شي .

☜ په مجلس کې چې کومې خبرې د راز وي هغه ځای پر ځای مه بیانوي، د مجلس دا حق دی چې د هغې د رازونو ساتنه وکړي.

☜ په غونډه کې چې د څه موضوع په باب خبرې اترې کیږي، تر څو چې د هغې په باب پریکړه ونه شي، دویمه موضوع ونه څیړي، او نه د بل چا خبره بنده او خپله شروع کړي، او که کله داسې کومه اړتیا پیښه شي چې ستاسې لپاره سملاسي خبرې کول ضروري وي، نو له خبرې کوونکي نه لومړي اجازه واخلي.

☜ د غونډې مشر ته پکار دي چې پر مسایلو د خبرو اترو پر وخت د ټولو حاضرینو په لور پاملرنه وکړي او ښي او کیڼ هر لوري ته مخ واړوي او خبرې باید وکړي، او په آزادۍ سره هر چاته د خبرو کولو وخت ورکړي.

☜ د ونډې له پای ته رسیدو د مخه باید دا دعا ولولي او بیا غونډه پای ته ورسوي.

اَللّٰهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِکَ مَاتَحُوْلُ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعْصِيَتِکَ وَمِنْ طَاعَتِکَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهٖ جَنَّتَکَ وَمِنَ الْيَقِيْنِ مَا تُهَوِّنُ بِهٖ عَلَيْنَا مَصَائِبَ الدُّنْيَا، اَللّٰهُمَّ مَتِّعْنَا بِاَسْمَاعِنَا وَاَبْصَارِنَا وَقُوَّتِنَا مَا اَحْيَيْتَنَا وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا، وَاجْعَلْ ثَارَنَا عَلٰى مَنْ ظَلَمَنَا وَ انْصُرْنَا عَلٰى مَنْ عَادَانَا وَلَاتَجْعَلْ مُصِيْبَتَنَا فِیْ دِيْنِنَا وَ لَاتَجْعَلِ الدُّنْيَا اَکْبَرَ هَمِّنَا وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَّا يَرْحَمُنَا

(الهي مونږ ته خپله ویره او ترس راپه برخه کړه چې زمونږ او ګناه تر منځ بندیز شي، او هغه فرمانبرداري راپه برخه کړه چې مونږ ستا جنت ته ورسوي، او مونږ ته هغه پوخ یقین راوبښه چې دنیوي زیانونه پرې مونږ ته هیڅ وي الهي! تر کومه چې مونږ ژوندي ساتې! مونږ ته زمونږ د اوریدو، او لیدو له قوتونو او بدني قوتونو نه د ګټې اخیستلو وخت راکړې او دا څیز زمونږ نه وروسته هم بر قرار وساتې او څوک چې پر مونږ ظلم وکړي له هغه نه زمونږ بدله واخله او څوک چې زمونږ سره دښمني وکړي پر هغوی مونږ ته غلبه راکړه، او مونږ د دین په ازمیښت کې مه راولې او دنیا زمونږ ستر هدف مه ګرځوي او نه دنیا زمونږ د علم او بصیرت اخري پوړۍ وګرځوي او

نه پر مونږ هغه څوک بر لاسی واکمن کړی چې پر مونږ رحم ونکړی ) [ جامع ترمذی ] .

## د سلام آداب

✧ کله چې د کوم مسلمان ورور سره مخامخ شی نو د هغه سره د خپلو اړیکو د ښکاره کولو او د هغه په لیدو د خوشحالی له امله السلام علیکم وایاست .

په قران مجید کې دی :

وَإِذَا جَاءَكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِنَا فَقُلْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ [الانعام : ۵۴]

(ای نبی! چې کله تاته هغه خلک راشی چې زمونږ پر آیتونو ایمان لری نو هغوی ته السلام علیکم ووایه ).

په دی آیت کې نبی صلی الله علیه وسلم ته په وینا کې په غیر مستقیم ډول امت ته دا زده کړل شوی چې مسلمان کله هم له مسلمان سره مخامخ شی نو دواړه دی د خوښی د ولولو ښکارونه وکړی، او غوره لاره یې دا ده چې یو د بل لپاره د سلامتی او عافیت دعا وکړی، یو السلام علیکم و وایی نو دویم دی په ځواب کې وعلیکم السلام ووایی، دا الفاظ د خپلمنځی مینی او محبت د زیاتوالی او قایمولو وسیله ده.

د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم لاربښوونه ده :تاسی خلک جنت ته نشی تللای تر څو چې مؤمنان نه شی او تاسی مؤمنا کیدای نه شی تر څو چې یو د بل سره مینه ونه کړی، زه تاسې ته هغه لاری چاری ولی ونه ښایم، د کومو په غوره کولو چې به تاسې پخپلو منځو کې یو تر بله سره محبت کوی، پخپلو منځو کې سلام خپور کړی [ مشکوة ]

✧ تل په اسلامی طریقه سلام وکړی، چې له چا سره خبری کوی او یا ورته وایاست تل د کتاب الله او سنت ښوول شوی الفاظ استعمال کړی، د دی اسلامی لاری په پریښودلو په ټولنه کې دود شوی لاری چاری غوره نه کړی، د اسلام دغه ښوول شوی د وینا نداز ډېر ساده، معنی لرونکی او اغیزمن دی، او د سلامتی او عافیت یوه جامع دعا هم کله چې تاسې د مسلمان ورور په لیدلو السلام علیکم وایاست نو د دی معنی خو دا ده چې الله جل جلاله دی تا په هر ډول سلامتی سره ونازوی، الله جل جلاله دی ستا مال او ځان سلامت لری، کور او کهول دی سلامت اوسه، ال اولاد او

خپلوان دی روغ رمټ اوسه، دین او ایمان دی سلامت اوسه، دنیا دی هم په امان اوسه او اخرت دی هم، الله جل جلاله دی هغه عافیتونه هم درکړی چې زه پری پوهیږم او هغه دی هم درکړی چې زما په پوهه کې نه راځی، زما په زړه کې ستا لپاره د نصیحت او خیر غوښتنی د مینی او اخلاص او د سلامتی او عافیت ډېری ژوری ولولی دی، نو ځکه ته زما له لوری هیڅکله څه اندیښنه احساس نه کړی، زما له کړو وړ به تاته هیڅکله څه درد او غم نه رسیږی، د سلام پر کلمه چې الف، لام ) داخل شی، او السلام علیکم وویل شی نو د مخاطب لپاره د سلامتی او روغتیا ګردی دعا ګانی پکی راجمع شی تاسی اندازه وکړی چې که دغه الفاظ له پوهی او شعور سره سره له خپلی خولی نه را اوباسی نو د مخاطب سره په خبرو اترو کولو د زړه خوښی او د اخلاص، مینی، خیر غوښتنی او وفاداری د ولولو د ښکاره کولو لپاره تر دی غوره الفاظ نور کوم کیدای شی، د السلام علیکم په الفاظو د خپل ورور په استقبال کولو تاسی وایی چې تا دی هغه ذات جل جلاله په سلامتیا سره ونازوی چې د سلامتیا سرچینه او ګرده سلامتی ده، چې نوم یی اسلام دی او هماغوی سلامتیا او عافیت موندلی شی، څوک چې هغه سلامت وساتی او څوک چې هغه له سلامتیا نه بی برخی کړی، هغه په دواړو جهانو کې له سلامتیا نه بی برخی دی.

د نبی صلی الله علیه وسلم لاربنوونه ده : السلام د الله جل جلاله له نومونو څخه یو نوم دی چې الله جل جلاله په ځمکه کې د ځمکی والاو لپاره ایښی دی نو السلام پخپلو منځونو کې ښه خپور کړی [الادب المفرد ]

حضرت ابو هریره رضی الله عنه وایی چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: الله جل جلاله چې کله آدم علیه السلام پیدا کړ نو هغه ته یې د ملائکو یو تولی ته د لیږلو په وخت وفرمایل: چې ولاړ شه او له ناستی د مخه ملائکو ته سلام ووایه او هغوی چې د سلام په ځواب کې کومی دعاګانی درته وکړی هغه په غور سره واوره او یادی کړه ) ځکه چې همدا به ستا او ستا د اولاد دعا وی، څرنګه چې حضرت آدم غلیه السلام ملائکو ته ورسید او وی ویل: السلام علیکم، ملایکو په ځواب کې وویل:

السلام علیک ورحمة الله یعنی د ورحمه الله په زیاتولو سره یې ځواب ورکړ
[ بخاري ، مسلم ]

په قران حکیم کې دی کومی ملائکی چې د مؤمنانو د روح اخیستلو لپاره راځی نو له راتګ سره السلام علیک وایی :

كَذَلِكَ يَجْزِي اللَّهُ الْمُتَّقِينَ الَّذِينَ تَتَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَامٌ عَلَيْكُمُ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ [النحل : ۳۱- ۳۲]

( همداسی جرائت ورکوی الله متقیانو خلکو ته، د هغو متقیانو خلکو روحونه چې کله ملایکی د سپیڅلتیا په حالات کې قبض کوی نو وایی، سلام علیکم زه جنت ته داخل شه د خپلو نیکو اعمالو په بدله کې ) .

د جنت دروازو ته چې کله دا متقیان ورسیږی، نو د جنت مسؤلین هم په همدغو الفاظو د هغوی شاندار استقبال کوی .

وَسِيقَ الَّذِينَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ زُمَرًا حَتَّى إِذَا جَاءُوهَا وَفُتِحَتْ أَبْوَابُهَا وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا سَلَامٌ عَلَيْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خَالِدِينَ [ الرمز : ۷۳]

( او کومو خلکو چې د سپیڅلتیا او فرمان منني ژوندون تیر کړ، د هغوی ډلی به د جنت په لور لیږل کیږی او کله چې هغوی هلته رسیږی، نو د هغې جنت ) دروازی به له اول نه د هغوی د استقبال لپاره خلاصی وی، د جنت مسئولین به ورته وایی سلام علیکم ډیر ښه واست داخل شی دی جنت ته د تل له پاره ) .

او که چې دا خلک جنت ته داخل شی نو فرښتی به د جنت له هری دروازی نه راځی او دوی ته به السلام علیکم وایی .

يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ سَلَامٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ
[ النحل : ۲۳-۲۴]

( او ملایکی به د جنت ) له هر وره نه د هغوی د ښه راغلاست لپاره راځی او ورته به وایی سلام علیکم ) دا ستا د صبر، استقامت او ښی رویی بدله ده، نو ځومره ډیر ښه دی دا د اخرت کور)

او اهل جنت به هم پخپلو کې یو د بل استقبال په همدی کلماتو سره کوی:
دَعْوَاهُمْ فِيهَا سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَتَحِيَّتُهُمْ فِيهَا سَلَامٌ وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ [یونس : ۳۱-۳۲]

( هلته به د دوی جنتیانو ) په ژبو دا آوازونه وی، چې ای الله ته پاک او ډېر لوړ یی او د هغوی خپلمنځی دعا په دا وی چې سلام دی وی پر تا ) او دهغوی هره وینا به پدې سره پای ته رسېږي چې" توله ثنا ستاینه یوازی دالله رب العلمین له پاره ده ) .

او د الله جل جلاله له لوری به هم د جنتیانو لپاره د سلام او رحمت آوازونه وی .

إِنَّ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فَاكِهُونَ هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلَالٍ عَلَى الْأَرَائِكِ مُتَّكِئُونَ لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَلَهُمْ مَا يَدَّعُونَ سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ [یس : ۵۵-۵۸]

( د جنت خاوندان به په دی ورځ د عیش او خوشحالی په کارونو کې مشغول وی، دوی او د دوی میرمنی به [ په داسې حال کې وی ] چې د ګڼو سیورو لاندی به یې په داسې چپرګټونو کې تکیه وهلی وی، چې ښادری به پری غوړېدلی وی او [خوشحاله به ] ناست وی د دوی لپاره به په جنت کې هر ډول خوړی میوی وی او هغه هر څه به وی چې ویی غواړی ، د رحیم رب له لوری به د دوی لپاره د سلام آواز وی ) .

لنډه دا چې په جنت کې به د مؤمنانو لپاره له څلورو خواو د سلام سلام آواز وی .

لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا إِلَّا قِيلًا سَلَامًا سَلَامًا [ الواقعه : ۲۱ ]

( نه به دوی جنتیان هلته بی ځایه خبری اوری او نه د ګناه خبری بس له هر لوری به د سلام سلام اوازونه وی ) .

د قران او سنت د دی واضحو او ښکاره ګواهیو په شته والی کې د مؤمن لپاره په هیڅ دول روا نه دی چې هغه د الله جل جلاله او رسول الله ﷺ ښوول شوی لاری چاری پرېږدی د مینی او خوښی د ښکاره کولو لپاره نوری لاری غوره کړی .

✧ هر مسلمان ته سلام وکړی که هغه د مخه پیژنی او که نه، د اړیکو او پیژندګلوی لپاره دا بیخې بس ده چې هغه ستا مسلمان ورور دی او د مسلمان لپاره د مسلمان په زړه کې باید د مینی او اخلاص، د خیر غوښتنی او وفادارئ ولولی وی، یو سړی له نبی صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه په اسلام کې تر ټولو غوره عمل کوم یو دی، هغه وفرمایل : پر غریبانو خواړه خوړل او هر مسلمان ته سلام کول، که ته له هغه سره پیژنی او که نه [ صحیح بخاری، صحیح مسلم ]

✧ کله چې تاسې خپل کور ته ننوزی نو د کور خلکو ته سلام وکړی قران مجید فرمایی : فَإِذَا دَخَلْتُمْ بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِنْ عِنْدِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً [النور : ۶۱]

( نو چې تاسې کله خپلو کورو ته ننوزی نو خپل کوروالو ته سلام وکړی، د الله جل جلاله له لوری د خیر د دعا ښوونه شوی چې ډېر برکتناکه او پاکه ده )

د حضرت انس رضی الله عنه وینا ده چې ما ته پیغمبر اکرم ﷺ ټینګار وکړ چې ګرانه زویه ! کله چې ته خپل کور ته ننوزی نو لومړی د کور خلکو ته سلام وکړه دا ستا او ستا د کور د خلکو لپاره د خیر او برکت خبره ده [ جامع ترمذی ]

دغه رنګی تاسې چې کله د بل چا کورته ځی، نو کور ته له داخلیدو د مخه سلام وکړی، له سلام اچولو پرته کور ته مه ننوزی .

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا [النور : ۲۷]

( ای مؤمنانو! له خپلو کورو پرته د نورو کورونو ته مه ننوزی، تر څو چې د کور له خاوندانو اجازه ونه خلی او د کور خلکو ته سلام ونه کړی ) .

حضرت ابراهیم علیه السلام ته چې ملائکی د قدرمنو میلمنو په شکل راغلی نو هغوی له راتګ سره سلام وکړ او ابراهیم علیه السلام هم په ځواب کې سلام وکړ .

✧کوچنیانو ته هم سلام وکړی، دا کوچنیانو ته د سلام زده کولو غوره طریقه ده او د نبی ﷺ سنت هم ، حضرت انس رضی الله عنه د کوچنیانو تر څنګ تیر شو نو هغوی ته یې سلام وکړ او وی فرمایل: نبی ﷺ هم همداسی کول [ بخاری ، مسلم ]

او حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما به کوچنیانو ته په خط کې سلام لیکه [ الادب المفرد ]

✧ زنانه نارینه وته سلام کولای شی او نارینه زنانه وته سلام کولای شی، حضرت اسماء انصاریه رضی الله عنها فرمایی چې: زه د خپلو ملګریو سره ناسته وم چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم زمونږ تر څنګ تیریده، نو هغه مونږ ته سلام وکړ [ الادب المفرد ]

او حضرت ام هانی رضی الله تعالی عنها فرمایی چې زه د نبی علیه السلام په خدمت کې حاضره شوم، هغه دا وخت غسل کول، ما هغه ته سلام وکړ، نو هغه پوښتنه وکړه څوک یې؟ ما وویل : ام هایی یم، وی فرمایل ښه! په خیر راغلی [ الادب المفرد ]

✧ د زیات نه زیات سلام کولو عادت زده کړی او په سلام کولو کې هیڅکله بخیلی ونکړی پخپلو منځو کې زیات نه زیات سلامونه کوی، په سلام کولو سره مینه زیاتیږی او الله جل جلاله انسان له هر درد او غم نه ساتی

د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: زه تاسی ته داسی تدبیر ښایم چې په اختیارولو یې ستاسې په منځ کې مینه او دوستی زیاتیږی په خپلو منځو کې زیات یو بل ته سلام کوی [ صحیح مسلم ]

او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلی: سلام ښه خپور کړی الله جل جلاله به تاسې سلامت ساتی .

حضرت انس رضی الله عنه وایی چې د نبی صلی الله علیه وسلم صحابه و به ډیر زیات سلام کاوه، د سلام د زیاتوالی حال دا و چې که کوم وخت به د هغوی ملګری له ونی نه پناه کیده او بیا به مخامخ کیده نو بیا به یې سلام کاوه او د هغه دا هم لارښوونه ده :

ځوک چې د خپل مسلمان ورور سره مخامخ شي نو سلام دی ورته ووايي، او که ونه، بيا ديوال يا تيږه په منځ کې راشي او بيا سره مخامخ شي نو بيا دی ورته سلام وکړي [ رياض الصالحين ]

حضر طفيل ﷺ وايي چې زه به زياتره د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ په خدمت کې حاضريدم او له هغه سره به بازار ته تلم نو کله به چې مونږ دواړه بازار ته ولاړو نو حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه به چې د هر چا تر څنگ تيريده هغه ته به يې سلام کاوه، هغه به د لږې سودا والا دکاندار و او د زياتې سودا دکاندار به و او که کوم غريب او مسکين به و، هغه به ورته ضرور سلام کاوه، يوه ورځ زه د هغه خدمت ته راغلم نو هغه راته وويل زه چې بازار ته ځو، ما ورته وويل: محترما! بازار ته چې لاړ شو څه به وکړو، تاسې خو نه د کومې سودا د اخيستو لپاره دريږی نه د کوم مال په باب معلومات کوی نه د نرخ او قيمت معلومات کوی، نه د بازار په مجلسونو کې کينې، راځی همدلته کينو او يو څه خبرې اترې وکړو، حضرت راته وويل، ای ابو بطن ( د گيډې پلاره ) موږ خو يوازې د سلام کولو په غرض بازار ته ځو چې ځوک په مخ راشي هغه ته سلام وکړو [ موطا امام مالک ]

✧ سلام د خپل مسلمان ورور حق تصور کړی او د دی حق په ادا کولو کې د پراخزړيتوب ثبوت ورکړی، په سلام اچولو کې هيڅکله بخيلي ونکړی.

د نبی صلی الله عليه وسلم لارښوونه ده چې د يو مسلمان پر بل مسلمان دا حق دی چې کله د خپل مسلمان ورور سره مخامخ شي هغه ته سلام وکړی [صحيح مسلم ]

حضرت ابو هريره رضی الله تعالی عنه فرمايي چې تر ټولو ستر بخيل هغه دی چې سلام کې بخل وکړی [ الادب المفرد ]

✧ په سلام اچولو کې تل ځان د مخه کوی او که کله مو لله جل جلاله مه کړه له چا سره په څه ورانه راشي بيا هم په سلام کولو او روغه جوړه کولو کې د مخه اوسی.

د نبی صلی الله عليه وسلم لارښوونه ده : هغه سړی الله جل جلاله ته ډېر نږدی دی چې په سلام کولو کې لومړيتوب کوی [ سنن [سنن ابو داود ]

او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی: د هیڅ مسلمان لپاره دا خبره روا نه ده چې هغه د خپل مسلمان ورور سره له درې ورځو زیاتی اړیکی پرېږدی چې کله دواړه سره مخامخ شی نو یو، یو خوا مخ راړوی او بل بله خوا مخ واړوی په دوی کې غوره هغه څوک دی چې په سلام کولو کې مخکې والی کوی [الادب المفرد]

له نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه چا پوښتنه وکړه چې کله دوه سړی یو تر بله سره مخامخ شی، نو له دوی دواړو کوم یو د مخه سلام وکړی هغه وفرمایل : څوک چې په دوی دواړو کې الله جل جلاله ته زیات غوره وی [جامع ترمذی]

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما په سلام مخکی والی کې دومره احتیاط کاوه چې هیچا به پر هغه سلام د مخه نشو اچولای.

✧ تل په خوله السلام علیکم په ویلو سلام وکړی او یو څه په لوړ آواز سلام وکړی، تر څو چې هغه څوک یې واوری چې تاسې پری سلام وایاست، البته که په ځینو ځایو کې په ژبه د السلام علیکم د ویلو سره سره د لاس یا سر اشاری ته اړتیا وی نو څه بده نه ده. مثلاً تاسې چې پر چا سلام وایاست هغه له تاسې وړاندی وی او ستاسې په فکر ستاسې آواز هغه ته نه رسی او یا څه ډول شور دی چې ستاسې غږ اوریدلای نه شی نو په داسې حالت کې اشاره هم وکړی .

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما فرمایی چې کله چاته سلام کوی نو خپل سلام هغه ته واوروی، ځکه چې سلام د الله جل جلاله له لوری ډېره سپیڅلی او برکتی دعا ده [الادب المفرد]

حضرت اسماء رضی الله عنها بنت یزید فرمایی یوه ورځ نبی ﷺ د جومات تر څنګ تیریده، هلته یو څه زنانه ناستی وې، نو هغه هغوی ته د خپل لاس په اشاره سلام وکړ [جامع ترمذی]

مطلب دا دی چې نبی صلی الله علیه وسلم د السلام علیکم له ویلو سره سره د لاس په اشاره هم سلام وکړو د همدی خبری تائید له دی روایت نه کیږی چې په سنن ابو داود کې دی :

حضرت اسماء رضی الله عنها فرمایی چې نبی صلی الله علیه وسلم زمونږ تر څنګ تیریده نو مونږ ته یی سلام وکړ. نو ځکه صحیح خبره دا ده چې سلام په ژبه سره وکړی هو! که چیری اړتیا وی نو د لاس یا سر په اشاره سره هم سلام کولای شی.

✧ خپلو لویانو ته د سلام کولو خیال ساتی، چې کله تاسې پیاده روان یاست او یو څه خلک ناست وی، نو ناستو خلکو ته سلام وکړی او چې کله تاسې له یوی کوچنی ډلی سره یاست او د یوی لوی ډلی سره مخامخ شی نو په سلام کولو کې ړومبی والی وکړی.

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: کوچنیان دی لویانو ته، روان دی ناستو، او لږ کسان دی ډېرو ته په سلام کولو کې مخکی والی وکړی [الادب المفرد]

✧ که تاسې په سپرلی سپاره روان یاست نو پیاده تلونکیو او په لاره کې ناستو خلکو ته سلام وکړی، د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده:

په سپرلی سپاره روان دی پیاده روانو ته او پیاده تلونکی دی په ناستو خلکو او لږ کسان دی زیاتو کسانو ته په سلام کولو کې مخکی والی وکړی [الادب المفرد]

✧ که د چا لیدو لپاره ولاړ شی یا د چا د یری یا حجری ته ورسیږی یا د کومی غونډی له څنګ تیریږی، یا کومی غونډی ته ورسیږی نو د رسیدو په وخت کې هم سلام وکړی او چې کله له هغه رخصتیږی هم سلام وکړی.

د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: چې تاسې کله کوم مجلس ته ورسیږی نو سلام وکړی او چې کله له هغه ځایه رخصتیږی نو بیا هم سلام کوی.

د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: کله چې تاسې کوم مجلس ته ورشی نو سلام وکړی او چې له هغه ځایه رخصتیږی نو بیا سلام وکړی او یاد ساتی چې لومړی سلام د دویم سلام نه د زیات اجر مستحق نه دی، چې د ورتلو په وخت کې تاسی د سلام ډېر خیال ساتی او چې کله رخصتیږی نو بیا سلام ونه کړی او د رخصتی سلام ته هیڅ اهمیت ورنکړی [جامع ترمذی]

✧ چې مجلس ته ورشي نو بيا ټول مجلس ته سلام وکړي، په خاص ډول د چا په نامه اخيستلو سره سلام مه کوي، يوه ورځ حضرت عبدالله په جومات کې وُ چې يو سوالګر راغی او هغه د حضرت عبدالله رضی الله عنه نوم واخيست او سلام يې کړ، هغه ورته وفرمايل الله جل جلاله رښتيا فرمايلي او رسول الله صلی الله عليه وسلم د تبليغ حق ادا کړی دی او بيا هغه کورته ولاړ، خلک په انتظار کې ناست وو چې د هغه د فرمايلو مطلب څه دی، خير چې کله هغه حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما راغی نو حضرت طارق تری پوښتنه وکړه محترما! مونږ ستاسې د خبری پر مطلب پوه نه شو نو دی وفرمايل : د نبی صلی الله عليه وسلم لارښوونه ده چې قيامت ته نږدی به خلک په مجلسونو کې خاص کوی او سلام به ورته کوی [الادب المفرد ]

✧ که خپل کوم مشر او دوست ته د کومی بلی وسيلی له لاری د سلام ويلو وخت وی، يا چاته په خط کې د سلام ليکلو وخت وی، نو د دی وخت نه خامخا ګټه واخلی او سلام ورته وواياست .

حضرت عايشه رضی الله تعالی عنها وايی چې نبی صلی الله عليه وسلم ماته وفرمايل عايشه! جبريل تاته سلام وايی ما وويل: وعليکم السلام ورحمه الله وبرکاته! [ صحيح بخاری، صحيح مسلم ]

✧ که تاسی کوم داسی ځای ته ورسيږی چې خلک ويده وی نو په داسی آواز سره سلام وکړی چې ويښ کسان يې واوری او د ويدو کسانو خوب خراب نه شی .

حضرت مقداد رضی الله عنه فرمايی چې مونږ به د نبی ﷺ لپاره يو څه شيدی ساتلی چه کله به هغه يو څه تيره شپه تشريف راووړ نو هغه به داسې سلام کاوه چې ويده به پری نه پاخيده او ويښنو به اوريده، نو نبی ﷺ راغی او د معمول په څير يې سلام وکړ [صحيح مسلم]

✧ د سلام ځواب په ډير پراخه زړه او پراخه تندی ورکړی، دا د مسلمان ورور حق دی، د دی حق په ادا کولو کې هيڅکله بخل ونکړی .

د نبي ﷺ لاربښوونه ده د مسلمان پر مسلمان پنځه حقونه دي: د سلام ځواب ورکول، د ناروغ پوښتنه کول، له جنازې سره تلل، دعوت قبلول د پرنجي ځواب ورکول [صحیح بخاري ، صحیح مسلم]

او نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې په لارو کې له کیناستو ځانونه وساتي، خلکو وویل، یا رسول الله! زمونږ لپاره خو په لارو کې له کیناستو لاچاري ده، نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که ستاسې لپاره داسې په لارو کې کیناستل ضروري وي نو کیني، خو د لارې حق خامخا ادا کړي، خلکو وویل: د لارې حق څه شی دی یا رسول الله؟ وی فرمایل نظرونه ټیټ ساتل، څوک نه خفه کولو دسلام ځواب ورکول، او د نیکیو تلقین کول او له بدیو منع کول [صحیح بخاري، صحیح مسلم]

✧ د سلام په ځواب کې پر وعلیکم السلام بسنه مه کوی بلکې د ورحمه الله وبرکاته الفاظ ورسره زیات کړي .

پــه قران کریم کې دي : وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا [ د النساء سورت : ۸۶ آیت ]

( او چې کله څوک تاسې ته دعا سلام وکړي نو ته ورته له هغې غوره دعا وکړه او یا بیا هماغه الفاظووایه) .

مطلب دا دی چې د سلام په ځواب کې بخل مه کوی، د سلام په الفاظو کې یو څه زیاتوالی وکړي له هغې یو څه غوره دعا ورته وکړي.

او که نه نو لږ تر لږه هماغه الفاظ تکرار کړي، په هر حال ځواب خامخا ورکړي د حضرت عمران بن حصین رحمة الله علیه وینا ده چې نبي ﷺ تشریف فرما وُ، چې یو سړی راغی او له راتلو سره یې السلام علیکم وویل هغه د سلام ځواب ورکړی او وی فرمایل لس یعنی ده ته لس نیکی ورکړای شوی، بیا یو بل سړی راغی او هغه السلام علیکم ورحمة الله وویل هغه یې د سلام ځواب ورکړ او وی فرمایل شل یعنی ده ته شل نیکی ورکړای شوی، له دې نه وروسته دریم سړی راغی او وی ویل السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! هغه یې د سلام ځواب ورکړ او وی فرمایل دیرش یعنی ده ته دیرش نیکی ورکړی شوی [جامع ترمذي ]

حضرت عمر رضی الله عنه وایی یو ځلی زه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه پسی په سپرلی وم، مونږ چې پر کوموکومو خلکو تیریدو ابوبکر صدیق رضی الله عنه به هغوی ته سلام کاوه او هغوی به ځواب ورکاوه، وعلیکم السلام ورحمة الله! او ابوبکر صدیق رضی الله عنه به ویل: السلام علیکم ورحمه الله! نو خلکو به ځواب ورکاوه وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته، پر دی حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وفرمایل نن تاسې په فضیلت کې زمونږ نه زیات یاست [ الادب المفرد ]

✧ چې کله مو له چا سره خبری اتری وی تر ټولو د مخه السلام علیکم، ووایاست له یوی مخی خبرو پیل کولو نه ځان وساتی که خبری اتری هم وی له سلام وروسته یی وکړی.

د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: څوک چې له سلام نه د مخه خبری کوی د هغی ځواب مه ورکوی.

✧ په دی لاندی حالاتو کې له سلام اچولو ځانونه وساتی.

ا } چې کله خلک د قران په لوستلو، ښوولو او یا اوریدلو مشغول وی.

ب } چې کله څوک په خطبه ورکولو مشغول وی.

ج } چې څوک تکبیر او یا اذان وایی.

د } چې کله په کوم مجلس کې پر کومه دینی موضوع بحث کیږی یا څوک چاته دینی احکام ورزده کوی.

هـ } چې کله استاد تدریس کوی.

و } چې کله څوک قضای حاجت لپاره ناست وی.

او په لاندینو حالاتو کې نه یوازی دا چې له سلام اچولو ځان وساتی بلکې د خپلی بی تعلقی او روحانی خفګان ښکارونه هم په حکمت سره وکړی.

ا } کله چې څوک په فسق، فجور او د شریعت پر خلاف چتیاتو او عیش عشرت په خبرو کې اخته وی او د دین سپکاوی کوی.

ب } کله چې څوک ښکنځلی، چتیات، شور غوغا، دروغ بی ځایه او بدی ټوکی کوی او دین بدناموی.

ج } کله چې څوک د دین او شریعت پر خلاف تبلیغ کوی او خلک له دین نه بیزاره کوی او بدعت او بی دینی اختیارولو ته یی هڅوی .

د } کله چې څوک د دینی عقایدو او شعایرو بی حرمتی کوی او د شریعت د اصولو او احکامو پوری ټوکی کوی او پخپل ځان کې مرداری او منافقت ثابتوی .

✧ یهود او نصاراو ته لومړی سلام مه کوی قران ګواه دی چې یهود د خپلی بد دیانتی، حق دښمنی، ظلم او وحشت، دوکی او فریب او د نفس په چټلتیا کې بدترین قام دی، الله جل جلاله پری بی اندازی نعمتونه واورول، خو دوی تل ناشکری وکړه او خپله بد عملی یی ثابته کړه، دا هماغه قام دی چې د الله جل جلاله رالیږل شوی پیغمبران یی ووژل، نو ځکه باید مؤمن له هرو هغوی کړو نه ځان وژغوری چې د یهودانو د درناوی څرک هم پکی وی بلکې داسې چلن باید خپل کړای شی چې هر ځلی هغوی احساس کړی چې د حق د بدترینو مخالفینو انجام تل ذلت او خواری وی .

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایی: یهود او نصاراو ته لومړی سلام مه کوی او چې کله تاسې له هغوی سره په لاره مخامخ شی نو هغوی په یوی خواته کیدو مجبور کړی [ الادب المفرد ]

یعنی په دومره وقار او پرتم سره پری تیر شی چې هغوی ځان د لاری یوی خواته کړی او ستاسې لپاره لار پریږدی .

✧ چې کله په کوم مجلس کې مسلمانان او مشرکان دواړه راټول وی، نو هلته سلام وکړی نبی صلی الله علیه وسلم یو ځلی په داسې یو غونډی تیریده چې مسلم او مشرک دواړه پکی شریک وو، نو هغه ټولو ته سلام وکړ [ الادب المفرد ]

✧ که کوم نامسلمان ته د سلام کولو اړتیا پیښه شی نو السلام علیکم و نه وایی بلکې آداب عرض، احترامونه او نور ډوله الفاظ وواياست، او په لاس یا سر سره هم کومه اشاره ونکړی، چې د اسلامی عقیدی او اسلام ځانګړی پر خلاف وی .

د هر قل په نامه چې نبی صلی الله علیه وسلم کوم مکتوب لیږلی و په هغی کې د سلام الفاظ دا وو: سلام علی من اتبع الهدی ( پر هغوی سلام دی چې د هدایت پیروی وکړی ) .

✧ له سلام وروسته د مینی او درناوی پـه توګه روغبړ هم وکړی ، نبی صلی الله علیه وسلم به پخپله هم روغبړ کاوه او چې صحابه کرام به هم پخپلو کې سره مخامخ کیدل روغبړ به یې کاوه هغه صحابه کرامو ته د روغبړ کولو ټینګار کړی، او د فضلیت او اهمیت په باب یې ډول ډول ربنا اچولی حضرت قتاده رضی الله عنه له حضرت انس رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه ایا په صحابه وکې د روغبړ کولو رواج و؟ حضرت انس رضی الله عنه ځواب ورکړ، هو! وُ [صحیح بخاری ]

حضرت سلمه بن وردان رحمة الله علیه وایی چې ما حضرت مالک بن انس رحمه الله علیه ولیده چې د خلکو سره روغبړ کوی، له مانه یې پوښتنه وکړه ته څوک یی؟ ما ورته وویل، د بنی لیث غلام یم، هغه زما پر سر دری کرتی لاس راکش کړ او وی فرمایل الله جل جلاله دی خیر او برکت درکړی.

یو ځلی چې کله د یمن یو څو تنه راغلل، نو پیغمبر اکرم ﷺ صحابه و ته وویل تاسې ته د یمن خلک راغلی دی او په راتلونکیو کې دوی د روغبړ ډیر حقدار دی [سنن ابو داود ]

حضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنه وایی چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چې کله دوه مؤمنان سره مخامخ کیږی او له سلام وروسته د روغبړ لپاره یو د بل لاسونه پخپلو لاسو کې نیسی، نو د دواړو ګناهونه داسې رژیږی لکه د ونی نه وچی پانی رژیږی [ طبرانی ]

حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنهما وایی چې نبی ﷺ فرمایلی دی مکمل سلام دا دی چې د روغبړ لپاره لاسونه هم وراوړده کړای شی .

✧ که څوک دوست ، خپلوان او ملګری مو له سفر نه راشی نو په غیږ روغبړ هم ورسره وکړی حضرت زید بن حارثه رضی الله عنه چې کله مدینی ته راغی نو د نبی صلی الله علیه وسلم کره ورسید دروازه یې وټکوله، هغه

خپل ځادر په ځان پسې راکشاوه دروازې ته راغي له هغه سره یې غیږه ورکړه او پر تندي یې مچ کړ [جامع ترمذي]

د حضرت انس رضي الله عنه وينا ده چې کله به صحابه کرام پخپلو کې سره مخامخ کېدل نو روغبړ به يې کاوه او چې څوک به له سفره راته نو په غیږه روغبړ به یې ورسره کاوه [طبراني]

## د ناروغ پوښتنې (عيادت) آداب

د ناروغ پوښتنه خامخا وکړئ، د ناروغ د حال پوښتنې حيثيت يوازې دا نه دى چې د ټولنيز ژوندانه يوه اړتيا ده او يا د خپلمنځي مرستو او غمخوارى د ولولو راويښولو يوه وسيله ده بلکې دا پر مسلمان د بل مسلمان ورور حق دى او د الله جل جلاله سره د مينې حتمي غوښتنه ده، د الله جل جلاله سره اړيکى لرونکى د الله جل جلاله له بندګانو سره بې اړيکى نشي پاتې کيداى، د ناروغ له غمخوارى او دردمندى او مرستې څخه بې پروايي کولو په اصل کې له الله جل جلاله بې پروايي ده.

د نبي صلى الله عليه وسلم لارښوونه ده: د قيامت په ورځ به الله جل جلاله فرمايي اى د آدم زويه! زه ناروغ وم او تا زما پوښتنه ونکړه. بنده به وايي الهي! ته د ټولو کائناتو پالونکى يې نو زه څنګه ستا د حال پوښتنه کولاى شم! الله جل جلاله به وايي زما فلانى بنده ناروغ پروت وُ تا د هغه د ناروغي پوښتنه ونکړه، که ته د هغه پوښتنې ته تللى وايي، زه به دې هلته ميندلى وم ته به زما د رحمت او بښنې حقدار شوى وى [صحيح مسلم]

پيغمبر اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د يو مسلمان پر بل مسلمان ورور شپږ حقونه دي، پوښتنه ترې وشوه يا رسول الله! هغه کوم کوم دي وى فرمايل: چې کله تاسې له مسلمان ورور سره مخامخ شى هغه ته سلام وکړئ.

چې کله هغه تاسې ته بلنه دعوت درکړي د هغه بلنه قبوله کړئ.

کله چې هغه له تانيکه مشوره غواړي ته د هغه خير وغواړه او نيکه مشوره ورکړه.

کله چې هغه ته پرنجي راشي او هغه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وايي نو ته يې په ځواب کې يَرْحَمُکَ الله ووايه.

چې کله ناروغه شي پوښتنې ته يې ورشه او چې کله هغه مړ شي له جنازې سره يې ولاړ شه او نبي صلى الله عليه وسلم دا هم فرمايلي دي: چا چې د

خپل مسلمان ورور د ناروغی پوښتنه وکړه هغه بــه د جنت پــه شیګری ( بالاخانه ) کې وی [ الادب المفرد ]

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه وینا ده چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: کله چې کوم بنده د خپل مسلمان ورور د ناروغی پوښتنه کوی یا له هغه سره د ملاقات لپاره ځی، نو یو آواز کوونکی له آسمانه آواز کوی، ته ښه اوسی ستا تلل دی ښه وی، تا د خپل ځان لپاره په جنت کې کور جوړ کړ [جامع ترمذی ]

د ناروغ بالنبست ته کینی د هغه پر سر یا بدن لاس راکاږی او د تسلی او روغیدو خبری ورته وکړی، چې ذهن یې د اخرت د اجر او ثواب په لور متوجه شی، او بی صبری او شکایت کومه خبره یې په ژبه رانشی.

حضرت عایشه رضی الله عنها بنت سعد وایی چې زما پلار خپله قصه واوروله چې زه یو کرتی په مکه کې سخت ناروغ شوم ، پیغمبر اکرم ﷺ زما د پوښتنی لپاره تشریف راوړ، نو ما تری پوښتنه وکړه یا رسول الله ﷺ زما نه پوره مال پاتی کیږی، او زما یوازی یوه لور ده، ایا زه له خپل مال نه د دوه برخو وصیت وکړم او یوه برخه خپلی لورته پریږدم ؟ وی فرمایل نه ما ورته وویل د نیم مال وصیت وکړم او نیم د لور لپاره پریږدم ؟ وی فرمایل نه نو ما عرض وکړ یا رسول الله ! نو بیا د یوی برخی وصیت وکړم ؟ وی فرمایل، هو! د یوی برخی وصیت وکړه یوه برخه ډیره ده، له دی نه وروسته نبی صلی الله علیه وسلم خپل لاس زما پر تندی کیښود او زما پر خوله او ګیډه یې کش کړ او بیا یی دعا وکړه: ای الهی د سعد شفا وفرمایی ! او د ده هجرت مکمل کړی، له دی وروسته تر اوسه چې کله خیال راځی نو د نبی صلی الله علیه وسلم د مبارکو لاسونو یخوالی په خپل ځیګر احساسم [ الادب المفرد ]

حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه وایی چې یو ځلی زه د سترګو په ناروغی اخته شوم نبی صلی الله علیه وسلم زما پوښتنی ته تشریف راووړ او وی ویل زیده! ستا سترګی په تکلیف دی ، نو ته څه کوی؟ ما عرض

وکړ چې صبر او زغم کوم، هغه وفرمایل، تا د سترګو په دی تکلیف کې له صبر او زغم نه کار واخیست نو تا ته به په بدل کې جنت درکړل شی.

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه وینا ده چې نبی صلی الله علیه وسلم به د کوم مریض پوښتنی ته تشریف وړو، نو د هغه بالښت ته به کیناسته ، له دی وروسته به یې اوه ځلی فرمایل : اَسْاَلُ اللهَ الْعَظِیْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ اَنْ یَّشْفِیَکَ [ زه له عظیم الله نه چې د عظیم عرش رب دی سوال کوم چې هغه تاته شفا دروبښی ].

او نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی چې د دی دعا اوه کرتی لوستو سره ناروغ شفا مومی، مګر دا چې مرګ یی راغلی نه وی .

حضرت جابر رضی الله عنه فرمایی چې حضور صلی الله علیه وسلم د یوی بوډی ښځی ام السائب د پوښتنی له پاره راغی، ام السائب د تبی له زوره لړزیده، پوښتنه یی تری وکړه څه حال دی؟ بوډی وویل، الله دی دا تبه پوه کړی ګیره کړی یی یم، د دی خبری په اوریدو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل تبی ته بد رد مه وایه دا د مؤمن ګناهونه داسی پاکوی لکه څنګه چې د اور بټی له اوسپنی زنګ لری کوی [الادب المفرد ]

⊕ چې ناروغ ته ورشی د طبعیت د حال پوښتنه تری وکړی او د روغیدو دعا ورته وکړی، پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم به چې ناروغ ته ورته نو پوښتنه به یی کوله: کیف تجدک [ طبیعت دی څنګه دی؟ بیا به یی ډاډینه ورکوله او فرمایل به یی : لَاَبَاْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَاءَ اللهُ [د ویری هیڅ خبره نشته د الله جل جلاله دا ناروغی به ولاړه شی ] او دا مرض به د ستا له ګناهونو نه د پاکیدو وسیله وی او د درد او تکلیف پر ځای به یی لاس سیده راکش کاوه او دا دعا به یی فرمایله : اَللّٰهُمَّ اَذْهِبِ الْبَاْسَ رَبَّ النَّاسِ اَشْفِهٖ وَاَنْتَ الشَّافِیُ لَاشِفَاءَ اِلَّا شِفَاءُکَ شِفَاءً لَّایُغَادِرُ سَقَمًا

( الهی! دا تکلیف لری کړی، ای د انسانو ربه ! ده ته شفا ورکړی، هم ته شفا ورکوونکی یی، له تا پرته له هیچا نه د شفا هیله نشته. داسې شفا ورکړی چې د ناروغی نوم او نښان پاتی نشی ) [ صحیح بخاری، صحیح مسلم ]

☜ له ناروغ سره تر ډېره وخته مه کښېنئ او نه شور او غوغا جوړه کړئ هو! که ناروغ ستاسې کوم دوست او یا خپلوان وي او هغه پخپله ستاسې تر ډېره د کیناستو هیله من وي، نو تاسې خامخا د هغه د جذباتو درناوی وکړئ.

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمایي چې له ناروغ سره تر ډېره نه کیناستل او شور غوغا نه جوړول سنت دي.

☜ د ناروغ له خپلوانو هم د ناروغ د احوال پوښتنه وکړئ او همدردي ورسره ښکاره کړئ اؤ چې کوم خدمت او مرسته کولای شئ، خامخا یې وکړئ، لکه ډاکټر ته ښودل حال ویل او دوایي درمل راوړل او که اړتیا وي نو مالي مرسته یې کول.

حضرت ابراهیم بن جبله رحمة الله علیه وایي یو کرتي زما میرمن ناروغه شوه، زه په هغو ورځو کې حضرت ام الدردا رضی الله عنها ته راتلم، چې زه به کله هغې ته ورغلم نو فرمایل به یې، ووایه ستا د میرمن طبیعت څنګه دي؟ ما به ځواب ورکاوه لاتر اوسه ناروغه ده، بیا به هغې خواړه راغوښتل او زه به له هغې سره کیناستم او خواړه به مې خوړل او بیرته به راتلم، یوه ورځ چې زه کله وررورسیدم او هغوی د حال پوښتنه وکړه نو ما ورته وویل چې د الله جل جلاله په فضل او کرم سره اوس لږه لږه ښه شوې ده، کله به چې تا ویل چې میرمن مې ناروغه ده، نو مابه ستا لپاره د خوراک انتظام کاوه، اوس چې هغه روغه شوې نو د دې انتظام څه اړتیا ده.

☜ د نامسلمانو ناروغانو د پوښتنې لپاره هم ولاړ شئ او د مناسب وخت په میندلو د هغوی پام د حق دین په لور راوګرځوئ، په ناروغتیا کې د انسان د الله جل جلاله لوري ته زیات پام وي او د منلو جذبه یې هم په عمومي توګه زیاته راویښېږي.

د حضرت انس رضی الله عنه وینا ده چې یو یهودي هلک به د نبي ﷺ خدمت کاوه ، یو ځلې هغه ناروغه شو، نو هغه یې پوښتنې ته تشریف یووړ، هغه یې بالښت ته کیناست، نو هغه ته یې د اسلام بلنه ورکړه، هلک

د خپل پلار لوری ته وکتل چې همالته موجود و چې د پلار می څه خیال دی؟ پلار یې زوی ته وویل: ( زویه! ) د ابو القاسم خبره ومنه، په دی ډول هلک مسلمان شو، اوس نبی صلی الله علیه‌وسلم له هغه ځایه د دی خبری په کولو راووتو هغه او ویی ویل الله جل جلاله ته شکر دی چا چې دغه هلک د جهنم له اوره وساته [ صحیح بخاری ]

☜ د ناروغ کور ته چې د پوښتنی لپاره ولاړ شی، نو د اخوا دیخوا کتونه ځان وساتی او په احتیاط سره په داسې حالت کې کینی چې د کور پر زنانه و مو سترګی پری نه ووزی، حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه یو کرتی د کوم ناروغ پوښتنی ته ولاړ له هغه سره یو څو تنه نور هم وو، په کور کې یوه زنانه هم موجوده وه، د حضرت له ملګرو نه یوه هغی میرمنی ته په ځیر ځیر وکتل، حضرت عبدالله رضی الله تعالی عنه چې احساس کړه نو وی فرمایل که تا خپلی سترګی اړولی وای نو دا به ستا په حق کې غوره وای .

☜ کوم خلک چې په ښکاره په بدو کارو کې اخته وی او په ډېره بی شرمی او سرتمبه توب سره د الله جل جلاله نافرمانی کوی، د هغوی د پوښتنی لپاره مه ځی .

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمایی چې شرابیان چې ناروغه شی د هغوی پوښتنی ته مه ورځی .

☜ د ناروغ پوښتنی ته چې ورشی نو له ناروغ نه هم د ځان لپاره د دعا غوښتنه وکړی، په ابن ماجه کې دی، چې کله ته د کوم مریض پوښتنی ته ورشی نو له هغه نه د ځان لپاره د دعا غوښتنه وکړه، د ناروغ دعا داسې ده لکه د ملایکو دعا یعنی ملایکی د الله جل جلاله په رضا میندلو دعا کوی او د هغوی دعا منظوریږی .

## د ملاقات (ليدنې کتنې) آداب

۱) د ملاقات پر وخت په موسکا سره خپل مقابل لوری ته ښه راغلاست ووایاست مینه او خوښي ښکاره کړی . لومړی سلام وکړی چې د دی ډېر اجر دی .

۲) د سلام او دعا لپاره هغه دغه الفاظ مه کار وی، د رسول الله ﷺ ښوول شوی الفاظ السلام علیکم استعمال کړی، بیا که وخت وی روغبړ وکړی، د مزاج پوښتنه وکړی او که مناسبه وی نو د کور ودانی پوښتنه تری وکړی ، د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ښوول شوی الفاظ السلام علیکم ډېری جامع دی، په دی کې د دین دنیا ټولی سلامتی او هر ډول خیر او عافیت شامل دی، دی ته هم خیال ساتی چې نبی ﷺ به د روغبړ پر وخت خپل لاس ژر نه وروسته کاوه انتظار به یی کاوه چې دویم کس یې لاس پخپله پریږدی .

۳) چې کله د چا د لیدو لپاره ځی نو پاکی او صافی جامی واغوندی ولاړ شی، په خیرنو او چټلو جامو کې مه ځی او نه په دی نیت ولاړ شی چې تاسې پخپلو قیمتی جامو پر هغه خپل رعب قایم کړی .

۴) کله مو چې د چا د لیدو اراده وی نو لومړی له هغه نه وخت واخلی"، همداسی وخت بی وخته د چا کره تلل مناسب نه دی، د دی سر د نور وخت هم ضایع کیږی او ملاقات کوونکی هم ځنی وختونه له نظره پریوزی .

۵) کله چې څوک ستاسې د لیدو لپاره راشی نو له مینی په ډکه موسکا سره ورته ښه راغلاست ووایاست، په درناوی سره یې کینوی او له وخت سره مناسب څه پری وخوروی هم .

۶) چې چا کره ولاړ شی نو د کار خبری وکړی، په بی ځایه خبرو د هغه او خپل وخت ضایع نه کړی او که نه نو ستاسې تلل راتلل به خلکو ته بد ښکاری .

۷) چې چا کره ولاړ شی نو په دروازه کې اجازه واخلی او د اجازی په اخیستلو السلام علیکم ووایی او دننه ولاړ شی که له دری کرتی السلام علیکم په ویلو ځواب درنه کړای شو نو په خوښی خوښی بیرته ولاړ شی .

۸ ) د چا کره تللو پر وخت کله کله مناسب سوغات هم له ځانه سره يوسی په سوغاتونو ورکولو سره مينه زياتيږي .

۹ ) کله چې کوم محتاج ستاسې ليدو ته راشی، نو تر کومه ځايه چې امکان ولری د هغه اړتيا پوره کړی، که د سپارښتنی غوښتنه وکړی نو سپارښتنه يی وکړی او که د هغه اړتيا پوره نه کړای شی نو له مينی په ډکه ژبه يی رخصت کړی، خامخا يی په هيلو کې مه ساتی .

۱۰ ) تاسی چې چاته د څه اړتيا لپاره ولاړ شی نو په مهذب انداز کې خپله اړتيا بيان کړی، که پوره شوه نو شکريه يې ادا کړی، او که پوره نه شوه نو په سلام کولو تری بيرته په خوشحالی راستانه شی .

۱۱ ) تل دا هيله مه لری چې خلک دی ستاسې ليدو ته راشی، پخپله هم د نورو لپاره ولاړ شی په خپلو منځو کې تلل راتلل زياتول او يو د بل په کار راتلل ډېره غوره خبره ده خو پام ساتی چې د مؤمنانو تلل راتلل تل د نيکو اهدافو لپاره وی .

۱۲ ) د ملاقات پر وخت که وګوری چې د مقابل لوری پر مخ يا ږيره او يا جامو کوم خاشاک يا کوم بل څيز پروت دی لری يی کړی او که بل څوک تاسې سره دا ښه رويه وکړی نو شکريه يی اداء کړی او دعا ورته وکړی: مَسَحَ اللهُ عَنْکَ مَاتَکْرَهُ ( الله دی تاسی نه هغه شيان لری کړی چې ستاسی خوښ نه وی ) .

۱۳ ) د شپې مو چې له چا کره د تللو ضرورت وی نو د هغه د ارام خيال وساتی، تر ډېره مه کينی او که له ورتلو وروسته درته معلومه شوه چې هغه ويده شوی دی نو له خفګان پرته بيرته خوشحاله راشی .

۱۴ ) چې څو کسه د چا د ملاقات لپاره ولاړ شی، نو خبری کوونکی بايد په خبرو کې د ټولو نماينده ګی وکړی، په خبرو کې خپل غوره والی ښکاره کول، خپل اهميت زياتول او منل او خپل ملګری له نظره غورځول، او چا ته چې واياست هغه يوازی له ځان ته متوجه کولو نه په سختی سره ډډه وکړی .

## خبرو اترو آداب

● تل ربنتیا وایی ، په ربنتیا یلو کې د ویری ترهی احساس مه کوی، که څه هم هر څومره زیان تری پیښیږی .

● د اړتیا په وخت کی خبره وکړئ او چی کله هم خبره کوی د کار خبره کوی، هر وخت او بی ضرورته خبری کول د وقار او درنښت پر خلاف دی او خدای جل جلاله ته د هری خبری ځواب ورکول دی، سړی چی هره خبره له خولی نه باسی، الهی پرښتی هغه فوراً لیکی: مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ( کومه خبره یی چی په ژبه راځی، یوه نګرانه ملایکه د هغی ساتلو لپاره ) تیاره ولاړه وی ) .

● چی کله هم خبره کوئ په نرمی سره یی کوئ، په موسکا سره په خوږه ژبه یی وکړی تل په منځنی اواز سره خبره کوی، مه دومره په ورو خبره کوی ، چی اوریدونکی یی وانه وری او مه دومره په زوره چیغی وهی، چی په اوریدونکی ته یی د ویری راتلو خطره وی، په قران عظیم کی دی إِنَّ أَنكَرَ الْأَصْوَاتِ لَصَوْتُ الْحَمِيرِ ( تر ټولو زیات بد او خراب آواز د خره دی )

● هیڅکله په کومه بده خبره ژبه مه ګنده کوی، نورو ته بد مه وایی، چغلی مه کوی، شکایتونه مه کوی، د نورو پیښسی مه کوی، په دروغو وعدی مه کوی په چا پوری مه خاندی، خپله لویی په خلکو مه باروی، خپله ستاینه پخپله مه کوی، د چا په خبرو کی مه رالویږی، د ریا خبری هم مه کوی، خبره مه ژوي، په چا پوری ټوکی مه کوی څوک د ذلت په نامه سره مه یادوی، پر هره خبره سوګند مه یادوی .

● تل په انصاف سره خبره وکړی، سره له دی چی ستاسی خپل او یا د خپلوانو زیان پکی وی .

وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى ( او چی کله په ژبه څه وایاست نو د انصاف خبره وکړي که څه هم ستاسی د خپلوانو پر خلاف وی ) .

- نرمي په زړه پورې او معقولې خبرې وکړې، بې خونده، بې ځایه او ضرر رسوونکې خبرې مه کوئ.
- زنانه که کله سړو سره خبرو ته اړې شي، نو سمې، سیده او په کره لهجه باید خبرې وکړي، په خبرو کې باید نزاکت او نخریې ونکړي، چې اوریدونکی یې کوم بد خیال وکړي.
- ناپوهه خلک مو که په خبرو خبرو له کاره باسي نو په مناسب انداز سره سلام وکړئ او له هغه ځایه رخصت شئ، بې ځایه خبرې کوونکي او په چټیاتو کې اخته خلک د امت له بدترینو خلکو نه دي.
- اوریدونکي په خبره د ښه پوهولو لپاره یا د کومې خبرې د اهمیت پیدا کولو لپاره د مخاطب ذهن او فکر په نظرکې ونیسئ، او هماغسې انداز غوره کړئ او که مخاطب ونه پوهیدای شي، یا یې وانه وریدلای شي نو بیا خپله خبره تکرار او د دې اومره کړ او احساس نه کړئ.
- تل لنډې او د مطلب خبرې وکړئ، د څه لامل پرته خبرې اوږدول ښه نه دي.
- کله چې د چا په ذهن یا ذهنونو کې د دین خبره کینول وي، یا د تقریر په وسیله یو څه احکام بیانول وي، نو په ډېر سوز سره خپله خبره ښکاره کړئ.

د تقریر په وسیله مشهورتیا غوښتل، په خپله خوږه ژبې سره خلک تر تاثیر لاندې راوستل، خلک د ځان تابع ګرزول، فخر او ویاړ کول، یا یوازې د زړه خوشحالولو او تفریح لپاره تقریرونه کول هغه بدترین عادت دی چې زړه پرې توریږي.

- هیڅکله د تملق او چاپلوسي خبرې ونه کړئ، د خپل عزت تل خیال وساتئ او هیڅکله د خپلې مرتبې نه ټیټه خبره ونکړئ.
- چې دوه کسان پخپلو کې سره خبرې کوي له اجازې پرته مداخله ونکړئ، او نه کله د کومې خبرې په پریکولو د خبرو کوښښ وکړئ، که خبرې کول ضروري هم وي نو اجازه واخلئ خبرې وکړئ.
- په ورو ورو او وقار سره خبرې وکړئ، په تیزې او چټکتیا سره خبرې مه کوئ، مه تل ټوکې او خندا کوئ، د دې سره د سړي درنښت له منځه ځي.

که څوک د کوم څیز پوښتنه کوي، نو لومړی د هغه خبره ښه په غور سره واوري، او ښه سوچ پرې وکړي او ځواب ورکړي ، له سوچ کولو پرته د (بیني بوڅي لنډ ګنډ) ځواب ورکول ډېره ناپوهي ده او که څوک د بل چا نه پوښتنه کوي نو تاسې پخپله د ځواب ورکولو کوښښ مه وکړي .

که څوک تاسې ته څه وایي نو لومړی ورته دا ونه وایاست چې ما ته معلومه ده کیدای شي چې د هغه له ویلو سره کومه نوی خبره هم تری واوری، یا د کومی ځانګړی خبری اغیز مو پر زړه وشي، ځکه چې له خبری سره سره د خبری کوونکی اخلاص او نیکی هم اغیزه کوی .

له هر چا سره چې خبری کوی د هغه عمر، رتبه او له هغه سره خپلی اړیکی په نظر کې ولری، او خبری ورسره وکړی، له مور، پلار، استاذ، او نورو لویانو سره د ملګرو په څېر خبری اتری مه کوی، همدا رنګه چې له کوچنیانو سره خبری کوی ، نو خپل ځان ته په خیال کولو سره د مهربانی ، شفقت او لویانو خبری وکړی .

د خبرو اترو پر وخت اشاری مه کوی، چې نور بد ګومانه شی او خامخا یی په زړونو کې شک پیدا شی، د نورو خبری په چوپتیا سره واوری، او د چا خبرو ته پټ مه کینی (غوږ ورته مه نیسی) .

د نورو خبری زیاتی اوری، او پخپله لږی خبری وکړی او چې کومه د راز خبره وی، هغه چاته بیان نه کړی، خپل راز نورو ته ویل او له هغه نه د حفاظت هیله لرل بیخی ناپوهی ده .

## د لیک را لیک آداب

✍ د لیک پیل تل په بسم الله الرحمن الرحیم سره وکړئ، که په لنډ ډول یې غواړئ نو باسمه تعالی ولیکئ، نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي د کوم کار په پیل کې چې بسم الله الرحمن الرحیم نه وي، هغه نیمګړی او بې برکته وي ځینې کسان د الفاظو پر ځای ۷۸۶ لیکي، له دې نه ځان وساتئ ځکه چې د الله جل جلاله په ښوول شویو الفاظو کې برکت دی.

✍ خپله پته (آدرس) په هر لیک کې خامخا ولیکئ، په دې فکر سره د خپلې پتې په لیکلو کې هیڅکله سستي مه کوئ تاسې چې چاته لیک ورلیږئ، هغه ته مو خپله پته د مخه لیږلې ده یا به هغه ته زده وي، دا ضروري نه ده چې ستاسې ادرس دې هغه له ځانه سره ساتلی وي او دا هم ضروري نه ده چې مکتوب الیه ته دې ستاسې پته زده وي.

✍ خپل آدرس ښي لوري ته د پاکټ په یو څه برخه (حاشیه) پریښودولو ولیکئ

✍ آدرس تل په ښه خط سره ولیکئ او د پتې په صحیح والي او املا یې صحت خپل باور ښه راولئ.

✍ د خپل آدرس لاندې یا کیڼ لوري ته د لیکې په سر نیټه خامخا ولیکئ.

✍ د تاریخ لیکلو وروسته په ادب او درناوي سره مکتوب الیه مخاطب کړئ، د احترام او درناوي کلمات تل لنډ او ساده ولیکئ، چې ریا او ځان ښودونه ترې نه ښکاره کیږي، د درناوي له الفاظو سره او یا په دویمه کرښه کې مسنون سلام ولیکئ ، د اداب، درناوي، مننې او نورې کلمې مه لیکئ.

✍ که نا مسلمان ته لیک لیکئ نو د السلام علیکم یا مسنون سلام پرې ځای اداب مننې او درناوي الفاظ ولیکئ.

✍ له ادب او درناوي وروسته خپل هغه هدف ولیکئ، د څه لپاره چې تاسې لیک لیږل غواړئ، د خپل هدف او له لیکلو وروسته خط لیږونکي د

مینی او مننی د کلماتو د خبرو د لیکلو سره سره خپل نوم او پته هم ورته ولیکی او د مینی او مننی په کلماتو یی پای ته ورسوی .

✍ لیک ډېر ساده او په ښه خط سره ولیکی چې په اسانی سره ولوستل شی او مطلب تری تر لاسه شی او د لیک لیږونکی په زړه کې یی درناوی وی .

✍ په لیک کې ډېری روانی، ساده او په زړه پوری جملی استعمال کړی .

✍ خط لنډ لیکی او هره خبره پکی لنډه او واضحه لیکی، د اشارو نه کار مه اخلی .

✍ د نوی پاراګراف سرلیک په پیل کیدو سره د کرښی سرته د یوی کلمی د لیکلو ځای پریږدی .

✍ په ټول لیک کې د القابو او ادابو نه واخله د لیک تر پای پوری د مخاطب مرتبی خیال وساتی.

✍ لیک تل په ادبی جملو سره ولیکی له بی ادبی او بی نزاکتی نه ځان وژغوری .

✍ لیک هیڅکله په غصه کې ونه لیکی، او نه کومه بده خبره ولیکی، لیک تل په نرمه لهجه سره ولیکی.

✍ په لیک کې د راز خبره مه لیکی.

✍ د غونډل جملی په پای ته دیش -- کش کړی.

✍ د چا لیک له اجازت پرته مه لولی، دا ډېر بد عمل دی، هو! د کور د لویانو او مشرانو مسئوولیت دی چې هغوی کوچنیانو ته خطونه ولولی او د هغوی روزنه وکړی او هغوی ته مناسبی مشوری ورکړی، د نجونو لیکونه باید په خصوصی ډول تر نظارت لاندی وساتل شی .

✍ دوستانو او خپلوانو ته د خیر خیریت لیکونه تل ولیکی .

✍ که څوک ناروغه شی، یا الله جل جلاله مه کړه څه پیښه وشی یا په کوم بل مصیبت کې څوک ونښلی نو د همدردی لیک ورته خامخا ولیکی.

✍ که د چا سره د خوشحالي غونډه وي، یا یې څوک خپلوان راغلی وي او یا پری د خوښي کوم بل ساعت راغلی وي، نو د مبارکی خط ورته خامخا ولیکی.

✍ لیکونه تل په شنه، ابی او یا تور رنګ سره ولیکی، په پنسل او یا سره رنګ یی مه لیکی.

✍ څوک چې درته پر پوسته کې د لیک اچولو لپاره پاکټ درکړی نو په تېنګه سره یې پخپل وخت پوسته کړی، بی پروایی او وروسته والی هیڅکله ونه کړی.

✍ له چا سره مو چې اړیکی نه وی له هغو نه د ځواب غوښتلو لپاره ورته ځوابی لفافه یا ټکټ ورو ه لیږی.

✍ چې خپل لیک ورانول غواړی نو نری کرښه پری راکاږی.

✍ په لیک کې یوازی د خپل مزاج او خپل مطلب خبری مه لیکی، بلکه د مخاطب د ولولو او احساساتو خیال هم وساتی، یوازی خپل خیر او عافیت په خط کې مه لیکی، بلکې د مخاطب او د خپلوانو یی د خیر خیریت پوښتنه هم ولیکی او یاد ساتی په لیکونو کې له چا نه زیاتی غوښتنی مه کوی، په زیاتو غوښتنو سره د سړی درناوی کمیږی.

## د کار او زیار آداب

◈ په مینه او زیار ګالنې سره خپل کارو بار وکړی، ځانته روزی پخپله وګټی او پر چا باندې بار کیږی مه، یو کرتی د نبی صلی الله علیه وسلم حضور ته یو سړی راغی او هغه له نبی صلی الله علیه وسلم نه د څه سوال وکړ، هغه صلی الله علیه وسلم تری پوښتنه وکړه، ستا په کور کې څه سامان هم شته او که نه؟ صحابی وویل یا رسول الله ! یوازی دوه شیان شته ، یوه د ترارټ بستره ده چې مونږ یی اغوندو هم او غوړوو او آروو ) یی هم، او یوه د اوبو څښلو پیاله ده نبی صلی الله علیه وسلم ورته وویل دا دواړه شیان ماته راوړه، صحابی دواړه شیان راوړل حاضر شو، هغه دواړه شیان په دوه درهمه نیلام کړل او دواړه درهمه یی هغه ته ورکړ او ورته وی فرمایل ولاړ شه په یوه درهم د کور لپاره د خوراک څښاک څه راوړه او په یوه درهم تبرګی واخله راوړه، بیا په تبرګی کې نبی صلی الله علیه وسلم په خپلو مبارکو لاسونه لاستی واچاوه او ورته وی فرمایل ولاړ شه له ځنګله لرګی مړیکوه او راوړه یی، او په بازار کې یې خرخوه، پنځلس ورځی وروسته ماته راشه احوال راته ووایه پنځلس ورځی وروسته چې هغه صحابی حاضر شو نو لس درهمه یې جمع کړی وو هغه خوشحاله شو او وی فرمایل دا په زیار ګټل شوی تاته له هغی څو چنده غوره ده چې ته یی ، خلکو غواړی، او د قیامت په ورځ ستا په څیره د سوال کولو داغ وی .

◈ په ټینګ عزم سره کارو بار کوی او شه ډیره ګټه وکړی، چې خلکو ته محتاج نه شی له نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه خلکو یو ځلی پوښتنه وکړه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ! تر ټولو غوره ګټه کومه ده ؟ وی فرمایل د خپل لاس ګټه او هر هغه کارو بار چې په هغی کې دروغ او خیانت نه وی ، حضرت ابو قلابه رحمه الله علیه به فرمایل ، په بازار کې په ټینګ عزم سره کارو بار کوی ، تاسي په پر دین په کلکه ولاړ پاتی شی او له خلکو به بی پروا اوسی .

◈ د کارو بار د پر مختګ لپاره تل د ربښتیا لاری چاری غوره کړی، له دروغو قسمونو نه په کلکه ځان وژغوری، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم

فرمایلي فرمایلي د قیامت په ورځ به الله جل جلاله له هغه سړي سره نه خبرې کوي او نه به ورته ګوري او نه به هغه ته پام کوي او نه به یې جنت ته لېږي، چې په دروغو قسمونو خوړلو خپل کارو بار ته پرمختګ ورکول غواړي [صحیح مسلم ]

او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلي، چې خپل مال د خرڅولو لپاره له زیاتو دروغینو سوګندونو نه ځان وساتي، دا ځیز هم په مهالیزه توګه د پراختیا وسیله ښکاري، خو په اخر کې په کارو بار کې برکت ختمیږي.[صحیح مسلم ]

◈ په کارو بار کې تل امانت او دینداري غوره کړي او هیڅکله چاته د خراب مال په ورکولو او یا د زیاتي ګټې په لاسته راوړو خپله حلاله ګټه مه حراموي د الهي پیغمبر صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده ، رښتیني او امانتدار سوداګر به د قیامت په ورځ د نبیانو، صدیقیونو او شهداو سره یو ځای وي [جامع ترمذی ]

◈ اخیستونکیو ته له ښو نه د ښه مال تیارولو کوښښ وکړي، پر کوم مال چې ستاسې باور نه وي، هغه هیڅکله پیرودونکي ته ورنکړي، او که کوم پیرودونکي له تاسې نه مشوره وغواړي، نو مناسبه مشوره ورکړي .

◈ د اخیستونکیو پر ځان د باور راوستلو کوښښ وکړي. چې هغوی تاسې خپل خیر خواه وګڼي، پر تاسې باور وکړي او د هغه مکمل زړه جمعه وي چې هغه به له تاسره هیڅکله نه دوکه کیږي، نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : چا چې پر پاکه او سپیځلې ګټه ګذاره وکړه، زما پر سنتو یې عمل وکړ، او خلک یې له خپل شر نه وساتل نو دا سړی جنتي دی، په جنت کې به داخل شي، خلکو عرض وکړ یا رسول الله! په اوسني وخت کې خو داسې کسان زیات دي، هغه وفرمایل: زما نه وروسته به هم داسې خلک وي [جامع ترمذی ]

◈ په کارو بار کې د وخت په کلکه پابندي اوسی، پخپل وخت ځانونه دوکان ته ورسوي او په عزم او صبر سره کیني، رسول اکرم ﷺ فرمایلي دي: د روزي په تلاش او حلالي ګټې پسې سهار وختي ولاړ شي، ځکه د سهار په کارونو کې برکت او پراخي وي [ طبراني ]

◈ پخپله هم زیارکښ اوسی او نوکران مو هم زیار کښان عادت کړی، هو! د نوکرانو حقوق په سخاوت او قربانی سره ادا کړی، او تل ورسره د نرمی او سخاوت رویه کوی .

په خبره خبره له غوسه کیدلو او شک کولو نه ځانونه وساتی ، د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لاربښونه ده : الله جل جلاله هغه امت په پاکوالی سره نه نازوی د چا په چاپیریال کې چې کمزور یو ته د هغوی حق وانه خیستلای شی .

◈ له اخیستونکیو سره تل د نرمی رویه کوی او له پور غوښتونکیو سره سختی مه کوی، نه هغوی نهیلی ( نامیده ) کړی او نه له هغوی نه د پور په غوښتلو کې ټینګار وکړی .

◈ د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم لاربښوونه ده: الله جل جلاله دی پر هغه سړی رحم وکړی چې په پلورلو پیرودلو او غوښتلو کې له نرمی او ښو اخلاقو نه کار اخلی [صحیح بخاری]

او رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلی دی: د چا چې دا غوښتنه وی چې الله جل جلاله یی د قیامت په ورځ له غم او تکلیف نه وساتی نو هغه ته پکار دی، چې تنګ لاسیو پوروړیو ته وخت ورکړی او یا تری د پور بوج لری کړی [صحیح مسلم]

◈ د مال له عیب پټولو او اخیستونکیو ته له دوکی ورکولو نه ځانونه وساتی، د مال خرابوالی او عیب اخیستونکی او پیرودنکی ته ښکاره کړی، یو کرتی نبی صلی الله علیه وسلم د غلی پر یوی ډېری راشه ) تیریده، هغه په هغه راشه کې خپل لاس وواهه نو په ګوتو کې یې لوندوالی احساس کړ، هغه غلی خرڅونکی نه پوښتنه وکړه دا څه دی؟ دوکاندار وویل: یا رسول الله! پر دی ( راشه ) باران شوی ؤ، هغه ورته وویل، بیا نو تالنده غله ولی پری د پاسه کوله نه چې خلکو لیدلای، څوک چې دوکه ورکوی له ما سره یې هیڅ اړیکی نشته .

◈ د قیمتونو د لوړیدو په هیله د خوراک ښناک شیان نه خرڅلاو نه بندولو او د الله جل جلاله د مخلوق د پریشان کولو له په کلکه ځانونه وژغوری، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ذخیره کوونکی ګناه

کار دی، په یو بل وخت کې هغه فرمایلی ذخیره کوونکی څومره بد سړی دی، چې کله الله جل جلاله شیان ارزانه کوی نو دی له غمه ویلی کیږی، او چې کله قیمتونه لوړیږی نو د ده زړه باغ باغ کیږی [ مشکوه ]

◈ خریدار ته د هغه حق پوره پوره ورکړی، په ګز او تول کې په ټینګه د دیانتداری خیال ساتی، د اخیستلو او خرڅولو اندازه پوره وساتی، نبی ﷺ، ګز او تول کوونکیو سودا ګرو ته په خطاب کې ویلی دی: تاسې د دوه داسې کارونو مسئوول ګرځول شوی یاست د څه له امله چې له تاسې د مخه قامونه هلاک شوی دی.

په قران مجید کې دی : وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ)وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ( په ناپ تول کې د کمی کوونکیو لپاره هلاکت دی څوک چې له خلکو نه ګز یا تول کوی نو پوره پوره یې کوی او چې خلکو ته ګز یا تول کوی نو کم کوی، ایا دا خلک نه پوهیږی چې دوی به بیا را ژوندی کیږی او را پورته کیږی په یوه ډېره سخته ورځ، په کومه ورځ به چې ټول انسانان د خپل رب په حضور کې ولاړ وی ).

◈ د تجارتی ګناهونو کفاره خامخا ادا کړی او د الله جل جلاله په لار کې په خلاص زړه خیراتونه او صدقې ورکړی، نبی صلی الله علیه وسلم سوداګرو ته لارښونه وکړه چې: ای کارو بار کوونکیو! په مال پلورلو کې د بې ځایه خبرو او په دروغو د قسم (سوګنده) خوړلو ډېر زیات امکان وی نو تاسې له خپلو مالونو نه خیرات خامخا ورکړی [سنن ابو داود ]

◈او هغه تجارت او سوداګری هیڅکله له زړه نه ونه باسی چې له دردناک عذاب نه نجات ورکوونکی دی او ګټه یې فانی دنیا نه ده، بلکې تل پاتی بریالیتوب او له منځه نه تلونکی مزی چړچی دی.

په قران عظیم کې دی: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ - تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ

وَأَنفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ [1] (ای مؤمنانو! آیا زه تاسی ته داسې تجارت دروښیم؟ چې تاسې ته له دردناک عذاب نه نجات درکی (دا چې) تاسې پر الله او د هغه پر رسول ایمان راوړی او د الله په لاره کې پخپل مال او ځان سره جهاد وکړی، دا ستاسې له پاره ډېر غوره دی که تاسې له پوهی کار واخلئ).

[1] - د سوره الصف ۱۱ آیت

## خلورم څپرکی (فصل)

## دين ته بلنه

ښه نو له هغوی سړی نه ښی خبری کوونکی بل څوک کیدای شی چي د الله جل جلاله لوری ته بلنه ورکوی - پخپله نیک عمل کوی- او په ژبه ښکاره وایی چې زه خو د الله جل جلاله له فرمان منونکیو څخه یم .
قرآن حکیم

## داعیانه د (بلنوالي) آداب

☜ د خپل منصب رښتوني شعور پیدا کړی، تاسې د نبی اکرم ﷺ جانشین یاست، او دین ته د بلنی، حق شهادت ، د تبلیغ او هغه فریضی سرته رسول پر تاسې دی کوم چې د الله جل علی شانه حضرت محمد ﷺ سر ته رسولی وه، نو د هماغه اوچتوالی هیلی او ولولی د پیدا کولو کوښښ وکړی، چې د نبی صلی الله علیه وسلم یوازینی او غوره صفت وؤ.

د قرآن مجید لارښوونه ده : هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ (هغه تاسې غوره کړی یاست او د دین په چارو کې یې په ستاسې کومه سختی نه ده ایښی، پیروی وکړی د هغه دین چې ستاسې د پلار ابراهیم علیه السلام دین دی، هغه له لومړی سر نه تاسې د مسلم په نامه نومولی واست او په دی لړ کې، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ستاسې لپاره پر حق دین ګواهی ورکړی، او تاسې د ټولی دنیا د انسانانو په وړاندی پر حق دین ګواهی ورکړی)

یعنی مسلمان امت د رسول اکرم ﷺ وارث دی او باید هماغه کار سرته ورسوی، چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سرته ورساوه. لکه څنګه چې وروستی نبی صلی الله علیه وسلم پخپله وینا او عمل او د شپی ورځی په منډو ترړو د الهی دین د واضح کولو حق ادا کړو بس همدغه ډول امت ته هم د نړۍ د ټولو انسانانو په وړاندی د الله جل جلاله دین واضح کول دی .

او د همدی فریضی په احساس او بلنوالی جذبی سره د حق دین د ګواه په حیث ژوند کول دی .

☜ خپل اصلی حیثیت تل په نظر کې ولری او له شانه سره سم یې د خپل ژوندون جوړولو پرله پسی کوښښونه وکړی، تاسې د نړی د نورو امتونو په څیر امت نه یاستو بلکې تاسې ته الله جل جلاله امتیازی شان بخښلی دی، تاسې ته د نړی په ګردو قامونو کې د مشرانو په څیر د لارښوونی مقام

حاصل دی او تاسې له هر ډول افراط او تفریط نه پاک د الله جل جلاله په صحیح لاره په اعتدال سره ولاړ یاست.

په قران عظیم کې دی :

وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا (او همدا رنګه مونږاو تاسې یې یو منځګړی امت ګرزولی یاستو چې د ټولو انسانانو لپاره د حق دین ګواهان شی او زمونږ رسول الله پر تاسې ګواه وی).

د خپل مرام او منشور واقعی پوهه حاصله کړی، او په پراخه حوصله او زغم سر یې د خپلولو کوښښ وکړی ، د الله جل جلاله په نظر کې د مسلمان امت مرام او هدف په واقعی توګه دا دی چې هغه په پوره اخلاص او صداقت سره هغه مکمل دین قایم او نافذ کړی چې حضرت محمد ﷺ راوړی او په عقایدوو عباداتو، اخلاقو او ټولنیز ژوند او په اقتصاد او سیاست لنډه دا چې د ژوندانه په ټولو اړخونو کې په اسمانی لارښوونو ولاړ دی ، نبی اکرم صلی الله علیه وسلم په خپل مبارک دوران کې دغه دین د خپلو ټولو اړخونو سره نافذ او عملی کړ، هغه د عقایدو او اخلاقو زده کړه هم ورکړه، د عباداتو لاری چاری یې هم وښودی، د دین پر بنسټونو ولاړه ټولنه یې هم آباده کړه او د بشری ژوندانه د منظم کولو او له خیر او برکت نه ډکوونکی یو برکتناک حکومت یې هم قایم کړ.

الهی لارښوونه ده : شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ (مسلمانانو! الله جل جلاله ستاسې لپاره د دین هماغه طریقه ټاکلې ده د کومې وصیت یې چې نوح ته کړی وُ او د څه وحی چې ای پیغمبره مونږ تاته درلیږلی ده او د څه لارښوونه چې مونږ ابراهیم موسی او عیسی ته کړی وه، همدغه دین قایم او په همدی کې تفرقه مه پیدا کوی).

د بدیو له منځه وړلو او د نیکیو د قایم ساتلو لپاره تل ملا تړلی اوسی، همدا ستاسې د ایمان غوښتنه ده او همدا ستاسې د ملی شته والی

هدف دی، د همدی مقصد او مرام لپاره ژوندی اوسی او د همدی لپاره خپل روح قربان کړی ، د همدی کار د سرته رسولو لپاره الله جل جلاله تاسې خیرامت (غوره امت) په عظیم نامه سره سر لوړی کړی یاست.

كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ [1] (تاسی غوره امت یاست چې د ګردو انسانانو لپاره شته شوی یاست، تاسې د نیکی حکم ورکوی او له بدیو یی منع کوی او پر الله جل جلاله کامل ایمان لری).

د نبی اکرم ﷺ لارښوونه ده: پر هغه ذات می دی سوګند وی د چا په واک کې چې زما روح دی چې تاسې خلک خامخا د نیکی حکم ورکوی او له بدیو منع کوی او که نه ژر ده چې الله جل جلاله به پر تاسې داسې عذاب راولیږی چې بیا به تاسې ناری وهی او څوک به یې نه اوری [جامع ترمذی]

☜ د الهی پیغام رسولو او د الله جل جلاله بنده ګان د جهنم له اوره د بچ کولو لپاره بلنواله جذبه او مثالی درد او سوز پیدا کړی، د نبی اکرم ﷺ د بی ساری جذبی او بی اندازی درد مننه قران مجید په دی الفاظو کوی.

فَلَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ عَلَىٰ آثَارِهِمْ إِن لَّمْ يُؤْمِنُوا بِهَٰذَا الْحَدِيثِ أَسَفًا [2] (ښایی تاته په هغو خلکو پسی خپل ځان ووژنی، که هغوی د هدایت پر دی کلام ایمان رانه وړی).

او نبی صلی الله علیه وسلم خپل دغه ځرنګوالی په دی الفاظو بیان کړی دی: زما مثال د هغه سړی په څیر دی، چا چې اور بل کړ او چې کله شاو خوا چاپیریال یې د اور په رڼا روښانه شو، نو ماشی او پتنګان پری راپریوتل او هغه سړی په ټول توان سره دغه ماشی او پتنګاتن منع کوی، خو پتنګان دی چې د هغه دغه کوښښ ناکاموی او په اور کې ورپریوځی همداسی ) زه

---

[1] - د ال عمران سورت ۱۱۱ آیت

[2] - د کهف سورت ۶ آیت

تاسې له ملا په رانیولو رانیولو له اوره منع کوم او تاسې یاست چې په اور کې وربرېووزی [ مشکوه المصابیح ]

یو کرتی حضرت عایشی رضی الله عنها له انحضرت ﷺ نه پوښتنه وکړه یا رسول الله! پر تاسی د احد له ورځی نه هم سخته ورځ تیره شوی ده، وی فرمایل هو! عایشی! زما په ژوندانه کې تر تولو مشکله ورځ د عقبه ورځ وه دا هغه ورځ وه چې کله هغه له مکی والو نهیلی ( نا امیده ) شوی و او د طایف خلکو ته یې د الهی پیغام رسولو لپاره تشریف وری وُ، د هغه ځای سردار عبدیالیل، په هغه پسی بدمعاشان کړل او د هغوی د رحمت د پیغام په بدل کې یې پر هغه کانی وه اورولو هغه په وینو سور شو او بیهوشه راپریووت بیا هغه ډېر پریشان او غمګین له هغه ځایه راغی، کله چې مرن الثعالب ته راورسید نو غم یې یو څه سپک شو، الله جل جلاله د عذاب ملائکه د هغه خدمت ته راولیږله د عذاب ملاتکی وویل یا رسول الله که تاسې اجازه راکړی چې زه ابو قیس او جبل احمر پخپلو کې سره ووهم ؟ او د دغو دوارو غرونو په منځ کې دوی بدبختان چیت شی او خپل انجام ته ورسیږی، رحت عالم ورته وفرمایل نه! نه! ما پریږده چې زه خپل قام د الله جل جلاله له عـذابه ویـروم، ښایی چې الله جل جلاله د هغوی زړونه د هدایت لپاره خلاص کړی او یا بیا د هغوی په اولاد کې داسې کسان پیدا شی چې هدایت قبول کړی [ صحیح بخاری، صحیح مسلم ]

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په مکه کې دی او د مکی خلک د هغه صلی الله علیه وسلم پر خلاف سازش کوی څوک وایی چې له ښاره یې باسو، څوک وایی وژنو یې، په همدی ورځو کې په ناڅاپی ډول مکه وال د قحط سره مخامخ شول، داسې قحط چې د قریشو خلک د ونو پاڼو او پوټکو خورو ته مجبور شول، کوچنیانو له ولږی چیغی وهلی او چې لویانو به لیدلی زړونه به یې غمجن کیدل .

رحمت عالم چې دغه خلک په دی لړزوونکی مصیبت کې اخته ولیدل نا آرامه شوو د هغه مخلصو ملګرو هم چې د هغه خفګان ولید پریشانه شول، هغه دغه دښمنانو ته چې د دوی په لاسو ور رسیدلی زخمونه یې لا تر اوسه

تازه وئ، د خپل زړه نه د همدردۍ پیغام ورولیږه او ابو سفیان او صفوان ته یې پنځه سوه دیناره ورولیږل او ورته وی ویل چې دغه دینارونه په قحط ځپلیو وویشی.

ربنتیا دا ده چې د بې لارې بنده ګانو په غم کې ویلی کیدل او د هغوی په بې لارې توب او تکلیف غمیدلو هغوی د الهی عذاب نه د خلاصون غوښتنه، د هغوی د تکلیف په لیدلو نا ارامه کیدل او د هغوی د هدایت او لارښوونې لپاره بې اندازې حرص لرل همدا د یوه داعي (بلونکي) هغه جوهر دی د څه په وسیله چې د هغه ژوندون بې اندازه زړه راښکونکی او بې اندازې اغیزمنوی.

د قام بې لالچه خدمت وکړی او د خپل کوم خدمت بدله له چانه مه غواړی چه څه کوی یوازې د الله جل جلاله د خوشحالی لپاره یې وکړی، او له هماغه نه د اجر او ثواب هیله داسې محرک دی چې د سړی په خبره کې اغیز پیدا کوی، او انسان پرله پسې پخپل کار کې مشغول ساتی، الله جل جلاله تل دی او تل به وی، نه ویده کیږی، او نه پرې پریشانی راځی، د هغه له نظره د بنده یو عمل هم پټ نه دی، هغه د خپلو مخلصانو اجر هیڅکله نه ضایع کوی، هغه جل جلاله ته د محنت نه څو چنده زیاته ورکوی، او څوک بې برخې کوی نه، هر پیغمبر به خپل قوم ته ویل: زه له تاسې د کوم اجر او بدلی غوښتنه نه کوم، زما اجر خو د رب العلمین پر غاړه دی.

په اسلام کې ژور بصیرت پیدا کړی او یقین وساتی چې د الله ﷻ په وړاندې دین بس یوازې اسلام دی، د دغه دین په پریښوولو چې د بنده ګې هر ډول لارې چارې غوره کړای شی، له الله ﷻ سره به یې هیڅ قدر او ارزښت نه وی، الله ته خو هماغه دین مقبول دی چې په قران کې دی او عملی تفسیر یې حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل عملی ژوندانه سره وړاندې کړ، په قران مجید کې رسول عربی الله ﷺ ته ویل شوی دی چې خلکو ته په ښکار ښکاره ووایه ما چې هره لاره هم اختیاره کړې ده، له سوچ، فکر او بصیرت سره می خپله کړې ده: قُلْ هَٰذِهِ سَبِيلِي

أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ [۱] ( ای رسول! ته دوی ته ښکاره ووايه، چې زما خو دا لاره ده، زه او زما تر شا تلونکی له پوره بصيرت سره د الله جل جلاله په لور بلنه ورکوی، او الله جل جلاله له هر عيب نه پاک دی، او زما له هغوی سره هيڅ اړيکی نشته چې د الله جل جلاله سره شرک کوی ) .

او د الله جل جلاله ښکاره او واضحه لارښوونه ده: وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ [۲] (او هر څوک چې له اسلام پرته بل دين غوره کول غواړی، د هغه، دغه دين به هيڅکله قبول نکړای شی او په اخرت کې به ناکام او نامراد وی ) .

إِنَّ الدِّينَ عِنْدَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ [۳] (او د الله جل جلاله په نزد دين بس اسلام دی )

☜ د خپل هدف او مرام سترتوب او اهميت تل په نظر کې ولری او خيال ساتی چې دا هغه ستر کار دی د څه لپاره چې تل د الله جل جلاله لوری انبياء عليهم السلام راليږل کيدل، او يقين ولری چې الله جل جلاله چې تاسې ته د دين کوم دولت دربښلی دی، همدا د دواړو جهانو د سترتوب او سر لوړی پانګه ده، نو د دی په مقابل کې د دنيوی شان او پرتم او دولت څه قيمت ارزښت کيدای شی چې يو څو ورځی به دلته وی، په قران عظيم کې دی: مونږ تاسې ته اوه تکراريدونکی ايتونه او د عظمت څښتن قران ښښلی دی نو تاسې د دی فانی متاع په لور سترګی هم راپورته نکړی، چې مونږ بيلو بيلو طبقو ته ورکړ دی، او اهل کتاب ته په وينا کې ويل شوی دی : قُلْ يَاأَهْلَ الْكِتَابِ لَسْتُمْ عَلَى شَيْءٍ حَتَّى تُقِيمُوا التَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ

---

۱ - د يوسف سورت ۰۰ آيت
۲ - د ال عمران سورت ۸۵ آيت
۳ - د ال عمران سورت ۱۹آيت

مِنْ رَبِّكُمْ [۱] (ای اهل کتاب! تاسې هیڅ نه یاست، تر څو چې تاسې په توراه، انجیل او نورو کتابونو عمل ونکړی، چې ستاسې ته رب نازل کړی دی)

د دین د صحیح پوهې حاصلولو او د دین پر حکمتونو د پوهیدلو لپاره پرله پسې کوښښ وکړی، د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده : الله جل جلاله چې څوک په خیر سره نازوی ، هغه ته د خپل دین صحیح پوهه او حکمت وربښی [صحیح بخاری، صحیح مسلم]

ربښتیا دا ده چې د دین صحیخح پوهه او د دین پر حکمتونو پوهیدل د ټولو نیکیو سرچینه ده او څوک چې د دی خیر نه بی برخی وی، هغه د دواړو جهانو د سعادتونو (نیک بختیو) څخه بی برخی دی، نه د هغه په ژوندانه کې توازن او یو شان والی پیدا کیدای شی او نه هغه د ژوندانه په هر ډګر کې د دین صحیح نماینده ګی کولای شی.

څه چې د (دعوت او بلنی په لړ کې) نړیوالو ته وړاندی کوی، د هغې مخاطب تر ټولو لومړی خپل ځان وګرځوی ، نورو ته له ویلو لومړی یې خپل ځان ته ووایی او څه چې له نورو غواړی، لومړی یې پخپله نمونه خلکو ته وښایی، د حق دین د بلونکی غوره والی دا دی چې هغه به د خپلی بلنی ربښتونی نمونه وی چې څه وایی خپل عمل او کردار پری ګواه کوی د کومو حقیقتونو په منلو کې چې هغه د نیوی ښیګنه ګوری، په خپله د هغې تر ټولو زیات حریص ویو پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې کله د قام په مخ کې د بلنی لپاره پاڅید، نو هغه اعلان یې وکړ:

وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ (زه پخپله تر ټولو لومـړی مسلمان یم).

تاسې په ژبه او قلم سره ګواهی ورکړی چې حق هماغه څه دی چې تاسې یې وړاندی کوی، او پخپل ځانګړی کردار ، کورنیو اړیکو، ټولنیزو چارو او سیاسی او وطنی کړو وړو سره دا هم ثابته کړی چې د حق دین په خپلولو سره پاکیزه عمل په بدن کې راځی، مستحکمه کورنی جوړیږی، ښه ټولنه تشکیلیږی، او د تهذیب او تمدن یو داسې نظام تری جوړیږی چې بنسټ به

---

[۱] - د المائده سورت ۶۸ آیت

يې پر عدل او انصاف ويو څوک چې د ځان له روزنې او اصلاح نه غافل شي او د نورو د اصلاح او روزنې خبرې کوي، هغوي بې اندازې ناپوهان دي، هغوي خپل کور د سوزيدو په حال کې ګوري بې فکره دي او د اوبو ستلونه په لاس ګرځي چې که د بل چا کور اور واخلي چې هغه مړ کړي، داسې کسان په دنيا کې هم ناکام دي او په اخرت کې به هم ناکام وي، دلته خو به د هغوي بې عملي د هغوي پند او نصيحت بې وزنه او بې اغيزه کوي او په اخرت کې به درد ناک عذابونه تيروي، يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ() كَبُرَ مَقْتًا عِندَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ [1] (اى مؤمنانو ، تاسې ولې هغه څه وايئ چې کوئ يې نه ، د الله په وړاندې دا ډير ناوړه حرکت دی چې تاسې هغه څه ووايئ چې کوئ يې نه).

نبی صلی الله علیه وسلم داسې بې عمله بلونکی له بې اندازې ويروونکی عذاب نه ويرولی دی، نبی صلی الله علیه وسلم فرمايلی دی: د قيامت په ورځ به يو سړی راوړل شي او په اور کې به واچول شي د هغه کولمې به په اور کې بيرون راوځي بيا به هغه سړی د دی کولمو سره داسې ګرځي لکه څنګه چې خر د خپل پړي سره ګرځي، د ده په ليدو به نور دوزخيان ورته راټول شي او پوښتنه به تری کوي اى فلانيه! دا ستا څه حال دی؟ ايا تا مونږ ته په دنيا کې د نيکيو تلقين نه کاوه؟ او له بديو دی نه منع کولو؟ د دومره نيکو کارونو له کولو سره سره ته دلته څنګه راغلی؟ هغه سړی به ورته وايي ما خو تاسې ته د نيکيو درس درکاوه خو پخپله د نيکيو په لور نږدې هم نه ورتلم، تاسې مې له بديو منع کولی خو پخپله مې پری عمل کاوه [صحيح بخاري، صحيح مسلم]

د معراج د شپې چې کوم پند اخيستونکی منظرې رسول اکرم ﷺ د خلکو مخې ته ايښې دی د هغې يو مهم مقصد دا هم دی، چې بد کاره خلکو ته خبرداری ورکول شي او هغوي د خپل ځان د اصلاح لپاره فکر وکړي، نبی صلی الله علیه وسلم فرمايل ما د معراج په شپه يو شمير خلک وليدل چې

[1] - الصف سورت ۲، ۳ آيتونه

د هغوی شونډې د اور په قیچیګانو پرې کیدې ما له جبریل علیه السلام نه پوښتنه وکړه چې دا څوک دی جبریل علیه السلام وویل: دا ستا د امت مقررین دي، دوی به خلکو ته د نیکی او تقوی تلقین کاوه او ځانونه یې هیر کړی وو [ مشکوه المصابیح ] .

صحابه کرامو رضی الله عنهم به هم دغسی بد کارانو ته او بی عمل ته سخت خبرداری ورکاوه، یو ځلی حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ته یو سړی وویل، محترما: زه غواړم چې خلکو ته د نیکی حکم وکړم او له بدیو یې منع کړم او د بلنی ( دعوت ) او رسونی ( تبلیغ ) کار وکړم - هغه ورته وفرمایل چې ته هغه مرتبی ته رسیدلی یې چې مبلغ شی، هغه سړی ورته وویل هو! هیله ده، حضرت ابن عباس ﷺ وفرمایل چې که تاته دا اندیښنه نه وی چې د قرآن عظیم دری ایتونه به تا رسوا کړی، نو په شوق سره د دین د تبلیغ کار وکړه، هغه سړی وویل ښاغلیه! هغه کوم دري ایتونه دی، حضرت ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل: أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنْتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ [1] ( آیا تاسې خلکو ته په نیکی امر کوی او خپل ځانونه مو هیر کړی دی ) .

ابن عباس رضی الله عنه ورته وویل آیا پردی آیت دی ښه عمل کړی دی؟ هغه وویل ن ، دویم آیت دا دی : لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ ( تاسې ولی هغه څه وایی کوی چې کوی یې نه یعنی عملی پرې نه کوی ) .

نو تا پردی ایت په ښه توګه عمل کړی دی ؟ هغه وویل نه او دریم ایت دا دی: وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَى مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ [2] ( حضرت شعیب علیه السلام د خپل قوم خلکو ته وویل: له کومو بدو خبرو چې زه تاسې منع کومو چې هغه زه پخپله وکړم، زما دا غوښتنه نه ده بلکی زه به له دی خبرو ځان ډېر لری ساتم ) .

---

[1] - د البقره سورت ۴۴ آیت

[2] - د هود سورت ۸۸ آیت

روایه تا پردی ایت په ښه شان سره عمل کړی دی، هغه سړی وویل نه نو حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه ورته وفرمایل، ولاړ شه لومړی ځان ته د نیکی حکم وکړه او له بدیو نه منع شه.

لمونځ د خپلو ټولو شرایطو او ارکانو او توضع سره ادا کړی، *نفل* لمونځ هم ادا کوی، له الله جل جلاله سره د ژورو اړیکو قایمولو پرته د دعوت او تبلیغ کار امکان نه لری او له الله جل جلاله سره د ارتباط یوازینی وسیله لمونځ دی، چې دغه لار پخپله الله جل جلاله خپلو بنده ګانو ته ښودلی ده.

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته په وینا کې الله جل جلاله فرمایلی:

يَاأَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ)قُمْ اللَّيْلَ إِلَّا قَلِيلًا)نِصْفَهُ أَوْ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيلًا أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلْ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ قَوْلًا ثَقِيلًا [1] (ای په څادر کې نغښتل شویه! د شپې الله ته ودریږه خو یو څه شپه، نیمه شپه یا د دې نه یو څه لږه یا زیاته او قران عظیم صحیح او په ترتیل سره لوله ، مونږ ژر پر تاسې د یوه درانده فرمان (مسئوولیت) اچوونکی یو د درانه فرمان مسئوولیت نه مراد د حق دین تبلیغ دی او دا ریښتیا ده چې دغه ذمه واری د دنیا له ټولو (مسئوولیتونو زیاته درنه او وزمینه ده، د دغه عظیم مسئوولیت د حق ادا کولو لپاره ضروری ده چې تاسې په لمانځه سره قوت حاصل کړی او له الله جل جلاله سره اړیکی ټینګی کړی).

● له قران مجید سره مینه پیدا کړی او په پابندی سره یې تلاوت وکړی، په لمانځه کې یې هم په ډېره پاملرنه سره تلاوت وکړی او د لمانځه نه بیرون یې په صحیح ډول د تلاوت کولو کوښښ وکړی، د زړه د اماده ګی او د دماغ له حاضری سره چې کوم تلاوت کیږی، د دی سره پر قرآن پوهیدلو کې هم مرسته کیږی، او په ذوق او مینه کې هم زیاتوالی کیږی ، قران حکیم د هدایت او پند یوازینی وسیله ده .

---

[1] - د المزمل سورت ۱ ۵- آیتونه

د همدې د پاره نازل شوی دی چې پر آیتونو یې غور وکړای شي، او له یادونو او نصایحو یې ګټه واخستل شي، لدی کبله په قران عظیم کې د غور او تدبر عادت زده کړی او د دی عزم سره یې تلاوت وکړی چې د دی په لارښوونه کې خپل ژوندون هم باید جوړ کړای شي او د همدی لارښوونو په وسیله باید په ټولنه کې هم بدلون راوستل شي، د الله جل جلاله دین هماغه خلک عملی کولای شي چې د خپل غور او فکر مرکز او د خپلو دلچسپیو محور قران مجید وګرځوی، له قران نه په بی پروایی سره نه پخپله څوک په دین ولاړ پاتی کیدای شي، او نه د دین قایمولو په چارو کې برخه اخیستلای شي.

تلاوت کوونکیو ته لارښوونه شوی ده:

كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ مُبَارَكٌ لِيَدَّبَّرُوا آيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُوا الْأَلْبَابِ [1] (کتاب چې مونږ تاسې ته درلیږلی دی سر تر پایه برکت دی چې خلک یې پر آیتونو غور او تدبر وکړی او د سلیم عقل څښتنان تری سبق حاصل کړی).

او لارښوونه شوی ده چې قرآن مجید ورو ورو تلاوت کړی: وَرَتِّلْ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: دا زړونه زنګ وهلی کیږی لکه څنګه چې اوسپنه زنګ وهلی کیږی، چې کله پری اوبه پریووزی پوښتنه تری وکړای شوه یا رسول الله! بیا د زړونو د زنګ لری کولو څیز کوم دی؟ وی فرمایل د زړه زنګ داسې لری کیږی چې سړی مرګ ډیر یادوی او دویم دا چې د قران تلاوت وکړی [مشکوة المصابیح]

☜ په هر حال کې د الله جل جلاله شکر ادا کړی او د شکر د ولولو د پیدا کولو لپاره هغو خلکو ته نظر وکړی چې په دنیوی شان او شوکت او مال او دولت کې ستاسې نه کمتر دی.

د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: هغو خلکو ته وګوری چې په مال او دولت او دنیوی پرتم او د بدبه کې له تاسې کم دی، نو په تاسې کې به د شکر جذبه پیدا شي، او هغو خلکو ته مه ګوری چې په مال دولت او پرتم او جاه کې له تاسې زیات دی، تر څو هغه نعمتونه چې تر اوسه درکړل شوی،

---

[1] - د ص سورت ۲۹ آیت

هغه مو په نظر کې سپک رانشي او که نه نو د الله جل جلاله د ناشکری جذبه به پیدا شي .

له مزو چړچو ځان وژغوری او د حق داسې سپاهیان اوسې چې هر وخت وظیفی اجرا کولو ته تیار اوسی او یو وخت هم وسله له غاړی کوزه نه کړی.

د نبی صلی الله علیه وسلم لاربښوونه ده: زه د عیش او آرام ژوندون څنګه تیر کړم په داسې حال چې اسرافیل شپیلی په خوله نیولی او غوږ سر تیټ کړی انتظار کوی چې کله به د شپیلی پوکولو حکم کیږی ، او په قران عظیم کې الله جل جلاله مؤمنانو ته فرمایلی : وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ [1] ( او تر کومه ځایه چې ستاسې وس کیږی له زیات نه زیات قوت، او ساتلی اسونه د هغو په مقابله کې تیار کړی وساتی، چې د هغې په وسیله د الله جل جلاله دښمنان او ستاسې دښمنان او داسې نور د دین دښمنان پری وویروی، چې تاسې یې نه پیژنی، الله جل جلاله یې پیژنی د الله جل جلاله په لاره کې چې تاسې هر څه خرڅوی، د هغی مکمله بدله به تاسې ته درکول کیږی، او تاسې ته په حق در کولو کې به کمی نه کیږی ) .

د دین لپاره هر ډول قربانی ورکولو او د اړتیا پر وخت د خپل ګران هیواد نه د هجرت کولو ته هم تیار اوسی او خپل ځانونه پرله پسی تلئ ، چې تر کومه حده په تاسې کې دغه جذبه او قوت ځای نیسی ، په قران عظیم الشان کې د حضرت ابراهیم علیه السلام د هجرت د پیښی د بیانولو په ترڅ کې هجرت ته د لیوال کولو او د قربانیو لپاره د تیار اوسیدلو درس په دی ډول ورکړل شوی دی:

په قرآن عظیم الشان کې داسې دی : إ وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَاأَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنْكَ شَيْئًا يَاأَبَتِ

[1] - د الانفال سورت ۶۰ آیت

إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا يَاأَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَانِ عَصِيًّا يَاأَبَتِ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِنَ الرَّحْمَانِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا قَالَ أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِي يَاإِبْرَاهِيمُ لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا وَأَعْتَزِلُكُمْ وَمَا تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَأَدْعُو رَبِّي عَسَى أَلَّا أَكُونَ بِدُعَاءِ رَبِّي شَقِيًّا [1] (او په دی کتاب کې د ابراهیم علیه السلام له قصی نه پند واخلی، بی شکه هغه یو رښتونی نبی ؤ. خلکو ته د هغه وخت یادونه واوروه ) چې کله هغه خپل پلار ته وویل• پلار جانه! تاسې د دی شیانو عبادت ولی کوی؟ چې نه اوری او نه وینی، او نه ستاسې په څه کار راتلای شی، پلار جانه ! ماته هغه پوهه راکړی شوی ده چې تاسې ته نه ده درکړی شوی، تاسې زما پر وینا روان شی، زه تاسې پر سمه لار بیایم، پلار جانه! تاسې د شیطان بنده ګی مه کوی، شیطان خو د رحمان ډیر نافرمانه دی، پلار جانه! زه ویریږم چې تاسې که همداسې کول نو د رحمان په عذاب کې به راشی، او تاسی به د شیطان ملګری شی - پلار یې ویل ابراهیمه آیا ته زما له معبودانو ګرځیدلی یې که ته منع نه شوی زه به تا په کاڼو ولم او مړ به دی کړم، او څه د تل لپاره زما نه لری شه، ابراهیم علیه السلام ورته وویل: تا ته زما سلام دی، زه خپل پروردګار ته دعا کوم چی هغه جل جلاله تا وبخښی بیشکه زما پالونکی پر ما ډیر مهربان دی، زه له تاسی هم کناره کیږم او له هغوی هم چی تاسی خدایان ګڼلی عبادت یې کوی، زه خو هم خپل پالونکی رابولم، زما پوره هیله ده چی زه به د خپل رب په رابللو کی هیڅکله نهیلی ناامید نه شم ).

د الله جل جلاله په لاره کې د وتلو جذبه، په ځان او مال سره د جهاد ولوله او د هغه جل جلاله په لاره کې د شهادت سپیځلی هیلی د پیدا کولو

---

[1] - د مریم سورت ۴۱-۴۸ ایتونه

کوښښ وکړی، واقعیت دا دی چې جهاد د ایمان معیار دی او په کوم زړه کې چې د جهاد هیله نه وی، هغه د ایمان او هدایت نه بی برخی یو بی ډوله ویجاړ کنډر دي، د جهاد ډګر ته د تللو توفیق او د الله جل جلاله په لاره کې د ځان او مال قربانولو وخت تر لاسه کول واقعاً چې ډېره لویه نیکبختی ده. خو که داسې حالات نه وی چې پورته ډول موقع ومومی، یا یې وسایل نه وی، چې تاسې د جهاد میدان ته ولاړ شی، او د خپل ایمان جوهر ښکاره کړای شی، بیا به هم تاسې د هغو مجاهدینو په صف کې شمیرل کیږی چې د الله جل جلاله په لاره کې شهیدان شوی او یا غازیان راستانه شوی دی. په دی شرط چې ستاسې په زړه کې د الله جل جلاله په لاره کې د وتلو جذبه وی، د دین په لاره کې د قربانی ولوله موجوده وی او د شهادت هیله مو په زړه کې وی، ځکه چې د الله جل جلاله په نظر کې د زړونو هغه ولولی وی چې د مجاهدانه کار نامو لپاره سړی ناارامه کوی، د تبوک له غزا نه چې نبی اکرم صلی الله علیه وسلم راستنیده، نو په لاره کې یې خپلو ملګرو ته په وینا کې وفرمایل: په مدینه کې یو شمیر خلک داسې وی، چې تاسې چې کوم کوچ هم وکړ او کوم واټن مو چې وواهه هغوی پرله پسی تاسې سره وو. د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ملګرو په حیرانتیا سره پوښتنه وکړه آیا څوک چې په مدینه کې و؟ وی فرمایل هو! چې په مدینه کې وو، ځکه چې هغوی خپلو مجبوریتونو منع کړی وو، هغوی پخپله منع کیدونکی نه وو.

په قران مجید کې هم الله جل جلاله د داسې خلکو ستاینه کړی ده چې د جهاد ولولی لرلو سره سره په جهاد کې له ګډون کولو محروم وو، او پر خپله دغه محرومی یې له سترګو اوښکی بهولی: وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوا وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنفِقُونَ [1] (او ته پر هغو بی سرو سامانه خلکو الزام دی چې پخپله تاسې ته راغلل، چې تاسې هغوی ته سپرلی تیاری کړی او چې کله تاسې وویل چې

[1] - د التوبه سورت ۹۲ آیت

زه ستاسې لپاره د سپرليو انتظام نشم کولای نو هغوی په داسې حال کې بيرته ستانه شول، چې له سترګو يې اوښکې بهيدی، له دی غمه چې له هغوی سره په جهاد کې د ګډون کولو لپاره د لګښت څه موجود نه وو ) .

نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلی: څوک چې د الله په لاره کې له جهاد کولو پرته مړ شو او په زړه کې يې د جهاد هيله هم نه وه، نو هغه د نفاق په يوه حالت کې مړ شو [صحيح مسلم]

ربنتيا دا ده چې د الله جل جلاله په لاره کې د جنګيدلو او د ځان او مال د قربانی له ورکولو چې کومه سينه خالی وی ، هغه د مؤمن سينه نشی کيدای .

## د بلنې او تبلیغ آداب

← په بلنه دعوت او تبلیغ کې د حکمت او سلیقې پوره پوره خیال وساتی او داسې لاری چاری غوره کړی، چې له هره حیثه بی شانه موزونی، د قدر وړ او له مقصد سره هم آهنګی او په اوریدونکی کې د مینی او ولولی پیدا کوونکی وی.

د قران مجید لارښوونه ده: ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ (د خپل رب لوری ته بلنه ورکړی په حکمت او غوره نصیحت سره او مباحثه وکړی نو په داسې لاره چې بی اندازی غوره وی).

د قران عظیم د دی جامع آیت نه دری لارښوونی په لاس راځی:

ا } بلنه په حکمت سره ورکړی.

ب } نصیحت او پوهونه په غوره انداز سره وکړی.

ج } مباحثه په ښه طریقه سره باید وکړای شی.

په حکمت سره د بلنې هدف دا دی چې پخپله تاسې ته د خپلی بلنې د سپیځلتیا او ستر توب پوره پوره احساس وی او تاسې دغه ارزښتناک دولت په ناپوهی سره همداسی بیځایه ونه شیندی، بلکې تاسې یې د وخت او ځای مکمل خیال وساتی، او د اوریدونکی هم، د هر پاټکی (طبقی) او ډلی او هر وګړی سره د هغه د فکری استعداد، پوهې او ذهنی توان او اقتصادی حیثت سره سمی خبری وکړی او هغه ثابت او محکم د خپلمنځی افهام او تفهیم بنسټ وګرځوی، چې ستاسې تر منځ پری اتفاق وی، چې د نږدی والی او مننی لپاره لار هواره کړی.

← د غوره نصیحت کولو مطلب دا دی، چې تاسې له هغه سوز، خیر غوښتنی او اخلاص سره نیکی ولولی راوپاریږی چې اوریدونکی (مخاطب) د مینی او مننی په ولولو راوپاریږی او له دین سره د هغه اړیکی د ذهنی اطمینان تر حده پاتی نه شی، بلکې دین د هغه د زړه آواز، د روح غذا او د ولولو د آرام وسیله وګرځی.

په تنقید او مباحثه کې د غوره لارې اختیارولو هدف دا دی، چې ستاسې تنقید تعمیري وي، د زړه سوی او اخلاص ائینه وي، او انداز یې داسې په زړه کې کیناستونکی او ساده وي چې په اوریدونکي کې ضد، کرکې، تعصب او جاهلي غیرت ولولې راونه پاروي، بلکې هغه په واقعي توګه یو څه فکر کولو ته اړ شي او د حق غوښتنه پکې را ولاړه شي، او چیرې چې دغه ډول حالات نه پیدا کیږي، تاسې خپلې خبرې بندې کړئ او له هغه مجلس نه پاڅئ ولاړ شئ.

← په هر حال کې د مکمل دین بلنه ورکړئ او پخپل فکر پکې چاڼ مه کوئ، اسلام ته د بلونکي هیڅکله دا حق نه دی، چې هغه پخپل نظر د هغې یو څه برخې وړاندې کړي او یو څه یې پټې وساتي.

الهي لارښوونه ده: وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُنَا بَيِّنَاتٍ قَالَ الَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَاءَنَا ائْتِ بِقُرْآنٍ غَيْرِ هَذَا أَوْ بَدِّلْهُ قُلْ مَا يَكُونُ لِي أَنْ أُبَدِّلَهُ مِنْ تِلْقَاءِ نَفْسِي إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَى إِلَيَّ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ قُلْ لَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا تَلَوْتُهُ عَلَيْكُمْ وَلَا أَدْرَاكُمْ بِهِ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِنْ قَبْلِهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ()فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْمُجْرِمُونَ [1] (او چې کله هغوی ته زموږ ښکاره دلایل لوستل کیږي، نو کوم کسان چې زموږ پر ملاقات یقین نه لري، هغوی وایې د دې قرآن پر ځای کوم بل قران راوړې یا په دې کې یو څه تغییر او تبدیل وکړې، تاسې ورته ووایاست چې زه له خپله ځان هیڅکله په دې کې کمي یا زیاتي نشم کولای، زه پخپله د هغه وحي پابندیم چې ماته رالیږل کیږي، که زه د خپل پالونکي نافرماني وکړم نو د یوې ډېرې ویروونکې ورځې د عذاب ویره راسره ده، دا ورته ووایې، که الله جل جلاله نه وای غوښتي، چې زه دا قرآن تاسې ته واوروم، نو مابه هیڅکله اورولی نه وای، او نه به هغه تاسې له دې نه خبر کړي وای، بیا به تردې ستر ظالم

---

[1] - د یونس سورت ۱۵ - ۱۷ ایتونه

څوک وی چي یوه درواغ خبره له ځانه جوړه کړی او د الله جل جلاله لوری ته يې منسوبه کړی، او یا د الله جل جلاله ایات دروغ وګڼی، په ربښتیا چې ګنهګار خلک هیڅکله بریالی کیدای نه شی ).

حالات که هر څومره خراب وی، په هر حال کې د داعی کار دا دی چې هغه دین پخپل اصل او مکمل حالت کې وړاندی کړی او د الله جل جلاله په دین کې کمی زیاتی او د حالاتو له غوښتنی سره سم پکی بدلون راوستل ډېر لوی او ستر ظلم دی، او د داسې خلکو اخرت او دنیا دواړه تباه کیږی، اسلام د هغه الله جل جلاله رالیږل شوی دین دی، د چا پوهه چې پر ټولو کایناتو محیط ده، چې له ازله تر ابده یقینی پوهه او علم لری او د چا نظر چې په قطعی توګه له غلطی نه پاک دی، چې د بشر د ژوندانه له پیله هم خبر دی او له پای نه يې هم او د چا تر رضا لاندی چې بشری پوهه ورځ په ورځ حیرانوونکی پراختیا پیدا کوی او په بشری ژوندانه کې بې اندازی پر مختیا ښکاره کیږی، نو ښه د کوم بل چا لپاره به پکی د کمی زیاتی څه ځای پاتی شی، چې پخپله د لوړی بلونکی مقام دا ښودل شوی چې هغه د یوه مثالی فرمانبردار په څیر د دی دین پیروی وکړی، او د نافرمانی له خیال نه به هم لړزیږی.

← دین په حکمت سره پخپل فطری شکل وړاندی کړی چې غیر فطری بوج تری احساس نه شی او خلک د بدګمانی او کرکی په ځای د دین په قبلولو او منلو کې سکون او آرام محسوس کړی، او ستاسې د نرمی خوږی ژبی او حکیمانه بلنی سره خلک بې اندازی مینه څرګنده کړی، حضرت معاویه بن حکم رضی الله عنه فرمایی: یو کرتی مې له نبی ﷺ سره لمونځ ادا کاوه، یو سړی ته پرنجی راغی، ما په لمانځه کې یرحمک الله وویل د پرنجی ځواب می ورکړ، خلکو ماته بد بد کتلو ما وویل، الله جل جلاله دی تاسې سره ښه وکړی ماته ولی بد بد ګوری ؟ نو خلکو ماته د چپ اوسیدلو اشاره وکړه، زه چپ شوم، چې کله نبی ﷺ د لمانځه نه فارغ شو، زما مور او پلار دی تری قربان شی، ما د هغه په څیر غوره روزونکی نه د هغه نه د مخه لیدلی او نه وروسته هغه نه زه ورټلم، نه يې ووهلم، او نه يې راته بد

رد وویل، صرف دومره یې وفرمایل ګوره! دا لمونځ دی، په لمانځه کې خبری اتری کول ښه نه دی، لمونځ خو د الله جل جلاله د پاکی او لویی بیانولو نوم دی او د هغه د لوړاوی بیانولو او قران عظیم د لوستلو.

← په خپل لیک، وینا او د بلنی په خبرو اترو کې تل د اعتدال خیال ساتی چې په اوریدونکی د هیله مندی حالت هم جاری وی او د ویری هم، نه پری ویری دومره زور ورکړی، چې اوریدونکی د الله جل جلاله له رحمت څخه نهیلی (نا امید) شی او خپله اصلاح او خلاصون هغوی ته نه یوازې دا چې مشکل بلکې ناممکن ښکاره شی او نه د الله جل جلاله د رحمت او ښښنی داسې فکر وړاندی کړی، چې هغوی بیخی ځانونه خپلواک او غیر مسئوول وګنی او د الله جل جلاله د بی شانه رحمتونو په هیله بد کار یو ته ملا وتړی، حضرت علی رضی الله عنه فرمایی: تر ټولو غوره عالم هغه دی چې خلکو ته په داسې ډول د الله جل جلاله په لور بلنه ورکوی چې له الله ﷻ یې نه نهیلی کوی او نه د الله جل جلاله د نافرمانی لپاره هغوی ته اجازه ورکوی او نه د الله جل جلاله له عذابه هغوی بی ویری کوی.

← د بلنی او دعوت په کوښښونو کې دوام او تسلسل پیدا کړئ او کوم پروګرام چې جوړوئ هغه په استقلال او مسئوولیت سره د پرله پسی چلولو کوښښ وکړی، پروګرامونه نیمګړی پریښودل او د نویو نویو پروګرامونو جوړولو له عادت نه ځانونه وساتئ؛ لږ کار کوی، خو پرله پسی یې کوئ.

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: غوره عمل هغه دی چې پرله پسی کیږی، که څه هم هغه هر څومره لږ وی.

← د بلنی او تبلیغ په لاره کې راتلونکی مشکلات، تکالیف او ازمیښتونه په پراخه تندی استقبال کړی او له صبر او ثبات نه کار واخلی:

په قران مجید کې دی: وَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنكَرِ وَاصْبِرْ عَلَى مَا أَصَابَكَ إِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ (په نیکی امر وکړه، له بدی نه منع وکړه او هر مصیبت چې دربانده راشي وربانده صبر وکړه دا هغه خبرې دي چې د هغو ډېر تاکید کړی شوی دی).

او په نیکی حکم وکړه او له بدیو منع کوه او په دی لاره کې چې کوم مصیبتونه راشی هغه په ازادی سره وزغمه ځکه چې د حق په لاره کې د مشکلاتو او مصیبتونو راتلل ضروری دی، د ازمیښتونو له منزلو نه د تیریدلو رورسته په ایمان کې قوت پیدا کیږی، او په عمل او اخلاقو کې پوخوالی راځی، همدا لامل دی چې الله جل جلاله خپل بنده ګان خامخا آزمایی، څوک چې د ایمان دعوی کوی او څوک چې پخپل دین او ایمان کې ځومره زیات پخیږی پر هغه ازمیښتونه هماغومره سخت وی .

الهی لارښوونه ده: او مونږ تاسې خامخا د ویری، خطر، ولږی او د ځان او مال په زیانونو اخته کوو او تاسې ازمییو، په داسې حالاتو کې چې کوم کسان صبر وکړی او چې کله کوم مصیبت راشی نو وایی چې مونږ د الله ﷻ یو او د الله جل جلاله لورته ورتلونکی یوو هغوی ته زیری ورکړی چې پر هغوی به د الله جل جلاله له لوری بخششونه وی، د هغه د رحمت سیوری به پری وی او همدا کسان پر سمه لار دی .

حضرت سعد رضی الله تعالی عنه له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه یا رسول الله! تر ټولو زیات ازمیښت د کوم سړی کیږی؟ هغه وفرمایل: د انبیاء علیهم السّلام بیا هغه څوک چې په دین او ایمان کې هغوی ته ډیر نږدی وی او بیا چې څوک دوی ته نږدی وی.

د سړی ازمیښت د هغه د دین په اعتبار کیږی، نو څوک چې پخپله دین کې کلک وی، د هغه ازموینه سخته وی او څوک چې په دین کې کمزوری وی، د هغه ازمیښت هم کمزوری وی، او دغه ازمیښتونه پرله پسی وی، تر دی چې هغه پر ځمکه په داسې حال کې روان وی چې د ګناه پری هیڅ اثر نه وی [ مشکوه المصابیح ]

او نبی صلی الله علیه وسلم د خپل حال بیانولو په لړ کې وفرمایل، چې زه د الله جل جلاله په لار کې دومره دومره آزمایل شوی یم چې هیڅکله کوم انسان دومره ندی ازمایل شوی، او زه د الله جل جلاله په لاره کې دومره ویرولی شوی یم چې هیڅکله څوک دورمره نه دی ویرول شوی او پر مونږ دیرش شپی ورځی داسې تیری شوی دی چې زما او د بلال د خوړو لپاره یو

هم داسې څیز نه و، چې کوم ذی روح یې وخوړلای شی، پرته له هغه توښی چې د بلال رضی الله عنه په بغل کې وه [جامع ترمذی]

او نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه فرمایلی : کوم سړی چې د صبر کولو کوښښ کوی الله جل جلاله هغه ته صبر وربښی، اوله صبر نه ډېر غوره او د ډېرو نیکیو جمع کوونکی بخشش بل یو هم نشته [ صحیح بخاری، صحیح مسلم ]

په اصل کې ازموینه د تحریک د قوی او ځواکمن کولو او د پرمختګ کولو حتمی وسیله ده، د ازمیښتونو له پړاوونو نه د تیریدو پرته یو تحریک هم بریالی کیدای نه شی، په ځانګړی توګه هغه تحریک چې په بشریت کې د یو هر اړخیز انقلاب او بدلون په لور بلنه ورکوی.

او د ټول بشری ژوندانه په نوی طرز دودانولو په لور پروګرام له ځانه سره لری.

په کوم وخت کې چې د مکی سخت زړیو پر نبی صلی الله علیه وسلم او د هغه په ملګریو بی اندازی ظلمونه کول، د هماغو ورځو یوه پیښه حضرت خباب ابن الارت رضی الله عنه بیانوی:

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم د بیت الله د سیوری لاندی څادر سرته ایښی ؤ آرام یې کاوه، مونږ هغه ته د شکایت کولو لپاره راغلو، ومو ویل: یا رسول الله! تاسې زمونږ لپاره د مرستی غوښتنه نه کوی، تاسې د دی ظلم د پای ته رسیدو دعا نه کوی اخر دا لړی به تر کومه پوری اوږدیږی او کله به دا د مصیبتونو دوران پای ته رسیږی؟ ) نبی اکرم صلی الله علیه وسلم چې دا واوریدل وی فرمایل، له تاسې د مخه داسې کسان تیر شوی دی، چې په هغوی کې به د ځینو لپاره ځاه ایستل کیده او بیا به هغه په دی ځاه کې درول کیده، بیا به اره راوړل کیده او د هغه بدن به څیرول کیده، ان تردی چې د هغه بدن به دوه ټوټی کیده، بیا به هم هغه له خپل دین نه نه ګرځیده، یا به د هغه په بدن کې د اوسپنی ږومنځ ټومبل کیده چې له غوښی به تیریده او بل پلو او هډوکو ته به رسیده، خو هغه د الله جل جلاله بنده به له حق څخه نه ګرځیده ، قسم پر الله چې دا دین به غالبیږی، ان تر چې سپور به د یمن له مرکز صنعا نه تر حضرموت پوری سفر کوی او په

لاره کې به د الله جل جلاله پرته د بل څه ویره ورسره نه وي، البته شپنو ته به له شیروونکیو حیواناتو ویره وي، چې چیری اوزی ونه داړي، خو افسوس چې تاسې له چټکتیا نه کار اخلی [صحیح بخاری]

حضرت معاویه رضی الله عنه فرمایي چې ما له نبی اکرم ﷺ نه دا ارشاد اوریدلی دی: چې زما په امت کې به یوه ډله پرله پسی داسې موجوده وي چې د الله جل جلاله د دین ساتونکی به وي، کوم خلک چې له هغوی سره ملګرتیا نه کوي او کوم کسان چې د هغوی مخالفت کوي، هغه به یې تباه نه کړای شی، ان تردی چې د الله جل جلاله پریکړه راشی او دا د دین مخالف کسان به په همدی حالت کې وي [صحیح بخاری، صحیح مسلم]

← له بی ځایه مهربانی، سستیا او د اصولو له قربانی په کلکه ځانونه وژغوری په قران عظیم کې د مؤمنانو د ستاینی په باب ویل شوی دی: اشداء علی الکفار (هغوی پر کافـرانو سخت وي).

هغوی په یو حال کې هم د خپلو اصولو په لړ کې روغه او سستیا نه کوی هغوی هر څه زغملای شی، خو د دین او اصولو قربانی نشی ورکولای، مسلمانانو ته الله جل جلاله د نبی صلی الله علیه وسلم په وسیله لارښوونه کړی ده:

فَلِذَٰلِكَ فَادْعُ وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ [1] (نو ته دوی ته د دین په لور بلنه ورکړه او څه ډول چې تاته حکم درکړای شوی دی پر هغی په ټینګه ولاړ اوسه او د خلکو په غوښتنو پسی مه درومه).

د دین په چارو کې سستیا، بی ځایه شفقت او له باطل سره روغه جوړه هغه خطرناکه کمزوری ده چې دي او ایمان تباه کوی، د نبی اکرم ﷺ لارښوونه ده: کله چې بنی اسرائیلو د الله جل جلاله د نافرمانی په کارو پیل وکړ، نو د هغوی علماؤ هغوی منع کړل خو هغوی منع نه شول نو د هغوی علماء له هغوی سره د راشه درشه پریښولو پر ځای له هغوی سره ناسته

[1] - د الشوری سورت ۱۵ ایت

پاسته پیل کړه او له هغوی سره یې خوراک څښاک پیل کړو چې کله داسې وشول نو الله جل جلاله د هغوی زړونه یو شان کړل او بیا د حضرت داؤد علیه السلام او حضرت عیسی علیه السلام په ژبه یې پر هغوی لعنت وکړ، دا ځکه چې هغوی د نافرمانۍ لاره غوره کړه او په همدې بد کارۍ کې پر مخ ولاړل، د همدې حدیث راوي حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمایي چې نبي ﷺ تکیه کړې وه، بیا سم کیناست او وی فرمایل : نه، پر هغه ذات سوګند د چا په واک کې چې زما روح دی تاسې به خامخا خلکو ته د نیکۍ حکم ورکوئ، او له بدیو به یې منع کوئ او د ظالم لاس به نیسئ اوظالم به د حق منلو ته اړ باسئ، که تاسې داسې نه کوئ نو ستاسې ټولو زړونه به یو شان شي او بیا به الله جل جلاله تاسې د خپل رحمت او هدایت څخه لرې وغورځوي، لکه څنګه یې چې بني اسرائیل بې برخې کړل .

← د خپل اولاد اصلاح او روزنه او هغوی د دین د قایم ساتلو د فریضې سرته رسولو لپاره تیارول ستاسې لومړی فرض هم دی او ستاسې د فعالیتونو فطري ډګر هم دی، د دې ډګر په پرېښودلو او د خپلو تبلیغي او اصلاحي کوښښونو لپاره یوازې بیرون ډګر لټول ناپوهي او غیر فطري عمل دی او دا ډېره لویه ګناه او تېښته ده، د دې مثال داسې دی چې تاسې د قحط په زمانه کې خپله کورنۍ په لوږه تنده کې بد حاله پرېږدئ، او بهر غلي ته اړ خلک لټوئ، او خپل سخاوت ښکاره کوئ، ګواکې چې نه تاسې ته د لوږې تندې او خپلولي او میني احساس شته او نه د غلي له ویش سره ستاسې ذهن اشنا دی، په قرآن کې مؤمنانو ته لارښوونه شوې ده: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا [1] ( مؤمنانو! خپل ځانونه او کورنۍ د جهنم له اوره بچ کړئ ) .

او نبي ﷺ د دې تشریح په دې الفاظو سره کړې ده: له تاسې هر یو نګران او مسئوول دی او له تاسې نه به د هر یوه نه د هغو خلکو په باب پوښتنه کیږي چې ستاسې په سر پرستۍ کې وي، حاکم څارونکی دی او له هغه نه

[1] - د التحریم سورت ۶ آیت

به د خپل رعیت په باب پوښتنه کیږي او ښځه د خپلې کورنۍ څارونکې دي او میرمن د خپل میړه د کور او د هغه د کور د خلکو څارونکې ده، نو له تاسې هر یو د کور څارونکی او مسئوول دی او له تاسې هر یوه نه به د هغو خلکو په باب پوښتنه کیږي چې ستاسې په څارنه کې دي [صحیح بخاری]

➜ د خپلو ګاونډیانو کلي او محلې د خلکو د اصلاح په باب هم فکر وکړئ او د هغوی اصلاح هم خپله فریضه وګڼئ.

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ وینا وفرمایله او په هغې کې یې د ځینو مسلمانانو ستاینه وکړه، او بیا یې وفرمایل داسې ولې دي چې یو شمیر خلک پخپلو ګاونډیانو کې د دین پوهه نه پیدا کوي او هغوی ته دین نه ورزده کوي او هغوی ته له دین څخه د ناخبره ساتلو عبرتناک نتایج نه وایي، او هغوی له بدو کارو نه منع کوي؟

او داسې ولې دي چې ځینې خلک له خپلو ګاونډیانو د دین پوهه نه زده کوي او پر دین پوهیدنه نه پیدا کوي او له دین نه ناپوهه اوسیدلو عبرتناک نتایج نه معلوموي، پر الله جل جلاله سوګند! خلکو! خپلو ګاونډیانو ته د دین تعلیم خامخا ورکړئ، په هغوی کې د دین پوهه پیدا کړئ، هغوی ته نصیحت وکړئ، هغوی ته ښې خبرې وکړئ او هغوی له بدو خبرو منعه کړئ، خلکو ته پکار دی چې خامخا له خپلو ګاونډیانو دین زده کړي د دین پوهه پیدا کړي او د هغوی نصیحتونه ومني او که نه نو ډیر ژر به هغوی ته سزا ورکړم، بیا هغه له ممبر نه راکوز شو او وینا یې پای ته ورسوله.

له اوریدونکیو نه ځینو له نورو پوښتنه وکړه دا کوم خلک وو چې نبی اکرم ﷺ یې پر خلاف تقریر وفرمایه؟ نورو خلکو وویل چې د هغه د خبرو مخه د اشعر قبیلې په لور وه، هغوی د دین پوهه لرونکي خلک دي او د هغوی په ګاونډ کې پر چینو اباد کلیوال خلک دي، کله چې د دې وینا خبر د اشعری قبیلې خلکو ته ورسید نو هغوی د نبی ﷺ په خدمت کې حاضر شول، او وي ویل: ای د الله رسوله ! تاسې پخپله وینا کې د ځینو خلکو ستاینه کړې او پر مونږ مو غصه کړې ده، وفرمایاست زمونږ نه څه ګناه شوې ده؟ هغه وفرمایل د خلکو فرض دی چې هغوی خپلو ګاونډیانو ته د

دین تعلیم ورکړي ، هغوی ته وعظ او نصیحت وکړي ، ښې خبرې ورته وکړي او له بدو خبرو یې منع کړي‌و همدا ډول د خلکو دا هم فرض دی، چې هغوی له خپلو ګاونډیانو د دین علم حاصل کړي، د هغوی نصیحتونه ومني، او په ځان کې د دین پوهه پیدا کړي، او که نه نو زه به ډېر ژر هغوی ته سزا ورکړم، د دې په اوریدو سره د اشعر قبیلې خلکو وویل ای د الله ﷺ رسوله! ایا مونږ به نورو خلکو کې د دین پوهه پیدا کړو؟ نبي ﷺ وفرمایل : هو! دا ستاسې مسئوولیت دې، نو دې خلکو وویل، جناب مونږ ته یو کال وخت راکړې .

لکه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ورته یو کال وخت ورکړو چې په دې یو کال کې هغوی خپلو ګاونډیانو ته دین زده کړي او دیني پوهه پیدا کړي، له دې وروسته نبي صلی الله علیه وسلم دا ایتونه تلاوت کړل :

لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُودَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ() كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ [1] ( د بني اسرائیلو پر کفر کوونکیو لعنت کړای شوی دی د داود په ژبه او د عیسی بن مریم په ژبه او دا لعنت پرې ځکه شوی دی چې هغوی د نافرمانۍ لاره غوره کړې او پرله پسې یې د الله جل جلاله احکام ماتول ، دوی په خپلو منځو کې یو بل له بدو خبرو نه منع کول بې شکه د هغوی دغه حرکت ډېر بد وُ ) .

➔ د کومو خلکو په منځ کې چې تاسې د دعوت او تبلیغ ښکلې فریضه سرته رسوی د هغوی د مذهبي عقایدو او ولولو درناوی او لحاظ وکړی، نه د هغوی لویان او رهبران په بدو نومونو یاد کړی او نه د هغوی پر عقایدو حمله وکړی، نه د هغوی د مذهبي عقایدو سپکاوی وکړی، په مثبت ډول سره او له پوهې او حکمت سره خپله بلنه وړاندې کړی، او په تنقید کې هم د خپلو اوریدونکیو د راپارولو پر ځای په خورا زړه سوي سره د هغوی په زړونو کې د خپلو خبرو د کینولو کوښښ وکړی، ځکه چې په جذباتي تنقید

[1] - د المایده سورت ۷۸- ۷۹ آیتونه

او سپکوونکیو خبرو سره په خپلو اوریدونکیو کې د کوم ښه بدلون هیله نشي کیدای، البته دا اندیښنه به وي چې هسې نه چې د جاهلي غیرت او تعصب په را پاریدو سره هغوی د الله جل جلاله او دین په شان کې گستاخي وکړي او دین ته د رانږدې کیدو په ځای هغوی نور هم لرې شي.

قراني لارښوونه ده: وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ [1] (مؤمنانو! دا خلک چې له الله پرته نور څوک رابلي، هغوی ته ښکنځلې مه کوی داسې ونه شي چې دوی له شرک نه پورته د جهالت پر اساس الله جل جلاله ته ښکنځلې وکړي).

← د داعي الی الله، په حیث د دعوت فریضه سرته ورسوی یعني یوازې د الله جل جلاله په لور بلونکی شي، د الله جل جلاله بنده گان له الله جل جلاله پرته د کوم بل څیز په لور هیڅکله راونه بلي، نه د وطن په لور بلنه ورکړي، نه د قوم او نسل په لور او نه د کومې ژبې په لور بلنه ورکړي، نه د کوم گوند په لور، د مؤمن هدف یوازې الهي رضا ده.

د دغه اساسي هدف او منشور په لور بلنه ورکړي او د یقین پیدا کولو کوښښ وکړي، چې د بنده کار یوازې همدا دی چې هغه د خپل خالق او مالک بنده کې وکړي، پخپل ځانگړې ژوندانه کې هم او په کورنۍ ژوندانه کې هم، په ټولنیز ژوندانه کې هم او د هیواد په چارو کې هم، لنډه دا چې په گرد ژوندانه کې د خپل پالونکي پر وینا ولاړ شي، او د هغه د قانون په اخلاص سره پیروي وکړي، له دې پرته بل کوم داسې څیز نشته چې مسلمان یې خپل مرام وگڼي او د هغې په لور خلکو ته بلنه ورکړي، مؤمن چې کله هم د الله جل جلاله لارښوونو نه مخ واړوي، او د الله جل جلاله له رضا پرته کوم بل څیز خپل مرام او مقصد وگرځوي، په دواړو جهانو کې به نامراد او ناکام وي.

---

[1] - د الانعام سورت ۱۰۸ آیت

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ [١]( د هغه سړی له خبرې به غوره خبره د چا وی، چا چې د الله په لور بلنه ورکړه او نیک عمل يې وکړ او وی ويل چې زه د الله جل جلاله فرمان ورونکی او مسلمان يم ) .

١ - د حم السجده سورت ٣٣ آیت

## په تنظیم کې د نظم آداب

⊙ د دعوت او تبلیغ د فریضې سرته رسولو لپاره محکم تنظیم جوړ کړي او د دین د قایم ساتلو لپاره تولنیز کوښښونه وکړي .

وَلْتَكُنْ مِنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ [1] ( او په تاسې کې یو تولی باید خامخا داسې وي چې د خیر په لور بلنه ورکړي په ښو کارونو حکم وکړي او له بدو کارونو یې منع کړي ) .

د الخیر نه مراد هره فطري ښېګنه ده چې تل بشري فطرت ښېګنه ګڼلې ده، او د ښه والي ګواهي یې اسماني کتابونو ورکړې ده، دغو ټولو ښېګڼو او نیکیو یو جامع او مرتب شکل د الله جل جلاله هغه رالیږل شوی دین دی، چې په هر دوران کې د الله جل جلاله پیغمبرانو راوړی دی او وروستی مکمل، مستند او محفوظ شکل یې هغه کتاب او سنت دی چې د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم امت ته وراکړای شوی دی، د همدې خیر په لور د بلنې ورکولو او نیکیو دا نړۍ د مالا مال کولو د کولو ) لپاره ضروري ده چې مسلمانان د یوه تولي په حیث دغه کار سرته ورسوي او د ژوندانه په هر ډګر کې پر باطل د برۍ حاصلولو لپاره یو مستحکم تولنیز نظام منځ ته راوړي او بې اندازې منظم تولنیز کوښښونه وکړي، الله جل جلاله د دغه مستحکم او منسجم تولنیز نظام د نقشې په ښوولو کې د هغوی د تولنیز نظام ستاینه کړیده او دغه ډول تولنه یې خپله محبوبه ګڼلې ده :

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ ( بې شکه هغه کسان الله جل جلاله ته محبوب دي چې د هغه په لاره کې په استقلال سره صفونه تړلي جنګیږي، ګواکي چې هغه یو مستحکم دیوال دی ) .

نبي صلي الله علیه وسلم د تولنیز ژوندانه اهمیت او د یوه تولي په حیث د ژوندون تیرولو په باب د تلقین په لړ کې فرمایي درې کسان چې په کوم ځنګل کې اوسیږي د هغوی لپاره روا نه ده مګر دا چې هغوی پخپلو کې یو تن امیر وټاکي منتقی ) .

---

[1] - د آل عمران سورت ۱۰۴ آیت

او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا هم فرمايلي: کوم سړی چې د جنت په منځ کې خپل کور جوړول غواړي هغه باید له الجماعه (ټولنی) سره تړلی وی، ځکه چې شیطان له یوه سړی سره وی او چې کله هغوی دوه کیږی نو شیطان لری تښتی.

د الجماعت نه مراد د مسلمانانو داسې منظم ټولی دی، چې کله واک د اسلام په لاس کې وی او مسلمان خلیفه اسلامی احکام عملی کوی او ټول مسلمانان یی پر قیادت او لارښوونه یوه خوله وی، په داسې حالت کې د کوم مسلمان لپاره بیخی د دی ځای نشته چې هغه له ټولنی ځخه جلا ژوندون تیر کړی ترڅو پورته ډول ټولنه موجوده نه وی پر امت فرض دی چې په منظم ډول د ټولنیزو کوښښونو په وسیله د دغه (الجماعت) د منځته راتګ لپاره کوښښ وکړی.

⊙ د اتحاد او تنظیم بنسټ یوازی دین وګرځوی، اسلامی تنظیم هماغه دی چې بنسټ یې الهی دین وی ، الله جل جلاله له دین پرته پر کوم بل اساس د مسلمانانو اتحاد او اتفاق، هغه اتحاد نه دی چې اسلام یې حکم کړی دی او داسې تنظیم او ګوند په حقیقت کې اسلام ګوند نه دی، په مسلمانانو کې د ورورولی او یو والی رښتیانی خپلوی یوازی دین دی ، له دین پرته چې څوک هر یو څیز د خپل اتحاد بنسټ ګرځوی، د یو ځای کیدو په ځای به خپریږی او د یوه الجماعه پر ځای به ډلې ډلی او فرقه ګرځی.

تنظیم جوړ کړی خو یوازی او یوازی په دی خاطر چې د الهی دین قایم ساتل ستاسې نصب العین وی او ستاسې ټولی مندی تړی یوازی د همدی په خاطر وی.

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ [1] (او تاسې ټول یو ځای د الله رسی مضبوطه ونیسی او جلا جلا فرقی فرقی مه ګرځی

---

[1] - د ال عمران سورت ۱۰۳ آیت

او د الله جل جلاله هغه احسان یاد ساتی چې پر تاسې یې کړی دی، تاسې د یو بل دښمنان وی، هغه جل جلاله ستاسې زړونه یو ځای کړل او تاسې د هغه په فضل او کرم ورونه ورونه شوی ).

د الله جل جلاله له رسی نه مراد د الله جل جلاله دین اسلام دی، د قرآن په نظر کې د مسلمانانو یو والی او یوی تولنی گرځیدلو اساس همدا دین دی، له دی پرته یو اساس به هم د مسلمانانو یو کوونکی نه بلکې توته توته کوونکی وی.

⊙ له داعیانو دین ته بلونکیو ) سره د زړه مینه وساتی، او دغه اړیکی له نورو هر ډول اړیکو نه غوره او د درناوی وړ وگنی.

په قران عظیم کې د مؤمنانو په ستاینه کې ویل شوی دی:

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ [1] ( ته به هغه ډله چې پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان لری له هغوی خلکو سره مینه او محبت کوونکی نه گوری، چې د الله جل جلاله او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخالفت ته یې ملا تړلی وی، که څه هم هغه یې خپل پلار یا خپل زوی یا خپل ورور یا یې د خپلی کورنی څخه ولی نه وی ).

⊙ د خپلو تنظیمی ملگرو د پوهی او خیر وښتنی خیال ساتی او په تنظیمی ژوندانه کې د خپلمنځی پوهونی را پوهونی ولولی راوېښی کړئ ځکه چې همدا د بریالیتوب ضمانت دی.

وَالْعَصْرِ() إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ() إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ() په زمانه قسم، انسان په حقیقت کې په لوي تاوان کې دی، پرته له هغو خلکو چې ایمان یې راوړی، او ښه عملونه کوي او یو بل ته د حق نصیحت او صبر ښودنه کوي.

---

[1] - د المجادلہ سورت ۲۲آیت

⊙ د تنظیمی نظم مکمله پیروی وکړی او دا یوازی د تنظیمی استحکام وسیله ونه گڼی، بلکې دینی فریضه یې هم په نظر کې ونیسی.

الهی لارښوونه ده: إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَإِذَا كَانُوا مَعَهُ عَلَى أَمْرٍ جَامِعٍ لَمْ يَذْهَبُوا حَتَّى يَسْتَأْذِنُوهُ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ أُولَئِكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ[1] ( مؤمنان خو په رښتیا سره هماغه کسان دی چې الله جل جلاله د هغه رسول له زړه نه ومنی او چه کله د کوم ټولنیز کار په وخت رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ځای وی، نو له هغه د اجازت اخستلو پرته ولاړ نه شی، رښتیا دا ده چې کوم کسان له تانه اجازه اخلی هماغه کسان د الله جل جلاله او د هغه د رسول منونکی دی ).

د تنظیمی نظم پابندی او د خپل قائد ( مشر ) اطاعت او فرمانبرداری یوازی یوه قانونی چاره نه ده بلکې یوه مهمه شرعی معامله ده او قران عظیم د هغو خلکو د رښتیانی، ایمان گواهی ورکړی ده چې د گوندی نظم پابند وی او له کومی تنظیمی وظیفی هغه وخت پاځی چې کله د خپل مشر نه اجازه واخلی.

۶ ) په ټولنیز ژوندانه کې چې د نیکی هر کار کیږی، د زړه د اخلاصه له هغی سره مرسته وکړی، او چې څه کولای شی هغه ونه سپموی، د خپلچاری خپلسری او خان پالنی په ځیر بدو ولولو نه خپله اخلاقی لمن پاکه وساتی، قرآنی لارښوونه ده: وتعاونوا علی البر والتقوی (او د نیکی او الله جل جلاله نه د ویری په کارونو کې د یو بل مرسته وکړی ).

⊙ د خپلو ملگرو سره ښی اړیکی وساتی او که کله مو له چا سره څه اختلاف پیدا شی نو په سملاسی توگه روغه جوړه وکړی او زړه له چټلتیا نه پاک کړی. فاتقو الله واصلحوا ذات بیکم ( نو له الله وویریږی او خپلمنځی اړیکی ښی وساتی ).

⊙ د اسلامی تنظیم (گوند ) د امیر اطاعت په خوښی سره وکړی او د هغه خیر غوښتونکی او وفادار اوسی، نبوی لارښوونه ده: مسلمانانو ته د

[1] - د النور سورت ۶۴ آیت

خپل مسئوول خبره اوریدل او منل ضروري دي که څه هم هغه حکم یې پر مزاج برابر وي او که نه په دې شرط چې هغه د الله جل جلاله د نافرمانۍ خبره نه وي، هو! چې کله د الله جل جلاله د نافرمانۍ حکم وکړي نو نه د هغه خبره واوري او نه یې باید ومني [صحیح بخاري - صحیح مسلم]

حضرت تمیم داري فرمایي چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: دین په اخلاص سره د خیر غوښتنې او وفادارۍ نوم دی، درې کرتې هغه دا خبره تکرار کړه مونږ ترې پوښتنه وکړه، د چا خیر غوښتنه او وفاداري؟ ارشاد یې وفرمایه د الله جل جلاله، د هغه د رسول، د هغه د کتاب د مسلمانانو د مسئولینو او د عامو مسلمانانو وفاداري [صحیح مسلم]

⊙ له تنظیمي تعصب، تنګ نظمۍ او ډله بندۍ نه ځانونه وژغورئ، په پراخه زړه او ښو اخلاقو سره د هر یوه مرسته وکړئ او هر څوک چې د دین کار کوي د هغوی درناوی وکړئ، له هغوی سره د خیر غوښتنې او اخلاص چلن وکړئ او هغوی د خپل سفر ملګري او مرستیالان وګڼئ، د دین کار کوونکي په حقیقت کې یو د بل مرستیالان او ملاتړ دي، د ټولو هدف دین دی او ټول له خپلې پوهې سره سم د دین خدمت کول غواړي، په اخلاص سره او د افهام او تفهیم له لارې د یو بل غلطۍ ښکاره کول او د صحیح فکر او عمل ښودنه خو خورا ډېر ښه او مبارک کار دی، او همداسې باید وي، البته خپلمنځي کرکه، اختلاف، حسد او کینه او یو بل له ځانه ټیټ ښودل او یو په بل پسې بد تبلیغات کول هغه بده کړنلاره ده چې په هیڅ ډول د دین بلونکیو سره نه ښایي او د هغو خلکو لمن باید د دغه ډول داغونو نه بیخي پاکه وي چې په اخلاص سره او په واقعي توګه د زړه له تل نه غواړي چې خپل ځواکونه او استعدادونه د الله جل جلاله په لاره کې ولګوي او په ژوندانه کې د الله جل جلاله د دین یو څه خدمت وکړي.

## د مشرتابه (قیادت) آداب

د اسلامي تنظیم د ګوند، د مشرتابه او لارښوونې د پاره داسې سړي وټاکئ چې له الله په ویره او تقوی کې تر ټولو د مخه وي، په دین کې د مشرتابه او لوړی معیار نه مال او دولت دی او نه خاندان، بلکې په دین کې هماغه څوک تر ټولو غوره دی، چې تر ټولو زیات له الله جل جلاله ویریدونکی وي، قرآني لارښوونه ده:

يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ (ای انسانانو! مونږ تاسې له یوه سړي او ښځې نه پیدا کړي تاسې مو کورنۍ او قبیلې وګرځولې چې یخپلو کې سره وپیژنئ، بیشکه د الله جل جلاله په نزد په تاسې ټولو کې ډېر معزز او مکرم هغه دی چې په تاسې ټولو کې زیات متقي او پرهیزګار وي)

د قیادت او مشرتابه ټاکنه یوه سوچه دیني فریضه وګڼئ او خپله رایه د الهي امانت ګڼلو له مخې د هغه چا په حق کې استعمال کړئ، چې تاسې یې واقعًا د دې درونډ بار پورته کولو او د دې د حق ادا کولو وړ ګڼئ.

إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا[1] (بیشکه الله جل جلاله تاسې ته حکم کوي چې تاسې خپل امانتونه هغه چاته وسپارئ چې اهل یې وي).

دا یوه اصولي او جامع لارښوونه ده چې هر ډول امانتونه پکې شامل دي او د بیان په لړ کې له امانتونو نه مراد د اسلامي تنظیم مسئولیتونه دي یعنې د اسلامي جماعت د قیادت او لارښوونې لپاره د خپل نظر او خوښې امانت هغه اهل ترین سړي ته وسپارئ چې په واقعي توګه د امانت بار اوچتولو اهلیت او استعداد لري، په دې لړ کې پلویتوب یا بې ځایه پېرزوینې نه همدا رنګه له نورو عواملو په اغېز منتیا سره رایه ورکول خیانت دی، چې د مؤمن لمن ترې باید پاکه وي.

---

[1] - د النساء سورت ۵۸ آیت

که تاسې ته د مسلمانانو د تنظیم مسئوولیت دروسپارل شی نو خپلو مسئوولیتونو ته پوره پوره پاملرنه وکړه او په مکمله دیانتداری د مسئوولیت له احساس او پاملرنی سره خپله دنده سرته ورسوی .

د نبی صلی الله علیه وسلم لاربښوونه ده: څوک چې د مسلمانانو د ټولنیزو چارو مسئوول وی او دی ورسره خیانت وکړی نو الله جل جلاله به پری جنت حرام کړی [صحیح بخاری، صحیح مسلم]

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لاربښوونه ده : کوم سړی چې د مسلمانانو د ټولنیزو چارو مسئوولیت پر غاړه واخیست، بیا یې د هغوی خیر غوښتنه ونه کړه او د هغوی د کارونو په سرته رسولو کې یې خپل ځان داسې ستړی نه کړ، لکه څنګه چې د خپلو ځانګړیو اړتیاو لپاره ځان ستړی کوی، نو الله جل جلاله دغه سړی پر مخی په جهنم کې راګذاروی [طبرانی]

له خپلو مامورینو سره د نرمی، مهربانی انصاف او حوصلی نه کار واخلی، چې هغوی په پراخه زړه ستاسې سره مرسته وکړی او الله جل جلاله ستاسې تنظیم ته د خپل دین د یو څه خدمت کولو توفیق درکړی ، په قرآن عظیم کې د نبی صلی الله علیه وسلم په ستاینه کې ویل شوی دی : فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ [1] ( دا خو د الله جل جلاله رحمت دی چې ته د دی خلکو لپاره بی اندازی نرم زړه یې، او که نه چیری تاسې سخت مزاجه او سخت ګیر واست، نو دوی ټول به ستاسې په شاو خوا راټول شوی نه وو) .

او پر نبی صلی الله علیه وسلم ټینګار شوی دی: وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ( او تاسې د خپلی مهربانی زرونه وغوړوی د هغو مؤمنانو لپاره چې ستاسې پیروی کوی ) .

حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه یو کرتی د تقریر په ترځ کې وفرمایل: ای خلکو زمونږ پر تاسې حق دی چې پسی شاه په اخلاص سره

---

[1] - د ال عمران سورت ۱۵۰ آیت

زمونږ خير وغواړي او د نيکي په چارو کې زمونږ سره مرسته وکړي، بيا يې وفرمايل: اې د حکومت مسئوولينو! د حاکم له صبر او نرمۍ نه زيات ګټور او د الله جل جلاله په وړاندې ډېر غوره بل يو صابر هم نه شته دی همدا رنګه د حاکم د ناپوهي جذباتيت او بې سوچ او بې فکره کار کولو نه زيات زيان رسوونکی او ناوړه کومه بله ناپوهي او بدچلني نشته.

☜ د خپلو ملګريو اهميت احساس کړي، د هغوی د احساساتو درناوی وکړي، د هغوی اړتياوې احساس کړي او له هغوی سره داسې د ورورولۍ رويه وکړي، چې هغوی تاسې تر ټولو زيات خپل خير غوښتونکی وګڼي.

حضرت مالک بن حويرث رضی الله عنه وايي چې يو کرتي مونږ څو تنه همزولي ځوانان له نبي صلی الله عليه وسلم سره د اوسيدو لپاره ولاړو او مونږ د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په خدمت کې تر شلو شپو پورې وو، واقعي چې د الله رسول بې شانه نرم زړی او مهربان و، چې کله هغه احساس کړه چې اوس مونږ د خپلې کورني يادونه غموی نو له مونږ نه يې پوښتنه وکړه چې پخپلو کورونو کې مو څوک پريښي راغلي ياست؟ مونږ ورته تفصيل ووايه نو وي فرمايل: ښه نو اوس تاسې خپلو کورونو ته بيرته ولاړ شي او له هماغي سره اوسی، او څه چې تاسې زده کړي دي هغوی ته يې زده کړئ او هغوی ته نيکي خبري زده کړئ . او پلانی لمونځ په پلانی وخت ادا کړي، او پلانی لمونځ په پلانی وخت ادا کړي او چې کله د لمانځه وخت راشي نو له تاسې نه يو آذان وکړي، او چې څوک په تاسې کې د علم او کردار له مخې زيات وي هغه دې امامت وکړي .

☜ د خپلو ملګريو درناوی وکړي او هغوی خپله اصلي پانګه وګڼي او په پالنه او روزنه کې يې په ټول توان او زړه سوی سره وخت ولګوی، او د هغوی په بې وسی او مفلس ګڼلو د حرص او هوس په نظرونو د هغو خلکو په لور مه ګوری، چې الله جل جلاله ورته دنيوی شان او شوکت او د مال او دولت وخت ورکړی دی .

وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا[1] ( او خپل ځانونه د هغو خلکو په ملګرتیا او اندیوالی مطمئن کړی چې د خپل رب د رضا د غوښتونکی په توګه سهار او مابښام هغه خپل رب جل جلاله رابولی، او د هغوی له نظره په پری وتو د دنیوی او شوکت په غوښتنه کې خپل نظرونه مه خغلوی ) .

په اصل کې د دې جماعت پانګه هماغه کسان دي، چې په مال ځان او وخت سره د دین په تبلیغ او خپراوی کې مشغول وي، د تنظیم د مشر ( قاید ) مسوولیت دي چې د هغوي اهمیت احساس کړي او خپله تو له، پاملرنه د هغوي په روزنه او تیارولو کې ولګوي.

د تنظیم ټول کارونه د ملګرو په مشوره فیصله کړی او سرته یې ورسوی او د ملګرو له اخلاصمندو مشورو نه ګټه واخلی او د تنظیم په چارو کې د هغوی مینه او محبت زیات کړی، د مؤمنانو صفت الله جل جلاله دا هم بیان کړی دی، چې د هغوی چاری پخپلمنځی مشورو سره سرته رسیږی : وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ... ( او د هغوی چاری د خپلمنځی مشورو له مخی فیصله کیږی ...) .

په ګوندیّ ( تنظیمی ) چارو کې تل له پراخ زړیتوب او قربانی نه کار واخلی خپل ځان او د کورنی خلکو ته په کومه چاره کې لوړاوی مه ورکوی، بلکې تل د قربانی او سخاوت رویه خپله کړی، تر څو مو ملګری په خوشحاله زړه د هری قربانی ورکولو لپاره مخکی مخکی وی او په هغوی کې له تنظیم نه خفګان او بی تعلقی پیدا نه شی، او د خپلچاری او ځیلسری ولولی یې راونه پاریږی .

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه یو ځلی حضرت عمر رضی الله عنه ته وویل: ای د خطابه زویه! ما پر مسلمانانو ته د دی لپاره ټاکلی یې چې ته له هغوی سره د مهربانی رویه وکړی، تا د نبی صلی الله علیه وسلم صحبت لیدلی دی چې نبی صلی الله علیه وسلم څنګه مونږ ته پر خپل ځان او

[1] - د الکهف سورت ۲۸آیت

زمونږ کورنیو ته پر خپلو کورنیو لوړاوی ورکاوه، ان تر دی چې مونږ ته به چې څه د هغه له لوری راکول کیدل او له هغو نه به څه پاتی کیدل نو هغه به مونږ د نبی صلی الله علیه وسلم کورته، سوغات لیږل [کتاب الخراج]

د پلویتوب ( جانبداری ) او خپلپالنی څخه د تل لپاره ځانونه وژغوری او له بی ځایه ښی خوانی او ترحم نه هم ځانونه وساتی، حضرت یزید ابن ابو سفیان ﷺ وایی: چې کله حضرت أبوبکر صدیق رضی الله عنه زه سر لښکر کړم او د شام په لوری یې ولیږلم نو هغه وخت یې ماته دا نصیحت وفرمایه: ای یزیده! ستا یو څه دوستان او خپلوان دی کیدای شی چې ته هغو ته د ځینو مسئوولیتونو سپارل غوره وګنی، ستا لپاره زما په نظر تر ټولو زیاته د اندیښنی او ویری خبره دا ده ، نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی چې کوم سړی د ټولنیزو چارو مسئوول وی او هغه پر مسلمانانو څوک یوازی د خپلوی او یا دوستی له امله حکمران کړی، نو الله جل جلاله به د هغه له لوری یوه فدیه هم قبوله نه کړی ان تر دی چې په جهنم کې به یې واچوی [کتاب الخراج]

په تنظیم کې د نظم ساتلو د زیات نه زیات کوښښ وکړی او هیڅکله په دی لړ کې له بی ځایه نرمی او سستیا نه کار وانخلی.

الهی لارښوونه ده: إِذَا اسْتَأْذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمُ اللَّهَ [1] ( نو چې کله هغه د کوم خاص کار لپاره له تانه اجازه وغواړی نو تاسې چې چا ته غواړی اجازه وکړی او د هغو خلکو په حق کې له الله جل جلاله څخه بخښنه وغواړی ) .

یعنی چې کله د تنظیم ملګری د کوم ټولنیز ضرورت لپاره جمع وی او بیا ځینی کسان د خپلو ځانګړیو اړتیاو او مجبوریو له امله اجازه وغواړی، نو د تنظیم د مشر فرض دی چې هغه د تنظیم د نظم د اهمیت په خاطر یوازی همغو کسانو ته اجازه ورکړی، د چا اړتیا چې په واقعی توګه د دغه دینی او

[1] - د النور سورت ۶۱ آیت

اجتماعی کار په مقابل کې ډېره د لوړاوی وړ وی ، یا د چا عذر چې واقعاً شرعی عذروی او د هغی منل ضروری وی .

## پنځم څپرکی

## د بندګۍ احساس

د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم لاربنوونه ده چې الله جل جلاله فرمايي: زما بنده ګانو! له تاسې نه هر يو بې لارې دی، پرته له هغوی چې چا ته زه لاربنوونه وکړم، نو تاسې زما نه هدايت وغواړئ چې زه درته هدايت وکړم، زما بنده ګانو! له تاسې هر يو وږی دی، پرته له هغوی چې زه يې پړی وخورم، نو تاسې زما نه روزي وغواړئ چې زه تاسې ته روزي درکړم، زما بنده ګانو! له تاسې هر يو لوڅ دی، پرته له هغوی چې زه يې ورته واغوندم، نو تاسې زما نه جامې وغواړئ چې زه يې در واغوندم، زما بنده ګانو! تاسې په شپه کې هم ګناه کوئ او د ورځې هم او زه ټول ګناهونه بخښلای شم، نو تاسې زما نه بخښنه وغواړئ، چې زه ستاسې ګناه وبخښم.

## د توبې او استغفار آداب

⇦ د توبې له قبلیدونه هیڅکله مه نهیلی کیږی، که هر څومره لوی لوی ګناهونه درنه شوی وی، په توبې سره خپل نفس پاک کړی او الله جل جلاله ته امیدوار (هیله مند) اوسی، نهیلی (نا امیدی) د کافرانو کار دی، د مؤمنانو خو غوریز ښه والی دا دی چې هغوی ډېر زیات توبه کوونکی وی او په یو حال کې له الله مه نامیده کیږی، د ګناهونو د زیاتوالی له ویری نهیلی کیدل او د توبې له قبلیدو نهیلی کیدل د ذهن او فکر تباه کوونکی بې لاری ده، الله جل جلاله د خپلو محبوبو بنده ګانو دا ستاینه نه ده کړی چې له هغوی نه به ګناهونه نه کیږی، بلکې فرمایلی یې دی چې له هغوی نه ګناهونه کیږی، خو هغوی پر خپلو ګناهونو ټینګار نه کوی، په ښکاره ډول پری اعتراف کوی او د ځان د پاکولو لپاره نا آرامه وی.

وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ وَلَمْ يُصِرُّوا عَلَى مَا فَعَلُوا وَهُمْ يَعْلَمُونَ [1] (او که کله له هغوی نه کوم بد کار کیږی، یا هغه پر خپل ځان کله کوم زیاتی کوی، نو ورسره هغوی ته الله جل جلاله یادیږی، او له هغه جل جلاله نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړی او له الله جل جلاله پرته څوک دی چې ګناهونه بخښلای شی؟ او هغوی له علم او پوهې سره پر خپلو کړو هیڅکله ټینګار نه کوی).

او په بل ځای کې فرمایی: إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَوْا إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُوا فَإِذَا هُمْ مُبْصِرُونَ [2] (څوک چې واقعاً له الله جل جلاله ویریدونکی دی، د هغوی حال دا وی چې کله د شیطان د اغیز له مخې کوم بد خیال د

---

[1] - د ال عمران سورت ۱۳۵آیت

[2] - د الاعراف سورت ۲۰۱آیت

هغه په ذهن کې تیریږي، نو ژر هوښیاریږي او بیا هغه ته صاف ښکاره کیږي چې صحیح روي کومه ده).

او د نبي صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: ټول انسانان له یو مخې خطا کاران دي او غوره خطا کار هغه دي چې ډېر زیات توبه کوونکي دي.

په قران عظیم کې الله جل جلاله د خپلو محبوبو بنده ګانو دا غوره والی بیان کړی دی، چې هغوی د سهار په وختونو کې د الله جل جلاله په حضور کې لړزیږي او توبه او استغفار کوي او دا یقین ولري، چې الله جل جلاله به د هغوی پر ګناهونو د عفوی او بخشش پرده وغوړوي، ځکه چې هغه جل جلاله ستر ښښونکی دی او د خپلو بنده ګانو سره بی اندازې مینه کوونکی دی.

وَاسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٌ وَدُودٌ [1] (او د خپل پالونکی څخه ښښنه وغواړی او د هغه پر وړاندې توبه وکړئ، بیشکه زما رب ډېر رحم کوونکی دی او ډېر محبت کوونکی دی).

⇦ د الله جل جلاله رحمت ته تل امیدوار اوسی او دا یقین ساتی چې ګناه هر څومره زیاته وي د الله جل جلاله رحمت تردې ډېر زیات پراخ دی، د سمندر له څپو نه د زیاتو ګناهونو کونکی چې کله پر خپلو ګناهونو شرم احساس کړي او د الله جل جلاله په حضور کې لړزیږي، نو الله جل جلاله د هغه اوري او د خپل رحمت په لمن کې هغه ته پناه ورکوي.

قُلْ يَاعِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ﴿وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ [2] (ای زما هغو بنده ګانوا چې پخپلو ځانونو مو زیاتی کړی د الله جل جلاله له رحمت نه هیڅکله نهیلی نشی په رښتیا سره الله جل جلاله به ستاسې ټول ګناهونه معاف کړي هماغه ډېر بخښونکی دی او ډېر مهربان دی او تاسې د خپل رب لوری ته راجع شی او د هغه

---

[1] - د هود سورت ۹۰ آیت

[2] - د الزمر سورت ۵۳-۵۴ آیتونه

فرمانبرداري وکړی، تر دی د مخه چې پر تاسې کوم عذاب راشی او بیا به له تاسې سره له هیڅ ځایه مرسته ونه شی ) .

⇦د ژوندانه په هره برخه کې چې مو پر ګناهونو شرم احساس کړ، الهی توفیق یې وګڼی او د توبی دروازی خلاصی وګڼی، الله جل جلاله د خپلو بنده ګانو توبه تر هغه وخته پوری قبلوی، تر څو چې د هغه ساه وتلی نه وی، البته د ساه له وچتیدو وروسته چې کله انسان بل عالم ته د تلو په حالت کې وی، نو د توبی وخت پای ته رسیږی.

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لاربښوونه ده : الله جل جلاله د خپل بنده توبه قبلوی خو د ساه وتلو نه مخکی مخکی [جامع ترمذی ]

د حضرت یوسف علیه السلام ورونو چې هغه په تیاره کوهی کې ګذار کړ او په خپل فکر یې هغه وواژه، ګواکی چې هغوی نبی د وژلو ګناه وکړه او د هغه کمیس یې پر وینو ککړ کړ او د خپل پلار یعقوب علیه السلام د باور راوستلو کوښښ یې وکړ چې یوسف علیه السلام مړ شوی دی او هغه لیوه خوړلی دی، خو د داسې ستری ګناه له کولو څو کاله وروسته چې کله په هغوی کې د خپلی ګناه احساس راولاړیږی، او هغوی شرمیدلی له خپل پلار نه غوښتنه کوی چې پلار جانه! زمونږ لپاره الله جل جلاله ته دعا وکړه، چې الله جل جلاله زمونږ ګناه وبخښی، نو د الله جل جلاله پیغمبر حضرت یعقوب علیه السلام د دی خبری په کولو هغوی نه نامیده کوی چې ستاسې ګناه ډیره ستره ده، او پردی ستره ګناه اوس کلونه تیر شوی دی، نو اوس د بخښنی څه سوال ؟ بلکې هغه وعده کوی ، چې زه به یوازی ستاسې لپاره خپل پروردګار ته د بخښنی دعا کوم، او هغوی ته دا یقین ورکوی چې الله جل جلاله به ضرور تاسې معاف کړی، ځکه چې هغه خورا بخښونکی او ډیر مهربان دی .

قَالُوا يَاأَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ [۱] ( هغوی ټولو وویل : ای پلار جانه! زمونږ د ګناهونو د بخشش لپاره دعا وکړی په رښتیا چې مونږ ډېر خطا کاران یو ) .

قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّي إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ [۲] ( حضرت یعقوب علیه السلام وویل : زه ستاسی لپاره د خپل رب څخه ضرور د بخښنی دعا کوم او هغه به تاسی خامخا وبخښی رښتیا چې هغه بخښونکی دی او بی اندازی رحم کوونکی دی ) .

نبی صلی الله علیه وسلم د امت نهیلی نه د خلاصون لپاره صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین ته یوه عجیبه غریبه قصه واوروله، چې دا درس تری اخیستل کیږی چې مؤمن د ژوندانه پر کومه برخه شرم احساس کړی او په رښتیا سره د الله جل جلاله له ویری هغه په حضور کې ولړزیږی نو هغه جل جلاله یې د مغفرت او بخښنی په لمن کې تاوه وی او هیڅکله به نه غمجن کیږی.

نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې په پخوانیو قامونو کې یو سړی ؤ چې ۹۹ مړی یې کړی وو، هغه د خلکو نه پوښتنه وکړه چې په دنیا کې تر ټولو لوی عالم څوک دی؟ خلکو ورته د یوه بزرګوار راهب پته ورکړه، هغه سړی راهب ته ولاړ او ورته وی ویل محترما! ما نه نوی مړی (خونه) کړی دی، ایا زما توبه هم قبلیدای شی؟ راهب ورته وویل نه، ستا د توبی قبلیدو لپاره هیڅ ځای پاتی نه دی، د دی خبری په اوریدو سره هغه سړی راهب هم قتل کړ، او اوس هغه د پوره سلو کسانو قاتل ؤ. اوس هغه بیا له خلکو نه پوښتنی پیل کړی چې په نړی کې تر ټولو پوه عالم څوک دی؟ خلکو ورته د یو بل راهب پته ورکړه، هغه سړی د توبی لپاره هغه راهب ته ورغی او هغه ته یې د خپل حال بیانولو په ترڅ کې وویل ښاغلیه! ما سل قتلونه کړی دی، دا راته ووایی چې زما توبه قبلیدای شی؟ او زما د بخښنی هم کوم شکل

---

[۱] - د یوسف سورت ۹۷آیت

[۲] - د یوسف سورت ۹۸آیت

شته؟ راهب ورته وویل ولې نه! ستا او د توبې تر منځ څه شي خنډ کیدای شي؟ پلانی هیواد ته ولاړ شه، هلته د الله جل جلاله یو څو غوره بنده ګان په عبادت مشغول دي، ته هم له هغوی سره د الله جل جلاله په عبادت مشغول شه، او بیا هیڅکله خپل وطن ته بیرته مه راځه، ځکه اوس دا ځای ستا لپاره په دیني لحاظ مناسب نه دی دلته ستا لپاره پر توبه قایم پاتې کیدل او د ځان اصلاح کول ډېر ګران دي - هغه سړی روان شو، لانیمه لاره یې وهلې نه وه چې د مرګ پیغام ورته راغی، اوس د رحمت او عذاب ملائکې پخپلو کې په جګړه وې، د رحمت ملائکو وویل اوس ده له ګناهونو توبه کړې او د الله جل جلاله لپاره دې لورې ته راغلی دی، د عذاب ملائکو وویل، تر اوسه ده کوم نیک کار نه دی کړی، دا خبرې کیدې چې یوه ملائکه د انسان په شکل راغله، دې ملائکو هغه خپل حکم ( منځګړی ) کړ، چې هغه دې د دغو دواړو ډلو ملائکو تر منځ فیصله وکړي، هغه ( د انسان په شکل ) ملایکې وویل دواړو خواو ته ځمکه اندازه کړئ او وه ګورئ چې هغه ځای له دې ځایه نږدې دی چې له کومه راغلی او که هغه ځای نږدې دی چیرته چې دی روان و، ملایکو ځمکه اندازه کړه هغه ځای نږدې وخوت چیرې چې دا سړی روان و، او د تلو په وخت کې د رحمت ملائکو د هغه روح واخیست او الله جل جلاله هغه وباښه [بخاري، مسلم]

⇦ یوازې د الله جل جلاله په حضور کې پر خپل ګناهونو اقرار وکړئ د هماغه په حضور کې له ویرې ولړزیږئ او د هماغه په مخکې . خپلې عاجزي، بې وسې اوګنهګاري اظهار وکړئ.

تواضع او انکسار د انسان هغه پانګه ده چې یوازې د الله جل جلاله په حضور کې وړاندې کیدای شي، او کوم بد برخې بد( نصیبه ) چې خپله د عجز او احتیاج سرمایه د ځان په څېر بې وسې او مجبورو انسانانو ته وړاندې کوي، نو بیا د دغه مفلس سره د الله جل جلاله په حضور کې د وړاندې کولو لپاره هیڅ نه پاتې کیږي، او هغه به ذلیل او رسوا شي، تل به د غم ټکرې خوري او هیڅکله په د درناوی ځښتن نه شي.

الهي لارښوونه ده:

وَرَبُّكَ الْغَفُورُ ذُو الرَّحْمَةِ لَوْ يُؤَاخِذُهُمْ بِمَا كَسَبُوا لَعَجَّلَ لَهُمُ الْعَذَابَ بَلْ لَهُمْ مَوْعِدٌ لَنْ يَجِدُوا مِنْ دُونِهِ مَوْئِلًا [۱] (او ستا پروردګار د ګناهونو پټوونکی او ډېر زيات رحم کوونکی دی، که هغه جل جلاله دوی پر خپلو بد اعمالو فوراً ونيسی نو عذاب به راولیږی، خو هغه جل جلاله په (خپل رحمت سره) يو وخت د هغی لپاره ټاکلی دی او دا خلک به د خلاصون لپاره له هغه پرته يو د بناه ځای ونه مومی).

او سوره شوری کې دی: وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَعْفُو عَنِ السَّيِّئَاتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ [۲] (او هماغه دی چې د خپلو بنده ګانو توبه قبلوی او د هغوی ګناهونه بخښی او پر هغو ټولو پوهیږی چې تاسې يې کوی).

په اصل کې انسان بايد پر دی يقين ولری، چې د بری او خلاصون هم يوه دروازه ده، له دی دروازی نه چې څوک ديکه کړای شوی وی، بيا د تل لپاره ذليل او بی برخی پاتی شو، مؤمنانه فکر همدا دی، چې له بنده که هر ډول ګناه وشی، د هغه کار دا دی چې د الله جل جلاله په حضور کې پښيمانی څرګنده کړی او د هماغه جل جلاله په حضور کې د خپلی ملامتيا اوښکی تويی کړی د بنده د پاره له الله پرته بله يوه دروازه هم نشته، چې له هغی نه وبخښلای شی، ان تر دی چې که سړی الله جل علی شانه پريږدی او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د خوشحالولو کوښښ وکړی نو د الله جل جلاله په دربار کې د هغه دغه کوښښونه هيڅ ارزښت نه لری، او هغه به نامراده شړل کيږی.

رسول هم د الله جل جلاله بنده دی او هغه هم د همدی درګاه فقير دی، هماغه صلی الله عليه وسلم ته چې کومه ستره مرتبه ورکړای شوی ده او د هغه د ستر توب راز هم دا دی چې هغه به د الله جل جلاله تر ټولو عاجز بنده

---

[۱] - د الکهف سورت ۵۸ آيت

[۲] - د الشوری سورت ۲۵ آيت

وی او د نورو انسانانو په مقابله کې به د الله جل جلاله په حضور کې تر ټولو زيات له ويرې لړزيږي، د نبی اکرم صلی الله عليه وسلم لاربښونه ده.

خلکو! له الله جل جلاله د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړی، او د هغه حضور ته مراجعه وکړی ما ته وګوری زه د ورځی سل سل کرتی له الله جل جلاله نه د مغفرت غوښتنه کوم [صحيح مسلم]

د منافقانو په يادونه کې الله جل جلاله فرمايی: يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَرْضَى عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ[1] [دا منافقان به ستاسې په مخ کې قسمونه خوری چې له هغوی نه راضی شی، که له دوی نه راضی هم شی نو الله جل جلاله هيڅکله له داسې بی دينانو، نه راضی کيږی] .

په قرآن مجيد کې د حضرت کعب بن مالک د پند وړ پيښه د تل لپاره درس دی، چې بنده بايد هر څه تير کړی او هر ډول ازميښت وزغمی، خو د الله جل جلاله له درګاه نه د تيښتی لار غوره نه کړی، د دين په لاره کې چې پر انسان هر څه تير شی او الله جل جلاله پر هغه هر څومره مشکلات راولی هغه د انسان د ژوندانه د ښکلی کولو او د مرتبی د لوړولو وسيله ده. همدا بی عزتی د تلپاتی درناوی رښتونی لاره ده او څوک چې د الله جل جلاله دروازه پريږدی او بل چيرته پرتم او درناوی لټوی، هيچيری به يې تر لاسه نه کړای شی، دی به هر ځای ذليل او خوار او په ځمکه او آسمان کې به ورته يوه سترګه ځای هم درناوی نه ښکاری .

وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوا أَنْ لَا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ[2] ( او هغه دری واړه هم وبخښلای شول د چا معامله چې ځنډولای شوی وه، کله چې ځمکه د خپلو ټولو پراخيو سره پر هغوی تنګه شوه او خپل ځانونه هم ورته پيټی شول او هغوی پوه شول چې له الله جل جلاله نه

[1] - د توبه سورت ۹۶ آيت

[2] - د التوبه سورت ۱۱۸آيت

پرته د خلاصون هیڅ د پناه ځای نشته، پرته له دی چې پخپله له هغه سره پناه واخستل شي، نو الله جل جلاله پخپلی مهربانی سره د هغوی په لوری توجه وکړه، تر څو هغوی هم د الله جل جلاله لوری ته متوجه شي، بیشکه هغه ډېر مهربان او بخښونکی دی )

له پورته دری بزرګانو نه مراد حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه حضرت مراره ابن ربیع رضی الله عنه او حضرت هلال ابن امیه ﷺ وو او د دری واړو مثالی توبه به تر قیامته د مسلمانانو لپاره د لاری مشال وی.

حضرت کعب ابن مالک رضی الله عنه چې په بوډاتوب کې ړوند شوی ؤ او د خپل زوی سره به ګرځیده، هغه پخپله د خپلی مثالی توبی پندوره پیښه خپل زوی ته بیان کړی وه چې د حدیثو په کتابونو کې ساتل شوی ده.

د تبوک غزا ته د تیاری په وخت کې چې کله نبی صلی الله علیه وسلم مسلمانان د غزا لپاره تیارول، زه په هم په هغو مجلسونو کې شریک وم، ما به چې کله هم د نبی صلی الله علیه وسلم خبری اوریدی، په زړه کې به مې فکر کاوه چې زه به هم خامخا ځم خو چې کورته به راغلم، سستی به می کوله او فکر به می کاوه چې تر اوسه لازیات وخت دی، زما سره د سفر سامان موجود دی، زه روغ او جوړ یم، ښی ښی سپرلی راته ولاړی دی، په روانیدو کې به څومره وخت لګیږی، او خبره همداسې ځنډیده، ان تردی چې ټول مجاهدین د جنګ ډګر ته ورسیدل او زه په مدینه کې ناست وم، ازادی به می کولی.

اوس خبرونه په را رسیدو وو چې نبی صلی الله علیه وسلم بیرته راتلونکی دی او یوه ورځ پته ولګیده چې هغه بیرته راورسید او د معمول سره سم په جومات کې ایسار دی زه هم جومات ته ورسیدم، دلته منافقین د حضور صلی الله علیه وسلم ته ورتلل او رنګا رنګ سوګندونه به یې یادول او خپل عذرونه یې وړاندی کول، پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم به د هغوی له ځانه جوړی کړای شوی خبری اوریدی او د هغوی ښکاره عذرونه به یې منل او ورته فرمایل یې څه الله جل جلاله دی تا معاف کړی.

چې کله زما نمبر راورسید نو نبی صلی الله علیه وسلم ماته وویل : وایه ته څه شی منع کړی وی؟ ما ولیدل چې د هغه په موسکا کې د قهر آثار دی، او ما ورته وویل : ای د الله رسوله! واقیعیت دا دی چې زما هیڅ عذر نه و، زه روغ وم، خوشحال وم سپرلی هم را سره وه، بس زما لټ او بیکاری زه د دی نیک بختیانه بی برخی کړم.

زما د سپینو سپینو خبرو په اوریدو نبی اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ښه ولاړ شه او انتظار وکړه چې الله جل جلاله ستا په باب څه فیصله وفرمایی، زه پاڅیدم او د خپلی قبیلی په خلکو کې کیناستم، د قبیلی خلکو ماته بد رد ویل پیل کړل، چې تا ولی څه خبره جوړه نه کړه، ته خو تل د دین په چارو کې له نورو د مخه یې، خو چې کله ماته دا معلومه شوه چې زما دوه نورو ملګریو هم زما په څیر همداسې رښتیا خبره کړی نو زما زړه جمعه ( مطمئن ) شو او ما پریکړه وکړه چې پخپلو رښتیاو به ټینګ پاتی کیږم.

له دی وروسته نبی صلی الله علیه وسلم اعلان وفرمایه چې زمونږ دری واړو سره به هیڅوک خبری نه کوی، د دی اعلان سره زما لپاره د مدینی ځمکه بدله شوه او زه پخپلو کې پردی او بیخی بل هیوادی پاتی شوم، په ټولنه کې هیچا زما سره سلام کلام نه کاوه، یوه ورځ چې زه ډېر زیات زړه تنګی شوم او بی اندازی وویریدم، نو خپل یوه د کوچنیتوب اندیوال او د تره (کاکا ) زوی ابو قتاده رضی الله عنه ته ورغلم، ما سلام پری واچاوه خو هغه د الله جل جلاله بنده د سلام ځواب اومره هم رانکړ، ما تری پوښتنه وکړه ابو قتاده! زه تاته پر الله جل جلاله سوګند درکوم او پوښتنه کوم، ووایه چې زما له الله جل جلاله او د هغه له رسول صلی الله علیه وسلم سره مینه نشته؟ هغه چپ وُ، ما بیا تری پوښتنه وکړه، خو هغه هیڅ ځواب رانکړ، دریم کرتی چې ما سوګند ورکړ او تری وه می پوښتل، نو هغه همدومره وویل: الله جل جلاله او د هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی، زما زړه را ډک شو او له سترګو می اوښکی را روانی شوی، او په غمو کې ډوب تری راستون شوم.

په همدې ورځو کې يو شامي سوداګر راته د غسان پادشاه، يو ليک راکړ د غسانيانو دی پادشاه ليکلي وو، مونږ اوريدلي دي چې ستاسې سردار پر تا ناروا تيرې کوی ته خو کوم ذليل انسان نه يې، ستا په درد مونږ پوهيږو، مونږ ته راشه مونږ به ستا سره ستاله شانه سره سمه رويه وکړو، د ليک په ليدو زما له خولې وواته دا يو بل مصيبت نازل شو او هماغه وخت مې هغه ليک په نغرې کې واچاوه. څلويښت ورځې په همدې حالت کې تيرې شوی وی چې د پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم يو استازې له يوه حکم سره راغې، چې له خپلې ميرمنې نه هم جلا شه ما پوښتنه وکړه، طلاق ورکړم؟ ځواب راکړ شو نه! بس بيل اوسه، او ما خپله ميرمن خسرګنې کره وليږله او هغې د الله جل جلاله بنده ته مې وويل چې اوس ته هم د الله جل جلاله د حکم انتظار وکړه پر پنځوسمه ورځ د سهار له لمانځه وروسته زه له ځانه بيزاره ډېر نهيلي او غمځپلي د خپل کور پر بام ناست وم، چې ناڅاپي چا وويل، کعبه! مبارک شه! د غږ په اوريدو سره زه پوه شوم او د خپل رب په حضور کې په سجده پريوتم، بيا نو د خلکو راتلل پيل شول او ډلې ډلې به ماته د مبارکی لپاره راتللو زه پاڅيدم او سيده د نبی اکرم ﷺ حضور ته چې په جومات وو ولاړم، ګورم چې د رسول اکرم ﷺ مبارکه څيره له نوره ځليږي، زه ورمخکې شوم سلام مې وکړ، نو نبی اکرم ﷺ راته وويل، کعبه مبارک شه! دا ستا د ژوندانه تر ټولو غوره ورځ ده، ما ورته وويل، حضور دا بخښنه ستاسې له لوري ده او که د الله جل جلاله له لوري؟ وی فرمايل د الله جل جلاله له لوري او پورته آيتونه يې راته واورول.

⇦ په توبه کولو کې هيڅکله ځنډ ونه کړی، د ژوندانه حال چاته معلوم نه دی چې د عمل مهلت به څه وخت پای ته رسيږي، هيڅوک نه پوهيږی چې راتلونکی کړی د ژوندانه دی او که د مرګ، هر مهال خپل پای په ياد ولری او د توبې او استغفار په وسيله زړه او روح ذهن او ژبه له ګناهونو پريمنځی، د نبی اکرم صلی الله عليه وسلم لارښوونه ده :

الله جل جلاله د شپې خپل لاس غزوی، چې کوم سړی د ورځ ګناه کړی وی چې هغه الله جل جلاله ته واپس کړای شی، او د ورځی هغه لاس غزوی

چې کوم سړی د شپې ګناه کړی وی چې هغه په ورځ کې الله جل جلاله ته واپس کړای شی او د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړی ان تردی چې لمر د مغرب (لویدیځ) له لوری راوخیژی [صحیح مسلم]

د لاس غزولو نه مراد دا دی چې هغه خپل ګنهګار بنده ګان خپل لوری ته رابولی، او پخپل رحمت سره د هغوی ګناهونو پټول غواړی، که پر بنده کوم وخت احساسات غالب شی او کوم ګناه تری وشی، نو هغه ته پکار دی چې غفور او رحیم الله جل جلاله ته پرته له ځنډه مراجعه وکړی، ځکه چې له ګناه نه ګناه پیدا کیږی، او شیطان هر وخت انسان ته په څوکی ناست وی او هغه د انسان د بی لاری کولو له فکر نه یو وخت هم بی پروا کیږی نه .

⇦ په خورا رښتونی زړه او اخلاص سره داسې توبه وکړی چې ستاسې د ژوندانه یون (حرکت) بدل کړی او له توبی وروسته تاسې یو بل انسان په نظر راشي، الهی فرمان دی :

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ يَوْمَ لَا يُخْزِي اللَّهُ النَّبِيَّ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ [1]

(ای مؤمنانو! د الله جل جلاله په حضور کې رښتونی او خالصه توبه وکړی ، هیله ده چې ستاسې پروردګار ستاسې ګناهونه له تاسې لری کړی او تاسې په داسې باغونو کې داخل کړی، چې تری لاندی نهرونه بهیږی، په هغه ورځ به الله جل جلاله خپل رسول او هغه خلک چې ایمان یې راوړی او له هغه سره ملګری شوی نه رسوا کوی ) .

یعنی داسې توبه وکړئ چې بیا مو د زړه او ذهن په کوم ګوټ کې د ګناه په لور د ورتګ ځای پاتی نه وی، د داسې توبی دری یا څلور برخی دی، که د توبی اړیکی د الله جل جلاله له حق سره وی د توبی دری برخی اجزاء دی :

۱ - انسان وقعًا د خپلو ګناهونو په احساس شرمنده وی .

۲ - په راتلونکی وخت کې د ګناه نه کولو کلک عزم ولری .

---

[1] - د التحریم سورت ۸ آیت

۳ - او د خپل ژوندانه په سمولو او ښکلی کولو کې په مکمله توګه فکرمند وی او په دی باب په ټینګه کار کوی او که ګنهګار د کوم مؤمن حق خوړلی وی نو د توبی څلورم جز (برخه) دا ده چې: د بنده حق ادا کړی او یا تری بخښنه وغواړی.

همدا هغه توبه ده چې انسان پری په واقعی ډول له ګناهونو پریمنځل کیږی، د هغه یوه یوه ګناه د هغه له روح نه لاندی را پریووزی او هغه په نیکو اعمالو سینګار، له ښکلی او ښایسته ژوندانه سره د الله جل جلاله حضور ته ورځی او الله جل جلاله ورته په جنت کې داوسیدو ځای وربخښی، د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده:

کله چې بنده کومه ګناه وکړی نو د هغه په زړه کې یو تور داغ پیدا کیږی، بیا که هغه له ګناه نه منع شی، د خپلو ګناهونو په احساس پښیمانه او د بخښنی غوښتونکی وی، د الله جل جلاله لور ته رجوع وکړئ او له ګناه نه د ځان ساتنی کلک عزم وکړی نو الله جل جلاله د هغه زړه ته جلا وربښی، او که هغه بیا ګناه وکړی نو هغه تور داغ یې زیاتیږی ان تردی چې ټول زړه ونیسی، همدا هغه زنګ دی چې یادنه یې الله جل جلاله په خپل کتاب کې فرمایلی دی: كَلَّا إِنَّهُمْ عَنْ رَبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَمَحْجُوبُونَ [۱] (هیڅکله نه بلکه اصل خبره دا ده چې د هغوی زړونه د هغوی د بدو اعمالو زنګ نیولی دی).

⇦ پر خپله توبه د قایم اوسیدلو کلک عزم وکړی او شپه ورځ دی ته پام لری چې د الله جل جلاله سره د کړی وعدی پر خلاف تری کوم عمل ونه شی او د خپل مخ په زیاتیدو سپیڅلتیا او اصلاح له مخی خپل عزم اټکل کړی او که د خپلو ټولو کوښښونو سره سره تاسې وخوییږی او بیا درنه کومه ګناه وشی نو بیا هم هیڅکله مایوس نه شی، بلکې بیا د الله جل جلاله د بخښش په پراخه لمن کې د ځان لپاره پناه ولټوی او د الله جل جلاله په حضور کې له ویری ولړزیږی چې پروردګاره! زه ډیر کمزوری یم، خو ته می

---

[۱] - د المطففین سورت ۱۴ آیت

له خپل درباره رسوا مه شړې، ځکه چې زما لپاره ستا له درګاه پرته بله درګاه نشته، چې ورشم او پناه پکې واخلم.

شيخ سعدي رحمه الله عليه فرمايي:

الهی بذلت مران از درم — که جز تو نباشد در دیگرم

او د حضرت ابو سعيد ابو الخير دا رباعي هم ډېره ښه ده:

باز آ باز آ هر آنچه هستی بازآ — گر کافر و گبر وبت پرستی باز آ

این درگه ما درگه نومیدی نیست — صد بار اگر توبه شکستی بازآ

الله جل جلاله چې تر ټولو زيات پر کوم څيز خوشحالېږي هغه د بنده توبه ده، د توبې معنی ده راګرځېدل، الله جل جلاله ته رجوع کول. بنده چې کله د فکر او جذباتو په بې لارې کې مبتلا شي او د ګناهونو په جال کې راګير شي، نو له الله جل جلاله پردې کېږي او ډېر لرې کېږي، ګواکې چې هغه له الله ورک شي او چې کله هغه بېرته راګرځي او پښېمانه د الله جل جلاله لورې ته متوجه کېږي، نو داسې يې وګڼې چې الله جل جلاله خپل ورک شوی بنده بيا ومونډ، دغه ټول حالت نبي صلی الله عليه وسلم په بې اندازې بليغ تمثيل سره داسې بيان کړې دی: که له تاسې نه د چا اوښ په يوه بې اوبو او وښو بېدياکې ورک شوی وي او د هغه د خوراک څښاک سامان هم پر هغه اوښ باروي، او هغه سړی خپل اوښ په دغه وچه بېديا کې لټولی او له پيدا کېدو يې نا اميده شوی وي او له ژوندانه يې هم هيله پرې شوې او د کومې ونې د سيورې لاندې د مرګ په هيله ناست وي، په همدې حالت کې که هغه خپل اوښ پر سامان بار په خپله خوا (څنګ) کې وګوري، نو فکر وکړې، چې دی به څومره خوشحاله وي! ستاسې پروردګار هم له دې سړي نه هغه وخت زيات خوشحالېږي، چې له تاسې کوم بې لارې بنده بېرته هغه ته رجوع وکړي او له بې لارې وروسته بيا هغه د فرمانبردارۍ لاره غوره کوي [جامع ترمذی]

په يو بل وخت کې هغه دغه حقيقت په يو بل تمثيل سره واضع کړې دی چې بې اندازې اغيز من دی.

په یو بل وخت کې یو شمیر جنګی بندیان راوستل شول، په هغو کې یوه زنانه هم وه چې په سینی پوری زوی تری پاتی شوی و، هغه له ډیره غمه داسې ناقراره وه، چې چیرته به یې کوچنی هلک ولید په سینی پوری به یې ونیوه او شیدی به یې ورکولی، د دغی ښځی د حال په لیدو نبی ﷺ له صحابه رضی الله عنه پوښتنه وکړه، ایا تاسې دا هیله کولای شی چې دا ښځه به خپل زوی پخپلو لاسو په اور کې واچوی صحابه و ورته وویل : یا رسول الله پخپله ګذارول خو یې پریږده که دا خپل زوی په اور کې ووینی نو د خپل ځان نه په تیریدو به هغه بچ کړی، پردی خبره پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : الله جل جلاله پر خپلو بنده ګانو تر دی زیات رحیم او مهربان دی، څومره چې دا مور پر خپل زوی مهربانه ده ؟

⇦ توبه او استغفار پرله پسی وایاست، له سهاره تر ماښامه معلومه نه ده چې له انسان نه څومره خطاګانی کیږی، او ځینی وختونه پخپله انسان هم پر هغی نه پوهیږی .

دا سوچ مه کوی چې د کومی ستری ګناه پر وخت توبی ته اړتیا ده، انسان هر وخت توبی او استغفار ته اړ دی او پل په پل تری سهوی کیږی، نبی صلی الله علیه وسلم به د ورځی اویا او یا سل کرتی توبه او استغفار فرمایه [صحیح بخاری - صحیح مسلم]

⇦ کوم ګنهګار چې توبه وکاږی او خپل ژوندون سم کړی، هغه هیڅکله حقیر مه ګنی.

حضرت عمران بن الحصین د رسالت د وختو یوه پیښه بیانوی چې د جهینه قبیلی یوه میرمن د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضره شوه چې د بد کاری په نتیجه کې حامله شوی وه، وی ویل یا رسول الله ! زه د زنا د سزا وړ شوی یم، پر ما شرعی حد قایم کړی او سزا را کړی، پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم د هغی ولی راوغوښت، او هغه ته یې وویل : ته هغی سره ښه رویه کوه او چې کله د هغی اولاد پیدا شو نو ماته یې راوله له ولادت وروسته چې هغه میرمن راغله، نو هغه حکم وکړ چې جامی یې په بدن پوری وتړی چې د سنګسار پر وخت یې جامی ونه شلیږی

او بې پردې نه شي بیا یې د سنګسارولو حکم وکړ او هغه میرمن سنګسار کړای شوه، بیا یې نبي صلی الله علیه وسلم د جنازې لمونځ ادا کړ، حضرت عمر رضي الله تعالی عنه پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم ته ووېل، یا رسول الله! تاسې د دې د جنازې لمونځ ادا کوې، نو دې بد کاري کړې وه، پر دې خبره نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دې توبه وکړه او داسې توبه چې که د دې توبه د مدینې پر اویا کسانو وویشل شي، نو د ټولو د نجات لپاره کافي ده، تا له دې نه غوره څوک لیدلی چا چې خپل روح د الله جل جلاله حضور ته وړاندې کړې وي .

⇦ سید الاستغفار په اهتمام سره ووایاست، نبي صلی الله علیه وسلم حضرت شداد بن اوس رضي الله تعالی عنه ته ووېل چې سید الاستغفار یعنې تر ټولو غوره دعا دا ده: اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبِّیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ انت خَلَقْتَنِیْ وَاَنَا عَبْدُکَ وَاَنَا عَلٰی عَهْدِکَ وَوَعْدِکَ مَااسْتَطَعت اَعُوْذُبِکَ مِنْ شَرِّمَا صَنَعْتُ ، اَبُوْءُ لَکَ بِنِعْمَتِکَ عَلَیَّ وَاَبُوْءُ بِذَنْبِیْ فَاغْفِرلی فَاِنَّهٗ لَا یَغْفِرُ الـــذُّنُوْبَ اِلَّآ اَنْتَ [صحیح بخاري - جامع ترمذي]

(ای الله! ته زما پروردګار یې، له تا پرته هېڅوک معبود نشته، تا زه پیدا کړی یم او زه ستا بنده یم او ما چې له تاسره د بنده ګۍ او اطاعت کړمه وعده کړې ده، پر هغې به د خپلې وسې پورې ټینګ ولاړ یم، او کوم ګناهونه چې رانه شوي وي د هغو له بدو نتیجو نه ستا د پناه غوښتونکی یم، تا چې کوم نعمتونه را کړي دي، پر هغې قانع یم او زه دا منم چې زه ګنهګار یم، نو ای پروردګاره! زما ګناهونه معاف کړې، له تا پرته زما د ګناهونو بخښونکی څوک دي هیڅوک نشته) .

## د دعا آداب

⊙ دعا يوازې له الله جل جلاله نه غوارې له هغه پرته هيڅکله د اړتيا پوره کولو لپاره ونه بلې، دعا د عبادت مغز دې او عبادت يوازې د الله جل جلاله لپاره دې، قرآني لارښوونه ده:

لَهُ دَعْوَةُ الْحَقِّ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ لَا يَسْتَجِيبُونَ لَهُمْ بِشَيْءٍ إِلَّا كَبَاسِطِ كَفَّيْهِ إِلَى الْمَاءِ لِيَبْلُغَ فَاهُ وَمَا هُوَ بِبَالِغِهِ وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ[1] ( د هماغه رابلل په حقه دې او دا خلک چې هغه پرېږدې او نورې هستې رابلې هغوې د دوې د دعاګانو هيڅ ځواب نشي ورکولاې، د هغوې (غير الله) رابلل داسې دې، لکه چې يو سړې دواړه لاسونه د اوبو لورې ته وغزوې او غواړې چې اوبه (د لرې نه) د ده خولې ته راشي، حال دا دې چې اوبه ده ته هيڅکله نشي را رسيدلاې، بس همداسې د کافرانو دعاګانې بې ځايه دې ).

يعنې د اړتيا پوره کولو او چاره جوړولو ټول واکونه د الله جل جلاله په لاس کې دې - له هغه پرته د چا سره هيڅ واک نشته، ټول هماغه ته اړ دې، او له هغه جل جلاله پرته هيڅوک نشته چې د بنده ګانو زارې واورې، او د هغوې د دعاګانو ځواب ورکړې.

يَاأَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللَّهِ وَاللَّهُ هُوَ الْغَنِيُّ[2] ( اې انسانانو! تاسې ټول الله جل جلاله ته اړياست ، همدا الله جل جلاله دې چې غنې او بې نيازه او د ښو غوره صفاتو څښتن دې )

د نبې صلى الله عليه وسلم لارښوونه ده چې الله جل جلاله فرمايلې دې:• زما بنده ګانو! ما پر ځان ظلم حرام کړې دې، نو تاسې هم پر يو بل ظلم او زياتې حرام وګڼې، زما بنده ګانو! له تاسې هر يو بې لارې دې، پرته له هغوې چې زه ورته لارښوونه وکړم نو تاسې زما نه لارښوونه وغواړې، چې

---

[1] - د المطففين سورت ۱۴آيت

[2] - د الفاطر سورت ۱۵آيت

زه تاسې ته لارښوونه وکړم، زما بنده ګانو! ستاسې هر يو وږی دی، پرته له هغه چا چې زه يې پړی وخورم، نو تاسې زما څخه روزی وغواړی چې زه تاسې ته روزی درکړم، زما بنده ګانو! هر يو لوڅ لغړ دی، پرته له هغه چا چې زه يې ورته واغوندم، نو تاسې زما نه جامی وغواړی، زه يی تاسې ته اغوندم، زما بنده ګانو! تاسې د شپی هم ګناهونه کوی او د ورځی هم او زه ټول ګناهونه بخښم [صحيح مسلم]

او رسول اکرم صلی الله عليه وسلم دا هم لارښونه فرمايلی ده چې: سړی بايد خپلی ټولی اړتياوی له الله جل جلاله څخه وغواړی، ان تردی چې که د څپلی پونده يې وشليږی، نو له الله جل جلاله يې وغواړی، او که مالګی ته يې اړتيا وی نو هغه هم له الله جل جلاله نه وغواړی [جامع ترمذی]

لنډه دا چې انسان بايد د خپل ډېر کوچنی ضرورت لپاره هم الله ﷻ ته رجوع وکړی، له هغه پرته نه څوک د دعاګانو اوريدونکی شته، او نه څوک مرادونه پوره کوونکی.

⊙ له الله جل جلاله څخه هماغه څه وغواړی چې حلال او پاک وی، د ناروا اهدافو او د ګناه د چارو لپاره د الله جل جلاله په حضور کې لاسونه اوږدول بی اندازی بی ادبی، بی حيايی او ګستاخی ده، د حرامو او ناروا مرادوو د پوره کيدو لپاره الله جل جلاله ته دعاګانی کول او نذرونه منل له دين سره ډيری بدی ټوکی دی، همدا رنګه د هغو خبرو لپاره هم دعا مه کوی چې الله جل جلاله په ازلی توګه فيصله کړی دی او په کومو کې چې بدلون نشی کيدای، لکه کوم لنډی سړی چې د خپل قد د لوړيدو لپاره دعا وکړی او يا کوم بی اندازی لوړ سړی د خپل قد د راټيټيدو لپاره دعا وکړی، يا دعا وکړی چې زه تل ځوان اوسم او هيڅکله زوړ نه شم او داسې نور. قرانی لارښوونه ده: وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ [1] (او په هر عبادت کې خپل مخ سم د هماغه لوری ته کړی او هماغه را بلې او د هغه لپاره خپل طاعت خالص کړی).

---

[1] - د الاعراف سورت ۲۹آيت

د الله جل جلاله په حضور کې اړتیا لرونکی د نافرماني پر لار مه ځي او د خپلو ناروا مرادونو لپاره دعا مه غواړي، بلکې ښه عمل او سپیڅل ولولي الله جل جلاله ته وړاندې کړي او د خپلو نیکو مرادونو لپاره د الله جل جلاله حضور ته خپله غوښتنه وړاندې کړي .

⊙ دعا په ژور اخلاص او سپیڅلي نیت سره وغواړي، او په دې باور یې وغواړي چې له کوم الله جل جلاله یې چې تاسې غواړي، هغه ستاسې پر حالاتو په مکمله توګه په رښتیا سره خبر دی او پر تاسې بې اندازې مهربان هم دی او هماغه جل جلاله دی چې د خپلو بنده ګانو ناري اوري او د هغوی دعاګانې قبلوي، د ځان ښوودنې، ریا او شرک له هر شک نه خپلې دعا ګانې پاکې وساتي، قرآن فرمایي: فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ [1] ( خپل اطاعت الله جل جلاله ته خالص کړي او هماغه جل جلاله رابلې ) .

او په بقره سوره کې دي: وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ [2] ( او ای پیغمبره! چې کله له تانه زما بنده ګان زما په باب پوښتنه کوي نو هغوی ته ووایه چې زه هغوی ته نږدې یم، آواز کوونکی چې کله ماته آواز کوي، نو زه د هغه دعا قبلوم، نو دوی باید زما بلنه ومني او پر ما باید ایمان راوړي، چې پر نیغه لار روان شي [ البقره: ۸۶ ]

⊙ دعا په پوره توجه، مکمل اخلاص او د زړه په حضور سره وغواړي، او له الله جل جلاله ښې هیلې ولري، د خپلو ګناهونو د امبار په نظر کې نیولو پر ځای د الله جل جلاله بې اندازې عفوه او بښنه او بې حسابه بې کتابه سخاوت په نظر کې ولري، د داسې سړي دعا په حقیقت کې ګرد سره دعا نه ده، چې غافل او بې پروا وي او په احتیاطي سره د ژبې پر څوکه سر سري یو څو کلمې تکرار وي او پر الله جل جلاله یې ښه باور نه وي، په حدیث کې دي: د خپلو ګناهونو د قبلیدو په باب یقین ولري د زړه په حضور سره دعا

---

[1] - د المومن سورت ۱۴آیت
[2] - د البقره سورت ۱۸۶آیت

وکړي، الله جل جلاله هغه دعا نه قبلوي، چې د غافل او بې پروا زړه نه وتې وي [جامع ترمذی]

⊙ دعا په ډېر عاجزي او عذر زاري سره وغواړي، له عذر او زاري نه مراد چې ستاسې زړه د الله جل جلاله د هیبت او جلال نه په لړزان وي او د بدن پر ظاهري حالت مو هم د الله جل جلاله ویره ښکاري، سترگې ټیټې شوي وي آواز ناست وي، غړي سست شوي وي، سترگې له اوښکو ډکې وي او له گردو حالاتو مسکیني او بې کسي ښکاره کیږي، نبي صلی الله علیه وسلم یو سړی ولید چې هغه د لمانځه په دوران کې د ږیرې د ویښتانو سره لوبې کوي، نو هغه وفرمایل: که د ده په زړه کې تواضع وای نو په بدن به یې ښکاره کیدای.

په اصل کې د دعا غوښتلو پر وخت سړی باید په داسې حالت کې ولړزیږي چې زه یو بې وسې فقیر او ناتوانه مسکین یم، الله جل جلاله مکړه که زه له دې درگاه نه وشړل شوم، نو بیا زما لپاره هیچیري تم ځای نشته، زما سره خپل هیڅ نشته، څه چې را سره دي الله جل جلاله را کړي دي.

او که الله جل جلاله یې رانکړي نو بل څوک نشته چې ماته څه راکړای شي، الله جل جلاله د هر څیز وارث دی، د هغه سره د هر څیز خزانه ده، بنده خو عاجز او فقیر دی قرآن فرمایي: ادعوا ربکم تضرعاً (خپل رب ته په عاجزي او زاري سره آواز وکړي).

د عبدیت او بنده گۍ شان همدا دی چې بنده خپل پروردگار ته په ډېره عاجزي او تواضع سره آواز وکړي او د هغه زړه او دماغ، احساسات او جذبات او ټول غړي یې د الله جل جلاله په حضور کې سر ځوړي ولاړ وي او له پټ او ښکاره دواړو حالاتو یې احتیاج او عاجزي ښکاره کیږي.

⊙ دعا غلی غلی په ټیټ اواز سره غواړي، د الله جل جلاله په حضور کې خامخا ولړزیږي خو د ژړا او زاري ښکارونه یې هیڅکله ونکړي، د بنده عاجزي، تواضع او انکسار باید یوازې د الله جل جلاله په حضور کې وي، بیشکه ځنې وختونه دعا په زوره زوره هم کولای شي، خو په یوازې والي کې او یا چې کله اجتماعي دعا کوي، نو هغه وخت په لوړ آواز سره دعا

وکړی چې نور خلک پری امین ووایی، په عامو حالاتو کې په ټیټ آواز سره غلی غلی دعا وکړی او د دی خبری پوره پوره خیال ساتی، چې ستاسې ژړا او زاری او فریاد بنده ګانو ته د ښودانی لپاره نه دی

وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً وَدُونَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ وَلَا تَكُنْ مِنَ الْغَافِلِينَ [1] ( او خپل پروردګار دننه په زړه کې له ویری او زاری سره یاد کړی او په ژبه یې هم په سپک شان اواز سره سهار ماښام یاد کړی او د هغو خلکو نه مه کیږی چې په غفلت کې پراته دی )

د حضرت زکریا علیه السلام د بنده ګی د شان په ستاینه کې قران عظیم الشان وایی: إِذْ نَادَىٰ رَبَّهُ نِدَاءً خَفِيًّا [2] ( چې کله هغه خپل رب ته غلی غلی آواز کړ ) .

⊙ له دعا کولو د مخه کوم نیک عمل خامخا وکړی، د مثال په توګه یو څه صدقه او خیرات وکړی پر وږی خواړه وخوروی، یا نفل لمونځ او روژی ونیسی، او که الله جل جلاله مه کړه په کوم مصیبت اخته شوی نو خپل هغه اعمال واسطه کړی او دعا وکړی، چې تاسې په اخلاص سره د الله جل جلاله د رضا لپاره کړی وی .

په قرآن عظیم کې دی : إِلَيْهِ يَصْعَدُ الْكَلِمُ الطَّيِّبُ وَالْعَمَلُ الصَّالِحُ يَرْفَعُهُ ( د الله جل جلاله لوری ته سپیڅلی کلمی ورپورته کیږی او نیک عمل همدغه لوړی مرتبی وهلای شی ) .

نبی صلی الله علیه وسلم یو ځلی د دری داسې صاحبانو واقعه واوروله چې په یوه تیاره شپه کې په یوه سمڅ کې بنده شوی وو، هغو خلکو خپل مخلصانه اعمال واسطه کړل، الله جل جلاله ته یې دعا وکړه او الله ﷻ د هغوی مصیبت لری کړ.

---

[1] - د الاعراف سورت ۲۰۵آیت

[2] - د مریم سورت ۳ آیت

پیښنه داسې وه چې دریو ملګرو یوه شپه په یو غار کې پناه اخیستی وه، الله جل جلاله کول چې د غره له سر نه یو ګت راورغړید او د غار سمڅ په خوله کې پریووت او غار بنده شو، ډېر غټ ګت و، د هغوی په وس کې دا چیرته وه چې ګټ لرې کړي او د سمڅې خوله خلاصه کړي ، مشوره یې پردې شوه چې خپل خپل مخلصانه عمل واسطه کړي او له الله جل جلاله ته وغواړي هیله ده چې الله ﷻ د دې مصیبت نه نجات داکړي .

یوه وویل: ما په ځنګل کې میږې او وزې څرولې او همدا زما ګذاره وه، چې کله به زه له ځنګله نه بیرته راغلم، نو تر ټولو لومړې به مې پر خپل مور او پلار شیدې څښلې او بیا به مې خپلو بچو ته شیدې ورکولې، یوه ورځ زه ناوخته راغلم، زما زړه مور او پلار ویده شوي وو، بچې مې ویښ وو او وږي وو، خو ماته دا ښه ښکاره نه شوه، چې د مور او پلار نه مخکې خپل بچو ته شیدې ورکړم او دا مې هم ښه ونه ګڼله چې هغوی راویښ او په تکلیف کړم دغه رنګې زه ټوله شپه د شیدو پیاله په لاس د هغو سرته ولاړ وم بچې مې په پښو پورې نښتې وو او ژړل یې خو زه تر سهاره پورې همداسې ولاړ وم .

ال له! ما دا کار سوچه ستا د رضا په خاطر کړی، ته د دې په برکت د غار د خولې نه دا ګټ لرې کړې، او ګټ دومره لرې شو چې آسمان ترې ښکاره شو.

دویم سړي وویل: ما په څو تنه مزدورانو کار وکړ او ټولو ته مې مزدوري ورکړه خو یوه سړي مزدوري پریښوده ولاړ، یو څه موده وروسته چې هغه د مزدورۍ اخیستو لپاره راغی، نو ما هغه ته وویل، چې: دا غوایان، وزې او دا نوکران ټول ستا دي، له ځانه سره یې بوزه، هغه وویل: د الله جل جلاله لپاره ټوکې مه کوه، ما ورته وویل، ټوکې نه دي، واقعي خبره ده چې دا هر څه ستا دي، تا چې کومې پیسې پریښې وې او تللې وې، ما هغه پر کارو بار ولګولې الله جل جلاله پکې برکت زیات کړ، او دا چې ته څه ګورې ، ټول د هماغو پیسو حاصلات دي، دا په ډاډه زړه یوسه، دا هر څه ستا دي، او هغه سړي هر څه یووړل او ولاړ، الله! ما دا هر څه ستا د رضا لپاره کړي

دی، الله! ته د دی نیک کار په برکت د غار له خولی نه دا گټ لری کړی، د الله جل جلاله په فضل او کرم سره گټ یو څه نور هم لری شو.

دریم سړی وویل، زما یوه د تره لور وه چې زما ورسره ډېره مینه وه، هغې زما نه یو څه پیسی وغوښتی، ما ورته پیسی ورکړی، خو چې کله زه د خپلی اړتیا د پوره کولو لپاره د هغې سره کیناستم، نو هغې وویل، له الله جل جلاله وویریږه او د دی کار نه منع شه، زه ژر را پورته شوم او هغه پیسی می هم هغی ته وبخښلی.

ای الله! ته ښه پوهیږی چې ما دا هر څه ستا د خوشحالی لپاره کړی دی، ای الله! ته د دی په برکت د غار خوله خلاصه کړی، الله جل جلاله گټ د غار له خولی لری کړ او دریواړو ته الله جل جلاله له دغه مصیبت نه نجات ورکړ.

⊙ د نیکو مقصدونو لپاره د دعا کولو سره سره خپل ژوندون د الهی هدایاتو سره د برابرولو او جوړولو کوښښ هم وکړی، له گناه او حرامو په مکمله توگه ځانونه وساتی، په هر کار کې د الهی لارښوونو خیال ساتی او د تقوی ژوندون تیر کړی، له حرام خوراک، حرام څښاک حرام اغوستن او په بی باکی سره پر حرامو خپل بدن پالونکی دعا کوونکی چې دا هیله ولری چې زما دعا دی قبوله شی، نو دا بی حده ناپوهی او ضدیتوب دی، د دعا قبلیدو لپاره ضروری ده چې د انسان وینا او عمل د دین له لارښوونو سره سم وی.

پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایی: الله جل جلاله پاکیزه دی او هغه یوازی پاکیزه مال قبلوی او الله جل جلالهٔ مؤمنانو ته د همدی خبری حکم کړی دی، د څه یې چې خپلو پیغمبرانو ته حکم کړی دی، لکه چې هغه جل جلاله فرمایلی دی: يَاأَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنْ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ[1] (ای پیغمبرانو !پاک شیان وخورئ اونیک عمل وکړئ، تاسې چې هر څه کوئ زه ورباندی ښه پوهیږم).

---

[1] - د المومنون سورت ۵۱ آیت

او مؤمنانو ته په خطاب کې الله جل جلاله ويلي دي: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ [1] ( ای د ايمان څښتننانو! کوم پاک او حلال شيان چې مونږ تاسې ته ښښلي دي هغه خوری ) .

بيا محمد صلی الله عليه وسلم د يوه داسې سړی يادونه وکړه چې د اوږدي فاصلی له وهلو وروسته په مقدسه مقاماتو کې حاضری ورکوی، په دواړو ککړ وی، ګردونو وهلی وی او خپل دواړه لاسونه د اسمان په لور نيسی وايي ای زما پروردګاره! ای زما ربه! حال دا دی چې د هغه خواړه حرام دي، د هغه څښاک حرام دی، د هغه جامی حرامی دی او په حرامو يې بدن رالوی شوی دی، نو د داسې باغی او ( نامنونکی ) سړی دعا څنګه قبليدای شی [صحيح مسلم]

⊙ پرله پسی دعا کوی ، د الله جل جلاله په حضور کې عاجزی ، احتياج او د بنده ګی اظهار پخپله يو عادت دی ، الله جل جلاله پخپله د دعا کولو حکم کړی دی او فرمايلی يې دي: چې بنده چې کله دعا کوی ، نو زه د هغه اورم، له دعا کولو هيڅکله مه ستړی کيږی او په دی پسی مه اوسی چې په دعا سره تقدير بدليږی او که نه، تقدير بدليدل يا نه بدليدل ، دعا قبليدل يا نه قبليدل د الله جل جلاله کار دی، چې عليم او حکيم دی، د بنده کار په هر حال کې دا دی چې هغه د يوه فقير او محتاج په څير له هغه نه پرله پسی دعا وغواړی او يوه ګړی هم خپل ځان بی احتياجه ونه ګنی، نبی صلی الله عليه وسلم فرمايلی دي: تر ټولو زيات عاجز هغه دی چې په دعا کولو کې عاجز وی [طبرانی]

او نبی ﷺ دا هم فرمايلی دی چې د الله جل جلاله په حضور کې له دعا نه زيات د عزت او درناوی والا څيز بل يو هم نشته [جامع ترمذی]

د مؤمن شان همدا دی چې هغه به په تکليف او راحت، غم او درد او په تنګسيا او خوښی په هر حال کې الله ﷻ ته آواز کوی، د هغه په حضور کې به خپلی اړتياوی وړاندی کوی او پرله پسی له هغه نه خير غواړی .

---

[1] - د البقره سورت ۱۷۲آيت

د پیغمبر اکرم ﷺ لارښوونه ده : کوم سړی چې له الله ﷻ دعا نه غواړي الله جل جلاله هغه ته په قهر کیږي [جامع ترمذی]

⊙ د دعا د قبلیدو په لړ کې پر الله جل جلاله باور ولري او که د دعا د قبلیدو اغیز ژر نه ښکاره کیږي، نو د نا امیدی په حالت کې د دعا نه کولو غلطي هیڅکله ونکړي د دعا د قبلیدو په فکر کې د پریشانی په ځای یوازي د دعا کولو فکر وکړي، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه فرمایي: ما سره د دعا قبلیدو فکر نشته، یوازې د دعا کولو فکر را سره دی، چې کله ما ته د دعا کولو توفیق را کړای شي، نو قبلیدل به یې هم ورسره را په برخه شي.

د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: کله چې کوم مسلمان له الله جل جلاله د څه غوښتلو لپاره د الله جل جلاله په لوری مخ کوی ، نو الله جل جلاله د هغه سوال خامخا پوره کوی او یا یې مراد پوره کیږي، یا الله جل جلاله د هغه غوښتل شوی څیز په اخرت کې د هغه لپاره جمع کوی، د قیامت په ورځ به الله جل جلاله یو مؤمن بنده خپل حضور ته وغواړي، او هغه به خپلې مخې ته ودروی او تری پوښتنه به وکړي، ای زما بنده، ما تاته د دعا کولو حکم کړی و او دا وعده می کړی وه چې زه ستا دعا قبلوم، نو ایا تا دعا غوښتی وه؟ هغه به وایې، الله! غوښتی می وه، بیا الله جل جلاله فرمایي تا چې زما نه هره دعا غوښتی وه ما قبلوه کړی وه، ایا تا په فلانی ورځ دا دعا نه وه کړی چې زه ستا هغه رنج او غم لری کړم چې ته پری اخته وی او ما تاته له هغه غم او تکلیف نه نجات در کړی، بنده به وایی، الهی! بیخی رښتیا ده. بیا به الله جل جلاله فرمایي، هغه دعا خو ما قبوله کړه و په دنیا کې مې ستا هیله تر سره کړی وه او په پلانی ورځ بیا تا په بل غم کې د ککړیدو له امله دعا وکړه! له دی درد او غمه خلاصون راکړه خو تا له هغی درد او غمه خلاصی ونه موند. او پرله پسی پری مبتلای وی، هغه به وایی بی شکه الهی! نو الله جل جلاله به وفرمایي، ما د هغه دعا په بدل کې په جنت کې ډول ډول نعمتونه ستا لپاره جمع کړی دی او همدا رنګه به د نورو اړتیاو په باب تری پوښتنه کیږي او همدا به ورته فرمایل

کیږي، بیا نبی صلی الله علیه وسلم فرمایل: د موئمن بنده به یوه دعا هم داسې نه وی، د څه په باب چې الله جل جلاله دا بیان ونه فرمایی چې ما په دنیا کې قبوله کړه او ستا لپاره می په اخرت کې ذخیره وساتله. هغه وخت به موئمن بنده فکر کوی کاشکی چې زما یوه دعا هم په دنیا کې قبوله شوی نه وای، نو ځکه باید بنده په هر حال کې دعا وغواړی [ حاکم ] .

⊙ د دعا غوښتلو پر وخت د ظاهری آدابو، پاکوالی او سپیڅلتیا هم پوره خیال ساتی او زړه هم د ناپاکو ولولو او بدو خیالاتو او بیهوده عقاید وپاک ساتی، په قرآن عظیم کې دی: إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ ( بیشکه الله جل جلاله ته محبوب هغه بنده ګان دی چې ډېری زیاتی توبی باسی او هغه بنده ګان دی چې زیات پاک او صاف اوسیږی ) .

او په مدثر سوره کې دی: وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ()وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ( او د خپل رب کبریایی بیان کړی او خپل نفس پاک ساتی ) .

⊙ د نورو لپاره هم دعا وکړی، خو تل د خپل ځان څخه شروع کوی، لومړی یې د ځان لپاره غواړی بیا یې د نورو لپاره غواړی، په قران عظیم کې د حضرت ابراهیم او حضرت نوح علیه السلام له دوه دعا ګانو همدا درس زده کیږی .

رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ()رَبَّنَا اغْفِرْلِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ [1] ( ای زما ربه! ما لمونځ کوونکی وګرځوی او زما له اولاد نه هم داسې خلک راپورته کړی چې دا کار وکړی ) پروردګاره! زما دعا قبوله کړه، پروردګاره، ماته ښښنه وکړی او زما مور او پلار او ټول مسلمانان په هغه ورځ وبښی چې کله حساب کتاب قایمیږی ) .

رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِي مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَات رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِي مُؤْمِنًا وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ [2] ( زما ربه! ماته ښښنه وکړه

---

[1] - د ابراهم سورت ۴۱ آیت
[2] - د نوح سورت ۲۸آیت

او زما مور او پلار ته ښښنه وکړې او هغو خلکو ته ښښنه وکړې چې ایمان یې راوړی او زما کورته راغلی او ټولو مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو ته ښښنه وکړې ).

حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه فرمایی نبی صلی الله علیه وسلم به چې کوم سړی یاداوه نو د هغه لپاره به یې دعا کوله او دعا به یې د خپل ځان نه شروع کوله [جامع ترمذی]

⊙ که تاسې امامت کوی نو تل جامع دعاګانی کوی او جامع کلمات استعمالوی.

په قران عظیم الشان کې چې کومې دعاګانی نقل کړای شوی دی، په هغو کې په عمومی ډول د جمعی صیغی استعمال شوی دی، امام په اصل کې د ټولو مقتدیانو نماینده وی، چې کله هغه په جمع سره دعا کوی، مقتدیانو ته پکار دی چې پرې امین ووایی.

⊙ په دعا کې له تنګ نظری او خپلچاری نه ځانونه وژغوری ، او د الله تعالی د عام رحمت د خاص کولو په غلطی سره فیض او برکت د ځان لپاره د خالص کولو دعا ونه کړی.

حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه فرمایی چې نبوی جومات ته یو بانډچی سړی راغلی لمونځ یې اداء کړ، بیا یې دعا وکړه او وی ویل : ای الله پر ما او پر محمد صلی الله علیه وسلم رحم وفرمایه، او زمونږ سره پر بل چا رحم ونه کړې، نو نبی صلی الله علیه وسلم وفرمایل : لقد تحجرت واسعا (تا د الله جل جلاله پراخ رحمت تنګ کړ ) [ بخاری ]

⊙ په دعا کې له قافیه بندی نه هم ځانونه وژغوری، او په ساده ډول په زاری سره دعا وکړی، په وزن او خوږه آواز له دعا کولو ډډه وکړی، هو! که له تکلف پرته مو کله له خولې نه موزون الفاظ راوزی او یا قافیه رعایت شی نو بده نه ده.

له نبی اکرم صلی الله علیه وسلم نه هم ځینی داسې دعاګانی رانقل شوی دی چې له جوړښت پرته پکې د قافیی او وزن خیال ساتل شوی دی، لکه د هغه صلی الله علیه وسلم یوه ډېره جامع دعا د حضرت زید بن ارقم نه روایت شوی ده: اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِکَ مِنْ قَلْبٍ لَّایَخْشَعُ وَنَفْسٍ لَّاتَشْبَعُ وَعِلْمٍ لَا

يَنفَعُ وَدَعْوَةٍ لَايُسْتَجَابُ لَهَا [اي ا الله ! زه تاته پناه دروړم، له هغه زړه نه چې خشوع پکې نه وي، له هغه نفس نه چې صبر پکې نه وي، له هغه علم نه چې گټه رسوونکی نه وي او له هغې دعا نه چې قبوله نه وي ].

⊙ د الله جل جلاله په دربار کې د خپلې اړتيا او احتياج وړاندې کولو د مخه، د هغه جل جلاله حمد او ثنا ووايی، بيا دوه رکعته لمونځ هم ادا کړی او د دعا په پيل او پای کې پر نبی صلی الله عليه وسلم درود ووايا‌ست.

د پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم لارښوونه ده: چې کله د کوم سړی له الله جل جلاله او يا انسان نه د کومې اړتيا پوره کيدو چاره په مخکې وي نو هغه ته پکار دی چې لومړی دوه رکعته لمونځ وکړی، بيا د الله جل جلاله حمد او ثنا ووايی، او پر نبی عليه السلام درود ووايی، له دې وروسته بيا د الله جل جلاله په دربار کې د خپلې اړتيا دعا وغواړی [جامع ترمذی ]

د پيغمبر اکرم ﷺ گواهی ده چې د بنده کومه دعا د الله جل جلاله د حمد او ثنا او د رسول الله ﷺ له درود سره کيږی، هغه قبليږی، حضرت فضاله رضی الله عنه فرمايی چې نبی صلی الله عليه وسلم په جومات کې تشريف لاره چې يو سړی راغی، لمونځ يې ادا کړ او له لمانځه وروسته يې ويل اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ ( يا الله ! ماته بخښنه وکړی ) د دې خبرې په اوريدو هغه ورته وويل: تا په دعا غوښتلو کې چټکتيا وکړه چې کله لمونځ ادا کړی، کينه، لومړی د الله جل جلاله حمد او ثنا ووايه، بيا درود شريف ولوله، بيا دعا وکړه، هغه دا خبره کوله چې بل سړی راغی، هغه لمونځ ادا کړ د الله جل جلاله حمد يې بيان کړ، درود شريف يې ولوست، نبی ﷺ ورته وفرمايل اوس دعا وغواړه، دعا به دې قبوله شی [جامع ترمذی ]

⊙ له الله جل جلاله نه هر وخت او په هر ساعت کې دعا وغواړی، ځکه چې هغه د خپلو بنده گانو د فرياد په اوريدو هيڅکله نه خفه کيږی، البته د احاديثو نه معلوميږی، چې يو څه ځانگړی وختونه او حالات داسې دی چې په خصوصی توگه پکې دعا گانی ژر قبليږی، نو په دغو خاصو وختونو او حالاتو کې په خصوصی ډول دعاگانی وکړی.

ا } د شپې په لومړۍ برخه کې چې خاموشي خپره شی او خلک په خواږه خوب ویده شی، کوم بنده چې پاڅی او د خپل رب سره د راز او نیاز خبری کوی او د مسکین په حیث خپلی اړتیاوی د الله جل جلاله حضور ته وړاندی کوی، نو هغه پری خصوصی مهربانی کوی د پیغمبر اکرم ﷺ لاربنوونه ده:
الله جل جلاله هره شپه د ځمکی پر آسمان خپل جلال نازلوی، ان تر دی چې د شپې لومړی برخه یو څه پاتی وی، نو فرمایی څوک ماته اواز کوی چې زه د هغه دعا قبوله کړم؟ څوک یې زمانه غواړی چې زه یی ورکړم؟ څوک زمانه بخښنه غواړی چې زه ورته بښنه وکړم؟ [جامع ترمذی]
ب } د قدر په شپه له زیاتو نه زیاتی دعاګانی وکړی چې دا شپه د الله جل جلاله په نزد له زرو میاشتو ډېره غوره ده او دا دعا په خاصه توګه ولولی: اَللّٰهُمَّ اِنَّکَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّیْ [جامع ترمذی]
( الهی ! ته ډېر زیات بخښونکی یې، معافی کول دی خوښ دی نو ته ماته معافی وکړی ) .
ت } د عرفات په میدان کې چې کله په نهم ذالحجه د الله جل جلاله میلمانه جمع کیږی [جامع ترمذی]
ث } د جمعی د ورځی خاص وخت چې د جمعی له خطبی نه شروع کیږی د لمانځه د پای ته رسیدو پری یا د مازدیګر له لمانځه وروسته د ماښام لمانځه تر وخته پوری دی .
ج } د اذان پر وخت او د جهاد په ډګر کې چې کله د مجاهدینو صفونه جوړیږی، د نبی اکرم ﷺ لاربنوونه ده: دوه شیان د الله جل جلاله له درباره نه رد کیږی یو د آذان په وخت کې دعا دویم په جهاد کې د صفونو جوړیدو پر وخت دعا [سنن ابو داود ]
ح } د نبی صلی الله علیه وسلم لاربنوونه ده: د اذان او اقامت تر منځ وقفه کې دعا نه رد کیږی، صحابه کرامو پوښتنه وکړه، یا رسول الله په دی وقفه کې کومه دعا وغواړو؟ ورته وی فرمایل دا دعا وغواړی : اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُکَ الْعَفْوَ وَالْعَافِیَةَ فِی الدُّنْیَا وَالْاٰخِرَةِ ( الهی! زه له تانه عفو او کرم او عافیت او سلامتی غواړم، په دنیا کې هم او په اخرت کې هم) .

خ } د مبارکی روژی په شپو ورځو کې په ځانګړی توګه د روژه ماتی پر وخت [بـزاز ]

د } له فرض لمانځه نه وروسته که خوښه مو وی یوازی دعا کوی او که له امام سره [جامع ترمذی ]

ذ } د سجدی په حالت کې د نبی صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده د سجدی په حالت کې بنده الله جل جلاله ته ډیر نږدی کیږی، نو تاسې په دغه حالت کې ښی ښی دعاګانی وغواړی .

ر } چې کله تاسې په کوم سخت مصیبت او یا په بی اندازی رنج او غم مبتلا یاست [ حاکم ]

ز } چې کله د ذکـر او فکر کومه دینی غونډه وی [ بخاری ، مسلم ]

س } چې کله د قرآن عظیم ختم وی [ طبرانی ]

⊙ په دغو ځایونو( مقاماتو ) کې هم د دعا کولو ځانګړی خیال وساتې، حضرت حسن بصری رحمه الله علیه چې نه مکې نه بصری ته روان شو، نو هغه مکه والو ته په یوه لیک کې ولیکل، چې په مکه کې د قیام فضیلتونه پکی بیان شوی وو او دا ‌ بی هم ورته واضحه کړه چې په ځمکه کې په دی پنځلسو ځایونو کې په ځانګړی توکه دعا ګانی قبلیږي .

- ملتزم سره ( [1] )
- کعبه الله کې دننه .
- پر صفا مروه
- د مقام ابراهیم نه وروسته .
- په مزدلفه کي.
- د محراب نه لاندی .
- د زمزم له کوهی سره.
- له صفا مروه سره چیری چې منډی رامنډی وهل کیږی.
- په عرفات کي.

[1] - په بیت الله کې رکن یمانی ته مخامخ یو ځای دی.

- ❖ په منی کې.
- ❖ له دری وارو جمرو سره.

⊙ پرله پسې کوښښ وکړی چې تاسې ته له الله ﷻ د دعا غوښتنې هغه الفاظ یاد شی چې په قران کریم او احادیثو کې راغلی دی ، الله ﷻ چې خپلو پیغمبرانو او نیکو بنده ګانو ته د دعا غوښتلو کوم انداز او الفاظ ښودلی دی، ښکاره ده چې له هغو نه غوره انداز او الفاظ به څوک له کومه راوړی ، بیا د الله ﷻ په ښوول شویو او د رسولانو علیهم السلام په منل شویو الفاظو کې چې خوږلنی، هر اړخیز والی، برکت او قبلیدو کوم شان کیدای شی هغه په کوم بل کلام کې څنګه امکان لری. دغه ډول چې نبی صلی الله علیه وسلم کومې دعا ګانی شپه او ورځ غوښتی دی، په هغو کې هم د سوز خوږوالی، جامعیت او عبودیت داسې مکمل شان میندل کیږی، چې له هغو نه د غوره دعا ګانو، زاریوو او هیلو تصور هم نشی کیدای.

په قران او حدیث کې د ښوول شویو دعاګانو ورد ( تکرار ) کول او د هغو په الفاظو او معنی د غور کولو سره دا فکر روزنه هم کیږی چې د مؤمن هیلی او ارزوګانی باید څه وی، په کومو کومو کارونو کې باید څواکونه او کوم شیان یی باید اصلی هدف وی.

بیشکه د دعا لپاره د کومې ژبی یا انداز او یا د کلماتو کوم قید نشته بنده چې د خپل الله جل جلاله څخه په کومه کومه ژبه څه غواړی ودی غواړی، خو دا د الله جل جلاله زیاتی فضل او کرم دی، چې هغه دا هم وویل چې زما نه وغواړه او دغسې وغواړه، او د دعاګانو د زړه کولو تر څنګ یې دا هم ورته وویل چې د مؤمن د دنیا او دین د بریالیتوب لپاره باید هغه څه ډول نظر ولری، او په کومو هیلو او ارزوګانو باید د زړه دنیاګی اباده کړی او بیا خو د دین او دنیا کومه اړتیا او خیر کوم اړخ هم داسې نه دی چې د هغې لپاره دعا ښودلی شوی نه وی، نو له دی امله غوره دا ده چې تاسې له الله جل جلاله د قران او سنت په ښودل شویو الفاظو دعا وغواړی د هغو دعاګانی تکرار کوی چې په قرانکریم کې نقل کړای شوی دی او یا په بیلا بیلا وختونو په خپله پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم کړی دی .

البته تر هغه وخته چې تاسې ته د قرآن او سنت دا دعاګانې يادې نه وي تر هغې وخته تاسې لږ تر لږه د دې خيال وساتئ چې په خپلو دعا ګانو کې د قرآني او نبوي دعاګانې مفهوم په نظر کې ولرئ .

په راتلونکي فصل کې د قرانکريم او نبي صلى الله عليه وسلم څو جامع دعاګانې نقل کيږي دغه دعاګانې ورو ورو يادې کړئ او بيا د همدغو دعاګانو ورد کوئ .

# د قران کریم جامع دعاګانې

## د رحمت او بخښنې دعا

رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنْ الْخَاسِرِينَ [۱] ( ای الهی ! مونږ په خپلو ځانونو د‌ېر ظلم وکړ، که ته مونږ ته ببښنه ونکړی او پر مونږ دی رحم رانشی، نو مونږ به په رښتیا تباه شو ) .

بیشکه که الله جل جلاله د انسان ګناهونه ونه ببښی او پر خپل بی اندازی رحمت یې ونه نازوی نو هغه به تباه شي .

## د صبر او استقامت دعا

رَبَّـــنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ [۲] ( پروردګاره! پر مونږ صبر راوه اوروه او زمونږ قدمونـه ټـنيګ کړه او پر کافرانو زمونږ د بریالیتوب لپاره را سره مرسته وکړه ) .

## د دواړو جهانو د بریالیتوب جامع دعا

رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ [۳] (ای زمونږ ربه! مونږ ته په ( دی ) دنیا کې هم ښیګړه را په برخه کړی او په اخرت کې هم نیکی را کړی او د اور له عذابه مو وساتی )

## د شیطان له شر نه د بچ کیدو دعـا

وَقُلْ رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ ۝ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَنْ يَحْضُرُونِي [۴]

( پروردګاره! زه د شیطان له لمسونو نه په تاسره پناه غواړم، بلکې ای زما ربه! زه له دی نه هم پناه غواړم چې هغه ماته رانږدی شی ) .

---

[۱] - د الاعراف سورت ۲۳ آیت

[۲] - د البقره سورت ۲۵۰ آیت

[۳] - د البقره سورت ۲۰۱ آیت

[۴] - د المومنون سورت ۹۷ آیت

## د دوزخ عذاب نه د خلاصی دعا

رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا()إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا [۱]

( ای زمونږه ربه! د جهنم اور زمونږ نه لری کړی، بیشکه د ( جهنم ) عذاب خو د ځان دښمن دی، هغه خو د اوسیدو ډېر بد ځای دی او ډېر بد مقام ) .

## د زړه د اصلاح دعا

رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَهَبْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ [۲]

( پروردګاره! کله چې تا مونږ په سمه لاره روان کړی يو، نو بيا هيڅکله زمونږ زړونه په کوږوالی اخته نکړی، مونږ ته د خپلو برکتونوله خزانی نه رحمت راوبښی ځکه چې ته ربښتونی فياض [ستر سخی ] يې )

## د زړه د پاکوالی دعا

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ [۳] ( زمونږ ربه ! زمونږ ګناهونه معاف کړی او زمونږ د هغوی ورونړو چې زمونږ نه يې د مخه ايمان راوړی دی او زمونږ په زړونو کې د مؤمنانو پر خلاف کرکه پيدا مه کړی، بيشکه ته ډېر رحم کوونکی مهربان دی ) .

## د حالاتو د سمون دعا

رَبَّنَا آتِنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا [۴] ( پروردګاره! پر مونږ له خپله لوری رحمت نازل کړی او زمونږ په چارو کې ( د سمون حالات ) پيدا کړی ) .

[۱] - د الفرقان سورت ۶۵ آيت

[۲] - د ال عمران سورت ۸ آيت

[۳] - د الحشر سورت ۱۰ آيت

[۴] - د الكهف سورت ۱۰ آيت

## استغفار

رَبَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنْتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ [۱] ( پروردګاره! مونږ ایمان راوړو، نو ته مونږ ته ببښنه وکړې، پر مونږ رحم وکړې، ته د ټولو نه ستر رحم کوونکی یې ) .

## د اولاد او کورنی له لور د اطمینان دعا

رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا [۲] (پروردګاره! مونږ ته د خپلو میرمنو له لوری زمونږ د اولاد له لوری د سترګو یخوالی راپه برخه کړې او مونږ د پرهیزګارانو لپاره مثال وګرځوی )
یعنی مونږ ته داسې نیک او پاک ژوندون راکړې چې پرهیزګاران خلک مونږ د ځان لپاره مثال وګڼی .

## د مور او پلار له پاره دعا

رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ [۳] ( پروردګاره! زما او زما د مور او پلار او ټولو مؤمنانو په هغه ورځ ببښنه وکړې، په کومه ورځ چې حساب قایمیږی ) .

## د ازمیښت د خلاصون دعا

رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ [۴] ( پروردګاره! په سهوه او خطا چې زمونږ نه کومه ګناه وشی پر هغې مو مه نیسی، څښتنه! پر مونږ هغه څه مه باروی چې زمونږ نه د مخه خلکو باندې بار کړای شوی وو، الهی! د کوم بار د

---

[۱] - د المومنون سورت ۱۱۰ آیت
[۲] - د الفرقان سورت ۷۴ آیت
[۳] - د ابراهیم سورت ۴۱ آیت
[۴] - د البقره سورت ۲۸۶ آیت

پورته کولو توان چې په مونږ کې نشته، هغه پر مونږ مه ږدی، زمونږ سره نرمي وکړی، مونږ ته ببښنه وکړی، پر مونږ رحم وکړی، ته زمونږه مولا یې، د کافرانو په مقابله کې زمونږ سره مرسته وکړی ) .

## له کافرانو د خلاصون دعا

عَلَى اللَّهِ تَوَكَّلْنَا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ()وَنَجِّنَا بِرَحْمَتِكَ مِنَ الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ[1] ( مونږ پر خپل الله جل جلاله توکل وکړ، پروردګاره! مونږ د ظالمانو لپاره فتنه مه ګرځوی او پخپل رحمت سره مونږ ته له کافرانو نجات راکړی ) .

## په خیر سره د خاتمی دعا

فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَنْتَ وَلِيِّ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ[2] ( ای د آسمانونو او ځمکی پیدا کوونکیه! هم ته زما ولی او کار ساز یې، په دنیا او اخرت کې زما پای په اسلام کړی او په اخرت کې مې په خپلو صالحو بنده ګانو کې شامل کړی ) .

رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِي لِلْإِيمَانِ أَنْ آمِنُوا بِرَبِّكُمْ فَآمَنَّا رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ()رَبَّنَا وَآتِنَا مَا وَعَدْتَنَا عَلَى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ[3] ( پروردګاره! مونږ د یوه آواز کوونکی واوریدل چې د ایمان په لوری یې بلنه ورکوله او ویل یې خپل رب ومنی، مونږ د هغه بلنه ومنله، نو ای مالکه! چې کومه کوتاهی زمونږ نه شوی ده، له هغی راته تیر شه او کومی بدی چې په مونږ کې دی هغه رانه لری کړی، او زمونږ پای له نیکانو سره کړی پروردګاره! د خپلو پیغمبرانو په وسیله چې تا کومی وعدی کړی دی، هغه زمونږ په باب پوره کړی، او د

---

[1] - د یونس سورت ۸۵ آیت

[2] - د یوسف سورت ۱۰۱ آیت

[3] - د ال عمران سورت ۱۹۳ آیت

قیامت په ورځ مو رسوا نه کړې، بیشکه ته د خپلې وعدې پر خلاف
کوونکی نه یې) .

## د پیغمبراکرم صلی الله علیه وسلم جامع دعاګانی

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم به چې شپه او ورځ قیام او سفر کې کومې دعاګانی غوښتې حدیث پوهانو هغه په خورا تکلیف سره د حدیثو مبارکو په کتابونو کې را ټولې کړې دي، د قران حکیم د دعاګانو تر څنګ تاسې د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم دعاګانی له مکملې پاملرنې سره ولولئ، دغه دعاګانی خورا اغیزمنې، مکملې او برکتناکې هم دي او له هغو نه دا لارښوونه هم په لاس راځي، چې د یوه مؤمن صحیح تګلاره د هغه د هیلو رښتیانی مرکز او د هغه ارزوګانی باید څه وي، رښتیا ده چې د انسان صحیح عکس د هغه په هیلو کې لیدل کیدای شي، په ځانګړې توګه په هغو وختونو کې چې د سړي دا باور هم وي، چې هغه د خلکو له نظره پناه دي او د هغه د چوپتیا اوریدونکی یوازې د هغه پالونکی دي، پیغمبر اکرم ﷺ به چې د شپې په تیاره کې، په یوازیوالی کې له خلکو جلا او د خلکو په شته والي کې کومې دعاګانی غوښتې، د هغه له حرف حرف نه سوز او د اخلاص او مینې نور وریږي، او دا ترې احساسیږي چې کوم عظیم بنده دی چې د خپلې بنده ګۍ مکمل احساس لري او هغه سره تر پایه احتیاج ګرځیدلی او هر وخت یې د خپل رب نه غواړي مینه او په مینه کې ډوبیدل یې پرله پسې زیاتیږي ، هغه چې څه غواړي د هغې روح دا دي چې الهی ! ما ته خپل نږ دې والي راوښيي، له خپل قهر نه مې وساتې، پخپلو خوښیومې ونازوې او د اخرت کامرانی او کامیابی را په برخه کړه.

## د سهار او ماښام دعاګانی :

د حضرت عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه وینا ده چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي، د الله جل جلاله هر بنده چې سهار او ماښام دا دعا ولولي هغه ته هیڅ شیز زیان نشي رسولای .

بِسْمِ اللهِ الَّذِيْ لَايَضُرُّ مَعَ اِسْمِهٖ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ( د الله جل جلاله په نامه شروع کوم، چې له ( مبارک ) نامه سره يې هيڅ څيز په ځمکه او آسمان کې ضرر نشي رسولای، هغه اوريدونکی او پوهيدونکی دی ) [سنن ابوداود - جامع ترمذی ]

د حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنهما وينا ده چې نبی صلی الله عليه وسلم به په پابندی سره سهار او ماښام دا دعا لوسته او هيڅکله به يې نه پريښوده: اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ- اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِيْ دِيْنِيْ وَدُنْيَايَ وَأَهْلِيْ وَمَالِيْ - اَللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِيْ وَاٰمِنْ رَوْعَاتِيْ - اَللّٰهُمَّ احْفَظْنِيْ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِيْ وَعَنْ يَمِيْنِيْ وَعَنْ شِمَالِيْ وَمِنْ فَوْقِيْ وَأَعُوْذُ بِعَظَمَتِكَ اَنْ اُغْتَالَ مِنْ تَحْتِيْ ( الهی! زه له تانه په دنيا او اخرت کې د خير غوښتونکی يم، پروردګاره! زه له تانه عفوه ښښنه او سلامتی او خير غواړم، د دين او دنيا په چارو کې ، پخپل اهل وعيال او خپل مال او دولت کې ، رب العالمين! ته زما پرده وکړی او زما نارامی په ارام او راحت بدله کړی، الهی! مخکی او شاته، ښی او کيڼ لوری ته او له پاسه زما ساتنه وکړی او زه ستا په عزمت پناه غواړم، د دی خبری نه چې زه ناڅاپه د خپل لاندی لوری نه هلاک کړای شم ( الله ما په ځمکه د ننوتو له عذاب نه وساتی [1] ) [ سنن ترمذی]

## د لتي او بي زړه توب نه د خلاصون دعا

د حضرت انس بن مال رضی الله عنه وينا ده چې زه د نبی صلی الله عليه وسلم په خدمت کې اوسيدم او ما به زياتره له هغه نه دا دعا اوريده :

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْبُخْلِ وَالْجُبْنِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ ( الهی ! زه په تا سره پناه غواړم له رنج او غم نه ، له بی وسی او لتی نه ، د

[1] - يوه عالم ويل چې د مينونو نه د نجات دعا همدغه ده ځکه لانديني خوانه چه د کوم خطر تصور کيږی د مينو نونه هم وی ( مهتمم ).

بخیلی او بی زړه توب نه، د پور له پیتی نه، او د خلکو له غلبی او فشار نه
[صحیح بخاری، صحیح مسلم]

## د تقوی او پرهیزګاری دعا

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُکَ الْهُدٰی وَالتُّقٰی وَالْعَفَافَ وَالْغِنٰی (الهی! زه له تانه هدایت، تقوی پاک لمنی او استغنا غواړم).

- دا ډېره مکمله دعا ده، پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم په دی څلورو کلمو کې په اصل کې هغه هر څه غوښتی دی چې مؤمن بنده ورته اړتیا لري.

## د لمانځه نه وروسته دعا

حضرت معاذ رضی الله تعالی عنه فرمایی چې یوه ورځ پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم زما لاس ونیو او وی فرمایل: معاذه! زما له تاسره مینه ده، بیا یې وفرمایل معاذه! زه تاته وصیت کوم چې د له هیڅ لمانځه نه وروسته دا جمله پری نږدی، له هر لمانځه نه وروسته یې ووایه: اَللّٰهُمَّ أَعِنِّیْ عَلٰی ذِکْرِکَ وَشُکْرِکَ وَحُسْنِ عِبَادَتِکَ (الهی! ته زمونږ سره مرسته وکړی د خپل یاد، د خپل شکر او د خپلی غوره بندګی لپاره).

## د دنیا او اخرت د رسوایی نه د خلاصی دعا

اَللّٰهُمَّ أَحْسِنْ عَاقِبَتَنَا فِی الْاُمُوْرِ کُلِّهَا وَأَجِرْنَا مِنْ خِزْیِ الدُّنْیَا وَعَذَابِ الْاٰخِرَةِ (الهی! په ټولو چارو کې زمونږ پای په خیر سره کړی او مونږ د دنیا له رسوایی او د اخرت له عذاب نه وساتی) [طبرانی]

## د ښښی او الهی رضا دعا

حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه فرمایی چې نبی ﷺ حضرت سلمان فارسی رضی الله تعالی عنه ته وصیت کاوه وی فرمایل: زه تاته څو کلمی درکول غواړم، د هغو په وسیله له رحمانه سوال وکړه د رحمان لوری ته په زاري شه او شپه او ورځ په همدی الفاظو له هغه نه دعا وغواړه.

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ أَسْأَلُکَ صِحَّةً فِیْ اِیْمَانٍ وَاِیْمَانًا فِیْ حُسْنِ خُلُقٍ وَنَجَاحًا یَتْبَعُهٗ فَلَاحٌ وَرَحْمَةً مِنْکَ وَعَافِیَةً وَمَغْفِرَةً مِنْکَ وَرِضْوَانًا (الهی! زه له تانه د خپل ایمان د صحیح والی او ټینګتیا غوښتونکی یم، په ښو اخلاقو کې د ایمان

اغیز غوارم او داسې بریالیتوب غوارم چې د اخرت بریالیتوب مې پرې په برخه شي او له تانه رحمت، سلامتیا او د ګناهونو بخښنه او ستا د رضا غوښتونکی یم) [ طبراني، حاکم ]

## له ګناهونو نه د پاکوالي دعا

د حضرت ام سلمه رضی الله عنها وینا ده چې نبي صلی الله علیه وسلم به دا دعا غوښتله: اَللّٰهُمَّ نَقِّ قَلْبِيْ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الْأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ اَللّٰهُمَّ بَعِّدْ بَيْنِيْ وَبَيْنَ خَطِيْئَتِيْ كَمَا بَعَّدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَ الْمَغْرِبِ ( الهی ! ته زما زړه ګناهونو ته د میلان نه داسې پاک کړې لکه څنګه چې سپینه توټه له خیرو او داغونو نه پاکوی، الهی ! ته مې له ګناهونو دومره لرې کړې لکه څومره چې دې د مشرق او مغرب تر منځ فاصله ده) [ معجم کبیر ]

## د مخلوق په نظر کې د عزت دعا

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ صَبُوْرًا وَاجْعَلْنِيْ شَكُوْرًا وَاجْعَلْنِيْ فِيْ عَيْنِيْ صَغِيْرًا وَفِيْ أَعْيُنِ النَّاسِ كَبِيْرًا ( الهی! ته مې ډېر زیات صابر کړې او خورا شکر کوونکی مې وګرځوی او ما د خپل نظر په وړاندې کوچنی او د خلکو په نظر کې ستر وګرځوی ).

## د نبي اکرم صلی الله علیه وسلم وصیت

حضرت شداد بن اوس رضی الله عنه فرمایي چې ماته نبي صلی الله علیه وسلم وصیت وفرمایه: شداده! چې کله ته وګورې چې د دنیا خلک د سرو او سپینو زرو راټولولو ته اړم شوي دي، نو ته د دې کلماتو ( د ذخیره ) وکړه: اَللّٰهُمَّ أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْأَمْرِ وَالْعَزِيْمَةَ عَلَى الرُّشْدِ، وَأَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ وَأَسْأَلُكَ قَلْبًا سَلِيْمًا، وَلِسَانًا صَادِقًا أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ وَأَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّمَا تَعْلَمُ وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ [ مسند احمد ]

( الهی! زه په ثبات او رښتینولی کې د خپلواکی سوال کوم او ستا د نعمتونو د شکر ادا کولو او ستا د غوره بنده ګی د پر ځای کولو توفیق

غوارم، او الهي! زه له تانه روغ زړه او رښتوني ژبه غوارم له تانه هره هغه ښېګړه غوارم چې ته پرې پوهېږې او د هرې هغې بدۍ نه پناه غوارم چې ته پرې خبر يې او د خپلو ټولو ګناهونو ښښنه غوارم چې ته پرې عالم يې، بېشکه چې ته له پټو خبرو نه په ښه توګه خبر يې ) .

## مکمله دعا

حضرت عايشه رضی الله تعالی عنها فرمايي چې يو ځلی رسول الله ﷺ زما خواته راغی زه په لمانځه مشغوله وم، د نبي ﷺ ماته څه اړتياوه او پر ما وخت ډېر تير شو، نو هغه وفرمايل ، عايشې! لنډې او جامع دعاګانې غواړه، بيا چې کله نبي ﷺ ته راغلم، نو ما پوښتنه وکړه، يا رسول الله ! لنډه او جامع دعا کومه ده؟ نو هغه وفرمايل دا دعا لوله: اَللّٰهُمَّ إِنِّیْ أَسْئَلُکَ مِنَ الْخَيْرِ كُلِّهٖ عَاجِلِهٖ وَاٰجِلِهٖ مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَالَمْ أَعْلَمْ وَاَعُوْذُبِکَ مِنَ الشَّرِّ كُلِّهٖ عَاجِلِهٖ وَاٰجِلِهٖ مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ اَعْلَمْ وَاَسْئَلُکَ الْجَنَّةَ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ وَاَعُوْذُبِکَ مِنَ النَّارِ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ وَاَسْأَلُکَ مِمَّا سَأَلَکَ بِهٖ مُحَمَّدٌ وَاَعُوْذُبِکَ مِمَّا تَعَوَّذَ مِنْهُ مُحَمَّدٌ وَمَا قَضَيْتَ لِیْ مِنْ قَضَاءٍ فَاجْعَلْ عَاقِبَتَهٗ رُشْدًا

( الهي! زه له تانه د ګردو ښېګړو او نېکيو غوښتنه کوم د ژر کېدونکيو هم او د وروسته کېدونکيو هم، د معلومو هم او د نامعلومو هم، او زه له ګردو بديونه ستا پناه غوارم، د ژر کېدونکيو بديو نه هم او د وروسته کېدونکيو بديونه هم، د معلوم نه هم او له نامعلومو هم، او زه له تانه د جنت غوښتونکی يم او د داسې وينا او عمل چې جنت ته نږدې کوونکی وی او زه له جهنم نه په تا سره پناه غوارم او له هغې وينا او عمل نه هم پناه غوارم چې دوزخ ته نږدې کوونکی وی او زه له تانه هغه ښېګړې غوارم چې له تانه يې محمد ﷺ سوال کړی وُ، او زه په تاسره پناه غوارم له هغو ټولو شيانو نه چې محمد ﷺ ترې له تانه پناه غوښتې وه، او دا غوارم چې ته زما په باب هره فيصله فرمايې د هغې پای خير وی) [ حاکم ]

## پر اسلام د ټینګ پاتې کیدلو دعا:

أَللّٰهم احْفَظْنِيْ بِالْإِسْلَامِ قَائِمًا وَاحْفَظْنِيْ بِالْإِسْلَامِ قَاعِدًا وَاحْفَظْنِيْ بِالْإِسْلَامِ رَاقِدًا وَلَاتُشْمِتْ بِيْ عَدُوًّا حَاسِدًا (الهی! ما په ناسته ولاړه او په ويښه او خوب کې په هر حالت کې پر اسلام قايم لرى او کوم دښمن او حسد کوونکى ته پر ما د خندا وخت مه ورکوى).

## د نوي مسلمان دعا

حضرت ابو مالک اشجعی رضی الله تعالی عنه فرمايي چې زما د پلار وينا ده چې کله به څوک نوى په اسلام مشرف کيده، نو نبی به هغه ته لمونځ زده کاوه او بيا به يې ورته ويل چې داسې دعا غواړه: أَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ، وَاهْدِنِيْ، وَعَافِنِيْ وَارْزُقْنِيْ (الهی! ته ماته بښنه وکړې، پر ما رحم وکړې، لارښوونه راته وکړې، سلامتيا راوبښې او روزي راوبښې).

## د نفاق او بد اخلاقی نه د بچ کيدو دعا

أَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُبِکَ مِنْ مُنْکَرَاتِ الْإِخْلَاقِ وَالْأَعْمَالِ وَالْأَهْوَاءِ، أَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُبِکَ مِنَ الشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَسُوْءِ الْأَخْلَاقِ (الهی! زه پناه غواړم له بدو اخلاقو، بدو اعمالو او نفسانی غوښتنو. يا الله! زه پناه غواړم له جګړو، نفاق، او بد اخلاقی څخه).

## درود او سلام

پر ستر محسن حضرت محمد صلی الله عليه وسلم زيات درود، او سلام وواياست، دا رښتيا ده چې د هغه د بی اندازې نيکيو او خورا زياتی مهربانی او شفقت بدله مونږ هيڅکله نشو ادا کولای، که څه کولای شو نو يوازې دا چې د مينې او عقيدت او د فدا کارى او ځان قربانونی له ولولو سره پر هغه درود او سلام ووايو، او الله جل جلاله ته دعا وکړو چې پروردګاره! ستا نبی صلی الله عليه وسلم چې زمونږ په خاطر شپه او ورځ کوم لړزوونکی تکاليف زغملی دی او مونږ ته يې د دين رڼا را رسولی ده او زمونږ د لارښوونی په خاطر يې چې څومره ويلی کړې دی.

الهي! مونږ د دی بی ساری احسانُ هیڅ بدله نشو ادا کولای، ستا نه زمونږ هیله ده چې پروردګاره! ته پر هغه بی حسابه رحمتونه نازل کړی، د هغه درجی لوړی کړی، د هغه دین د باطلو یرغلونو نه وساتی، او پراختیا ورکړی او په اخرت کې هغه له ټولو مقربینو نه زیات ځان ته نږدی وګرځوی، په قران کریم کې مسلمانانو ته همدا لارښوونه شوی ده: إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا[1] ( یقینًا الله او د هغه ملائکی پر نبی صلی الله علیه وسلم پرله پسی درود وایی، مسلمانانو! تأسې هم پری درود ووایاست ) .

حضرت ابی ابن کعب رضی الله تعالی عنه ته نبی ﷺ وفرمایل: ابی! که ته خپل ټول وختونه په درود او سلام ویلو کې ولګوی، نو الله جل جلاله به په دنیا او اخرت کې ستا کفالت پر خپله غاړه واخلی [ مسند احمد ]

د حضرت انس بن مال رضی الله عنه وینا ده چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: کوم سړی چې پرما یو کرتی درود ووایی، الله جل جلاله پری لس رحمتونه نازلوی، لس نیکی ورته لیکل کیږی، لس ګناهونو تری لری کیږی اولس مرتبی یې لوړیږی [سنن نسایی]

او نبی صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلی دی کوم سړی چې پرما درود وایی او ملائکی پر هغه سړی تر هغې پوری درود وایی، تر څو چې دا سړی پرما درود وایی

د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: هغه سړی بخیل دی د چا په مخ کې چې زما یادونه وشی او پرما درود ونه وایی [ سنن ترمذی ]

او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هغه سړی د خپلی ملګرتیا او صحبت تر ټولو زیات حقدار ګنی چې پر هغه تر ټولو زیات درود او سلام وایی.

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده: د قیامت په ورځ زما د ملګرتیا او صحبت تر ټولو حقدار هغه سړی دی چې پرما تر ټولو زیات درود وایی [ سنن ترمذی ]

---

[1] - د الاحزاب سورت ۵۶ آیت

صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین ته چي هغه د درود او سلام کوم الفاظ په بیلا بیلو وختونو کې ورزده کړی دی، په هغو کې لږ لږ اختلاف دی، تاسی چي له هغو نه کوم یو غواړی لوستلای شې، په عامه توګه چې کوم درود شریف په لمانځه کې لوستل کیږي او حضرت عبدالله بن عباس تر ټولو غوره ګڼلی دی هغه دادی: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَ عَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَ عَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَجِیْدٌ، اَللّٰهُمَّ بَارِکْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَکْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَ عَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ (الهی ! رحمت وکړی پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر آل، لکه تا چې رحمت کړی وُ پر ابراهیم او د هغه پر آل، بیشکه ته د ډیر سپیڅلیو صفاتو او عظمت څښتن یې، پروردګاره ! برکت نازل کړی پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر ال لکه څنګه چې تا برکت نازل کړی پر ابراهیم علیه السلام او د هغه پر ال، بیشکه ته د ډیر سپیڅلیو صفتونو او د عظمت څښتن یې) [صحاح سته، مسند امام احمد]

حضرت عبدالله بن مسعود خلکو ته وویل، چې کله تاسی پر نبی صلی الله علیه وسلم درود وواياست نو په ښه توګه یې ووایاست، تاسی ته څه معلومه ده چې دا درود به د نبی علیه السلام په درباره کې وړاندې کیږي، خلکو تری هیله وکړه نو بیا تاسی موږ ته دورد وښایاست نو هغه و فرمایل دا درود لولی: اَللّٰهم اجْعَلْ صَلٰوتَکَ وَرَحْمَتَکَ وَ بَرَکَاتِکَ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ وَ اِمَامِ الْمُتَّقِیْنَ خَاتَمِ النَّبِیْنَ محمّدٍ عَبْدِکَ وَ رَسُوْلِکَ اِمَامِ الْخَیْرِ وَ قَائِدِ الْخَیْرِ وَ رَسُوْلِ الرَّحْمَةِ، اَللّٰهُمَّ ابْعَثْهُ مَقَامًا یَغْبِطُهٗ بِهِ الْاَوَّلُوْنَ. اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ اَللّٰهُمَّ بَارِکْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَ عَلٰی آلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَکْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَ عَلٰی آلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ (الهی ! خپل برکتونه، رحمتونه او فیوضات نازل کړی، د رسولانو پر سردار، د پرهیزګارانو امام، او پر خاتم النبین محمد صلی الله علیه وسلم چې ستا بنده او رسول دی، ښیګړو مشال د خیر لارښود او د رحمت استازی دی، ته یې د عظمت پر هغه مقام سر لوړی کړی، چې د ده د مخکینو لپاره د رشک وړ دی- الهی !

رحمت نازل کړی پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر ال لکه چې تا رحمت نازل کړی پر ابراهیم او د هغه پر آل ، بیشکه ته د ډیرو ستاینو څښتن او لوی یې ) [ ابن ماجه ]

حضرت ابو مسعود انصاری رضی الله تعالی عنه وایی چې: یو ځلی بشیر ابن سعد له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه یا رسول الله ! موږ پر تاسی څه ډول درود او سلام وایو نو نبی صلی الله علیه وسلم تر ډیره غلی و او بیا یې و فرمایل: أَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيْمَ فِي الْعَالَمِيْنَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ [ سنن مسلم ]

الهی ! پر محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه پر آل رحمت نازل کړی، لکه څنګه چې تا رحمت نازل کړی و د ابراهیم علیه السلام پر آل او برکت نازل کړی پر محمد او د هماغه صلی الله علیه وسلم پر آل، لکه څنګه چې تا په کاینا تو کې برکت نازل کړی وُ، پر ابراهیم، بیشکه ته د ډیرو پاکو صفتونو څښتن او د عظمت خاوند یې.

## د قربانۍ دعا

چې څاروی مخ په قبله څملوې لومړی دا دعا ولولې: انی وجهت و جهی قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَاي وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ() لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ - اَللهم لك و منك ( ما په پوره توجه سره خپل مخ د هغه الله جل جلاله په لوری کړی دی چاچې ځمکې او آسمانونه پیدا کړی دی اوزه له شرک کوونکیو څخه نه یم، بیشکه زما لمونځ، زما قربانی، زما ژوند او مرګ هر څه د رب العالمین لپاره دی، له هغه سره هڅوک شریک نشته، د همدی ما ته حکم شوی دی او زه مسلمان او منونکې یم، الهی دا هم ستا دی او تا را کړی دی ) .

بیا د بسم الله، الله اکبر په ویلو تیره چاړه د څاروی پر غاړه راکاږې، او له حلالولو وروسته دا دعا ولولې: اللهم تَقَبَّلْهُ مِنِّي[1] كَمَا تَقَبَّلْتَ مِنْ خَلِيْلِكَ

[1] - که په قربانی کې له چا سره شریک یاست نو د منی پر ځای ( مینا ) ووایی او له هغې وروسته د ټولو نومونه واخلی.

إِبْرَاهِيمَ وَ حَبِيْبِکَ مُحَمَّدٍ عَلَيْهِمَا الصَّلٰوةُ وَ السَّلامُ ( الهی ته دا قربانی زموږ له لوری قبوله کړی، لکه څنګه چې تا د خپل دوست ابراهیم علیه السلام او خپل حبیب محمد صلی الله علیه وسلم قربانی قبوله کړه، پر دواړو دی درود او سلام وی ).

د قربایی څاروی پر بل چا حلالول هم روا دی خو تاسی یی پخپله حلال کړی غوره ده او د حلالولو پر وخت په شعوری ډول هغه دعا چې لولئ په خپل زړه او دماغ کې راولئ، څه چې تاسی په دعا کې وایی یعنی دا چې زموږ هر څه د الله جل جلاله لپاره دی او د هماغه په لاره کې بایدهر څه قربان کړای شی، د هماغه د اشاری په میندالو موږ اوس د هغه په لاره کې قربانی کوو، سبا که د هغه جل جلاله اشاره وی نو موږ به د خپل ځان قربانی هم د هغه په لاره کې وړاندی کړو او شکریه به یی ادا کړو که هغه پخپله لاره کې د وینو تویولو توفیق را کړ او د شهادت سعادت یی را په برخه کړ.

## د عقیقی دعا

له عقیقی نه مراد هغه وزه یا پسه دی چې د نوی اولاد له لوری د ولادت د پیدا کیدو په اوومه روځ د خیرات په توګه حلالیږی.

د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده په اوومه ورځ د ماشوم لپاره نوم وټاکې او د هغه سرکل کړی، او د هغه له لوری عقیقه وکړی.

د څاروی د حلالولو پر وخت څاروی قبلی ته مخامخ څملوی، او لومړی هغه دعا ولولې چې د قربانې د څاروی د حلالولو پر وخت لوستل کیږی ( انی وجهت ) نه تر ( لک ومنک ) پوری بیا د بسم الله، الله اکبر په ویلو تیره چاړه د څاروی پر غاړه را کاږئ او بیا دا دعا ولولې: أَللّٰهُمَّ هٰذِهِ عَقِيْقَةُ .... تَقَبَّلْهُ كَمَا تَقَبَّلْتَ مِنْ حَبِيْبِکَ مُحَمَّدٍ وَ خَلِيْلِکَ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِمَا الصَّلٰوةُ وَ السَّلامُ دَمُهَا بِدَمِهِ لَحْمُهَا بِلَحْمِهِ شَعْرُهَا بِشَعْرِهِ عَظْمُهَا بِعَظْمِهِ [1]

---

[1] - له هذه عقیقه نه وروسته د هغه ماشوم نوم واخلی، د چا چې عقیقه ده.

( الهي ! دا .... عقيقه ده، قبوله يې کړې لکه څنګه چې تا د خپل دوست حضرت ابراهيم عليه السلام او خپل حبيب حضرت محمد صلى الله عليه وسلم له لورې قبوله کړه، د دې وينه د ماشوم د وينې فديه ده غوښه يې د ما شوم د غوښې فديه ده، ويښتان يې د ويښتانو فديه دي هډوکې کې يې د ماشوم د هډوکو فديه دي، الهي ته يې قبوله کړې ) .

کوم خلک چې توان لري هغوی دي د خپل اولاد له لورې خامخا عقيقه وکړي، عقيقه يو مستحب خيرات دی، د هلک له لورې دوه وزې يا پسان او د نجلۍ له لورې يوه وزه يا پسه دي او دا هم روا دي چې د هلک له لورې يو پسه حلا کړای شي، البته کوم خلک چې توان نه لري ، د هغوی لپاره هيڅکله مناسبه نه ده چې هغوی د غريبۍ سره سره عقيقه کول ضروري وګڼي او ځان پوروړي کړي او عقيقه وکړي .

د عقيقې غوښه خامه ( اومه ) هم ويشلای شي ، خو مستحب دا ده چې پخه يې کړي او پر مسکينانو يې ووشي او د ګاونډيانو کره يې وليږي او پر خپلو خپلوانو او دوستانو يې هم خوړلای شي، د حضرت امام حسن ﷺ د عقيقې پر وخت هغه وفرمايل چې يو ورون ( پتون ) دايې کره وليږئ او نور تاسې پخپله وخورئ او پر نورو يې هم وخورئ [ سنن ابو داود ]

## د تراويح لمانځه دعا

تراويح د ترويحه جمع ده، په تراويح لمانځه کې له هرو څلور رکعتو وروسته کيناستو او آرام کولو ته ترويحه وايي او په همدې مناسبت د روژې په مبارکه مياشت کې دغه سنت لمانځه ته تراويح وايي .

په ترويحه کې دا دعا ولولئ: سبحَانَ ذِي الْمُلكِ وَ الْمَلَكُوتِ سُبْحَانَ ذِي العِزَّةِ وَالعَظَمَةِ وَالهَيْبَةِ وَالقُدرَةِ وَ الكِبْرِيَاءِ و الْجَبَرُوتِ ، سُبْحَانَ الْمُلِكِ الْحَيِ الَّذِيْ لَايَنَامُ وَلَا يَمُوتُ ، سُبُوحٌ قُدُّوسٌ ، رَبُّنَا وَ رَبُّ المَلَائِكَةِ وَ الرُّوحِ أَللّٰهُمَّ أَجِرْنَا مِنَ النَّارِ يَامُجِيْرُ يَا مُجِيْرُ يَا مُجِيْرُ

( پاک دی د حکومت او اقتدار څښتن، پاک دی د عزت، عظمت، هيبت، واک، لويي او پرتم څښتن. پاک دی تل ژوندی بادشاه چې نه کله ويده کيږي او نه هيڅکله فناه لري، بې اندازې پاک، او له عيبونو منزه دی،

زمونږ پروردګار، د ملایکو رب او د حضرت جبریل علیه السلام پالونکی- الهی! مونږ د دوزخ له اوره وساتی، ای پناه ورکوونکیه، ای پناه ورکوونکیه، ای پناه ورکوونکیه! ).

د تراویح لمونځ په جمعه ( جماعت ) سره ادا کړی او که کیدای شی نو د ټول قران د اوریدو کوښښ پکی وکړی، تراویح دی کوم داسې حافظ ادا کړی، چې د پوره درناوی او د زړه په مینه قرآن داسې ورو ورو تلاوت کړی، چې مقتدی هم زړه تنګی نه شی، او قران کریم هم داسې واضح واضح ولوستل شی چې د تلاوت حق یې ادا شی.

قرآن له داسې بی پروایی او بی فکری سره مه تلاوت کوی، چې ګواکی له سره پیټی کوزول وی دا په حقیقت کې له قران سره ستر ظلم دی، د الله ﷻ د کتاب دا حق دی، چې د زړه په مینه، د فکر په حاضری او غور او دقت سره ولوستل شی او ځان پکی په غور کولو او فکر کولو عادت کړای شی.

همدا ډول د تراویح هم بایـد له آرام او دقت سـره ادا کړای شی، پـه بی پروایی او چټکتیا سره په زر زر رکوع او سجده کول د لمانځه له هدفه بی پروایی هم ده او د لمانځه له خوند او مزی نه محرومی هم.

## قنوت نازله

الله جل جلاله مه کړه چې مسلمان په مشکلو حالاتو کې ګیر وی او د دښمن ویره او دهشت غالب وی، نو په لمانځه کې د نازله قنوت ( دعا ) ولولی، په ځانګړی توګه د سهار په لمانځه کې، د سهار په لمانځه کې د دویم رکعت له رکوع نه د راپورته کیدو وروسته په ولاړه ( قیام ) قنوت نازله ولولی او بیا سجدی ته ولاړ شی، د احادیثو نه معلومیږی چې نبی صلی الله علیه وسلم او د هغه اصحابو په مشکلو حالاتو کې دا دعا لوستی ده او په ځانګړی توګه یې د سهار په لمانځه کې د دی دعا د لوستلو هڅه کړی ده:

اَللّٰهُمَّ اهْدِنَا فِيْمَنْ هَدَيْتَ وَعَافِنَا فِيْمَنْ عَافَيْتَ وَتَوَلَّنَا فِيْمَنْ تَوَلَّيْتَ وَبَارِكْ لَنَا فِيْمَا أَعْطَيْتَ وَقِنَا شَرَّمَا قَضَيْتَ فَإِنَّكَ تَقْضِىْ وَلَا يُقْضٰى عَلَيْكَ. إِنَّهٗ لَا يَذِلُّ مَنْ وَّالَيْتَ وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ نَسْتَغْفِرُكَ وَنَتُوْبُ إِلَيْكَ. اَللّٰهُمَّ عَذِّبِ الْكَفَرَةَ الَّذِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِكَ وَيُكَذِّبُوْنَ رُسُلَكَ

وَيُقَاتِلُوْنَ أَوْلِيَاءَكَ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَاَصْلِحْ ذَاتَ بَيْنِهِمْ وَاَلِّفْ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ وَاجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْإِيْمَانَ وَالْحِكْمَةَ وَثَبِّتْهُمْ عَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِكَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَوْزِعْهُمْ أَنْ يُّوْفُوْا بِعَهْدِكَ الَّذِيْ عَاهَدْتَّهُمْ عَلَيْهِ وَانْصُرْهُمْ عَلٰى عَدُوِّكَ وَ عَدُوِّهِمْ إِلٰهَ الْحَقِّ وَاجْعَلْنَا مِنْهُمْ ( الهي! ته مونږ په هدايت ونازوی او په هدايت ميندليو خلکو کې مو شامل کړی او مونږ ته سلامتيا راوبښی، او په عافيت ميندليو خلکو کې مو شامل کړې، او زمونږ سر پرستی وکړی او په هغو خلکو کې مو شامل کړی چې ستا په سر پرستۍ کې دی، او زموږ پر هغو شيانو برکت کړی چې تا رابښلی دی، او موږ د هغو له شره وساتی چې تا يې فيصله فرمايلی، ځکه چې هم ته فيصله فرمايې او پر تا د چا فيصله غالبه کيدای نه شي، هغه ( څوک ) هيڅکه خوار کيدای نه شي چې ته يې سرپرستی و فرمايې، او هغه ( څوک ) هيڅکله عزتمن نشي کيدای چې ته يې خپل دښمن و ګرځوی، ته د ډير زيات برکت څښتنه يې، ای زموږ لوړ او عاليترين ربه ! موږ له تا نه بښنه غواړو او ستا په حضور کې توبه کوو، الهي ! کافرانو ته عذاب ورکړی چې ستا له ( لاری ) خلک منعه شوی او ستا پيغمبران دروغجن ګڼی او ستا د اولياء و سره په جګړه دی، الهي ! د مؤمنو سړو، مؤمنو ښځو، مسلمانو سړو او مسلمانو زنانه بښنه وکړی، د هغوی خپلمنځی اړيکی اصلاح کړی، د هغوی په زړونو کې خپلمنځی مينه پيدا کړی، د هغوی په زړونو کې ايمان او حکمت پيدا کړی او هغوی د خپل رسول الله صلی الله عليه وسلم په ملت کې را جمع کړی، او هغوی ته وسه ورکړی چې ستا هغه وعده پوری کړی چې تاتری اخيستی ده او له هغوی سره مرسته وکړی د هغوی او خپلو دښمنانو په مقابله کې، پروردګاره ! زموږ زاری واوری او موږ هم په همدی خلکو کې شامل کړی ) .

## د اړتيا لپاره لمونځ

چې کله هم تاسی د کومې لويې يا کوچنې اړتيا سره مخامخ شې، د الله جل جلاله په حضور کې ودريږې، او دوه رکعته ( صلوه الحاجه ) لمونځ ادا کړې او بيا حمد او ثنا ووايې، او دا دعا ولولې، له الله جل جلاله هيله

ده چې هغه به ستاسې دعا نه ردوي، د نبي صلی الله علیه وسلم لارښوونه ده، کله چې د چا الله جل جلاله یا کوم بنده ته څه اړتیا پیښه شي، نو په ښه ډول دې اودس وکړي، بیا دې دوه رکعته لمونځ وکړي او د الله جل جلاله حمد او ثنا دې ووایي او پر نبي صلی الله علیه وسلم دې درود ووایي او بیا دې الله ته داسې دعا وکړي:

لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ وَالْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ أَسْئَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ لَاتَدَعْ لِيْ ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ وَلَاهَمًّا إِلا فَرَّجْتَهُ وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ ( د الله جل جلاله پر ته څوک معبود نشته، هغه ډېر برد بار او ډېر مهرباني کوونکی دی، پاک او لوړ تردی د ستر عرش څښتن، شکر هماغه الله لره چې د ټولو جهانونو رب دی، الهي ! زه له تا نه د هغو شیانو سوال کوم چې ستا د رحمت واجبوونکي او ستا د رحمت لازموونکي دي، په هره ښیګړه کې برخه او له هرې ګناه نه خلاصون غواړم، الهي ! ته مې د ګردو ګناهونو له بښنې پرته او د هر درد او غم د لرې کولو پرته مه پرېږدې او زما کومه اړتیا چې تاته غوره وي، هغه د پوره کیدو پرته پرې نږدې ای په رحم کوونکیو کې تر ټولو زیات رحم کوونکیه! ) [ سنن ترمذي- سنن ابن ماجه ]

## د قرآن یادونې ( حفظ ) دعا

د قران کریم د حفظ کولو او یا د ساتلو لپاره هغه دعا په پام کې ونیسئ چې نبي صلی الله علیه وسلم حضرت علي کرم الله وجهه ته زده کړې وه.

حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه وایي چې یو ځلې مونږ د پیغمبر عربي صلی الله علیه وسلم په مجلس کې ناست وو چې حضرت علي کرم الله وجهه راغی او د خپلې حافظې نه یې شکایت وکړې چې یا رسول الله! د قرآن آیتونه زما په ذهن کې نه پاتې کیږي، څه چې یادوم په یاد مې نه پاتې کیږي، نبي صلی الله علیه وسلم د حضرت علي رضی الله تعالی عنه د شکایت په اوریدو وویل: ابو الحسن! زه تاته داسې دعا ولې درزده نه کړم چې یې ولولې ته ترې هم فایده واخلې او هغوی ترې هم فایده واخلي چاته

يې چه ته ورزده کړې او بيا چې ته هر څه زده کړې هغه ستا په زړه کې پاتې شي او تاته يادوي، حضرت علي کرم الله وجهه وويل، يا رسول الله! داسې دعا خو خامخا را زده کړې، نو هغه د هغې دعا په باب وفرمايل : دا دعا ولوله درې، پنځو، يا د اوو جمعو په شپو کې يې پرله پسې د الله په حکم به دا غشي پر نښه ثابت شي، پر هغه ذات سوګند چا چې ماته حق دين راليږلي دی، د مؤمن دا دعا هيڅکله خالي نه ځي .

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما وايي چې اوه يا پنځه جمعې به تيرې شوې وې ، چې حضرت علي کرم الله وجهه بيا د پيغمبر اکرم ﷺ مجلس ته تشريف راووړ او ويلې يې يا رسول الله ! لومړې به مې څلور آيتونه زده کول، خو چې تکرارول به مې نو له ذهن نه به مې واته او اوس دا حال دی چې زه څلويښت ايتونه زده کوم نو داسې معلوميږي چې ګواکې زما په مخ کې د الله جل جلاله کتاب پرانستی ايښی دی همدا ډول به ما لومړې يو حديث اوريده او چې کلمه به مې د تکرارولو کوښښ کاوه نو هيريده به مې، او اوس دا حال دی چې زه هر څومره احاديث اورم او چې بيا يې تکراروم نو يو حرف هم رانه نه غلطيږي .

محمد صلی الله عليه وسلم چې واوريدل وې فرمايل : د کعبې په رب مې دې سوګند وي ! ابو الحسن! واقعي مؤمن دی .

د دعا د تفصيلي طريقې د بيانولو په لړ کې هغه لارښوونه وکړه چې د جمعې په شپه دا دعا ولوله، زما د ورور يعقوب عليه السلام زامنو چې کله له هغه څخه د استغفار د دعا لپاره غوښتنه وکړه نو هغه ورته وفرمايل، زه به ډېر ژر ستاسې لپاره استغفار وکړم، د يعقوب عليه السلام مقصد دا و چې د جمعې په شپه به زه ستاسې لپاره استغفار کوم نو ای علي ! ته د جمعې په شپه د تهجدو په وخت کې پاڅه، ځکه چې دا د دعا د قبليدو وخت دی، طبيعت دا وخت حاضر وي او د الله جل جلاله لورې ته متوجه وي، او که د شپې په وروستي برخه کې نه شې پاځيدای نو په نيمه شپه کې پاڅه او که په نيمه شپه کې هم نه شې پاڅيدای، نو بيا د شپې په لومړې برخه کې څلور رکعته لمونځ داسې ادا کړه چې په لومړې رکعت کې د

فاتحې د سوره نه وروسته یس سوره او په دویم رکعت کې د فاتحې له سوره له وروسته الدخان او په دریم رکعت کې د فاتحې نه وروسته سوره آلم سجده او په څلورم رکعت کې د فاتحې له سوره نه وروسته سوره ملک تلاوت کړی، بیا چې دی التحیات ولوستل او سلام دی وګرځاوه، نو په ښه طریقه د الله جل جلاله حمد او ثنا دې ووایه او په ډېره ښه طریقه پر نبی صلی الله علیه وسلم او نورو ټولو انبیاء علیهم السلام درود او سلام ووایه او د ټولو مؤمنانو زنانه او ټولو مؤمنانو سړو لپاره استغفار ووایه او د خپلو ورونو لپاره استغفار ووایه چې په ایمان راوړلو کې ستانه مخکې دي، بیا په اخر کې دا دعا ولوله: اَللّٰهُمَّ ارْحَمْنِیْ بِتَرْکِ الْمَعَاصِیْ اَبَدًا مَّا اَبْقَیْتَنِیْ وَارْحَمْنِیْ اَنْ اَتَکَلَّفَ مَا لَایَعْنِیْنِیْ وَارْزُقْنِیْ حُسْنَ النَّظَرِ فِیْمَا یُرْضِیْکَ عَنِّیْ اَللّٰهُمَّ بَدِیْعَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ ذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ وَالْعِزَّةِ الَّتِیْ لَاتُرَامُ اَسْاَلُکَ یَا اَللّٰهُ یَا رَحْمٰنُ بِجَلَالِکَ وَنُوْرِ وَجْهِکَ اَنْ تُلْزِمَ قَلْبِیْ حِفْظَ کِتَابِکَ کَمَا عَلَّمْتَنِیْ وَارْزُقْنِیْ اَنْ اَتْلُوَهٗ عَلَی النَّحْوِ الَّذِیْ یُرْضِیْکَ عَنِّیْ اَللّٰهُمَّ بَدِیْعَ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ ذَاالْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ وَالْعِزَّةِ الَّتِیْ لَاتُرَامُ اَسْاَلُکَ یَا اَللّٰهُ یَا رَحْمٰنُ بِجَلَالِکَ وَنُوْرِ وَجْهِکَ اَنْ تُنَوِّرَ بِکِتَابِکَ بَصَرِیْ وَاَنْ تُطْلِقَ بِهٖ لِسَانِیْ وَاَنْ تُفَرِّجَ بِهٖ عَنْ قَلْبِیْ وَاَنْ تَشْرَحَ بِهٖ صَدْرِیْ اَنْ تَغْسِلَ بِهٖ بَدَنِیْ فَاِنَّهٗ لَایُعِیْنُنِیْ عَلَی الْحَقِّ غَیْرُکَ وَلَایُؤْتِیْهِ اِلَّا اَنْتَ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِیِّ الْعَظِیْمِ (الهی! تر کومه وخته پورې مې چې ژوندی ساتې پخپل رحمت سره له ګناهونو د ځان ساتنې توفیق راکړې او پخپل رحمت سره راته د بې ځایه او بیهوده خبرو نه د لرې اوسېدو قوت راکړې او ماته په هغو کارونو کې ښه نظر او بصیرت راکړې چې ستا رضا پرې حاصلیږي، خدایا! د اسمانو او ځمکو بې ساری جوړوونکیه! د عظمت او درناوی څښتنه! او د داسې ستر شان او قدرت خاونده! چې هیڅوک دې د مقابلې اراده هم نشي کولای، خاونده! رحم کوونکیه، زه ستانه ستا د لویي او ستا د ذات د نور په وسیله هیله کوم چې، لکه څنګه چې تا ماته خپل کتاب زده کړ، همداسې یې راته د حافظې قوت را کړې او ماته د دې کتاب د تلاوت داسې توفیق راکړې چې ستا رضا پرې حاصلیږي، ای د ځمکې او اسمانونو ایجادوونکیه! د

لويي او احترام ښښتنه! او د داسې واک او اختيار خاونده چې څوک دی د مقابلي اراده هم نشي کولای، ای بی اندازی رحم کوونکی ربه ! زه ستا د لويي او ستا د ذات د نور په وسيله له تا نه سوال کوم چې ته د خپل کتاب په برکت زما سترگی روښانه کړی او زما پر ژبه د هغی الفاظ جاری کړی او زما له زړه غم او تکليف لری کړی او د برکت لپاره يې زما سينه بيرته کړی او د دی ( قرآن ) په برکت زما بدن ومينځی او پاک او صاف يې کړی، له تا پرته هيڅوک نشته، چې د حق په چارو کې زما مرسته او ملاتړ وکړی پر حق نورانی کوونکی بس هم ته يې، له گناهونو د منع کيدو قوت او پر نيکيو د کلک پاتکيدو توان، الهی! هم ته ورکولای شی، چې ډېر لوړ ترين او سترو عظمتونو څښتن يی [ سنن ترمذی ]

## په قرآن عظيم کې د پوهې دعا

د قرانکريم تلاوت او پر مطالبو يې غور او فکر د مؤمن په زړه پوری عبادت دی، له قرآن سره مينه د الله جل جلاله سره د مينی دليل هم دی او د الله جل جلاله سره د اړيکو وسيله هم، په قرآن کې له تدبر او تفکر سره مؤمن ته روحانی خوشحالی هم په برخه کيږی، او په دی توگه ورته د حکمت دروازی هم بيرته کيږی.

قران حکيم بيشکه ډېر آسان کتاب دی، تر کومه ځايه چې تری د هدايت حاصلولو او پر احکامو پوهيدو پوری اړه لری، لارښوونی يی ډېری ساده واضحی او له پيچلتيا پاکی دی، خو دا سرارو او رموزو، د ميندلو لپاره يې ضروری ده چې تاسې يې د قرآن پوهيدنی د ټولو آدابو او شرايطو سره مطالعه وکړی، له رښتينی غوښتنی سره پری فکر وکړی او هيڅ وخت تری بی پروايی او غفلت ونه کړی، او په ټول ژوندانه کې يې پرله پسی مطالعه وکړی.

دا بيخی فطری خبره ده چې د مطالعی په دوران کې به داسې مشکل ځايونه هم راځی چيری چې به له ژور فکر او دقت سره سره هم ستاسې ذهن نه مطمئن کيږی، او تاسې به ډېر مشکلات احساسوی، خو که تاسې واقعی د قران حکيم د زده کړی هيله مند ياست، نو هيڅکله نهيلی او مات زړی نه شی، او نه پر قران د اعتراض کولو بی ځايه خيال په زړه کې راولی،

او نه ستړی شي چې په قران کې فکر او تدبر پریږدي، بلکې له پوره اطمینان سره د الله جل جلاله لوری ته متوجه اوسي او په مکملې ځان سپارنې سره له هیڅکله د خپل نظر او غوښتني د تاویلاتو د را ایستلو بې ځایه کوښښ ونکړي، بلکې د یوه طالب په څیر پر هغه مفهوم ټینګ ولاړ اوسي، چې د قران کریم د الفاظو نه مو په ذهن کې راځي، او بیا د ډېرې بې وسۍ او عاجزۍ په حالت کې الله جل جلاله ته سوال وکړي چې الله! زما دا فکري تشویش لرې کړې او پر صحیح مفهوم مې وپوهوې.

د دې هدف لپاره د شپې په نوافلو کې په یو څه اواز سره ورو ورو تلاوت هم وکړي، او لاندې لیکل شوې دعا هم ولولې. الله جل جلاله به یې فکر او غم لرې کړي او په خوښۍ او خوشحالۍ به یې بدل کړي: اَللّٰهُمَّ إِنِّیْ عَبْدُکَ، إِبْنُ عَبْدِکَ، إِبْنُ أَمَتِکَ نَاصِیَتِیْ بِیَدِکَ، مَاضٍ فِیَّ حکمکَ عَدْلٌ فِیَّ قَضَاءُکَ أَسْئَلُکَ بِکُلِّ إِسْمٍ هُوَ لَکَ، سَمَّیْتَ بِهٖ نَفْسَکَ أَوْ أَنْزَلْتَهٗ فِیْ کِتَابِکَ أَوْ عَلَّمْتَهٗ أَحَدًا مِّنْ خَلْقِکَ أَوْ أَسْتَأْثَرْتَ بِهٖ فِیْ عِلْمِ الْغَیْبِ عِنْدَکَ، أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِیْعَ قَلْبِیْ، وَنُوْرَ صَدْرِیْ وَجَلَاءَ حُزْنِیْ وَذَهَابَ غَمِّیْ ( الهی ! زه ستا بنده یم، ستا د بنده زوی یم، ستا د وینځې زوی یم، زما وچولی ( تندی ) ستا په ورغوی کې دی، پر ما هم ستا حکم نافذ دی، زما په باب ستا هره فیصله انصاف ده، زه له تا نه ستا د هر هغه نوم په وسیله چې ستا لپاره لایق دی، چې تا د ځان لپاره ایښی دی او یا تا په خپل کتاب کې نازل کړی دی، یا دې پخپل مخلوق کې چا ته ویلی دی ، یا د خپل ځان سره د غیبو په خزانه کې ایښی دی، دا سوال کوم چې قران زما د زړه پسرلی ، زما د سینې نور، زما د غم درمل او زما د فکر او پریشانۍ علاج وګرځوې ) [ مسند احمد ، ابن حبان ]

د حدیث د راوی حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله تعالی عنهما وینا ده چې د نبی صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه مونږ دا دعا زده کړو؟ نو هغه وفرمایل څوک چې دا دعا واوري، هغه دې ضروري زده کړي او یاده دې کړي.

## د جمعې خطبه

د اسلامي ولولو د راپارولو، د ايمان تازه کولو او د ذکر او اذکارو د فريضې په پرله پسې ترتيب سره د سرته رسولو لپاره د جمعې د لمانځه خطبه ډېره اغيزمنه او منظمه وسيله ده، په فطري انداز سره په هره هفته کې مسلمانانو ته د خپلو مسئووليتونو يادونه، د ديني غوښتنو پوهونه او د اسلام لپاره د څه کولو د هيلې پيدا کولو لپاره دا په زړه پورې ګټه ترې تاسې هغه وخت تر لاسه کولای شې، چې تاسې اوريدونکيو ته د هغوی په ژبه هم وينا وکړی.

تر کومه ځايه چې په دويمې خطبې پورې اړونده ( مربوطه ) ده نو بايد په عربي ژبه وی البته لومړی خطبه تاسې په هغه ژبه هم ورکړی چې اوريدونکي پرې پوهيږي، ښه او غوره خو دا ده چې د ورځنی حالاتو په نظر کې نيولو سره د ديني غوښتنو په باب جامع او لنډه وينا وکړی او هره هفته په ترتيب سره د ذهنيتونو جوړولو او عمل ته د چمتو کولو لپاره کوښښ وکړی، خو که د کوم لامل له مخې تاسې داسې ونکړای شی، نو لږ تر لږه خو دومره خامخا وکړی چې کومه عربي خطبه ولولی او هدفمنده ترجمه يې په هغه ژبه هم وکړی چې اوريدونکي پرې پوهيږي، د عربي خطبې په باب هم ډېره مناسبه دا ده چې تاسې پخپله د نبی صلی الله عليه وسلم او يا د راشده خليفه ګانو کومه خطبه وټاکی لاندی مونږ د نبی صلی الله عليه وسلم هغه مستندی جملی رانقلوو، يوه خو هغه خطبه ده چې له هجرت وروسته هغه په لومړی جمعه ورکړی وه او دويمه هغه خطبه ده چې هغه مسلمانان په خورا بليغ انداز سره دی ته وهڅول چې له قرآن حکيم سره ژوره مينه پيدا کړی او پرله پسې پکې غور او فکر وکړی ځکه له قرآن سره د روابطو پيدا کولو پرته د دين سره اړيکی ساتل امکان نه لری.

## په مدينه منوره کې لومړی خطبه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ أَحْمَدُهٗ وَأَسْتَعِيْنُهٗ وَأَسْتَغْفِرُهٗ وَأَسْتَهْدِيْهِ وَاومِنُ بِهٖ وَلَا أَكْفُرُهٗ، وَأُعَادِيْ مَنْ يَكْفُرُهٗ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّآ إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ، أَرْسَلَهٗ بِالْهُدٰى وَالنُّوْرِ وَالْمَوْعِظَةِ عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ

الرسلِ وَقِلَّهٍ مِّنَ الْعِلْمِ وَضَلَالَةٍ مِّنَ النَّاسِ وَانْقِطَاعٍ مِّنَ الزَّمَانِ وَدنوٍّ مِّنَ السَّاعة وَقُرْبٍ مِّنَ الْأَجَلِ وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ رُشِدَ وَمَنْ يَّعْصِهِمَا فَقَدْ غَوٰى وَفَرَّطَ وَضَلَّ ضَلَالاً بعيداً اُوْصِيْكُمْ بتَقْوَىٰ اللهِ فَاِنَّهُ خَيْرُ مَا اَوْصٰى به الْمُسلِمُ الْمُسْلِمَ اَنْ يَحُضَّهُ عَلَى الْاٰخِرَةِ وَاَنْ يَّاْمُرَهُ بتَقْوَى الله فَاحْذَرُوا مَا حَذَّرَكُمُ اللهُ مِنْ نَفْسِهٖ وَلَا اُفْضَلَ مِنْ ذَالِکَ نَصِيْحَة وَلَا افْضَلَ مِنْ ذَالِکَ ذِكراً وَاِنَّ تَقْوَى اللهِ لِمَنْ عَملَ به عَلٰى وَجَلٍ وَّمَخَافَةٍ مِنْ رَّبهٖ عَوْنَ صِدْقٍ عَلٰى مَا تبْغُوْنَ مِنْ أَمْرِ الاٰخِرَةِ وَمَنْ يُّصْلِح الَّذِى بَيْنَهُ وَبَيْنَ اَللهِ مِنْ أَمْرِهٖ فِى السِرِّ وَالْعَلَانِيَه لَايَنْوِىْ بِذَالِکَ اِلَّا وَجَهَ اللهِ يَكُنْ لَّهٗ ذكراً فِى مِنْ عَاجِل أَمْرِهٖ وَذُخْراً فِيْمَا بَعْد الْمَوْتِ حِيْنَ يَفْتَقِرُو الْمَرْءُ إِلَى مَا قَدَّمَ وَمَا كَانَ مِنْ سِوَىٰ ذَالِکَ يَوَدُّ لَوْ أَنَّ بينَهَا وَبَيْنَهٗ امداً بعيداً وَّيُحَذِّرُكُمُ اللهُ نَفْسَهُ وَاللهُ رَؤفٌ بِالْعِبَادِ وَالَّذِىْ صَدَقَ قَوْلَهُ، وَانجز وَعْدَهُ لَا خُلفَ لِذَالِکَ فَاِنَّهُ يَقُوْلُ عَزَّ وَجَلَّ مَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَىَّ وَمَا اَنَا بِظَلاَّمٍ لِلْعَبِيد فَاتَّقُوا اللهَ فِىْ عَاجِل أُمُرِكُمْ وَاٰجِلِهٖ فِي السرِّ وَالعَلَانِيَه فَاِنَّهُ مَنْ يَّتَّقِ اللهَ يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهُ اجراً ، وَمَنْ يَتَّقِ اللهِ فَقَدْ فَازَ فَوْراً عَظِيماً ، وَاِنَّ تَقْوَى اللهِ يُوَقِّيْ عُقوبَتَهُ وَيُوَقِّىْ سُخْطَهُ وَاِنَّ تَقْوَى اللهِ يُبَيِّضُ الْوُجُوْهَ وَيُرْضِىُ الرَّبَّ وَيَرْفَعُ الدَّرَجَه-خُذُوا بِحَظِّكُمْ وَلَا تُفرطُوا فِى جَنْبِ اللهِ وَقَدْ عَلَّمَكُمُ اللهُ كِتَابَهُ وَنَهَجَ لَكُمْ سَبِيْلَهُ لِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَيَعْلَمَ الْكَاذِبِيْنَ فَاَحْسِنُوا كَمَا أَحْسَنَ اللهُ إِلَيْكُمْ وَعَادُوْا أَعْدَاءَهُ، وَجَاهِدُوْا فِى اللهِ حقَّ جِهَادهٖ هُوَاجْتَبٰكُمْ وَسَمّٰكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ لِيُهْلِکَ مِنْ هَلَکَ عَنْ بَيِّنَةٍ وَيَحْىٰ مَنْ حَىَّ عَنْ بَيِّنهٖ وَلا قُوَّة إِلَّا بِاللهِ- فَاَكْثِرُوْا ذِكْرَ اللهِ وَاعْمَلُوْا لِمَا بَعْدَ الْيَوم فَاِنَّهُ مَنْ يُّصلِحْ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللهِ يَكفِهُ اللهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّاس-ذَالِکَ بِاَنَّ اللهَ يَقْضِىْ عَلَى النَّاسِ وَلَا يَقْضُوْنَ عَلَيْهِ وَيَمْلِکُ مِنَ الناسِ وَلَا يَمْلِكُوْنَ مِنْهُ اَللهُ اَكْبَرُ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَظِيْم

(شکر او ستاینی الله لره دی، زه یې شکر ادا کوم، مرسته تری غوارم، د ښښنی تری هیله لرم او د لارښوونی او هدایت تری هیله لـرم، ایمان پری راوړم او کافر کیږم پری نه، او هغه څوک خپل دښمن ګنم ، چې پـرده کافر کیږی، او زه ګواهی ورکوم چې له الله جل جلاله پرته بل معبود نشته ، هغه یوازی واحد دی، هیڅوک ورسـره شریک نشته او زه شاهدی وایم

چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او استازی دی ، چې الله جل جلاله ورته د هدایت، نور او نصیحت په ورکولو په داسې دوران کې یې خپل استازی وګرځاوه، چې له اوږدې مودې راسې د پیغمبرانو د راتګ لړۍ بنده وه، د رښتیاني پوهې رڼا تته شوې وه، د بې لارۍ دوره وه، د هستې نظام ګډ وډیدونکی و، قیامت رانږدې شوی و، او د هر سړي اجل سرته ولاړو- نو چا چې ( رسول الله صلی الله علیه وسلم ومانه ) د الله او رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت یې ومانه، هغه نیغه لاره وموندله او چا چې د ( رسالت په انکار کولو ) د الله جل جلاله او رسول نافرماني وکړه، هغه لاره ورکې شو او په لنډ فکرۍ کې پریووت او له حقې لارې بې لارې په ګمراهۍ کې لرې پریووت- زه تاسې ته وصیت کوم چې له الله جل جلاله وه ویرېږئ، یو مسلمان چې بل مسلمان ته له غورونه غوره نصیحت کولای شي هغه همدا دی، چې د اخرت د ذخیرې ټولولو لپاره یې وهڅوي، او له الله جل جلاله د ویریدو تلقین ورته وکړي، نو له الله جل جلاله څخه وه ویرېږئ لکه څنګه چې هغه د خپل ذات نه د ویریدلو حکم کړی دی، تردې غوره نه کوم بل نصیحت شته او نه تردې غوره بله کومه یادونه کیدای شي- او رښتیا دا ده چې له الله جل جلاله ویره د بنده لپاره چې له الله جل جلاله په ویره او لړزه کې ژوند تیر کړي، د اخرت د ښکلې پای رښتوني، مرستندوی ده، چې تاسې یې غوښتونکي یاست، او کوم سړی چې په خالص نیت سره یوازې د الهي رضا په خاطر خپلې پټې او ښکاره چارې په هر حال کې سمې کړي، نو د دې سملاسې بدله په دنیا کې دا ده، چې هغه به نیک نومی وي او له مرګه وروسته به په هغه وخت کې په ځان پوره وي چې کله هر سړی خپلو هغه اعمالو ته بې اندازې محتاج وي چې د هغه وخت لپاره یې کړي وي، او له هغو پرته چې کوم بد اعمال وي د هغو په باب به هیله لري چې کاشکې دا اعمال زما نه ډېر لرې وای او الله جل جلاله تاسې له خپل ځان څخه ویروي او الله جل جلاله پر خپلو بنده ګانو خورا مهربان دی-سوګند دی پر هغه ذات د چا وینا چې رښتونی او وعده یې پر وفا ولاړه ده چې دا خبره به ( خامخا ) پیښیږي، څکه چې په خپله هغه لوړ

او عالتیرین ( ذات ) یې لاربنوونه کوي چې: زما په حضور کې خبره نه بدلیږي او زه پر خپلو بنده ګانو د ذرې اومره ظلم کوونکی نه یم، نو له الله جل جلاله وه ویریږي، د دنیا او اخرت په ټولو ښکاره او پټو چارو کې، ربنتیا دا ده چې څوک د الله جل جلاله له غضب نه ویریږي ، الله جل جلاله د هغه ګناهونه تری ایسته کوي او د هغه اجر لاپسې زیاتوي او څوک چې پرې ویریده، هغه ډېر لوی بریالیتوب وګاټه، او ښه پوه شي چې د الله ﷻ ویریدونکی بنده د هغه له خفګانه لرې ساتي او د هغه له عذابه یې ساتي، او د هغه له ناراضیتوب نه یې بچوي، او په ښه ډول پردې حقیقت هم پوه شي، چې د الله جل جلاله ویریدونکي مخونه روښانه او ښکلي کوي، څښتن د خپل بنده نه خوشحاله لوری او د بنده مرتبه لوړوي-ګوري! د خپلې خپلي برخې نیکې راټولې کړې او د الله جل جلاله پر وړاندې هیڅکله لټي او بیکاري ونه کړې، سره له دې چې هغه تاسې ته د خپل د پوهې په درکولو سمه لاره تاسې ته ښودلې ده تر څو چې هغه وپیژني هغه خلک چې پخپل ایمان کې رښتوني دي او هغه چې دروغجن دي، نو تاسې هم د خلکو سره ښه رویه وکړې، لکه چې هغه له تاسې سره ښه سلوک کړی دی، او د هغه دښمنان خپل دښمنان وګڼې، او د هغه په لاره کې داسې جهاد وکړې چې د جهاد حق ادا کړای شي هغه تاسې د خپل دین لپاره ټاکلي یاست او ستاسې نوم یې ( مسلم ) ایښی دی، د دې لپاره چې څوک هلاکیدونکي دي، هغه له روښانه دلیل سره هلاک شي او څوک چې ژوندي پاتې کیدونکي دي، هغوی له روښانه دلیل سره ژوندي پاتې شي، او د واک او توان سرچینه یوازې د الله جل جلاله ذات دی-نو د الله جل جلاله ذکر زیات کوی او د نن نه وروسته د راتلونکې سبا لپاره عمل کوی، ځکه چې کوم بنده د ځان او الله جل جلاله تر منځ خپله معامله روغوي، الله جل جلاله د هغه لپاره په هغو ټولو چارو ( معاملاتو ) کې بس دی چې د ده او نورو بنده ګانو تر منځ وي، ځکه چې الله جل جلاله د بنده ګانو فیصلې کوي بنده ګان د هغه فیصله نه کوي، هغه د انسان د هر څه څښتن دی او د انسان په

واک کې د هغه جل جلاله هيڅ نشته، هغه له هر څه لوی ، برتر او لوړ دی او قوت او طاقت يوازې د هماغه دی [ طبری دولسم ټوک ۲۵۵ مخ ]

## د قران عظيم سره د مينې نصيحت

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ أَحْمَدُهُ وَأَسْتَعِيْنُهُ وَنَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا وَ مِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَ مَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ - إِنَّ أَحْسَنَ الْحَدِيْثِ كِتٰبُ اللهِ قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَيَّنَهُ اللهُ فِيْ قَلْبِهِ وَأَدْخَلَهُ فِي الْإِسْلَامِ بَعْدَ الْكُفْرِ ، وَاخْتَارَهُ عَلٰى مَا سِوَاهُ مِنْ أَحَادِيْثِ النَّاسِ إِنَّهُ أَصْدَقُ الْحَدِيْثِ وَأَبْلَغُهُ أَحِبُّوْا مَنْ أَحَبَّ اللهَ وَأَحِبُّوا اللهَ مِنْ كُلِّ قُلُوْبِكُمْ وَلَاتَمَلُّوْا كَلَامَ اللهِ وَذِكْرَهُ وَلَا تَقْسُوْا عَلَيْهِ قُلُوْبَكُمْ- أُعْبُدُوا اللهَ وَلَاتُشْرِكُوْا بِهِ شَيْئًا ، إِتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقٰتِهِ وَصَدِّقُوْا صَالِحَ مَا تَعْمَلُوْنَ بِأَفْوَاهِكُمْ وَتَحَابُّوْا بِرُوْحِ اللهِ بَيْنَكُمْ، وَالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ ( بيشکه شکر او ستاينه هم الله جل جلاله لره ده، زه د هغه حمد او ثنا وايم، له هغه نه مرسته غواړم او مونږ د هغه د بخشش په لمن کې پناه غواړو، د نفس له وسوسونه او د بد کاريو له جزا نه، چاته چې الله جل جلاله هدايت وکړی ( او هغه ، هغه چاته لاربنوونه کوی چې واقعًا د هدايت غوښونکی وی ) نو هغه هيڅوک بی لاری کولای نه شی او څوک چې الله جل جلاله له سمې لاری بی لاری کړی ( او هغه داسې څوک بی لاری کوی چې د سمې لاری غوښتونکی نه وی ) نو هغه ته هيڅوک لاربنوونه نشی کولای، زه ګواهی کوم چې له الله جل جلاله پرته څوک د عبادت لايق نشته، هغه يو دی، هيڅوک ورسره شريک نشته .

رښتيا دا ده چې تر هر څه غوره خبرې د الله جل جلاله کتاب دی، هغه انسان بريالی شو چې زړه يې پر کتاب الله ښکلی دی، او څوک چې له کفر وروسته الله جل جلاله پر اسلام مشرف کړی دی، او چا چې ټولی بشری خبرې پرې ايښی او د الله جل جلاله کتاب يې د ځان لپاره ټاکلی دی، بيشکه الهی کلام سراسر حقيقت دی، بې اندازې اغيزمن دی، څوک چې ورسره مينه لري، تاسی هم له هغه سره مينه ولرئ ، او د خپلو زړونو په ټوله پاملرنه له الله جل جلاله سره رښتينی مينه پيدا او د هغه د کلام په تلاوت

او یادولو هیڅکله مه ستړی کیږئ، او هیڅکله دی ستاسې زړونه د کلام الله په باب بی پروا او سخت نه وی، نو د همدی الله جل جلاله بنده ګی وکړئ، څوک ورسره د ذری اومره مه شریکوئ، او تل تری په ویره کې اوسی، لکه څنګه چې تری د ویریدو حق دی او د خپلو نیکو اعمالو تصدیق پر ژبه هم کوی ( په ژبه هماغه څه وایاست چې ستاسې له شانه سره مناسب وی ) او د الهی دین او رحمت پر اساس پخپلو منځو کې مینه ساتئ ، والسلام علیکم ورحمة الله! [ اعجاز القران ]

## دویمه خطبه

الحمد الله حمداً کثیراً والصلوه والسلام علی رسوله ارسله الله شاهدا ونذیراً وداعیًا الی الله باذنه وسراجًا منیراً وعلی اله واصحابه وسلم تسلیمًا کثیراً کثیراً، اما بعد! فیا ایها الناس! اوصیکم بتقوی الله فإن تقوی الله ملاک الحسنات، وعلیکم بالطاعة فان من یطع الله ورسوله فقد فاز فوزاً عظیمًا، وقال الله تعالی فی کتابه المجید، ان الله وملائکته یصلون علی النبی یا ایها الذین امنوا صلوا علیه وسلموا تسلیما اللهم صلی علی سیدنا ومولانا محمد وعلی اله واصحابه الذین اتبعوه فی ساعة العسرة، اللهم امطر شابیب رضوانک علی السابقین الأولین من المهاجرین والانصار خصوصًا علی افضل البشر بعد الأنبیآء بالتحقیق أمیر المؤمنین سیدنا أبی بکر الصدیق رضی الله تعالی عنه وعلی أمیر المؤمنین سیدنا عمر الفاروق رضی الله عنه وعلی امیر المؤمنین سیدنا عثمان ابن عفان رضی الله تعالی عنه وعلی امیر المؤمنین سیدنا علی بن ابی طالب کرم الله وجهه وعلی ولدیه السعیدین سیدا شباب اهل الجنة الحسن والحسین رضی الله تعالی عنهما وعلی امهماسیدة نساء اهل الجنة فاطمه الزهراء رضی الله تعالی عنها وعلی سائر الصحابة والتابعین رضوان الله تعالی علیهم اجمعین .

اللهم انصر من نصر دین محمد صلی الله علیه وسلم واجعلنا منهم واخذل من خذل دین محمد صلی الله علیه وسلم ولاتجعلنا منهم عبادالله! رحمکم الله ان الله یامر بالعدل والإحسان وإیتاء ذی القربی وینهی عن

الفحشآء والمنكر والبغى يعظكم لعلكم تذكرون اذكرو الله يذكركم وادعوه يستجب لكم ولذكر الله تعالى اعلى واولى واعز واجل واهم واعظم و اكبر.

## د نکاح خطبه

د نکاح د شرعي حيثيت د پيژندلو، د هغې غوښتنې په ذهن کې، کينولو او په نکاح پورې اړوندو (مربوطو) لازمو سترو مسئوليتونو د يادونې په خاطر د نکاح په محفل کې د نکاح خطبه لوستل هم سنت دي، پر دې مهال له خطبې نه د پوره پوره ګټې اخيستلو لپاره ډيره مناسبه دا ده چې د نکاح د خطبې لوستونکې د نکاح د خطبې ترجمه او لنډه تشريح هم په خپله ژبه کې وکړي، چې اوريدونکې پرې په ښه ډول پوه شي، د همدې هدف په نظر کې نيولو په خاطر لاندې د نکاح خطبه د ژباړې سره وړاندې کيږي:

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَسْتَعِينُهُ وَ نَسْتَغْفِرُهُ وَ نَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَاشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ.

"يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ" - "يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا"

يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اتَّقُوْا اللّٰهَ وَ قُوْلُوْا قَوْلاً سَدِيْدًا يُّصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا [ مشكوة ]

وَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ إِنِّيْ لَأَخْشَاكُمْ لِلّٰهِ وَ أَتْقَاكُمْ لَهُ وَلٰكِنِّيْ أَصُوْمُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّيْ وَأَرْقُدُ وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِيْ فَلَيْسَ مِنِّيْ

(شکر او ستاينه هم الله پاک لره ده، مونږ له هماغه نه مرسته غواړو او له هماغه نه د ګناهونو معافي غواړو او موږ د خپل نفس د لمسونو او بديو په مقابل کې خپل ځانونه د الله جل جلاله په پناه کې ورکوو [ رښتياده ] چې څوک الله پر سمه لاره روان کړي [ او هغه څوک پر سمه لار روانوي چې پرې د تللو اراده لري ] نو هغه هيڅوک نشي بې لارې کولای، او څوک چې الله جل جلاله بې لارې کړي [ او هغه هماغه څوک بې لارې کوي چې

بی لاری کیدل غواړی ] نو هغه هیڅوک پر سمه لاره کولای نشی، او زه گواهی ورکوم، چې له الله جل جلاله پرته هیڅوک معبود نشته او زه گواهی ورکوم چې محمد ﷺ د الله تعالی بنده او د هغه رسول دی .

د ایمان خاوندانو! له خدایه په صحیح توگه ویره اختیار کړې او تر مرگه د الله جل جلاله وفادار او فرمانبردار اوسې .

ای خلکو ! د الله جل جلاله له قهر نه وویریږې چاچې تاسی له یوه نفس نه [ آدم علیه السلام ] نه پیدا کړې او د همدی یوه بدن نه یې د هغه جوړه [ بی بی حوا ] پیدا کړه او بیا یې د همدی دواړو په وسیله ډیر نارینه او زنانه په ځمکه کې خپاره کړی، د همدی پالونکې الله جل جلاله له ناراضیتو به ځانونه وساتې، د څه په وسیله چې تاسی له یو بل نه خپل حقوق غواړی او د خپلوانو د حقوقو خیال ساتي . یقین ولرې چې الله جل جلاله ستاسی څارنه کوی .

د ایمان څښتنانو ! له الله وویریږی او غوره او ښی پخی خبری کوئ ، نو الله جل جلاله به ستاسی اعمال اصلاح کړی او پرگناهونو به مو د ښښنی پرده وغوړوی، او کوم خلک چې د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ تابعداری کوی، هغوی به پر ستره کامیابی سر لوړی شی .

قسم پر الله جل جلاله زه په تاسی ټولو کې له خدایه زیات ویریدونکې یم، خو زما حال دا دی چې زه کله نفلی روژی نیسم او کله یې نه نیسم، په شپه لمونځونه هم ادا کوم او ویده کیږم هم او زه له زنانه سره نکاح هم کوم، څوک چې زما له دی سنتو غاړه وغړوی، زما سره یې اړیکې نشته ) [ صحیح بخاری ] .

## استخاره

د ژوندانه په مهمو چارو لکه سفر، نکاح، ماموریت او تجارتی چارواو نورو کې استخاره وکړې، د استخاری معنی ده خیر ښیگنه غوښتل. په کومو مهمو او روا کارونو کې چې تاسی ته د خیر اړخ ښکاره نه وی، په هغو کې خامخا استخاره وکړې او بیا مو چې په کوم لوری د زړه میلان دی، هماغه الهی قضا وگڼې او غوره یې کړې، د استخاری طریقه داده چې

کله تاسې ته کوم غیر معمولي کار پیښ وي، نو له مکروه او حرامو وختونو پرته چې کله هم وغواړې، دوه رکعته لمونځ ادا کړې او بیا د استخاري دعا ولولې، د حضرت سعد بن ابی و قاص وینا ده چې نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: له الله تعالی استخاره کول د آدم د اولادي نیکبختیا ده او پر الهی قضا رضا هم د آدم علیه السلام د ځو ځات سعادت دي، او بدبختي یې دا ده چې هغوی له خدایه خیر ونه غواړي او د الله جل جلاله پر کړو ناخوښه وي [ مسند احمد]

او نبی صلی الله علیه وسلم دا هم فرمایلي: استخاره کوونکې هیڅکله نامراده نه وي او مشوره کوونکې هیڅکله پښیمانه نه وي او له کفایت نه کار اخستونکې هیڅکله چاته نه محتاج کېږي [ طبراني ]

د حضرت جابر رضی الله عنه وینا ده چې نبی صلی الله علیه وسلم چې به څنګه موږ ته قرآن لوسته همداسې به یې د استخاره کولو هم تعلیم را کاوه، فرمایل به یې چې څوک له تاسې نه په کومه مهمه چاره کې فکر مند وي نو دوه رکعته لمونځ دي وکړي او بیا دي دا دعا ولولي [صحیح بخاري ] .

أَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْتَخِيْرُکَ بِعِلْمِکَ وَ أَسْتَقْدِرُکَ بِقُدْرَتِکَ وَ أَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِکَ الْعَظِيْمِ فَاِنَّکَ تَقْدِرُ وَ لَاأَقْدِرُ وَ تَعْلَمُ وَ لَا أَعْلَمُ وَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ.

أَللّٰهم إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الأَمْرَ[1] خَيْرٌلِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَ مَعِيْشَتِيْ وَ عَاقِبَةِ أَمْرِيْ فَاقْدُرْهُ لِيْ وَ يَسِّرْهُ لِيْ ثُمَّ بَارِکْ لِيْ فِيْهِ وَ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هٰذَا الأَمْرَ شَرٌلِّيْ فِيْ دِيْنِيْ وَ مَعِيْشَتِيْ وَ عَاقِبَةِ أَمْرِيْ فَاصْرِفْهُ عَنِّيْ وَ اصْرِفْنِيْ عَنْهُ وَ اقْدُرْلِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ أَرْضِنِيْ بِهِ

( الهی ! زه له تانه ستا د علم په وسیله د خیر غوښتونکې یم او ستا د قدرت په وسیله ستا د ستر فضل سوال کوم، ځکه چې هم ته د قدرت خښتن یې او زما د ذرې هومره قدرت نشته، ته د علم څښتن یې، او زما علم نشته، او هم ته د غیبو پر ټولو خبرو پوهېږې .

---

[1] ...د هذالامر په ځای خپل حاجت ( اړتیا ) ووایاست او یا د هذ الا مر د ویلو پر وخت خپله اړتیا په تصور کې راولې .

الهي ! که ستا په علم کې دا کار زما لپاره غوره وي، زما د دين او دنيا په لحاظ او د پای په لحاظ يې زما لپاره تقدير وګرځوی، او راته آسان يې کړی او زما لپاره يې مبارک وګرزوی او که ستا په علم کې دا کار زما لپاره بد وي زما د دين او دنيا په لحاظ او د پای په لحاظ، نو ته يې زما نه لری ولری، او ما تری وساتی او زما لپاره خير او ښيګڼه تقدير وګرځوی، هر چيری چې وی او بيا پری ما راضی او بی فکری وګرځوی.

❀
❀❀❀
❀❀❀❀

# الهي سپیڅلي نومونه
## ( اسماء حسنی )

د نفسي تزکيي او د زړه د اطمینان مستند او غوره وسیله دا ده چي تاسې پر الهي ذکر خپله ژبه لمده وساتي، د هغه صفات تکرار کړی، د هغو صفتونو د غوښتنو په باب غور وکړی او په ایمان او شعور سره دغه صفتونه پخپل زړه او دماغ د حاکم او جاری ساتلو عادت زده کړی ، الهی لارښوونه ده : يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا()وَسَبِّحُوهُ بُكْرَةً وَأَصِيلًا[1] ( ای د ایمان خاوندانو! د الله تعالی ذکر په کثرت سره کوی او سهار او ماښام د هغه په تسبیح او ثنا مشغول اوسی ) .

او په اعراف سورت کی دی : وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا ( او د الله غوره غوره نومونه دی ، نو په دی غوره نومونو هغه یادوی ) .

د دغو نومونو تفصیل او د هغو پراخې غوښتنی او معناوی یې هم په قران عظیم کی په وضاحت سره بیان کړای شوی دی او پیغمبر اکرم ﷺ د دغو صفتونو شمیر، تفصیل او د هغو د زده کړی ستره بدله ښودلی او د هغی تکرار ( ورد ) کولو ته ئی مؤمنان لیوال کړی دی ، د هغه لارښــوونه ده د الله جل جلاله نه نوی نومونه دی څوک یی چی یاد کړی جنت ته به داخل شی [ صحیح بخاری ]

د الهی صفاتو د زده کولو مطلب دادی چی تاسی هغه وپیژنی، هغه زده کړی، د هغو پر غوښتنو عمل وکړي او له هغو سره سم د خپل ژوندانه جوړولو کوښښ وکړي، د دی لاره دا ده چی تاسی په مینه او اخلاص تلاوت وکړي، د قران عظیم له پوهیدو سره تلاوت وکړي او پرله پسی پکې له غور او تدبر نه کار واخلی، بیا هغه مستند احادیث هم په غور سره مطالعه کړئ ، په کومو کی چي د الهی صفاتو مفهوم او غوښتنی بیان

---

[1] - د الاحزاب سورت ۴۲ آیت

کړای شوی دی ، همدارنګه هغه سنت اذکار او دعاګانی هم په پوره توجه او پاملرنی ولولئ چی په عمومی توګه د دغه الهی صفاتو نه جوړی وی د قـران عظیم مطالعه کوونکیو د همدی قران له مطالعی نه دغه نه نوی الهی نومونه راجمع کړی دی :

**الله** : دا د کائناتو د پیدا کوونکی ذاتی نوم دی چې د ګردو غوره صفاتو او د خیر او برکت سرچینه ده، دا نوم له هغه پرته نه بل چاته ویل شوی دی او نه یې چاته ویل صحیح دی، همدا الله جل جلاله ستاسې د محبتونو اصلی مرکز دی، همدا الله جل جلاله ستاسې د عباداتو او قربانیو یوازینی حقدار دی، او همدا الله جل جلاله له ګردو خطراتو نه د بچ ساتلو یوازینی د پناه ځای دی، نو د همدی الله جل جلاله پر محبت خپل زړونه آباد کړی، په اخلاص سره یې بنده ګی وکړی او پر همدی الله جل جلاله باور او یقین ولری.

وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ [1] ( او ایمان لرونکی مؤمنان له الله تعالی سره شدیده مینه لری ) .

إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ فَاعْبُدْ اللَّهَ مُخْلِصًا لَهُ الدِّينَ أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ [2] ( ای نبی! دا کتاب مونږ تاته په حقه نازل کړی دی، نو د الله عبادت وکړی او خپله بنده ګی د هغه لپاره خالصه کړی، په ښه ډول وپوهیږی، چې بنده ګی یوازی د همدی الله تعالی حق دی ) .

قُلْ إِنَّمَا أُمِرْتُ أَنْ أَعْبُدَ اللَّهَ وَلَا أُشْرِكَ بِهِ [3] ( ورته ووایاست چې ماته حکم شوی چې زه د همدی الله عبادت وکړم او هیڅوک ورسره شریک نه کړم ) .

وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلْ الْمُؤْمِنُونَ [4] ( او بروسه کونکی هم پر الله جل جلاله بروسه او تکیه کوی ) .

---

[1] - د البقره سورت سورت ۱۶۵ آیت

[2] - د الزمز سورت ۲ آیت

[3] - د الرعد سورت ۳۶ آیت

[4] - د ابراهیم سورت ۱۲ آیت

**الرَّحْمٰن**: هغه ذات د چا په رحمت کې چې بې اندازې جوش او خروش دی او څوک چې بې اندازې رحم کوونکی دی او چا چې په خپل رحمت سره انسان په سترو نعمتونو نازولی دی [ الرَّحْمَنُ عَلَّمَ الْقُرْآنَ خَلَقَ الْإِنسَانَ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ[1] ( رحمن [هغه ذات دی ] چې دا قرآن يې د زده کړ او انسان ته يې له پيدا کولو سره د خبرو توان ورکړ) .

د الله جل جلاله د رحمانيت تر ټولو لوی مظهر دا دی چې هغه انسان ته د قران په څير عظيم نعمت وروباښه او بيا يې انسان ته د خبرو په توان ورکولو په نورو مخلوقاتو کې ځانګړې غوره والی وروباښه.

**الرَّحِيْمُ**: هغه ذات دی د چا رحمت چې پرله پسې دی د چا د هميشنی رحمت لړی چې هيڅکله نه پرې کيږي، په دنيا کې هم د هغه د پرله پسې رحمت په سيوری کې انسان پالل کيږي، پر مختګ کوی ، د نيکيو پر لار روانيږي، د عمل لپاره وخت پيدا کوی او په اخرت کې به هم مؤمنان د هغه د همدی صفت په برکت د جنت په څير آرام ځای کې د عيش او آرام ژوندون تيروی [ وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا إِنَّ اللَّهَ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ[2] ( او که تاسې د الله جل جلاله د نعمتونو حساب کول غواړی نو شمير يې نشی يعنی د الله جل جلاله د بی شميره او بی اندازی نعمتونو شميرلی امکان نه لری ) .

انسان د ژوندانه په شيبه شيبه کې د الله جل جلاله رحمت او پاملرنی ته اړ دی او د هغه د رحمت باران پرله پسی اوری ) ] .

هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيْكُمْ وَمَلَائِكَتُهُ لِيُخْرِجَكُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَكَانَ بِالْمُؤْمِنِينَ رَحِيمًا تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلَامٌ وَأَعَدَّ لَهُمْ أَجْرًا كَرِيمًا[3] ( هماغه ذات دی چې پر تاسې رحمت فرمايی او د هغه ملايکی ستاسې لپاره د رحمت دعا کوی چې هغه تاسې له تيارونه راوباسی، رڼا ته مو راولی، هغه پر مؤمنانو ډېر

---

[1] - د الرحمن سورت ۱-۲ آيت

[2] - د النحل سورت ۱۸ آيت

[3] - د الاحزاب سورت ۴۳ آيت

رحم کوونکی دی ، په کومه ورځ به چې ورسره خبری کوی نو هغه استقبال به په سلام سره وی او د دوی لپاره الله جل جلاله د عزت او درناوی بدله تیاره کړی ده ) .

**اَلمُلِکُ** : د کائناتو رښتونی بادشاه چې پر دواړو جهانو یې واکوالی ده " فَتَعَالَى اللَّهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ [1] ( نو الله لوړترین او رښتونی بادشاه دی او بس ) .

**اَلقُدُّوسُ**: له ګردو عیبونو او غلطیو له یوه سره پاک دی، نو ځکه خو یې رالیږل شوی قانون د هری خطا نه پاک دی .

**اَلسَّلَامُ** : له ګردو نیمګړتیاو او کمزوریو نه روغ رمټ او ساتلی .

**اَلمُؤمِنُ**: له ګردو افتونو او عذابونو نه په امان ساتونکی .

**اَلمُهَیمِنُ**: د مخلوق څارونکی او له بیلاریو ساتونکی .

**اَلعَزِیزُ**: د واک او درناوی یوازینی سرچینه د چا چې هر څه د واک لاندی دی " فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعًا (عزت له یو سره ټول د الله جل جلاله لپاره وی) .

**اَلجَبَّارُ**: د بی شانه غلبی او زور څښتن د مخلوق ویجاړی جوړونکی .

**اَلمُتَکَبِّرُ** : د عظمت او کبریایی سرچینه چې په کبریایی کې ورسره هیڅوک شریک نه دی " هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ [2] ( الله هغه ذات دی چې له هغه پرته بل معبود نشته، رښتینی بادشاه، پاک ذات، له هر نقصانه روغ، په امن او امان کې ساتونکی، ساتندوی، پر هر څه غالب، د بی شانه لوړی څښتن، پاک او تر ټولو لوړ دی الله جل جلاله له هغو شیانو چې دا خلک یې ورسره شریکوی ) .

**اَلخَالِقُ** : له شانه سره د مناسبو قوتونو او استعدادونو سره سم د غوره وجود بخښونکی .

**اَلبَارِئُ** : د هر څیز له نشت نه شته کوونکی بی ساری ایجادوونکی .

---

[1] - د المومنون سورت ۱۱۶ آیت

[2] - د الحشر سورت ۲۳ آیت

**اَلْمُصَوِّرُ**: مخلوقاتو ته شکل ورکوونکی " هُوَ الَّذِي يُصَوِّرُكُمْ فِي الْأَرْحَامِ كَيْفَ يَشَاءُ[١] ( هماغه ذات [ الله جل جلاله ] دی چې د ( میندو ) په رحمونو کې څنګه وغواړي ستاسې شکلونه جوړوی ) - وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ[٢] ( هغه [ الله جل جلاله ] ستاسې بد صورتونه جوړل کړل او غوره بد صورتونه یی جوړ کړل ) - هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى[٣] ( هماغه الله جل جلاله دی د کائناتو خالق، ایجادوونکی او اختراع کوونکی د کلونو جوړوونکی د هماغه لپاره ښه ښه نومونه دی ) .

**اَلْغَفَّارُ**: ډېر زیات ښنونکی او معافوکی " فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا[٤] ( او ما ورته وویل چې د خپل رب نه ښښنه وغواړی ، هغه ډېر زیات ښنوونکی دی ) .

**اَلْقَهَّارُ** : پر خپل مخلوق د پوره غلبې او واک څښتن

**اَلْوَاحِدُ**: یوازی او ځانله، چې په ذات، صفاتو، قدرت او حقوقو کې ورسره هیڅوک شریک نشته " لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ[٥] ( نن د چا حکومت دی د الله جل جلاله چې یو دی او پر هر څه غالب دی ) .

**اَلتَّوَّابُ**: د بنده ګانو پر حال پام کوونکی او د ګناه ګارانو توبه قبلوونکی " ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ[٦] ( یا الله جل جلاله هغوی ته توجه وکړه چې توبه وکړی، بیشکه الله جل جلاله زیات توبه قبلوونکی او رحم کوونکی دی ) .

---

[١] - د ال عمران سورت ۱۰۰ آیت
[٢] - د التغابن سورت ۳ آیت
[٣] - د الحشر سورت ۲۴ آیت
[٤] - د نوح سورت ۱۰ آیت
[٥] - د غافر سورت ۱۶ آیت
[٦] - د التوبه سورت ۱۸۱ آیت

**الْوَهَّابُ** : د بی غرضه بخشش او سخاوت ښبنتن " وَهَبْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ [۱] ( مونږ ته د خپل لوری رحمت راوبښی بیشکه ته بی شانه د سخاوت ښبنتن یی ) .

**الْخَلَّاقُ**: په هر ډول، هر وخت د هر څیز پیدا کوونکی د تخلیق په صفت کې کامل " أَوَلَيْسَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يَخْلُقَ مِثْلَهُمْ بَلَى وَهُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ [۲] ( آیا هغه ذات چې ځمکه او اسمانونه یې پیدا کړی ، د دی توان نه لری چې د دی په څیر نور پیدا کړای شی، ولی نه! هغه بی اندازی لوی خالق دی او د پوهی ښبنتن دی ) .

**الرَّزَّاقُ** : خپل مخلوق ته په ښه شان روزی ورکوونکی، اړتیا پوره کوونکی .

**المتین**: بی انـــدازی محکم او توانمد " إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ [۳] ( بیشکه همدا الله ښه روزی ورکونکی، زورور، محکم او قوی دی ) .

**الْفَتَّاحُ** : د مخلوقاتو تر منځ فیصله کوونکی، ګران اسانوونکی .

**الْعَلِيمُ**: د بنده ګانو په هر ډول خبرو، کارونو، احساساتو او ولولو باندی په مستقیمه توګه پوهیدونکی " قل یجمع بیننا ربنا ثم یفتح بیننا بالحق وهو الفتاح العلیم [۴] ( ورتهووایه! زمونږ پروردګار به مونږ راجمع کوی، بیا به زمونږ تر منځ سمی سمی فیصلی کوی، بیشکه هغه ډیر عادلانه فیصله کوونکی او پر هر څه پوهیدونکی دی ) .

**الْمُحِيطُ**: پر ټولو مخلووقاتو احاطه کوونکی، هیڅ څیز د ده له علم او قدرت نه بهر نه دی " وَاللَّهُ مِنْ وَرَائِهِمْ مُحِيطٌ [۵] ( او الله جل جلاله پر هغوی له هری خوا نه محیط دی )

---

[۱] - د ال عمران سورت

[۲] - د یسن سورت ۸۱ آیت

[۳] - د الذریات سورت ۵۸ آیت

[۴] - د

[۵] - د البروج سورت ۲۰ آیت

**اَلْقَدِیْرُ** : پر هر څه د مکمل اختیار او قدرت څښتن " أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ وَأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا [1] (دا چې الله جل جلاله پر هر څه قادر دی او دا چې د الله جل جلاله علم پر هر څه احاطه کړی ده ) .

**اَلْحَلِیْمُ**: په عذاب ورکولو کې بیړه نه کوونکی، بنده ګانو ته پر سمه لار د روانیدو وخت ورکوونکی، زغم لرونکی" إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ أَنْ تَزُولَا وَلَئِنْ زَالَتَا إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِنْ بَعْدِهِ إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا [2] ( ربښتیا ده چې همدا الله دی چې اسمانونه او ځمکه بی ځایه کیدو ته نه پریږدی او که چیری بی ځایه شی، نو د الله جل جلاله پرته یی هیڅوک رانیوونکی [ منع کوونکی] نشته بیشکه الله جل جلاله د ډیر زغم او تیریدنی څښتن دی ) .

**اَلشَّکُوْرُ**: د مخلوق نیکو اعمالو ته بی اندازی ارزښت ورکوونکی " وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنَّا الْحَزَنَ إِنَّ رَبَّنَا لَغَفُورٌ شَكُورٌ (او هغوی به وای چې د الله جل جلاله شکر، چې زمونږ نه یې غم لری کړ، بیشکه پر مونږ ډیر زیات ( زمونږ پر ګناهونو ) سترګی پټوونکی او عزت ورکوونکی دی )

**اَلْغَفُوْرُ**: د ډیر زیات تیریدنی څښتن او پرده پوښ .

**اَلْعَفُوُّ**: ډیر زیات عفو کوونکی.

فَأُولَئِكَ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَعْفُوَ عَنْهُمْ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا [3] (لری نه ده چې الله جل جلاله هغوی وبښی، الله جل جلاله ډیر لوی معافی کوونکی او تیریدونکی دی ) .

**اَلْعَظِیْمُ**: پخپل ذات او صفاتو کې د لوی څښتن " فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ [4] ( نو ته د خپل لوی او ستر الله جل جلاله په نامه ثنا وایه) .

---

[1] - د الطلاق سورت ۱۲ آیت

[2] - د الفاطر سورت ۴۱ آیت

[3] - د سورت البفره ۹۹ آیت

[4] - د الواقعه سورت ۷۴ آیت

**الْوَاسِعُ**: د بې اندازې پراخيو څښتن، پر بنده ګانو له زياتى پراخى سره احسان کوونکى " وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ * يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا[1] ( الله جل جلاله بې اندازې لاس پراخى او پوه دى، چاته چې غواړى حکمت وربښى او چاته چې حکمت ورکړاى شو، هغه ته په حقيقت کې ستر دولت ورکړاى شو ) .

**الْحَكِيمُ**: د کائناتى نظام او بنده ګانو په باب په بى شانه علم سره فيصله کوونکى " إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا()يُدْخِلُ مَنْ يَشَاءُ فِي رَحْمَتِهِ وَالظَّالِمِينَ أَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا[2] (بيشکه الله جل جلاله د پر پوهيدونکى او په پوهه فيصله کوونکى دى، څوک چې وغواړى پخپل رحمت کې يې داخلوى او د ظالمانو لپاره يې دردونکى عذاب تيار کړى دى ) .

**الْحَيُّ**: د ژوندانه سرچينه، له مرګه خوب او پريشانى نه پاک " وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ[3] ( او توکل وکړى پر هغه ژوندى ذات جل جلاله چې هيڅکله ورته مرګ نه راځى ) .

**الْقَيُّومُ** : د کايناتو د نظم سمبالوونکى او پر خپل حال ساتونکى " اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ[4] ( لـه الله جل جلالـه ، هغـه ژونـدي ابـدي ذات نـه پـرته چې ټول کائنات يې تنظيم کريدي بل هيڅ الله جل جلاله نشته - هغه نه ويده کېږي او نه پريشاني پرې راځي- په ځمکي او اسمانونو کې چې هرڅه دي د هغه دي ) .

**السَّمِيعُ**: د بنده ګانو خبرى اوريدونکى، د بنده ګانو نه په مکمله توګه خبردار.

---

[1] - د البقره سورت ۲۶۸ آيت

[2] - د الدهر سورت ۳۱ آيت

[3] - د الفرقان سورت ۵۸ ايت

[4] - د البقره سورت ۲۵۵ آيت

**اَلْبَصِيْرُ**: د بنده ګانو پر کړو او چارو نظر لرونکی، چې د هغوی تر منځ صحيح فيصله وکړي " وَاللَّهُ يَقْضِي بِالْحَقِّ وَالَّذِينَ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ لَا يَقْضُونَ بِشَيْءٍ إِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ"[1] (او الله جل جلاله حقى او سهى فيصلى کوي او هغه خلک چې له الله پرته نور رابلي، هغوی د هيڅ څيز فيصله کوونکي نه دي، الله د هر څه ليدونکی او اوريدونکی دی).

**اَللَّطِيْفُ**: بې اندازې باريک ليدونکی او د باريکترينو تدبيرونو (لارو چارو) غوره کوونکی.

**اَلْخَبِيْرُ**: د بنده ګانو له هرې خبرې نه پوره پوره خبريدونکی " يَابُنَيَّ إِنَّهَا إِنْ تَكُنْ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ لَطِيفٌ خَبِيرٌ"[2] (ګرانه زويه! کوم څيز چې د غوښت د دانې اومره هم وي او په کومه سخره (ډبره) يا په اسمانونو او ځمکه کې پټه شوې وي، الله به يې راوړي کړي، بيشکه الله باريک ليدونکی او خبر دار دی).

**اَلْعَلِيُّ**: د بې اندازې لوړې او اوچتې مرتبې څښتن ذات.

**الکبير**: بې اندازې ستر او لوی څښتن چې په کبريای ذات کې ورسره هيڅوک شريک نه دی.

**اَلْحَقُّ**: هغه ذات چې وجود او شته والی چې حق دی، او چا په منکريدو يې پر حقانيت هيڅ اغيزه نه پريوزي.

**اَلْمُبِيْنُ**: د حق رابنکاره کوونکی او حق په حقه ښودونکی.

وَيَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ هُوَ الْحَقُّ الْمُبِينُ[3] (او هغوی به وپوهيږي چې همدا الله جل جلاله حق دی او هغه رښتيا د رښتيا په توګه ښودونکی دی).

**اَلنَّصِيْرُ**: د مؤمنانو مرستندوی او حمايت کوونکی.

---

[1] - د المومن سورت ۲۰ آيت

[2] - د لقمان سورت ۱۶ آيت

[3] - د النور سورت ۲۵ آيت

وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ مَوْلَاكُمْ فَنِعْمَ الْمَوْلَى وَنِعْمَ النَّصِيرُ[1] (او له الله جل جلاله سره ترلی شی، هماغه ستاسې رښتونی بادار دی، څومره غوره ملاتړ او څومره ښه مرستند وی)

ذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ مَوْلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَأَنَّ الْكَافِرِينَ لَا مَوْلَى لَهُمْ[2] (دا ځکه چې څوک چې مؤمن دی د هغی بادار او کار ساز الله جل جلاله دی او د کافرانو هیڅوک ملاتړ او کار ساز نشته).

**الْكَرِيمُ**: په غوره توګه د ښېنی او ښه چلن څښتن يَاأَيُّهَا الْإِنسَانُ مَا غَرَّكَ بِرَبِّكَ الْكَرِيمِ () الَّذِي خَلَقَكَ فَسَوَّاكَ فَعَدَلَكَ ()فِي أَيِّ صُورَةٍ مَا شَاءَ رَكَّبَكَ (ای انسانه! ته کوم څیز ستا د خپل رب کریم په باب په دوکه کې پری ایستی يې، هغه پروردګار چې ستا د پيدا کولو پروګرام يې جوړ کړ، بیا يې ستا جوړښت سم سم وکړ، نو ته يې خورا موزون جوړ کړی او په کوم شکل يې چې غوښتل ته يې جوړ کړی).

**الْغَنِيُّ**: له مخلوقاتو بی نیازه او بی پروا

**الْحَمِيدُ**: پخپل ذات کې د سپيڅليو صفاتو څښتن، چې د چا ثنا او ستاینی ته اړ نه دی " وَمَنْ يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ[3] (څوک چې شکر وکړی، د هغه شکر د خپل ځان لپاره دی او څوک چې کفر وکړی نو الله جل جلاله بی نیازه پخپله د پاکو صفاتو څښتن دی).

**الْقَوِيُّ**: د بی شانه قوت څښتن د چا پر وړاندی چې د هیچا زور نه چلیږی.

**الشَّدِيدُ**: خورا سخت نیوونکی چې له نیوکی يې هیڅوک خلاصیدونکی نه دی " كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ فَأَخَذَهُمُ اللَّهُ بِذُنُوبِهِمْ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ شَدِيدُ الْعِقَابِ[4] (څه ډول چې د ال فرعون او له هغوی

---

[1] - د الحج سورت ۸۷ آیت

[2] - د محمد سورت ۱۱ آیت

[3] - د لقمن سورت ۱۲ آیت

[4] - د الانفال سورت ۵۲ آیت

مخکې خلکو سره معامله پیښه شوی ده، هغوی د الله د ایتونو له منلو نه انکار وکړی، او الله هغوی پر خپلو ګناهونو ونیول ، الله د ځواکمن قوت څښتن دی او د سختی سزا ور کوونکی دی ) .

**اَلرَّقِیْبُ**: د بنده ګانو د اعمالو او چارو څارونکی " إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا (یقین او باور ولری چې الله جل جلاله پر تاسې څارونکی دی ) .

**اَلْقَرِیْبُ**: بنده ګانو ته تر هر څه نږدی ذات جل جلاله.

**اَلْمُجِیْبُ**: د بنده ګانو دعاګانی اوریدونکی‌او قبلوونکی " وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِي إِذَا دَعَانِي فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي[1] (او ای پیغمبره ! زما بندګان که له تانه زما په باب پوښتنه وکړي، نو هغو ته ووایه چی زه ورته ډېر نژدې یم - بلونکی چې کله ما وبلې نو زه د هغه دعا قبلوم) .

فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُجِيبٌ[2] ( نو تاسې له هغه نه ښښنه وغواړی او د هغه جل جلاله په حضور کې توبه وکړی، یقیناً زما رب قریب دی او د دعا ګانو قبلوونکی دی ) .

**اَلْوَکِیْلُ** د بنده ګانو د چارو د سمښت ذمه اخیستونکی او کار ساز [وَقَالُوا حَسْبُنَا اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ[3] (او هغوی وویل، زمونږ لپاره الله جل جلاله کافی دی او هماغه غوره کار ساز دی).

**اَلْحَسِیْبُ**: له بنده ګانو پوښتونکی او حساب اخیستونکی [ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا[4] ( بیشکه الله جل جلاله د هر څیز حساب اخیستونکی دی ) .

---

[1] - د البقره سورت ۱۸۷ آیت

[2] - د هود سورت ۶۱ آیت

[3] - د النساء سورت ۸۶ آیت

[4] - د یونس سورت ۱۰۰ آیت

**اَلْجَامِعُ**: د بدن د ذرو يو ځای کوونکی، او د حشر په ورځ د بنده ګانو راټولوونکی "رَبَّنَا إِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوْمٍ لَا رَيْبَ فِيهِ"[1] (پروردګاره! ربښتيا ده چې په هغه ورځ به ته انسان راجمع کوې د کومې ورځې په راتلو کې چې هيڅ شک نشته).

**اَلْقَادِرُ**: د هر کار د کولو توان او طاقت لورنکی" أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَلَّنْ نَجْمَعَ عِظَامَهُ () بَلَى قَادِرِينَ عَلَى أَنْ نُسَوِّيَ بَنَانَهُ"[2] (آيا دا انسان خيال کوي چې مونږ به د هغه (ذرې ذرې او خواره واره) هډوکي راجمع نه کړو؟ خامخا به يې راجمع کوو، مونږ پر دې قادر يو چې کټ مټ يې روغ رمټ کړو).

**اَلْحَفِيظُ**: د بنده ګانو له هر افت او مصيبت نه ساتونکی إِنَّ رَبِّي عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَفِيظٌ[3] (بيشکه زما پروردګار د هر څيز ساتونکی دی).

**اَلْمُقِيتُ** : مخلوق ته پوره پوره د خپلې برخې ورکولو توان لرونکی روزي ورکوونکی وَكَانَ اللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ مُقِيتًا[4] (و الله جل جلاله هر څيز ته د خپلې خپلې برخې ورکولو توان لري).

**الودود**: له بنده ګانو سره بې حده محبت کوونکی.

**المجيد** : د لويي او شرف څښتن" وَهُوَ الْغَفُورُ الْوَدُودُ()ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ[5] (او هغه ډېر زيات پرده پوښ، بې اندازې محبت کوونکی، د عرش څښتن او د لويي او شرف څښتن دی).

**اَلشَّهِيدُ**: هر ځای حاضر او ناظر او د هر څيز ليدونکی" وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ[1] (او الله جل جلاله هر څيز د نظر لاندې ساتي).

---

[1] - د الاعمران سورت ۹ آيت

[2] - د القيامه سورت ۴ آيت

[3] - د هود سورت ۵۷ آيت

[4] - د النساء سورت ۸۵ آيت

[5] - د البرج سورت ۱۴ آيت

**اَلْوَارِثُ**: د هر څيز رښتونی مالک او څښتن، د چا ملکيت چې هيڅکله پای ته نه رسی .

**اَلْمُحْيِیُ** : مخلوق ته ژوندون وربښونکی "وَإِنَّا لَنَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ وَنَحْنُ الْوَارِثُونَ" [2] (او همدا مونږ ژوندون او مرګ ورکوونکی يو او همدا مونږ اصلی وارث مالک يو ] .

**اَلْوَلِيُّ** : د موٴمنانو مرستندوی او سرپرست.

**الفاطر**: د هر څيز جوړوونکی" فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ أَنْتَ وَلِيِّ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ [3] ( د اسمانو او ځمکی جوړوونکيه! هم ته زما سر پرست يې ) ] .

**اَلْمَالِکُ** : د هر څيز رښتونی څښتن چې ټول يې پر وړاندی بی وسی او بی واکه دی " مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ( د جزا د ورځی څښتن ) .

**اَلْمُقْتَدِرُ**: پر هر څيز د پوره پوره واک څښتن، چې په هيڅ کار کې چاته اړ او محتاج نه دی .

**اَلْمَلِکُ**: د کامل واک لرونکی پاچا " إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ*فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيكٍ مُقْتَدِرٍ [4] ( پر هيزګاران خلک به په باغونو او نهرونو کې وی، د مکمل اختيار کړونکی څښتن د درناوی په کور کې ) .

**اَلْأَوَّلُ**: هغه ( ذات) چې د ټولو مخلوقاتو د پيدايښ نه د مخه موجود ؤ .

**اَلْآخِرُ**: هغه ذات جل جلاله چې د ټولو مخلوقاتو له فنآ کيدو وروسته به هم موجود وی .

**اَلظَّاهِرُ**: د هغه ذات چې له هری ذری نه يې الله ښکاره ده .

---

[1] - د البرج سورت ۹ آيت

[2] - د الحجر سورت ۲۳ آيت

[3] - د يوسف سورت ۱۰۱ آيت

[4] - د القمر سورت ۵۵ آيت

**اَلْبَاطِنُ**: له نظرونو نه پټ او پوښلی " هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ [۱] ( هغه ( ذات ) چې تر هر څه لومړی، له هر څه وروستی، په هر څه کې ښکاره او د هر چا له نظرونو پټ پوښلي دی ) .

**اَلْقَاهِرُ**: پر بنده ګانو د مکمل واک او اختیار څښتن [ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ [۲] ( او هغه پر خپلو بنده ګانو مکمل غلبه او واک لري ) .

**اَلْكَافِي**: چې د بنده ګانو د هرې اړتیا لپاره پخپله کافي او بس دی " أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ [۳] ( آیا الله جل جلاله د خپلو بنده ګانو لپاره کافي نه دی؟ ) .

**اَلشَّاكِرُ** : د بنده ګانو کوښښونو ته ارزښت ورکوونکی " وَكَانَ اللَّهُ شَاكِرًا عَلِيمًا [۴] ( او الله قدر دان او علیم دی ) .

**اَلْمُسْتَعَانُ**: هغه ذات د چانه چې باید امداد وغوښتل شی " وَاللَّهُ الْمُسْتَعَانُ عَلَى مَا تَصِفُونَ [۵] ( او د الله جل جلاله نه مرسته غوښتل کیدای شی ) .

**اَلْبَدِيعُ** : د ساری او مثال پرته پیدا کوونکی ، بې ساری ایجادوونکی " بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ( د اسمانوو او ځمکې بې ساری ایجادونکی ) .

**اَلْغَافِرُ**: د ګناهونو بخښونکی " غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيدِ الْعِقَابِ [۶] (د ګناهونو بخښوونکی او د توبې قبلوونکی ) .

**اَلْحَاكِمُ**: پر خپل مخلوق حکومت کوونکی، ځان له بادشاه او قانون ساز " إِنْ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ [۷] (حکومت کول یوازې د الله جل جلاله حق دی ) .

---

[۱] - د الحدید سورت ۳ آیت
[۲] - د الانعام سورت ۱۸ آیت
[۳] - د الرمز سورت ۳۶ آیت
[۴] - د النساء سورت ۴۷ آیت
[۵] - د یوسف سورت ۱۸ آیت
[۶] - د غافر سورت ۳ آیت
[۷] - د یوسف سورت ۴۰ آیت

**اَلْغَالِبُ**: د مکمل اختیار او واک خښتن " وَاللّٰهُ غَالِبٌ عَلٰی أَمْرِهِ وَلٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ [1] ( او الله جل جلاله پر خپلو چارو د پوره قابو خښتن دی خو زیاتره خلک پوهیږي نه)

**اَلْحَكَمُ**: ناپیلی فیصلی کوونکی " أَفَغَيْرَ اللّٰهِ أَبْتَغِي حَكَمًا [2] ( نو ایا زه له الله جل جلاله پرته بل حکم ولټوم؟ ) .

**اَلْعَالِمُ**: د پټو او ښکاره ونه مکمل خبردار.

**اَلْمُتَعَالِ**: په هر حال کې لوړ او اعلی اوسیدونکی " عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْكَبِيرُ الْمُتَعَالِي [3] (د پټ او ښکاره هر څه نه خبر تر ټولو لوړ ) .

**اَلرَّفِيعُ**: د لوړو او اعلی درجو خښتن " رَفِيعُ الدَّرَجَاتِ ذُو الْعَرْشِ [4] ( د لوړو درجو او مرتبو خښتن او د عرش مالک ) .

**اَلْحَافِظُ**: له آفاتو او حادثاتو ساتونکی [ فَاللّٰهُ خَيْرٌ حَافِظًا وَهُوَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِينَ [5] (الله ډیرښه ساتندوی دی او هغه تر ټولو زیات رحم کوونکی دی ) ] .

**اَلْمُنْتَقِمُ**: د ځان او خپلو مخلصانو له دښمنانو بدله اخیستونکی " فَانْتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ [6] ( بیا کومو خلکو چې جرم وکړ موږ له هغوی نه انتقام واخیست او دا پر موږ حق و چې د مؤمنانو سره مرسته وکړو ) .

**اَلْقَائِمُ بِالْقِسْطِ**: په عدل او انصاف سره نظم او تدبیر کوونکی .

---

[1] - د یوسف سورت ۲۱ آیت

[2] - د یوسف غافر ۱۵آیت

[3] - د الرعد سورت ۹ آیت

[4] - د غافر سورت ۱۵ آیت

[5] - د یوسف سورت ۶۴ آیت

[6] - د یونس سورت ۱۰۰ آیت

**اَلرَّبُّ**: پالونکی، له هر ډول خطرات ساتونکی، د پرمختګ د ګردو منزلونو تیاروونکی او د کمال تر سر حده رسوونکی. بادار، څښتن " اَلْحَمْدُ لِلّٰه رَبِّ الْعَالَمِينَ [2] ( ثنا ده الله لره چې د کونینو پالونکی دی ).

**اَلْحَفِيُّ**: د مخلوق ډېر زیات خیال ساتونکی، بی اندازې مهربانه ( رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا [3] ( بی شکه هغه پر ما مهربان دی ).

**اَلْاَحَدُ**: یو، بی ساری، د چا چې هیڅوک سیال نشته.

**اَلصَّمَدُ** : بی نیازه، چې چاته محتاج نه دی او ټول هغه ته احتیاج دی ( قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ * اللّٰهُ الصَّمَدُ [4] ( ووایه : هغه الله چې یو دی، الله بی نیازه دی، ټول هغه ته اړ دی ).

---

[1] - د طور سورت ۲۸ ایت

[2] - د الفاتحه سورت

[3] - د مریم سورت ۴۷ آیت

[4] - د اخلاص سورت

# نیو لیک


| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| سریزه | ۱ |
| لومړی څپرکی (فصل) | |
| د پاکوالی او سپیڅلتیا اداب | ۵ |
| د روغتیا آداب | ۹ |
| د جامو آداب | ۲۱ |
| د خوراک ، څښاک آداب | ۳۳ |
| د ویده کیدلو او ویښیدلو آداب | ۳۵ |
| د لاری آداب | ۴۶ |
| د سفر آداب | ۴۹ |
| د غم او مصیبت آداب | ۵۳ |
| د ویری آداب | ۶۳ |
| د خوښي او خوشحالي آداب | ۶۹ |
| دویم څپرکی (فصل) | |
| د جومات آداب | ۷۶ |
| د لمانځه آداب | ۸۱ |
| د قرآنکریم د تلاوت آداب | ۸۷ |
| د جمعی ورځی آداب | ۹۱ |
| د جنازی د لمانځه آداب | ۹۹ |
| د مړی آداب | ۱۰۲ |
| د هدیری آداب | ۱۰۸ |
| د کسوف او خسوف آداب | ۱۱۰ |
| د رمضان المبارک آداب | ۱۱۳ |
| د روژی آداب | ۱۱۸ |
| د زکوه او خیرات آداب | ۱۲۲ |
| د حج آداب | ۱۲۵ |
| دریم څپرکی (فصل) | |
| د مور او پلار آداب | ۱۳۴ |
| د کورنیز ژوندانه آداب | ۱۴۶ |
| د کورنیز ژوندانه آداب | ۱۴۶ |

| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| اولاد د روزنی آداب | ۱۵۶ |
| د دوستی آداب | ۱۷۰ |
| د کوربه توب آداب | ۱۹۵ |
| د میلمستیا آداب | ۲۰۳ |
| د مجلس آداب | ۲۰۶ |
| سلام آداب | ۲۱۰ |
| د ناروغ پوښتنی آداب | ۲۲۵ |
| د لیدنی کتنی آداب | ۲۳۰ |
| خبرو اترو آداب | ۲۳۲ |
| د لیک را لیک آداب | ۲۳۵ |
| د کار او زیار آداب | ۲۳۸ |
| څلورم څپرکی (فصل) | |
| د (بلنوالی) آداب | ۲۴۴ |
| د بلنی او تبلیغ آداب | ۲۵۹ |
| په تنظیم کي د نظم آداب | ۲۷۱ |
| د مشرتابه (قیادت) آداب | ۲۷۶ |
| پنځم څپرکی (فصل) | |
| د توبی او استغفار آداب | ۲۸۳ |
| د دعا آداب | ۲۹۸ |
| د قران کریم جامع دعاګانی | ۳۱۴ |
| د پیغمبراکرم ﷺ جامع دعاګانی | ۳۱۸ |
| مکمله دعا | ۳۲۲ |
| درود او سلام | ۳۲۳ |
| د قربانۍ دعا | ۳۲۶ |
| د عقیقی دعا | ۳۲۷ |
| د تراویح لمانځه دعا | ۳۲۸ |
| قنوت نازله | ۳۲۹ |
| د اړتیا لپاره لمونځ | ۳۳۰ |
| د قرآن یادونی (حفظ) دعا | ۳۳۱ |

# نیولیک

سرلیک | مخ


| سرلیک | مخ |
| --- | --- |
| په قرآن عظیم کې د پوهې دعا | ۳۳۴ |
| د جمعې خطبه | ۳۳۶ |
| په مدینه کې لومړۍ خطبه | ۳۳۶ |
| د قران عظیم سره د مینې نصیحت | ۳۴۰ |
| دویمه خطبه | ۳۴۱ |
| د نکاح خطبه | ۳۴۲ |
| استخاره | ۳۴۳ |
| الهي سپیڅلي نومونه (اسماء حسنی) | ۳۴۶ |


سبحانک اللهم وبحمدک اشهدان لا اله الا انت
استغفرک او اتوب الیک